# مِشكوة المصابيح

عربي - پښتو

تاليف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله

الخطيب التبريزي رحمه الله

صداقت کتب خانه

کندهار افغانستان

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مشكوة المصابيح

(دوهم جلد)

۲

كتاب الجنائز
كتاب الزكوة
كتاب الصوم
كتاب فضائل القرآن.
كتاب الدعوات
كتاب اسماء الله
كتاب المناسک

تاليف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطيب العمري التبريزي رحمه الله

صداقت کتب خانه
ارگ بازار، کندهار

د چاپ حقوق په خپرندوی اړه لري

## د کتاب پېژندنه :


❖ د کتاب نوم :: مشکوة المصابیح
❖ مصنف :: امام ولی الدین محمد بن عبدالله الخطیب
❖ تصحیح کوونکي :: ملا محمد ابراهیم، محمد اسماعیل او مولوي احمدزي صاحب
❖ خپرندوی :: **صداقت کتب خانه، کندهار**
❖ کمپوزر :: محمد رسول سعید
❖ ډیزاین :: محمد عمر
❖ جلد :: دوهم
❖ چاپکال :: ۱۳۹۰ ش - ۱۴۳۲ ق
❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه


---


**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**
ارګ بازار، کندهار -افغانستان،
اړيکي : ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
ایمیل ادرس:

sadaqat.books@yahoo.com
Sadaqat.books@gmail.com

**په کوټه کي د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانیه**، کاسي روډ، کوټه -پاکستان، مسؤل:
حاجي سلطان محمد-
تلیفون: ۰۳۳۳۷۸۸۳۰۰۰
امین الله امین: ۰۳۰۱۳۷۷۳۷۰۳۰

# فهرست مضامين

## مشكوة المصابيح جلد (۲)


| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **كتاب الجنائز** | |
| ۱ | د ناروغ پوښتنه او د ناروغۍ ثواب | ۱ |
| ۲ | د مرګ غوښتنه او د هغه يادونه | ۲۵ |
| ۳ | د زكندن پر وخت تلقين كول | ۳۱ |
| ۴ | د مړي غسل او كفن وركول | ۴۳ |
| ۵ | د جنازې سره تلل او د جنازې دلمانځه بيان | ۴۷ |
| ۶ | د مړي ښخول | ۶۱ |
| ۷ | پر مړي باندي ژړا كول | ۶۸ |
| ۸ | د قبرو د زيارت بيان | ۸۴ |
| | **كتاب الزكوة** | |
| ۹ | د زكوة بيان | ۸۸ |
| ۱۰ | په كومو شيانو كي زكوة واجب دئ | ۹۹ |
| ۱۱ | د سرسايي بيان | ۱۰۷ |
| ۱۲ | هغه كسان چي زكوة اخيستل ورته حرام دي | ۱۱۰ |
| ۱۳ | چا ته سوال كول روا نه دئ او چا ته روا دئ | ۱۱۴ |
| ۱۴ | د خرڅ كولو فضيلت او د بخل بدوالی | ۱۲۳ |
| ۱۵ | د صدقې فضيلت | ۱۳۶ |
| ۱۶ | د غوره صدقې بيان | ۱۴۹ |
| ۱۷ | د خاوند د شتمنۍ څخه د ښځي خيرات كول | ۱۵۵ |
| ۱۸ | د خيرات بيرته اخيستلو بيان | ۱۵۷ |
| | **كتاب الصوم** | |
| ۱۹ | د روژې بيان | ۱۵۹ |
| ۲۰ | د مياشتي ليدلو بيان | ۱۷۴ |
| ۲۱ | د پيشلمي او روژه ماتي بيان | ۱۶۸ |
| ۲۲ | د روژې پاكولو بيان | ۱۷۲ |
| ۲۳ | د مسافر د روژې بيان | ۱۷۸ |
| ۲۴ | د قضائي روژو بيان | ۱۸۱ |
| ۲۵ | د نفلي روژو بيان | ۱۸۳ |
| ۲۶ | د نفلي روژو ماتول | ۱۹۴ |
| ۲۷ | د شب قدر بيان | ۱۹۷ |
| ۲۸ | د اعتكاف بيان | ۲۰۲ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۹ | د تلاوت ادبونه | ۲۳۱ |
| ۳۰ | د قرائت اختلاف او د قران یو ځای کولو بیان | ۲۳۸ |
| ۳۱ | د قرآن کریم د سورتو وېش | ۲۴۷ |
| | **کتاب الدعوات** | |
| ۳۲ | د دعاوو بیان | ۲۴۸ |
| ۳۳ | د الله ﷻ ذکر او د الله ﷻ د قرب بیان | ۲۵۷ |
| | **کتاب اسماء الله تعالی** | |
| ۳۴ | د الله تعالی د نومانو بیان | ۲۶۹ |
| ۳۵ | د تسبیح، تحمید، تهلیل او تکبیرویلو ثواب | ۲۷۳ |
| ۳۶ | د استغفار او توبې بیان | ۲۸۳ |
| ۳۷ | د الله ﷻ د رحمت پراخوالی | ۲۹۸ |
| ۳۸ | د سهار، ماښام او بیده کېدو په وخت کي دعاوي | ۳۰۵ |
| ۳۹ | د مختلفو [illegible] د دعاؤ بیان | ۳۲۰ |
| ۴۰ | د پناه غوښتلو بیان | ۳۳۵ |
| ۴۱ | جامع دعاوي | ۳۴۲ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | **کتاب المناسک** | |
| ۴۲ | د حج د ارکانو بیان | ۳۵۲ |
| ۴۳ | د احرام او تلبیه بیان | ۳۶۱ |
| ۴۴ | د حجة الوداع قصه | ۳۶۵ |
| ۴۵ | مکې ته ننوتل او طواف | ۳۷۵ |
| ۴۶ | په عرفات کي د درېدو بیان | ۳۸۴ |
| ۴۷ | د عرفات او مزدلفې څخه ستنېدل | ۳۸۹ |
| ۴۸ | په منا کي د وېشتلو بیان | ۳۹۴ |
| ۴۹ | د قربانۍ بیان | ۳۹۶ |
| ۵۰ | د سر خریلو بیان | ۴۰۱ |
| ۵۱ | په حج کي تقدیم او تاخیر | ۴۰۳ |
| ۵۲ | د قربانۍ په ورځ خطبه ، رمي او د طواف رخصت بیان | ۴۰۵ |
| ۵۳ | هغه شیان چي د هغه څخه د محرم ځان ساتل پکار دي | ۴۱۲ |
| ۵۴ | د احرام په حالت کي د ښکار کولو منعه | ۴۱۷ |
| ۵۵ | د حج د بندیدو او فوت کیدو بیان | ۴۲۰ |
| ۵۶ | د مکې د حرم حرمت | ۴۲۲ |
| ۵۷ | د مدینې حرم | ۴۲۷ |

# كِتَابُ الْجَنَائِزِ

## (د جنازې بيان)

## بَابُ عِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَ ثَوَابِ الْمَرِيْضِ

## (د ناروغ پوښتنه او د ناروغۍ ثواب)

### لومړی فصل

**د ناروغ پوښتنه کول پکار دي**

(۱۴۳۷): عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ وَفُكُّوا الْعَانِيَ. رواه البخاري

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: وږي ته ډوډۍ ورکړئ د ناروغ پوښتنه وکړئ او بندي خلاص کړئ. بخاري

**د مسلمان پر مسلمان حقوق**

(۱۴۳۸): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَ اجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ. متفق عليه

دحضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دیوه مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقوق دي. ۱- دسلام جواب ورکول ۲- دناروغ پوښتنه کول ۳- دجنازې سره تلل ٤- بلنه قبلول ٥- دترېچی جواب ورکول. بخاري اومسلم.

(۱۴۳۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ. رواه مسلم

د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دیوه مسلمان پربل مسلمان باندی شپږ حقوق دی: پوښتنه وسول چي هغه کوم کوم دي. رسول الله ﷺ وفرمایل: ۱- هرکله چي دیو مسلمان سره وویني نو سلام اداء کوئ ۲- کله چي څوك بلنه درکړي نو دهغه بلنه قبلوه ۳- څوك چي درڅخه نصیحت یا خیرخواهی وغواړي نو هغه ته نصیحت وکړه. ۴- کله چي څوك وترچي او الحمد لله ووائي نو دهغه جواب ورکوه (یرحمك الله ووایه)

۵- څوک چي ناروغ سي نو دهغه پوښتنه کوه ۶- څوک چي مړ سي نو دهغه دجنازې سره ځه . مسلم

(۱۴۴۰): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ اَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ اَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَرَدِّ السَّلَامِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِي وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ نَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَ عَنِ الْحَرِيرِ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ . و في رواية وعن الشرب في الفضة فانه من شرب في الفضة فانه من شرب فيها في الدنيا لَم يشرب فيها في الاخرة . متفق عليه

دحضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چي نبی کريم ﷺ موږ ته داوو شيانو امر راکړئ او د اوو شيانو څخه ئې منعه کړو. موږ ئې امر کړو:۱- دناروغه دپوښتني ۲- دجنازې سره دتلو۳- دترچي دجواب ورکولو۴- دسلام دجواب ورکولو ۵- د بلونکي د بلني دقبلولو ۶- دقسم -خوړونکی دقسم درښتيا کولو۷- او دمظلوم سره د مرستي کولو. اومنعه ئې کړو:۱- دسرو زرو د گوتمي په گوته کولو څخه ۲- دريښمنو جامو داغوستلو څخه۳- دسره ځين دپوښ داستعمالولو څخه ۴-دقسی جامو څخه چي دوريښمو او کتان څخه جوړ سوی وي۵- دسپينو زرو دلوښو داستعمال څخه۶- داطلس جامو داستعمال څخه ۷- دوريښمنوجامو داغوستلو څخه . او په يو بل روايت کي داالفاظ هم سته چي نبي کريم ﷺ منعه کړې ده دسپينو زرو په لوښي کي داوبو چښلو څخه ، ځکه چي يوڅوک په دنيا کي دسپينو زرو په لوښي کي اوبه چيښی نو په اخرت کي به اوبه دسپينو زرو په لوښي کي ور په برخه نه سي. بخاري او مسلم

### د ناروغ پوښتني ثمره

(۱۴۴۱): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ . رواه مسلم

دحضرت ثوبانﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هرکله چي يو مسلمان د بل مسلمان ورور دناروغی پوښتنه کوي نوهميشه دجنت د ميوې په خوړو کي وي (دجنت دميوو دخوړولو اهل وی) تر څو چي دهغه ناروغ دپوښتني څخه بيرته راوگرځي. مسلم

### د ناروغ پوښتني اهميت

(۱۴۴۲): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي قَالَ يَا رَبِّ

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خدایﷻ به دقيامت په ورځ وفرمائي : اې انسانه ! زه ناروغ سوم ، مگر تا زما پوښتنه ونه کړه ، هغه به جواب

كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا عَلِمْتَ إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي .رواه مسلم

ورکړي ، اې زما پروردګاره ! ما څرنګه ستا پوښتنه کړې وای ، ته په خپله د دوارو جهانو پالونکی یې ، خدای ﷻ به ورته ووائی ، چي ایا ستا په یاد نه دي چي زما فلانی بنده ناروغ سو او تا دهغه پوښتنه ونه کړه ، که تا دهغه پوښتنه کړې وای نو زه به دي هلته پیدا کړی وای (زما رضا به دي هلته پیدا کړې وای) بیا به خدای ﷻ پوښتنه وکړی چي اې انسانه! ما ستا څخه ډوډۍ وغوښتله او تا ډوډۍ رانه کړه ، هغه به په جواب کي ووایي . اې پروردګارا! ما تا ته څنګه ډوډۍ درکړې وای ته خو د دوارو جهانو پالونکی یې. خدای ﷻ به وفرمائی : ستا په یاد نه دي چي زما فلانی بنده تاته د ډوډۍ غوښتلو لپاره راغلی وو تا هغه ته ډوډۍ ورنه کړه ، که تا هغه ته ډوډۍ ورکړې وای نو دهغې ثواب به دي زما سره موندلی وای. بیا به خدای ﷻ پوښتنه وکړی چي اې انسانه! ما ستا څخه اوبه وغوښتلې او تا اوبه رانه کړې. هغه به عرض وکړي چي اې پروردګاره! ما تاته اوبه څنګه درکړې وای ، ته خو د دوارو جهانو پالونکی یې. خدای ﷻ به وفرمائی زما فلاني بنده ستا څخه اوبه وغوښتلې اوتاهغه ته اوبه ور نه کړې ، تا ته معلومه نه ده که تا وهغه ته اوبه ورکړی وای نو دهغه ثواب به دي زما سره موندلی وای. او د ناروغ د پوښتنی په اړه یې داسي وفرمایل : لَوْ وَجَدْتَنِيْ عِنْدَهُ (زه به دی هغه ته نژدې پیدا کړی وای) خو د ډوډۍ او تږې دضرورت دپوره کولو په اړه ئې داسي وفرمایل چي : وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِيْ (تا به د دې ثواب زما سره پیدا کړی وای) نو څرګنده سوه چي د ناروغه پوښتنه غوره ده . مسلم.

## تر ځان کښته درجې والا ناروغ پوښتنه

(۱۴۴۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أَعْرَابِيٍّ يَعُودُهُ وَكَانَ اِذَا دَخَلَ عَلَى مَرِيْضٍ يَعُودُهُ قَالَ لَا بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَقَالَ لَهُ لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ قَالَ كَلَّا بَلْ حُمّٰى تَفُوْرُ عَلٰى شَيْخٍ كَبِيْرٍ تُزِيْرُهُ الْقُبُوْرَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

دحضرت عباس ؓ څخه روایت دي چي نبی کریم ﷺ د صحرایي د پوښتنی لپاره ولاړئ ، دنبی کریم ﷺ عادت مبارك دا وو چي دیو ناروغ دپوښتنی لپاره به ورتلئ نو د هغه سره به کښېنستئ او فرمایل به یې : لاباس طهور ان

عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَنَعَمْ إِذًا. رواه البخاري .

شاء الله (څه اندېښنه نسته ، ته په ناروغۍ مه خفه کېږه داستا پاکونکې ده) نو هغه صحرایي ته یې هم داسي وفرمایل: لاباس طهور ان شاء الله (څه اندېښنه نسته په ناروغۍ مه خفه کېږه داستا پاکونکې ده) ، صحرایي چي دنبی کریم ﷺ دا الفاظ واورېدل نو یې وویل داسی نه ده بلکه دا یو داسي تبه ده چي په ډېر سپین ږیری سړی جوش وهی ، اوهغه به قبر ته ورسوی ، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : او داسی به کیږی . بخاري

## د ناروغ لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

(۱۴۴۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اذَا اشْتَکٰی مِنَّا انْسَانٌ مَسَحَهُ بِیَمِیْنِهٖ ثُمَّ قَالَ اَذْهِبْ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا یُغَادِرُ سَقَمًا. متفق علیه

دحضرت عائشې (رض) څخه روایت دي چي کله به په موږ کي یو څوك ناروغ سو نو نبی کریم ﷺ به خپل راسته لاس پر هغه راتیر کړئ او فرمایل یې: اذهب ......سقمًا (اې دخلکو پروردګاره ، ناروغي لیري کړې او شفا ورکړې ته شفا ورکونکی ئې ، نسته شفا خو شفا ستا هغه شفا چي هیڅ ناروغي نه پرېږدي . بخاري اومسلم

(۱۴۴۵): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ اذَا اشْتَکَی الْاِنْسَانُ الشَّیْءُ مِنْهُ اَوْ کَانَتْ بِهٖ قَرْحَةٌ اَوْ جُرْحٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم بِاِصْبَعِهٖ بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِیْقَةِ بَعْضِنَا یُشْفَی سَقِیْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا. متفق علیه

دحضرت عائشې (رض) څخه روایت دی : کله چي به د یو چا په خپل بدن کي دیوه ځایه څخه شکایت وکړئ د درد یا یوې ناروغۍ له کبله او یا د یو بل شي څخه د هغه په بدن کي ، د ننکۍ یا د زخم له کبله ، نو رسول الله ﷺ به خپله ګوته پورته کړل او وبه ئې فرمایل . بسم الله ......... باذن ربنا (دخدای ﷺ په نامه سره برکت ترلاسه کوم ، موږ دمځکی دا خاوره زموږ دځینو خلکو دخولې دناوړو لړلې ده زموږ چي دپروردګار په امر زموږ ناروغ لره شفاء ورکړي . بخاري او مسلم

(۱۴۴۶): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اذَا اشْتَکٰی نَفَثَ عَلٰی نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِیَدِهٖ فَلَمَّا اشْتَکٰی وَجَعَهُ الَّذِیْ تُوُفِّیَ فِیْهِ کُنْتُ اَنْفُثُ عَلَیْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ الَّتِیْ کَانَ یَنْفُثُ وَاَمْسَحُ بِیَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ . متفق علیه ، وَ فِيْ رِوَایَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَتْ کَانَ اذَا مَرِضَ اَحَدٌ مِنْ

دحضرت عائشې (رض) څخه روایت دي : چي کله به رسول الله ﷺ ناروغ سو نو قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس (سورتونه) به ئې پر ځان دم کول او پر بدن به ئې لاس تیروئ . تر کوم ځایه پورې به چي د نبی کریم ﷺ لاس رسېدئ ، نبی کریم ﷺ چي کوم وخت په هغه ناروغی کي پرېوتئ په کوم کی چي وفات سو

اَهْلِ بَیْتِه نَفَثَ عَلَیْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ.

نو دا دواړه سورتونه به ما لوستل ، د نبی کریم ﷺ په لاسونو به می دم کول او بیا به مي د نبی کریم ﷺ لاسونه دهغوئ پر بدن را تیرول. بخاري او مسلم. او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ راغلي دی چي عائشي (رض) وفرمایل دکور په خلکو کی به چي څوك ناروغه سو ، نو نبی کریم ﷺ به دواړه سورتونه پر چف کول.

### د درد ختمولو لپاره دعاء

(۱۴۲۷): وَعَنْ عُثْمَانَ ابْنِ اَبِيْ الْعَاصِ اَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي يَأْلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ بِاسْمِ اللّٰهِ ثَلاَثًا وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ قَالَ فَفَعَلْتُ فَاَذْهَبَ اللّٰهُ مَا كَانَ بِيْ. رواه مسلم.

د حضرت عثمان بن ابو العاص ﷺ څخه روایت دي چي هغه نبی کریم ﷺ ته دهغه درد شکایت وکړ کوم چي دهغه پر بدن وو. رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل ، کوم ځای چي ستا په بدن کي درد کوي هلته لاس کښیږده . دري واره (بسم الله) ووایه او اووه واره (اعوذبعزة الله وقدرته من شر ما اجد واحاذر) ووایه، عثمان ﷺ وایي ما داسي وکړل خدای ﷻ زما څخه هغه درد بوتلی یعني جوړ سوم . مسلم.

### د رسول الله ﷺ ناروغي او د جبرائیل ﷺ دعاء

(۱۴۲۸): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اشْتَكَيْتَ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ بِاسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللّٰهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيكَ . رواه مسلم

د حضرت ابو سعید خدری ﷺ څخه روایت دي چي جبرئیل ﷺ د نبی کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وئي ویل : ای محمده! ایا ته ناروغ ئي؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: هو. جبرئیل ﷺ ورته وویل : بسم الله ارقیك .... (دخدای ﷻ په نامه پر تا دم کوم دهر هغه شي څخه چي تا ته تکلیف درکوي دهر هغه چا د بدي څخه او د هر حاسد د نظر څخه ، الله تعالی دي تا ته شفا درکړي، دخداي ﷻ په نامه پر تا دم کوم) مسلم

### د بدي او پیښي څخه د الله تعالی پناه

(۱۴۲۹): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي نبی کریم ﷺ به خپل لمسیان حسن او حسین رضی الله عنهما په دې الفاظو سره دخدای ﷻ په پناه کي ورکول : اعیذ کما ... (یعنی ای حسن او

| | |
|---|---|
| عَيْنٍ لَامَّةٍ وَيَقُولُ إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ. رواه البخاري و في اكثر نسخ المصابيح بهما على لفظ التثنية. | حسين زه تاسو د خدای ﷻ د پوره کلماتو په پناه کي ورکوم ، دهر شيطان دبدی څخه ، او دهر زهرجن حيوان څخه ، او دهر نظر لگونکی |

دسترگو څخه) او نبی کريم ﷺ به دا هم فرمايل : چي ستاسو پلار يعنی حضرت ابراهيم ﷺ به ددې کلماتو په ذريعه خپل زامن اسماعيل ﷺ او اسحق ﷺ (دخدای ﷻ په پناه کي ورکول ،دمصابيح په اکثرو نسخو کی د ((بها)) پر ځای ((بهما)) دئ . بخاري

## تکليف د الله تعالی رحمت دی

| | |
|---|---|
| (١٤٥٠): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدْ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ . رواه البخاري | دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دچا سره چي الله تعالی دښو کولو اراده وکړي نو هغه په ستونزه کي و اچوي . بخاري |

## تکليف او غم گناهونه ختموي

| | |
|---|---|
| (١٤٥١): وَعَنْهُ وَ عَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ. متفق عليه | دحضرت ابو سعيد خدری ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان ته چي کوم رنځ ، تکليف ، فکر ، غم او څه ضرر رسيږي تر دې چي يو اغزی ئې پکښې مات سي نو الله تعالی د هغه له کبله دهغه گناه ليری کوي . بخاري اومسلم |

## پر رسول الله ﷺ د تکليف او ناروغی سختي

| | |
|---|---|
| (١٤٥٢): وَعَنْ عَبْدِاللّٰه بْنِ مَسْعُوْد رضي الله عنه قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُوعَكُ فَمَسَسْتُهُ بِيَدِيْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجَلْ إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ قُلْتُ ذَلِكَ لِأَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ فَقَالَ أَجَلْ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلَّا حَطَّ اللّٰهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا . متفق عليه | دحضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دي چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، هغه وخت د نبی کريم ﷺ تبه وه ، ما دنبی کريم ﷺ پر بدن باندي لاس کښېښودئ او عرض مي وکړ . اي د الله رسوله! ستاسو هم سخته تبه کيږي ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : هو! زما هم تبه کيږي ، دومره تبه کوم چي تاسو دوو کسانو ته راځي . ابن مسعود ﷺ وايي ، ما عرض وکړ ، اي دالله رسوله! د دې غالبه وجه داده چي تاسو |

دوه چنده ثواب تر لاسه کړئ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل : هو! او د دې وروسته يې وفرمایل: هیڅ یو مسلمان داسي نسته چي هغه ته د یو ناروغي څخه تکلیف ورسیږي ، یا د دې څخه پرته بل یو تکلیف ترڅو چي الله ﷻ دهغه په وجه دهغه گناهونه لیرى کړي لکه د درختي څخه چي وچي پاڼي رژیږي . بخاري او مسلم.

(۱۴۵۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا عَلَيْهِ أَشَدُّ الْوَجَعُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق علیه

دبی بی عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما دهیچا ناروغي دومره سخته نه وه لیدلې ، څومره چي د رسول الله ﷺ ناروغي وه .مسلم او بخاري

**د مرگ سختي د لوړو مرتبو علامه ده**

(۱۴۵۴): وَعَنْهَا قَالَتْ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي فَلَا أَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِأَحَدٍ أَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ زما دغاړي او زني په مینځ (غیږ) کي وفات سو ، له دې کبله د نبی کریم ﷺ څخه وروسته دهیچا دمرگ سختي بده نه گڼم . بخاري

**د مسلمان او منافق د ژوند مثال**

(۱۴۵۵): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ تُفَيِّئُهَا الرِّيحُ تَصْرَعُهَا مَرَّةً وَتَعْدِلُهَا أُخْرَى حَتَّى يَأْتِيَهُ أَجَلُهُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الْأَرْزَةِ الْمُجْذِيَةِ الَّتِيْ لَايُصِيبُهَا شَيْءٌ حَتَّى يَكُونَ انْجِعَافُهَا مَرَّةً وَاحِدَةً . متفق علیه

د حضرت کعب بن مالك ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دمسلمان مثال دیو فصل د تازه پاڼو په دول دئ چي هوا حرکت ورکوي ، کله ئې هوا غورځوی او کله يې دروي ، تر دې چي دهغه دمرگ وخت راځي ، او د منافق مثال دصنوبر د درختي په شان دی ، چي مضبوطه او سخته وي ، دهوا په وجه هیڅ یو ضرر نه ور رسیږي ، همداسي منافق دحادثې پروا نه ساتي او خوشحاله وي بیا ناڅاپه (دصنوبر د درختي په شان)غورځي (مري) بخاري اومسلم

(۱۴۵۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَمَثَلِ الزَّرْعِ لَا تَزَالُ الرِّيحُ تُمِيلُهُ وَلَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ يُصِيبُهُ الْبَلَاءُ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ شَجَرَةِ الْأَرْزِ لَا تَهْتَزُّ حَتَّى

دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دمؤمن مثال دیو فصل په شان دي ، هواگانی هر وخت هغه ته حرکت ورکوي ، دغسي مؤمن ته تکلیفونه رسیږي او دمنافق

تَسْتَحْصِدَ . متفق عليه

مثال دصنوبر ددرختي په شان دي ، چه هغه نه ښوري ، تر دې چي دبيخه څخه ووځي . بخاري اومسلم .

**ناروغی ته بد مه واياست**

(۱۴۵۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ السَّائِبِ فَقَالَ مَا لَكِ تُزَفْزِفِينَ قَالَتْ الْحُمَّى لاَ بَارَكَ اللّهُ فِيهَا فَقَالَ لاَ تَسُبِّي الْحُمَّى فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ . رواه مسلم

دحضرت جابر ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ بی بی ام سائبې رضی الله عنها ته تشريف ورورئ او پوښتنه يې څيني وکړه ، ولی رپېږې ؟ هغې ورته وويل ، تبه مي ده ، خدای ﷺ دي دې ته برکت ور نه کړي ، نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : تبی ته بد مه وايه ، څکه چي تبه دانسان گناهونه داسي ليري کوي څنگه چي بټۍ داوسپني ميل (خيري) ليري کوي . مسلم

**د ناروغی په وخت کي د قضا سوو نوافلو ثواب ورکول کيږي**

(۱۴۵۸): وَعَنْ أَبِيْ مُوسٰى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا. رواه البخاري

دحضرت ابو موسی ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو بنده ناروغه سي يا سفر کوي (او دهغه څخه دهغه نفلونه او اذکار پاته کيږي) نو دهغه په حساب کي ليکل کيږي ، څنگه چي به هغه د روغتيا او اقامت په حالت کي کول . بخاري .

**په طاعون کي د مړ کېدونکي فضيلت**

(۱۴۵۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ كُلِّ مُسْلِمٍ . متفق عليه

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په) طاعون (کي مړ کېدل) دهر مسلمان لپاره شهادت دی . بخاري او مسلم

**د شهيد ثواب تر لاسه کونکی**

(۱۴۶۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ وَالْغَرِيقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللّهِ. متفق عليه

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شهيدان پنځه دي . يو طاعون ځپلي . دويم چي دنس دناروغي څخه مړ سي ، دريم چي په اوبو کي بې اختياره مړ سي ، څلورم چي د دېوال يا بام لاندي مړ سي ، پنځم چي دخدای ﷺ په لاره کي شهيد سي . بخاري او مسلم

### د طاعون په سیمه کې د صبر فضیلت

(۱۴۶۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللّٰهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللّٰهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ . رواه البخاري

دبی بی عائشې (رض) څخه روایت دي چي ما د رسول الله ﷺ څخه دطاعون حقیقت وپوښتئ ، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل : طاعون یو عذاب دئ چي خدای ﷻ یې پر خپلو بندګانو وغواړي نازلوي یې ، او خدای ﷻ دا دمؤمنانو لپاره رحمت ګرځوي او کوم ځای چي طاعون وي ، او هلته دخدای ﷻ یو مؤمن بنده پاته سي او د ښار او کلي څخه ونه تښتي ، او صابر پاته سي او دخدای ﷻ څخه دثواب غوښتونکی سي ، او باور ولري چي هغه ته به څه ضرر نه رسیږي ، مګر نه هغه چي خدای ﷻ لیکلي وي ، نو هغه ته دشهید ثواب ورکول کیږي . بخاري

### د طاعون وهلي سیمې په اړه یو هدایت

(۱۴۶۲): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ رِجْزٌ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ . متفق عليه

دحضرت اسامه بن زید ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : طاعون یو عذاب دئ چي دبني اسرائیلو پر یو ډلي نازل سوئ وو ، یا نبی کریم ﷺ وفرمایل : په هغه خلکو کي چي ستاسو مخکي وه ، هر کله چي تاسو واورئ چي په یو ځای کي طاعون دئ ، نو هلته مه ځئ او هرکله چي په یو ځای کي طاعون خپور سي کوم ځاي چي تاسو اوسیږئ نو دهغه ځایه څخه بلي خوا ته مه تښتئ . بخاري او مسلم .

### د ړوند والي سعادت

(۱۴۶۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قال الله سبحانه وتعالى إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ ثُمَّ صَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ يُرِيدُ عَيْنَيْهِ. رواه البخاري

دحضرت انس ﷺ څخه روایت دي چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل : الله تعالی فرمایي : کوم بنده چي زه په دوه خوښ شیانو کي اخته کوم ، او هغه ور باندي صبر وکړي نو دهغو په بدله کي زه جنت ورکوم او هغه دوه خوښ شیان سترګي دي (یعني څوك چي زه ړوند کړم) . بخاري .

## دويم فصل

### د عيادت اجر

| | |
|---|---|
| (۱۴۶۴): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ. رواه الترمذي وابوداؤد. | دحضرت علي ﷺ څخه روايت دي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي ، کوم مسلمان چي د يو مسلمان ورور دناروغي پوښتنه دسهار په وخت کي وکړي نو اويا زره ملائکي تر ماښامه پوري دهغه لپاره درحمت او مغفرت دعاوي کوي ، او څوك چي دماښام په وخت کي |

دناروغ پوښتنه وکړي ، نو دهغه لپاره اويا زره ملائکي تر سهاره پوري د رحمت او مغفرت دعاوي کوي اوپه جنت کي دهغه لپاره يو باغ تياکي . ترمذي ، ابوداؤد.

### د سترګو په ناروغی کي عيادت

| | |
|---|---|
| (۱۴۶۵): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِعَيْنَيَّ . رواه احمد وابو داود . | دحضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دي چي زما سترګي خوږېدې نو نبي کريم ﷺ زما پوښتنه وکړه. ترمذي ، ابوداؤد . |

### د عيادت لپاره اودس کول سنت دی

| | |
|---|---|
| (۱۴۶۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا بُوْعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيْرَةَ سِتِّيْنَ خَرِيْفًا . رواه أبو داود . | دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي : چاچي په ښه توګه اودس وکړ او هغه صرف د ثواب په نيت ديو مسلمان ورور پوښتنه وکړه ، نو هغه ددوږخ څخه دشپېته کلو په مسافت ليري ساتل کيږي . ابوداؤد |

### د ناروغ لپاره دعاء

| | |
|---|---|
| (۱۴۶۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُوْدُ مُسْلِمًا فَيَقُوْلُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ أَنْ يَّشْفِيَكَ إِلاَّ شُفِيَ إِلاَّ أَنْ يَّكُوْنَ قَدْ حَضَرَ أَجَلُهُ . رواه أبو داود والترمذي . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان چي د يو مسلمان پوښتنه وکړي او اووه واره دا کلمات ووايي ، اسال ...... ان يشفيك (د لوی الله ﷻ څخه دعا غوارم چي دعرش عظيم خاوند دئ ، |

دا چي تاته شفاء درکړي) نو خدای ﷻ هغه ته شفاء ورکوي ، په شرط ددې چي دهغه دمرگ وخت نه وي راغلی . ابوداؤد او ترمذي.

**د تبې او درد دعاء**

(۱۴۶۸): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمّٰى وَمِنَ الْأَوْجَاعِ كُلِّهَا أَنْ يَقُوْلَ بِسْمِ اللّٰهِ الْكَبِيْرِ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا يعرف الا من حديث ابراهيم بن اسماعيل وهو يضعف في الحدث .

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دي چي نبی کریم ﷺ به خپلو اصحابو ته ښودل چي هغوئ دتبې او درد په وخت کي داکلمات وائي : بسم الله ..........حر النار ( دلوی خدای په نامه زه د لوي خدای ﷻ په ذریعه دهر رگ جوش وهونکي د شر څخه او د اور دگرمۍ د بدۍ څخه پناه غوارم) (ترمذي ، داحدیث غریب دي) يوازي د ابراهيم بن اسماعيل څخه روايت دئ او دی ضعيف گڼل سوی دی.

**په ناروغۍ کي کومه دعاء ویل پکار دي؟**

(۱۴۶۹): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنِ اشْتَكَى مِنْكُمْ شَيْئًا أَوِ اشْتَكَاهُ أَخٌ لَهُ فَلْيَقُلْ رَبُّنَا اللّٰهُ الَّذِيْ فِي السَّمَاءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الْأَرْضِ اغْفِرْ لَنَا حُوْبَنَا وَخَطَايَانَا أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِيْنَ أَنْزِلْ رَحْمَةً مِّنْ رَّحْمَتِكَ وَشِفَاءً مِّنْ شِفَائِكَ عَلَى هٰذَا الْوَجَعِ فَيَبْرَأَ . رواه أبو داود .

دحضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي ، په تاسو کي چي یو څوك ناروغ سي یا د هغه ورور ناروغ وي ، نو هغه ته پکار ده چي داکلمات ووایي : ربنا الله ..... فيبرا (زموږ رب الله دئ ، هغه الله چي په اسمان کي دئ ، ستاسو نوم پاك دئ ، ستاسو حکم په اسمان او مځکه کي منل کيږي ، څنگه چي ستا رحمت په اسمان کي دئ ، همداسي رحمت په مځکه کي نازل کړئ ، زموږ کوچني او لوی گناهونه وبخښې ، ته د پاکو خلکو پروردگار يې ، دخپل رحمت څخه رحمت او دخپلي شفاء څخه شفاء پر دغه ناروغۍ نازل کړې نو هغه به ښه سي) ابوداؤد

**د عيادت پر وخت دعاء**

(۱۴۷۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ يَعُوْدُ مَرِيْضًا فَلْيَقُلْ اللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا أَوْ يَمْشِيْ

دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي یو سړی دناروغ پوښتني ته راسي ، نو هغه ته پکار ده چي دا کلمات ووایي : اللهم ......... الی جنازة: (یا الله

لَكَ إِلَى جَنَازَةٍ .رواه ابو داود .

دې خپل بنده ته شفاء ورکړه چي ستا د دښمن سره جنګ وکړي يا ستا د رضا د تر لاسه کولو لپاره د جنازې سره ولاړ سي) ابوداؤد

**تکليف او مصيبت د مسلمان لپاره دګناهو کفاره ده**

(١٤٧١): وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أُمَيَّةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى إِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ، وَعَنْ قَوْلِهِ مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ، فَقَالَتْ مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَذِهِ مُعَاتَبَةُ اللّٰهِ الْعَبْدَ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنَ الْحُمَّى وَالنَّكْبَةِ حَتَّى الْبِضَاعَةُ يَضَعُهَا فِي يَدِ قَمِيصِهِ فَيَفْقِدُهَا فَيَفْزَعُ لَهَا حَتَّى إِنَّ الْعَبْدَ لَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوبِهِ كَمَا يَخْرُجُ التِّبْرُ الْأَحْمَرُ مِنَ الْكِيرِ. رواه الترمذي

حضرت علی بن زید دامیه رضی الله عنهما څخه روایت کوي چي هغې د عائشې رضی الله عنها څخه د دې ایاتو مطلب وپوښتئ . ان تبدوا .....به الله (څه چي ستاسو په زړونو کي دي ، هغه که ظاهر کړي یا ئې پټ کړي، خدای به در څخه د هغه حساب وکړي) او ومن يعمل سوء يجز به (او څوك چي بدي وکړي دهغه بدله به ورکول سي). بی بی عائشې وفرمایل : کله چي دامسئله ما د رسول الله ﷺ څخه وپوښتل ، زما څخه هیچا دامسئله نه ده پوښتلې (ستا دسوال په جواب کي) نبي کريم ﷺ فرمايلي وه چي دامحاسبه او جزاء (چي په دې اياتو کي ذکر ده) پر بنده دخدای عتاب (زورونه) ده ، چي هغه ته دتبي او رنځ په صورت کي رسيږي ، تردې چي دهغه شي په ورکېدو سره چي هغه يې د قميص په لستوني (ياجيب) کي لري ، او هغه بيا پيدا نه کړي ، او د هغه په نه پيدا کيدو ناراضه کيږي ، نو هغه دګناهونو څخه داسي پاکيږي ، څنګه چي سره او سپين زر دبټي وتلو سره صاف او پاك سي . ترمذي .

(١٤٧٢): وَعَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللّٰهُ عَنْهُ أَكْثَرُ قَالَ وَقَرَأَ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ . رواه الترمذي

دحضرت ابوسی ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده ته چي کوم معمولي ضرر هم ورسيږي يا بل څه تکليف که کم وي او که زيات ، دا دهغه دګناهونو پايله وي ، او هغه ګناه چي خدای ﷻ ئې په دنيا او اخرت کي معافوي ،ددې ګناهونو څخه ډير زيات دي ، په کومو چي سزا ورکوي ، بيا نبی کريم ﷺ دا ايت ولوستئ . وما اصابکم ....عن کثير ( کوم مصيبت چي تاسو ته رسيږي، هغه ستاسو دلاسه وي او خدای ﷻ ډېر ګناهونه معافوي) ترمذي

**د ناروغۍ په حالت کې د روغتیا د وخت د اعمالو ثواب ورکول کیږي**

(۱۴۷۳): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا كَانَ عَلَى طَرِيْقَةٍ حَسَنَةٍ مِّنَ الْعِبَادَةِ ثُمَّ مَرِضَ قِيْلَ لِلْمَلَكِ الْمُوَكَّلِ بِهِ اكْتُبْ لَهُ مِثْلَ عَمَلِهِ إِذَا كَانَ طَلِيْقًا حَتَّى أُطْلِقَهُ أَوْ أَكْفِتَهُ إِلَيَّ . شرح السنة

دحضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي یو بنده په ښه توګه عبادت کوي او بیا ناروغ سي نو خدای تعالی هغې ملائکي ته چي دهغه داعمالو په لیکلو مامورہ وي، حکم ورکوي، چي هغه د صحت په حالت کي کوم نیك کار کوئ، همهغه اعمال لیکه ترڅو چي زه هغه ته روغتیا ورکوم یا زه هغه ځان ته راوغوارم. (شرح السنة)

(۱۴۷۴): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا ابْتُلِيَ الْمُسْلِمُ بِبَلَاءٍ فِيْ جَسَدِهِ قِيْلَ لِلْمَلَكِ اكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُ فَإِنْ شَفَاهُ غَسَّلَهُ وَطَهَّرَهُ وَإِنْ قَبَضَهُ غَفَرَ لَهُ وَرَحِمَهُ . رواهما في شرح السنة .

دحضرت انس ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چي کله یو مسلمان په بدني ناروغۍ اخته سي، نو ملائکو ته ویل کیږي چي دده په اعمال نامه کي هغه نیك عمل لیکئ، کوم چي به ده د روغتیا په وخت کي کول، بیا که خدای ﷻ هغه ته شفاء ورکړه، نو دهغه ګناهونه رژوي او هغه پاکوي او که هغه واخلي (وفات کړي) نو هغه ته بخښنه کوي او رحم پر کوي. (شرح السنة)

**د الله ﷻ په لاره کي د شهادت څخه پرته د شهادت نور ډولونه**

(۱۴۷۵): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيْكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَلْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيْدٌ وَالْمَبْطُوْنُ شَهِيْدٌ وَصَاحِبُ الْحَرِيْقِ شَهِيْدٌ وَالَّذِيْ يَمُوْتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيْدٌ وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ شَهِيْدٌ . رواه مالك وأبو داود والنسائي .

دحضرت جابر بن عتیك ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: شهادت پر اووه ډوله دئ: دهغه شهادت څخه پرته کوم چي دالله تعالی په لاره کي وي: ۱- هغه څوك چي دطاعون (وباء) په ناروغۍ کي مړ سي شهید دي، ۲- کوم چي ډوب سي او مړ سي شهید دئ، ۳- ذات الجنب (یو مرض دی) کي چي مړ سي، شهید دئ، ۴- دنس په ناروغۍ کي چي مړ سي شهید دئ، ۵- په اور کي چي وسوزي، مړ سي، ۶- تر یو ودانۍ لاندي سي او مړ سي، ۷- کومه ښځه چي دحمل په حالت کي مړه سيئ، یا باکره (پیغله) وي مړه سي، شهیده ده. مالك، ابوداؤد، نسائي.

**په سخت مصيبت کي څوک اخته کيږي ؟**

﴿۱۴۷۶﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ النَّاسِ اَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِيْنِه فَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِه صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهٗ وَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِه رِقَّةٌ هُوِّنَ عَلَيْهِ فَمَا زَالَ كَذٰلِكَ حَتّٰى يَمْشِيَ عَلَى الْاَرْضِ مَالَهٗ ذَنْبٌ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

دحضرت سعد ﷺ څخه روايت دي چي د نبی کريم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي : کوم خلك په سختو ستونزو اخته کيږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : انبياء عليهم السلام ، بيا هغه خلك چي انبياءو سره زيات مشابه وي ،بيا هغه خلك چي دهغوئ سره زيات مشابه وي ، بيا هغه انسان چي پر دين ډير سخت وي ، هغومره مصيبت يې سخت وي ، او څومره چي په دين کي نرم وي ، هغومره دهغه مصيبت نرم وي، تر دې چي په دين کي سخت انسان پر مځکه گرځي ، او دگناه څخه پاك وي . (ترمذي ، ابن ماجه ، دارمي) په ترمذي کي راغلي دي چي داحديث حسن صحيح دي .

**د اخيرت ښېگڼه د مرگ په سختي کي ده**

﴿۱۴۷۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا اَغْبِطُ اَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِيْ رَاَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي والنسائي .

دبی بی عائشې (رض) څخه روايت دئ ، چي کله ما د رسول الله ﷺ دوفات سختي ليدلې ده ، ما هيڅ کله دچا دمرگ داسانۍ اميد نه دئ کړی . ترمذي ، نسائي

**په سکرات الموت (زکندن) کي د رسول الله ﷺ عمل**

﴿۱۴۷۸﴾:وَعَنْهَا قَالَتْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْمَوْتِ وَعِنْدَهٗ قَدَحٌ فِيْهِ مَاءٌ وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهٗ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهٗ ثُمَّ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ اَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ. رواه الترمذي وابن ماجة .

دبی بی عائشې (رض) څخه روايت دي چي ما رسول الله ﷺ وليدئ چي دمرگ حالت پر څپور وو . د نبی کريم ﷺ ومخته يوه پياله د اوبو پرته وه ، نبي کريم ﷺ په اوبو کي لاس ډوبوئ او پر مخ به يې تيروئ او فرمايل به ئې : اللهم ...، او سکرات الموت (اې خدايه ﷻ دمرگ په سختي ليري کولو کي ته زما سره مرسته وکړې ، يا يې داسي وفرمايل: يا الله! دمرگ دڅپو په دفعه کولو کي زما مرسته وکړې) ترمذي

**د دنيا سزا د اخرت تر سزا غوره ده**

﴿۱۴۷۹﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتّٰى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الترمذي

ﷺ وفرمایل : کله چي الله ﷻ دخپل یو بنده سره دنیکۍ اراده وکړي ، نو دهغه سزا په دنیا کي ژر ورکوي ، او کله چي یو بنده ته د بدۍ اراده وکړي ، نو دهغه دګناهونو سزا پرېږدي تر څو د قیامت په ورځ هغه ته دګناهونو پوره سزا ورکړي . ترمذي

## د مصیبت په وخت کي راضي کېدل پکار دي

(۱۴۸۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَإِنَّ اللّٰهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ. رواه الترمذي وابن ماجة .

دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : لویه بدله په لوی مصیبت سره ده ، خدای ﷻ چي یو قوم خوښ ګرځوي ، نو هغوئ په مصیبت کي اخته کوي ، ترڅو چي په مصیبت او آزمائښت کي خوشحاله سو ، نو دهغه لپاره دخدای ﷻ رضا ده ، او څوک چي ناراضه سو ، نو دهغه دپاره دخدای ﷻ ناراضي ده . ترمذي ، ابن ماجه

## مؤمنان به په دنیا کي همېشه په مصیبت کي وي

(۱۴۸۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وماله وولده حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ. رواه الترمذي و روى مالك نحوه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ داسي وفرمایل : مسلمان سړی او مسلماني ښځي ته همیشه دهغه یا د هغې په ذات ، مال او اولاد کي مصیبت او آزمائښت رسیږي . تر دې چي هغوئ دخدایٰ ﷻ سره دګناهونو څخه پاك يو ځای سي . ترمذي ، مالك، په ترمذي کي راغلي دي چي دا حدیث حسن او صحیح دئ .

## د مصیبت سعادت او مرتبه

(۱۴۸۲): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ خَالِدِ السُّلَمِيِّ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللّٰهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَله ابْتَلَاهُ اللّٰهُ فِيْ جَسَدِهِ أَوْ فِيْ مَالِهِ أَوْ فِيْ وَلَدِهِ ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلٰى ذٰلِكَ يُبَلِّغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِيْ سَبَقَتْ لَهُ مِنَ

حضرت محمد بن خالد سلمي رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلاره څخه روایت کړی دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چي دخدای ﷻ سره دیو بنده څه داسي رتبه وټاکل سي چي هغه په خپلو نیکو اعمالو سره تر لاسه کولای نه سي نو خدای ﷻ هغه په بدني، مالي، او د اولاد په

الله . رواه أحمد وأبو داود .

ستونزه اخته کوي ، (یا خو هغه ناروغ سي یا دهغه مال ضائع سي ، یا اولاد ته ئې تاوان ورسي) بیا خدای ﷻ هغه ته صبر ورکوي ، ترڅو هغه هغې مرتبې ته ورسوي ، کومه چي دهغه لپاره تاکل سوې وي . احمد ، ابوداؤد .

**دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه ده**

(۱۴۸۳): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ شِخِّيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتّٰى يَمُوْتَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

دحضرت عبد الله بن شخیر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : انسان په داسي حال کي پیدا سوئ دئ چي دهغه په اړخ کي نهه نیوي (۹۹) هلاکونکي بلاگاني اېښودل سوي دي ، که دا بلاگاني ځیني لیري سوې یعني انسان ئې په مصیبت کي اخته نه کړ ، یا هغه برداشت کړې ،نو په سپین ږیرتوب کي خو خامخا تاوان اونقصان ورسوي ، تر دې پوري چي مړ سي . ترمذي . داحدیث غریب دي .

**په دنیا کي په راحت او سکون سره د اوسیدونکو د قیامت په ورځ تمنا**

(۱۴۸۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِيْنَ يُعْطَى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُوْدَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيْضِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دقیامت په ورځ به هغو خلکو ته چي په دنیا کي په مصیبت کي اخته سوي وي ، ثواب ورکول سي ، نو کوم خلك چي په دنیا کي په امن او عافیت سره وه ، ددې خبرې امید به ساتي چي کاشکي په دنیا کي ئې خپل بدنونه په غچیانو سره پرې کړي وای (او نن دهغه په بدله کي دېر ثواب ترلاسه سوی وای .(ترمذي) په ترمذي کي ویل سوي دي چي داحدیث غریب دي .

**دگناهو کفاره ناروغي ده**

(۱۴۸۵): وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ قَالَ ذَكَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَسْقَامَ فَقَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ ثُمَّ عَافَاهُ اللّٰهُ مِنْهُ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى مِنْ ذُنُوْبِهِ وَمَوْعِظَةً لَهُ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيْرِ عَقَلَهُ أَهْلُهُ ثُمَّ أَرْسَلُوْهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوْهُ وَلِمَ أَرْسَلُوْهُ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ

دحضرت عامر ﷺ څخه روایت دي چي یو وار رسول الله ﷺ دناروغۍ یادونه وکړه ، او په دې اره یې وویل : یو مؤمن چي کله په یوه ناروغي کي اخته سي او وروسته بیا خدای ﷻ هغه ته روغتیا ورکړي ، نو دا ناروغي دهغه لپاره دتیرو گناهونو کفاره گرځي ، او آئنده د هغه

اللهِ وَمَا الْأَسْقَامُ ؟ وَاللهِ مَا مَرِضْتُ قَطُّ فَقَالَ قُمْ عَنَّا فَلَسْتَ مِنَّا . رواه أبو داود .

لپاره نصیحت او عبرت جوړ سي ، او منافق چي کله ناروغ سي ، بیا روغتیا ورکړل سي نو د هغه اوښ په شان سي چي مالك تړلی وي ، بیائې ایله کړي ، اوښ ته ددې سبب څرګند نه وي ، چي ولي دهغه خاوند هغه وتړئ، اوولي يې پرېښودئ ، یو سړی د نبی کریم ﷺ دابیان واورېدئ نو هغه ته یې وویل : یا رسول الله ﷺ! ناروغي څه شي ده ؟ قسم په خدای زه خو هیڅکله نه یم ناروغ سوی . نبی کریم ﷺ وفرمایل : ته زموږ د ډلي څخه ولاړ سه ، ته زموږ څخه نه ئې . (ابوداؤد)

**ناروغ ته ډاډ ورکوئ**

﴿۱۴۸۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي أَجَلِهِ فَإِنَّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَيُطِيبُ بِنَفْسِهِ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب .

دحضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي تاسو دیو ناروغ پوښتني ته ورسئ ،نو هغه ته ډاډ ورکوئ او دهغه رنځ او غم لیري کړئ ، که څه هم دا ډاډ حکم الهي نه سي منع کولای ، مګر دناروغ زړه خامخا خوشحالوي (ترمذي ، ابن ماجه) ترمذي ویلي چي داحدیث غریب دي .

**د نس د ناروغۍ څخه مړ کېدونکی د قبر د عذاب څخه محفوظ دی**

﴿۱۴۸۷﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِيْ قَبْرِهِ .رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب .

دحضرت سلیمان بن صرد ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي دنس دناروغۍ څخه مړ سي ، هغه ته دقبر عذاب نه ورکول کیږي . (احمد ، ترمذي) ویل سوي چي داحدیث غریب دي .

## دریم فصل

**د غیر مسلم عیادت**

﴿۱۴۸۸﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ غُلَامٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَقَالَ لَهُ أَسْلِمْ فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

دحضرت انس ﷺ څخه روایت دي چي یو یهودي هلك به د نبي کریم ﷺ خدمت کوئ ، هغه هلك ناروغ سو ، نو نبي کریم ﷺ دهغه دپوښتني لپاره تشریف یوړ ، دهغه سره کښېناستئ ، او ورته يې ویل : اسلام قبول کړه.

وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ. رواه البخاري .

هلك دخپل پلار وخواته وکتل ، چي دهغه سره نژدې ناست وو ، دهغه پلار وويل :دابو قاسم (نبی کریم ﷺ اطاعت وکړه ، نو هغه هلك اسلام قبول کړ . نبی کریم ﷺ چي کله دهغه ځاي څخه وګرځېدئ نو اصحابو ته ئې وفرمایل : هغه لوی خدای ﷻ د هر دول تعریف وړ دئ چي دا هلك يې د دوږخ څخه خلاص کړ . (بخاري)

### د عيادت لپاره پر پښو تلل غوره دي

(۱۴۸۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَادَ مَرِيضًا نَادَى مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلاً . رواه ابن ماجه .

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي ديو ناروغ پوښتنه وکړي نو يوه ملائکه داسمان څخه اواز کوي تاته دي په دنيا او اخرت کي خوشحالي وي ، او په دنيا او اخرت کي دي ستا تلل مبارك وي او په جنت کي دي درته لويه مرتبه حاصله وي .(ابن ماجه)

### د ناروغ د حال خبر ورکولو طريقه

(۱۴۹۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ عَلِيًّا خَرَجَ مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَقَالَ النَّاسُ يَا أَبَا حَسَنٍ كَيْفَ أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللَّهِ بَارِئًا . رواه البخاري

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د نبي کريم ﷺ دهغه ناروغۍ د حالت څخه په کوم کي چي نبي کريم ﷺ وفات سو ، حضرت علي ﷺ راستون سو، نو خلکو پوښتنه وکړه ، چي اې ابو الحسن رسول الله ﷺ په سهار کي څنګه وو ،علي ﷺ جواب ورکړ ، دخدای شکر دئ ، سهار ور باندي ښه تير سو .(بخاري)

### علاج د توکل منافي نه دی

(۱۴۹۱): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى قَالَ هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ فقال إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَكِ فَقَالَتْ أَصْبِرُ فَقَالَتْ إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ

دحضرت عطاء بن ابو رباح ﷺ څخه روايت دئ چي ماته ابن عباس ﷺ وويل : ايا زه تاته يوه جنتي ښځه وښيم ، ما ورته وويل . هو! ابن عباس ﷺ وويل : هغه توري ښځي چي د نبی کريم ﷺ په خدمت کي عرض کړی وو چي يا رسول الله ﷺ ! پر ما باندي د ميرګي څپه

أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا. متفق علیه

راحي، او دهغه په وجه زما بدن ښکاره کيږي ، تاسو ماته دعا وکړئ . نبی کریم ﷺ ور ته وفرمايل : که ته غواړې نو (پر دې ناروغی) صبر وکړه ، خدای ﷻ به درته جنت درکړي ، او که غواړې زه به درته دعا وکړم ، خدای ﷻ به د دې ناروغی څخه شفاء درکړي ، هغې ښځي وویل : زه به صبر وکړم ، مگر تاسو راته دعا وکړئ ، چي د میرگي د حملې په وخت کي مي ستر ښکاره نه سي ، نو نبی کریم ﷺ ورته دعا وکړه (بخاري)

**په ناروغی کي مړ کېدل غوره دي .**

(۱۲۹۲): وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً جَاءَهُ الْمَوْتُ فِيْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ هَنِيْئًا لَهُ وَلَمْ يُبْتَلَ بِمَرَضٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ وَمَا يُدْرِيْكَ لَوْ أَنَّ اللهَ ابْتَلَاهُ بِمَرَضٍ فَكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ سَيِّئَاتِهِ . رواه مالك مرسلا .

دحضرت يحيى بن سعيد ﷺ څخه روايت دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي يو سړی مړ سو ، نو يوه سړي وويل ، دده وفات دي مبارك وي (داچي بې تکليفه مړ سو) او په ناروغی اخته نه سو ، په دې اورېدو سره نبی کريم ﷺ ورته وويل : پر تا افسوس دي ، تاته څه معلومه ده ، که خدای ﷻ په ناروغي کي اخته کړی وای ، نو دا ناروغي به دهغه دگناهونو کفاره سوې وای (مالك مرسلا)

**د صابر ناروغ فضيلت**

(۱۲۹۳): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ وَالصُّنَابِحِيِّ أَنَّهُمَا دَخَلاَ عَلَى رَجُلٍ مَرِيْضٍ يَعُوْدَانِهِ فَقَالاَ لَهُ كَيْفَ أَصْبَحْتَ قَالَ أَصْبَحْتُ بِنِعْمَةٍ قَالَ شَدَّادٌ أَبْشِرْ بِكَفَّارَاتِ السَّيِّئَاتِ وَحَطِّ الْخَطَايَا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ إِذَا أَنَا ابْتَلَيْتُ عَبْدًا مِّنْ عِبَادِيْ مُؤْمِنًا فَحَمِدَنِيْ عَلَى مَا ابْتَلَيْتُهُ فَإِنَّهُ يَقُوْمُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ مِنَ الْخَطَايَا وَيَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا قَيَّدْتُ عَبْدِيْ وَابْتَلَيْتُهُ فَأَجْرُوْا لَهُ مَا كُنْتُمْ تُجْرُوْنَ لَهُ وَهُوَ صَحِيْحٌ . رواه احمد .

دحضرت شداد بن اوس او صنابحی رضی الله عنهما څخه روايت دي چي دوئ دواړه ديو ناروغ پوښتني ته ورغلل ، او هغه ته يې وويل : سهار در باندي څنگه تير سو هغه ورته وويل دخدای شکر دئ ما په نعمت الهي باندي سهار کړ ، شداد ورته وويل : دگناهونو په ليري کېدو او دخطاگانو په پاکېدو سره خوشحاله سه ، ځکه چي ما د نبی کریم ﷺ څخه اورېدلی دي ، خداوند تعالى فرمايي :کله چي زه يو مؤمن بنده په يوه ناروغي باندي اخته کړم او هغه پر دې ازموينه زما تعريف وکړي نو هغه دخپلي بستري څخه داسي پاك ولاړسي لکه چي دموره نن پيدا سوی وي او هيڅ گناه دهغه پاته نه سي

،او خدای ﷻ فرمایي : ما خپل بنده بندي کړ ، په مصیبت کي مي واچوی ، او ازمائښت مي په وکړ . نو (اې) ملائکو ، تاسو دهغه په عملنامه کي هغه عمل ولیکئ چي دهغه دروغتیا په حالت کي به مو لیکئ (اعمال صالحه). (احمد.

**مصیبت دګناهو زیاتوب ختموي**

(۱۴۹۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَثُرَتْ ذُنُوْبُ الْعَبْدِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يُكَفِّرُهَا مِنَ الْعَمَلِ ابْتَلَاهُ اللهُ بِالْحُزْنِ لِيُكَفِّرَهَا عَنْهُ . رواه أحمد .

دحضرت بی بی عائشي رضی الله عنها څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي دیو بنده ګناهونه زیات سي ، دهغه په اعمالو کي څه داسي شي پاته نه وي ،چي د هغه د ګناهونو کفاره سي ، نو خدای ﷻ یې په درد غم او مصیبت کي اخته کوي ، چي په دې سره دهغه دګناهونو کفاره سي (احمد)

**د عیادت کونکو سعادت**

(۱۴۹۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَادَ مَرِيْضًا لَمْ يَزَلْ يَخُوْضُ الرَّحْمَةَ حَتَّى يَجْلِسَ فَإِذَا جَلَسَ اغْتَمَسَ فِيْهَا . رواه مالك وأحمد .

دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي دیوه ناروغ پوښتنه کوي ، هغه درحمت په دریاب کي داخلیږي ، تر دې چي کښېني ، کله چي دناروغ سره کښېناستي نو درحمت په دریاب کي ډوب سي . (مالك ، احمد)

**تبه او د هغه علاج د نبوي ارشاد په رڼا کي**

(۱۴۹۶): وَعَنْ ثَوْبَانَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمْ الْحُمَّى فَإِنَّ الْحُمَّى قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيُطْفِئْهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ فَلْيَسْتَنْقِعْ فِي نَهْرٍ جَارِيًا لِيَسْتَقْبِلَ جِرْيَتَهُ فَيَقُوْلُ بِسْمِ اللهِ اللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُوْلَكَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ فَلْيَغْتَمِسْ فِيهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي ثَلَاثٍ فَخَمْسٍ وَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي خَمْسٍ فَسَبْعٌ فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي سَبْعٍ فَتِسْعٍ فَإِنَّهَا لَا تَكَادُ تُجَاوِزُ تِسْعًا بِإِذْنِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ. رواه الترمذي و قال

دحضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي دچا تبه سي ، او تبه د اور یوه ټوټه ده ، نو هغه ته پکار ده ، چي په اوبو سره یې یخه کړي یعني روانو اوبو ته دننه ورسي او د اوبو دبهېدو پر لور ودریږي ، بیا دي دا کلمات ووائي : بسم الله ......رسولك (زه دخدای ﷻ په پاك نامه سره شفاء غواړم ، ای الله ته دې بنده ته شفاء ورکړې او دخپل رسول قول رښتین کړې ) ، او داعمل دسهار دلمانځه څخه وروسته دلمر ختو څخه

هذا حديث غريب .

مخکې وکړي او په درياب کې درې غوټې ووهي ،او درې ورځې دې دا کار وکړي ، که ددرو ورځو پورې ارام نه راغي نو تر پنځو ورځو دې دا کار وکړي ،که پنځه ورځو کې ارام او سکون رانه غې نو اوو ورځو پورې دې داکار کوي او که تر اوو ورځو پورې سکون حاصل نه سي نو تر نهو ورځو پورې دې دغه کار وکړي ، دخدای ﷻ په فضل او مهرباني سره به تبه دنهو ورځو څخه زياته نه پاته کيږي (ترمذي) په ترمذي کې ويل سوي چې داحديث غريب دي .

**تبې ته بد مه واياست**

(١٤٩٧): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ ذُكِرَتِ الْحُمّٰى عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَبَّهَا رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَسُبَّهَا فَإِنَّهَا تَنْفِي الذُّنُوْبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ . رواه ابن ماجه .

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چې د رسول الله ﷺ په حضور کې دتبې ذکر وسو ، يوه سړي تبې ته بد وويل ، نو نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : تبې ته بد مه وايه ، دانسان گناهونه داسې پاکوي ، څنگه چې اور اوسپنه دخيرو څخه پاکوي . (ابن ماجه)

**مؤمن په تبه کې ولې اخته کيږي**

(١٤٩٨): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ مَرِيْضًا فَقَالَ أَبْشِرْ فَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ هِيَ نَارِيْ أُسَلِّطُهَا عَلٰى عَبْدِيْ الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا لِتَكُوْنَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه أحمد وابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ ديوه ناروغ پوښتنه وکړه ، او ورته يې وفرمايل : تا ته دې زيری وي ،خدای ﷻ فرمايي : تبه زما اور ده ، زه هغه پر خپل يوه بنده په دې وجه ور ولم چې هغه تبه دقيامت په ورځ دهغه لپاره ددوږخ داور بدله وگرځيږي .(احمد ، ابن ماجه ، بيهقي شعب الايمان)

**فقر او ناروغي دگناهو د بخښنې ذريعه ده**

(١٤٩٩): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّبَّ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى يَقُوْلُ وَعِزَّتِيْ وَجَلاَلِيْ لاَ أُخْرِجُ أَحَدًا مِنَ الدُّنْيَا أُرِيْدُ أَغْفِرُ لَهُ حَتّٰى أَسْتَوْفِيْ كُلَّ خَطِيْئَةٍ فِيْ عُنُقِهِ بِسَقَمٍ فِيْ بَدَنِهِ وَإِقْتَارٍ فِيْ رِزْقِهِ . رواه رزين .

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی فرمايي : زما دې په خپل عزت او لويي سره قسم وي ، څوك چې زه ددنيا څخه پاك صاف او بې گناه پورته کول غواړم هغه ته دهغه دگناهونو په دنيا کې پوره بدله ورکوم د گناهونو چې دده پر غاړه وي . يعنی

هغه په ناروغي کي اخته کوم او دهغه په رزق کي کمي راولم. (رزين)

**د ابن مسعود ﷺ يو واقعه**

(۱۵۰۰): وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ مَرِضَ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ فَعُدْنَاهُ فَجَعَلَ يَبْكِيْ فَعُوْتِبَ فَقَالَ إِنِّيْ لاَ أَبْكِيْ لِأَجْلِ الْمَرَضِ لِأَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْمَرَضُ كَفَّارَةٌ وَإِنَّمَا أَبْكِيْ أَنَّهُ أَصَابَنِيْ عَلٰى حَالِ فَتْرَةٍ وَلَمْ يُصِبْنِيْ فِيْ حَالِ اجْتِهَادٍ لِأَنَّهُ يُكْتَبُ لِلْعَبْدِ مِنَ الْأَجْرِ إِذَا مَرِضَ مَا كَانَ يُكْتَبُ لَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْرِضَ فَمَنَعَهُ مِنْهُ الْمَرَضُ . رواه رزين .

دحضرت شقيق ﷺ څخه روايت دي چي عبدالله بن مسعود ﷺ ناروغ سو ، موږ د هغه پوښتني ته ورغلو ، نو هغه موږ ته په ژړا سو ،خلکو هغه ملامت کړ ، هغه وويل . زه دناروغۍ له کبله نه ژاړم، ځکه چي ما د نبی کریم ﷺ څخه اورېدلي دي، چي ناروغي دگناهونو كفاره کیږي ، بلکه په دې ژاړم چي دسپين ږيرتوب په ورځو کي زه ناروغ سوم ، دځواني په ورځو کي ناروغ نه سوم ، چي داعمالو دپاره بهترينه زمانه وه، او انسان چي ناروغه سي ، نو دهغه دناروغي په ورځو کي دهغه هغه اعمال ليکل کيږي کم چي هغه دصحت په وخت کي کول ، دې ناروغي زه ددې ثواب څخه محرومه کړي يم . (رزين)

**عيادت کله کول پکار دي؟**

(۱۵۰۱): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَعُوْدُ مَرِيْضًا إِلاَّ بَعْدَ ثَلاَثٍ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ به درې ورځي وروسته دناروغ پوښتنه کول. (ابن ماجه ، بيهقي درشعب الايمان)

**د ناروغ څخه دعاء وغواړئ**

(۱۵۰۲): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلْتَ عَلٰى مَرِيْضٍ فَمُرْهُ يَدْعُوْ لَكَ فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلاَئِكَةِ . رواه ابن ماجه .

دحضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي ته ديوه ناروغ پوښتني ته ورسې نو هغه ته دا ووايه چي ما ته دعا وکړه ، ځکه چي دهغه دعا د ملائکو د دعا په ډول وي . (ابن ماجه)

**د ناروغ په مخکي شور مه کوئ**

(۱۵۰۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيْفُ الْجُلُوْسِ وَقِلَّةُ الصَّخَبِ فِيْ الْعِيَادَةِ عِنْدَ الْمَرِيْضِ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي : داکار سنت دئ چي دناروغ سره کم کښېنئ او شور مه کوئ، د رسول الله ﷺ دناروغي په زمانه کي هرکله چي خلکو شور جوړ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا كَثُرَ لَغَطُهُمْ وَاخْتِلَافُهُمْ قُومُوْا عَنِّيْ. رواه رزين .

کړ او اختلاف يې وکړ، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : زما څخه ولاړ سئ . (رزين)

## د ناروغ سره لږ کښيني

(١٥٠٤): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْعِيَادَةُ فَوَاقُ نَاقَةٍ، وَفِيْ رِوَايَةٍ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً أَفْضَلُ الْعِيَادَةِ سُرْعَةُ الْقِيَامِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دناروغه دپوښتني وخت داوښي دلوشلو په دول دئ (څومره وخت چي داوښي دلوېشلو څخه وروسته تر دويم وار لوېشلو پوري وي هغومره وخت دئ. او دسعيد بن مسيب په روايت کي دا الفاظ سته . چي تر تولو افضله دناروغه پوښتنه هغه ده ، چي په هغه کي څوك ژر ولاړ سي .(بيهقی درشعب الايمان)

## ناروغ چي څه وغواړي هغه ورکړئ

(١٥٠٥): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلاً فَقَالَ لَهُ مَا تَشْتَهِيْ ؟ قَالَ أَشْتَهِيْ خُبْزَ بُرٍّ . قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ خُبْزُ بُرٍّ فَلْيَبْعَثْ إِلَى أَخِيْهِ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَهَى مَرِيْضُ أَحَدِكُمْ شَيْئًا فَلْيُطْعِمْهُ . رواه ابن ماجه .

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دي چي نبی کریم ﷺ ديوه ناروغ پوښتنه وکړه ، دهغه څخه يې پوښتنه وکړه ،څه ته دی هوا کيږي هغه عرض وکړ دغنمو ډوډۍ ته ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دچا سره چي دغنمو ډوډۍ وي وخپل ورور ته دي راوغواړي .ددې څخه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي کله ديوه ناروغ ديوه شي خواهش وي نو هغه په وخورئ .(ابن ماجه)

## په مسافرۍ کي د وفات کېدو فضيلت

(١٥٠٦): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ تُوُفِّيَ رَجُلٌ بِالْمَدِيْنَةِ مِمَّنْ وُلِدَ بِهَا فَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَالَيْتَهُ مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ قَالُوْا وَلِمَ ذَالِكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَاتَ بِغَيْرِ مَوْلِدِهِ قِيْسَ لَهُ مِنْ مَوْلِدِهِ إِلَى مُنْقَطَعِ أَثَرِهِ فِي الْجَنَّةِ . رواه النسائي وابن ماجه .

دحضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي په مدينه کي يو سړی مړ سو ،او په په مدينه کي پيدا سوئ وو ، نبی کريم ﷺ هغه ته د جنازې لمونځ ورکړ، او بيا ئې وفرمايل: کاشکي دی په خپل پيدائشي ځای کي مړسوی نه وای اصحابه کرامو عرض وکړ ، يا رسول الله ﷺ ولي؟ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل :کله چي يوسړی دخپل وطنه څخه دباندي مړ سي ، نو دمرګ دځايه څخه بيا تر پيدائشي ځايه پوري هغه ته په جنت کي ځاي په برخه کيږي (نسائي ، ابن ماجه)

| | |
|---|---|
| (۱۵۰۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْتُ غُرْبَةٍ شَهَادَةٌ . رواه ابن ماجه | دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : په سفر کي مرگ شهادت دئ (ابن ماجه) |
| (۱۵۰۸): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ مَرِيْضاً مَاتَ شَهِيْدًا وَوُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَغُدِيَ وَرِيْحَ عَلَيْهِ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان . | دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي ناروغ سي او مړ سي ، نو دشهادت درجه حاصلوي ، دقبر دفتني څخه محفوظ کیږي او سهار او ماښام هغه ته همېشه دجنت رزق حاصلیږي .ابن ماجه ، بیهقي |

**د طاعون مرگ د شهادت په ډول دی**

| | |
|---|---|
| (۱۵۰۹): وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْتَصِمُ الشُّهَدَاءُ وَالْمُتَوَفَّوْنَ عَلَى فُرُشِهِمْ إِلَى رَبِّنَا عزوجل فِي الَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنَ الطَّاعُوْنِ فَيَقُوْلُ الشُّهَدَاءُ إِخْوَانُنَا قُتِلُوْا كَمَا قُتِلْنَا وَيَقُوْلُ الْمُتَوَفَّوْنَ إِخْوَانُنَا مَاتُوْا عَلَى فُرُشِهِمْ كَمَا مُتْنَا فَيَقُوْلُ رَبُّنَا انْظُرُوْا إِلَى جِرَاحَتِهِمْ فَإِنْ أَشْبَهَتْ جِرَاحُهُمْ جِرَاحَ الْمَقْتُوْلِيْنَ فَإِنَّهُمْ مِنْهُمْ وَمَعَهُمْ فَإِذَا جِرَاحُهُمْ قَدْ أَشْبَهَتْ جِرَاحَهُمْ . رواه أحمد والنسائي . | دحضرت عرباض بن ساریه ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شهیدان او هغه خلك چي پر خپله بستره مړه سي ، د دواړو به دخدای ﷻ په حضور کي سره جگړه سي ، کوم چي په طاعون مړه سوي وي شهیدان به وایي چي دا زموږ ورونه دي یعني زموږ مشابه دي ، زموږ په شان دطاعون دلاسه شهیدان سوي دي ، او کم خلك چي په خپلو بسترو مړه سوي وي ، هغوئ به وایي ، چي دازموږ ورونه دي ، څنگه چي موږ په بسترو مړه سوي یو ، همدغسي |

دوئ هم په خپلو بسترو مړه سوي دي . ددې جگړو په اوریدو سره خداوند ﷻ به وفرمائي : ښه ده ، ددوئ زخمونه وگورئ ، که ددوئ زخمونه دشهیدانو دزخم په شان وي نو دوئ په شهیدانو کي دي او دهغوئ په شان دثواب وړ دي ، وبه کتل سي ، نو دهغوئ (طاعون والا) زخمونه به دشهیدانو دزخم په ډول وي احمد ،نسائي

**د طاعون څخه د تېښتي بدوالی**

| | |
|---|---|
| (۱۵۱۰): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْفَارُّ مِنَ الطَّاعُوْنِ كَالْفَارِّ مِنَ | دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دطاعون (وبا) څخه دتښتېدو مثال دهغه کس په شان دئ ، چي دکافرانو په |

الزَّحْفِ وَالصَّابِرُ فِيهِ لَهُ أَجْرُ شَهِيْدٍ . رواه احمد .

مقابله کي دغزا (جهاد) څخه تښتېدلي وي، او په طاعون چي مر سي نو دشهيدانو ثواب ورکول کيږي (احمد)

# بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَ ذِكْرِه

## (د مرګ غوښتنه او د هغه يادونه)

## لومړی فصل

### د مرگ خواهش مه کوئ

(۱۵۱۱): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ إِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَزْدَادَ خَيْرًا وَإِمَّا مُسِيْئًا فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعْتِبَ . رواه البخاري

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي دي هيڅوك دمرگ ارزو نه کوي ، ځکه که هغه نېك کاره وي نو ممکنه ده ، چي دهغه په صالحو اعمالو کي زياتي وسي ، او که بد کار وي نو ممکنه ده ، چي هغه په اٰئنده کي خدای ﷻ راضي کړي .(بخاري)

(۱۵۱۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنّٰى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ وَلَا يَدْعُ بِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُ إِنَّهُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ انْقَطَعَ اَمَلُهُ وَإِنَّهُ لَا يَزِيدُ الْمُؤْمِنَ عُمْرُهُ إِلَّا خَيْرًا . رواه مسلم .

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي دي هيڅوك دمرگ ارزو نه کوي ، او نه دي دمرگ دراتلو دعا کوي ، ځکه چي کله يو انسان مري ، نو دهغه اميدونه ختم سي او دمؤمن دعمر په زياتوالي کي دنيکيو اضافتوب زاځي. مسلم

### د مرگ د خواهش منعه

(۱۵۱۳): وَعَنْ اَنَسٍ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ اَصَابَهُ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلاً فَلْيَقُلْ اللّٰهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتْ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتْ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي . متفق عليه

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يو چاته څه تکليف ورسيږي ، نو هغه دي دمرگ ارزو نه کوي ، که چيري ددغه قسم ارمان ولري نو داکلمات دي ووايي اللهم ..... خيرالی (ای الله ﷻ ما تر هغه وخته پوري ژوندی وساتي ترڅو پوري چي زما ژوند غوره وي ، او هر وخت چي مرگ راته غوره وي نو ماته مرگ راولي) بخاري ، مسلم

**د الله ﷻ سره ملاقات او مرګ**

(۱۵۱۴): وَعَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ أَحَبَّ اللّٰهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللّٰهِ كَرِهَ اللّٰهُ لِقَاءَهُ قَالَتْ عَائِشَةُ أَوْ بَعْضُ أَزْوَاجِهِ إِنَّا لَنَكْرَهُ الْمَوْتَ قَالَ لَيْسَ ذَاكِ وَلٰكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ بُشِّرَ بِرِضْوَانِ اللّٰهِ وَكَرَامَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ فَأَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ وَأَحَبَّ اللّٰهُ لِقَاءَهُ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللّٰهِ وَعُقُوبَتِهِ فَلَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَهَ إِلَيْهِ مِمَّا أَمَامَهُ كَرِهَ لِقَاءَ اللّٰهِ وَكَرِهَ اللّٰهُ لِقَاءَهُ. متفق عليه ، و في رواية عائشة والموت قبل لقاء الله .

دحضرت عباده بن صا مت رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي دخدای ﷻ سره ملاقات کول خوښوي ، خدای ﷻ دهغه سره یو ځای کېدل خوښوي ، او څوک چي دخدای ﷻ سره ملاقات کول نه خوښوي ، نو خدای ﷻ دهغه سره ملاقات کول نه خوښوي . بی بی عائشې یا د نبی کریم ﷺ یوې بلې بی بی «ددې په اوربدو سره» عرض وکړ «یا رسول الله ﷺ مونږ مرګ ښه نه ګڼو ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : داخبره نه ده ، بلکه واقعه د اده ، کله چي یو مؤمن ته مرګ راسي ، نو هغه ته دا زېري ورکول کېږي چي خدای ﷻ دهغه څخه راضی دي او هغه ښه ګڼي ، دغه وخت دهغه په خیال کي دخدای ﷻ رضا ، او دخدای ﷻ په نظر کي دهغه دعظمت څخه بهتره شي نه وي ، بیا داسي وي چي هغه مؤمن بنده دخدای ﷻ سره دملاقات دپاره بې ارامه سي ، او خدای ﷻ هم دهغه سره ملاقات عزیز ګڼي ، او کافر بنده ته چي کله ملائکه راسي ، نو هغه دخدای ﷻ دعذاب او سزا څخه وبېروي ، نو دهغه په خیال کي هغه وخت تر مرګ څخه بد بل هیڅ نه ښکاري، هغه دخدای ﷻ سره ملاقات کول بد ګڼي او خدای ﷻ دهغه سره ملاقات بد ګڼي (بخاري) دبی بی عائشې څخه روایت دي چي مرګ دالله ﷻ دملاقات څخه مخکي دي .

**د مؤمن او فاجر مرګ**

(۱۵۱۵): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ فَقَالَ مُسْتَرِيحٌ وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الْمُسْتَرِيحُ وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ قَالَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللّٰهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ . متفق عليه

دحضرت ابوقتاده رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ ته یو وار یو جنازه راوړل سوه ،نبي کریم ﷺ وفرمایل :دی راحت موندونکي دی، یا به راحت ځیني تر لاسه سي. اصحابو عرض وکړ یا رسول الله راحت موندونکي څوک دی، او هغه څوک دی چي دهغه څخه به نورو ته راحت حاصلیږي . نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: مؤمن

بنده دمرگ څخه وروسته د دنیا درنځ او تکلیف څخه او ددنیوي تکلیفو څخه بیا راحت مومي ، او دخدای ﷻ رحمت ته به ولاړ سي ، او فاجر او بدکاره بنده دمرگ سره به دخدای ﷻ بندگان، ښارونه ، درختي او حیوانان دهغه دشر څخه بیا راحت مومي .(بخاري ، مسلم)

**په دنیا کي د مسافر په ډول اوسئ**

(۱۵۱۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ أَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْكِبِي فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُوْلُ إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ . رواه البخاري

دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ زما اوږه ونیوله ، او ويې فرمایل : په دنیا کي داسي اوسه ، لکه ته چي مسافر يې ، یا پر لاره تېرېدونکی لاروی ، او وو ابن عمر ﷺ چي ویل به يې چي ماښام سي ، نو دسهار انتظار مه کوه ، او چي سهار سي نو دماښام انتظار مه کوه ، او صحت دناروغي څخه مخکي او ژوند تر مرگ مخکي غنیمت گڼه .(بخاري)

**د الله تعالی څخه د رحمت امید ساتئ**

(۱۵۱۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَقُوْلُ لَا يَمُوْتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللّٰهِ . رواه مسلم .

دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دي چي ما درسول الله ﷺ څخه دري ورځي مخکي تر وفات دا اورېدلي دي ، په تاسو کي دي څوك نه مري ، خو داچي دخدای ﷻ په اره نېك گمان لري ، یعني د مرگ څخه مخکي دی دهغه په فضل وکرم او بخښي پوره باور ولري . (مسلم)

## دویم فصل

**د قیامت په ورځ اول سوال**

(۱۵۱۸): عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ شِئْتُمْ أَنْبَأْتُكُمْ مَا أَوَّلُ مَا يَقُوْلُ اللّٰهُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ وَمَا أَوَّلُ مَا يَقُوْلُوْنَ لَهُ ؟ " قُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِي ؟ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ يَا رَبَّنَا فَيَقُوْلُ لِمَ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ :

دحضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا تاسو دیوې خبري څخه اگاه کړم ، چي دقیامت په ورځ به خدای ﷻ دمؤمنانو سره تر ټولو مخکي کمه خبره کوي ؟ او مؤمن به اولني خبره دخدای ﷻ سره کمه کوي ؟ اصحابو عرض وکړ . هو یا رسول الله ﷺ ! نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل : خدای ﷻ به دقیامت په ورځ دټولو څخه مخکي داپوښتنه

رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ فَيَقُوْلُ قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ . رواه في شرح السنة وأبو نعيم في الحلية

کوي ، ایا تا زماسره ملاقات کول خوښول ؟ مؤمن به جواب ورکوي ، هوا پروردګاره ، خدای ﷻ به ورڅخه پوښتنه وکړي ،چي تا زما سره ملاقات کول ولي خوښول ؟ مؤمن به جواب ورکړي ، په دې وجه چي موږ ستا څخه دمعافی اوبخښني امید درلودي ، خدای ﷻ به په دې اورېدلو سره وفرمائي ، زما بخښنه ستاسو دپار واجب سوه .(شرح السنة ، ابو نعیم درحلیه)

**مرګ ډېر یادوئ**

﴿۱۵۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه .

دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دي چي رسول اللهﷺوفرمایل:دخوندو لیري کوونکي ،یعني مرګ ډېر په یاد لرئ. ترمذي ، نسائي ، ابن ماجه)

**د الله ﷻ څخه د حیا کولو حق**

﴿۱۵۲۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ان نَبِيَّ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ لاصحابه اسْتَحْيُوا مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ قَالوا إِنَّا نَسْتَحِي من الله يا نبي الله وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ قَالَ لَيْسَ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ مَنْ اسْتَحَى مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ فَلْيَحْفَظْ الرَّأْسَ وَمَا وَعٰى وَلْيَحْفَظْ الْبَطْنَ وَمَا حَوٰى وَلْيَذْكُرْ الْمَوْتَ وَالْبِلٰى وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِيْنَةَ الدُّنْيَا فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ اسْتَحْيَا مِنْ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب .

دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ یوه ورځ اصحابو ته وفرمایل : دالله ﷻ څخه دشرم او حیا په کولو کي دشرم او حیا حق ادا کړئ ، اصحابو عرض وکړ ، ای دخدای ﷻ نبی ، دخدای تعالی شکر دي ،موږ دالله ﷻ څخه شرم او حیا کوو ، یعني دهغه څخه بېرېږو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : حیا کول ، دا نه دي کم چي تاسو وایاست ، بلکه دخدای ﷻ څخه دحیا یو مطلب دادي چي سر او څه چي په سر کي دننه دي ، دهغوي ساتنه وکړئ، او ساتي دي نس او هغه څه چي جمع کړي دغه نس، او پکار دي چي مرګ یاد لرئ ، او دهډوکو وراسته کېدل هیر نه کړئ ، او څوك چي داخرت دنیکی خیال ساتئ ، دغه ددنیا زینت پرېږدئ ، چاچي په دې خبرو عمل وکړ ، هغه دخدای ﷻ څخه حیا وکړه ، او دحیا حق ئې ادا کړ(احمد ، ترمذي ، داحدیث غریب ذي ) دسر دحفاظت څخه مراد غرور او تکبر څخه منعه کول دي ، او په سر کي دننه دشیانو مراد ، ژبه ، سترګي ، او غوږونه دبدو خبرو څخه ځان ساتل دي ، دنس څخه مراد حرام خوړل او په نس کي ددننه شیانو څخه مراد ستر ، لاسونه ،پښې او زړه دي دهغوئ حفاظت کول. احمد او ترمذي .

## مرگ د مؤمن تحفه ده

﴿۱۵۲۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دمؤمن تحفه مرگ دي (بيهقي په شعب الايمان کي.

## د مرگ پر وخت پر تندي باندي خوله راتلل

﴿۱۵۲۲﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤْمِنُ يَمُوْتُ بِعَرَقِ الْجَبِيْنِ. رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه.

دحضرت بريده ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن د تندي دخُولي سره مري (يعني مؤمن ته دزکندن پر وخت سخت تکليف وي چي په هغه سره پر تندي خُوله راځي او دا دنيکي نښه ده) (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

## ناڅاپه مرگ

﴿۱۵۲۳﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ خَالد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْتُ الْفُجَاءَةِ أَخْذَةُ الْأَسَفِ. رواه أبو داود وزاد البيهقي في شعب الإيمان ورزين في كتابه أخذة الأسف للكافر ورحمة للمؤمن.

دحضرت عبيدالله بن خالد ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ناڅاپه مرگ دخدای ﷻ دغضب نيول دي (ابو داؤد) په بيهقي او رزين په دې روايت کي دا الفاظ زيات کړي دي چي د خدای ﷻ دغضب نيول دکافر دپاره دي، او مؤمن دپاره رحمت دی.

## د مرگ پر وخت د الله ﷻ څخه د رحمت اميد

﴿۱۵۲۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَابٍّ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ فَقَالَ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَ ارجو الله يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَإِنِّي أَخَافُ ذُنُوبِي فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ مَا يَرْجُو وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ يو ځوان ته ورغلی، چي ساه يې په ختو وه، نبی کريم ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه، چي ته په ځان کي کوم حال ويني (يعني ستا په زړه کي دخدای درحمت اميد دی يا دغضب الهي ويره) هغه ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! زه په خپل زړه کي دخدای ﷻ درحمت اميد لرم، او دخپلو گناهونو څخه خوفزده يم. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ديوه بنده په زړه کي چي په دې وخت کي دا دوه حالاته يو ځاي سي نو الله ﷻ دهغه دا اميد پوره کوي، او دويري څخه يې په امن کوي (ترمذي، ابن ماجه) په ترمذي کي دا حديث غريب ښوول سوي دي.

# دریم فصل

## د نیکو اعمالو لپاره اوږد عمر د سعادت سبب دی

﴿۱۵۲۵﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَمَنَّوُا الْمَوْتَ فَإِنَّ هَوْلَ الْمُطَّلَعِ شَدِيْدٌ وَّإِنَّ مِنَ السَّعَادَةِ أَنْ يَّطُوْلَ عُمَرَ الْعَبْدِ وَيَرْزُقَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْإِنَابَةَ . رواه أحمد .

دحضرت جابر ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دمرگ غوښتنه مه کوئ ځکه چي دزکندن وېره سخته ده او دا کار په نېك بختي کي داخل دي ، چي دبنده عمر زیات وي ، او خدای ﷺ خپل بنده دخپل اطاعت ولور ته متوجه کوي . (احمد)

﴿۱۵۲۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ جَلَسْنَا إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَّرَنَا وَرَقَّقَنَا فَبَكَى سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فَأَكْثَرَ الْبُكَاءَ فَقَالَ يَا لَيْتَنِي مِتُّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا سَعْدُ أَعِنْدِي تَتَمَنَّى الْمَوْتَ فَرَدَّدَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ يَا سَعْدُ إِنْ كُنْتَ خُلِقْتَ لِلْجَنَّةِ فَمَا طَالَ عُمْرُكَ أَوْ حَسُنَ مِنْ عَمَلِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . رواه احمد

دحضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دي چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو او ټول نبي کریم ﷺ ته متوجه وو ، چي رسول الله ﷺ موږ ته نصیحت کوئ ، او (په خپل بیان سره یې) زموږ زړونه نرم کړل ، سعد بن ابی وقاص ﷺ خو د نبی کریم ﷺ په بیان سره دومره متاثره سو ، چي ډېر یې وژړل ، او بیائې وویل :کشکي په کوچنیوالي کي مرگ راغلي وای ، رسول الله ﷺ وفرمایل : سعد ! زما په مخکي دمرگ ارزو کوې ؟ دا جمله نبی کریم ﷺ درې واره وویل ، او ددې څخه وروسته وفرمایل : اې سعده! که ته دجنت دپاره پیدا سوي یې ، نو څونه چي ستا عمر زیات وي او ستا عمل نیك وي هغومره به ستا لپاره بهتره وي . (احمد)

## د حضرت خباب ﷺ واقعه

﴿۱۵۲۷﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى خَبَّابٍ وَقَدْ اكْتَوَى سَبْعًا فَقَالَ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمْ الْمَوْتَ لَتَمَنَّيْتُهُ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَمْلِكُ دِرْهَمًا وَإِنَّ فِي

دحضرت حارثه بن مضرب ﷺ څخه روایت دئ چي زه خباب ﷺ ته ورغلم ، چي هغه خپل بدن اووه ځایه داغلی وو ، او هغه وویل که ما دنبي کریم ﷺ څخه دا نه وای اورېدلي چي په تاسو کي دي څوك دمرگ غوښتنه نه کوي، نو ما به خامخا دمرگ ارزو کړې وای ،ما ځان د نبی

جَانِبِ بَيْتِي الْآنَ لَأَرْبَعِينَ أَلْفَ دِرْهَمٍ قَالَ ثُمَّ أُتِيَ بِكَفَنِهِ فَلَمَّا رَآهُ بَكَى قَالَ لَكِنَّ حَمْزَةَ لَمْ يُوجَدْ لَهُ كَفَنٌ إِلَّا بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ إِذَا جُعِلَتْ عَلَى رَأْسِهِ قَلَصَتْ عَنْ قَدَمَيْهِ وَإِذَا جُعِلَتْ عَلَى قَدَمَيْهِ قَلَصَتْ عَنْ رَأْسِهِ حَتَّى مُدَّتْ عَلَى رَأْسِهِ وَجُعِلَ عَلَى قَدَمَيْهِ الْإِذْخِرُ. رواه احمد والترمذي الا انه لم يذكر ثم اتي بكفنه الى اخره .

کريم ﷺ په وخت کي ليدلي وو چي زه ديوه درهم هم خاوند نه وم ، او نن زما په کور کي څلوېښت زره درهم سته حارثه وايي : ددې څخه وروسته دخباب مخکي دهغه کفن راوړل سو ، هغه چي کفن وليدئ ،نو په ژړا سو او وه يې ويل : آه حمزه ﷺ ته داسي کفن تر لاسه سو ، چي په هغه کي سپيني او توري ليکي وې ، ليکن دومره کوچنی وو ، که به يې سر ور پټ کړنو پښې به يې لوڅي سوې ، او که به يې پښې ورپټي کړې نو سر به يې لوڅ سو ، اخر يې سر ورپټ کړ ، او په پښو يې اذخر(يو قسم واښه دي چي په مدينه کي پيدا کېدل) ور واچول . (احمد او ترمذي)خو ترمذي . ثم اتي بکفنه څخه تر اخره پوري ذکر نه کړ .

# بَابُ مَا يُقَالُ عِنْدَ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ

## (دزکندن پر وخت ښودنه\تلقين ورکول)

## لومړی فصل

### مړکېدونکي ته تلقين کول

﴿۱۵۲۸﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ . رواه مسلم

دحضرت ابو سعيد ﷺ او ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دمړ کيدونکي ومخته لا اله الاالله واياست .

### مړکېدونکي ته نيکي خبري کوئ

﴿۱۵۲۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُولُوا خَيْرًا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ . رواه مسلم

دبی بی ام سلمه رضی الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي تاسو يو ناروغ يا مرگ ته نژدې کس ته ورسئ نو دهغه مخته دخير کلمه واياست ، ځکه چي تاسو څ واياست ، ملائکي پر هغه باند آمين وايئ

**د مصيبت پر وخت د صبر اجر**

﴿١٥٣٠﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ فَيَقُولُ مَا أَمَرَهُ اللَّهُ بِهِ { إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ } اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَخْلَفَ اللَّهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ مِنْ أَبِي سَلَمَةَ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ إِنِّي قُلْتُهَا فَأَخْلَفَ اللَّهُ لِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي کله يو مسلمان ته مصيبت ورسيږي ، او هغه د لوی خدای ﷻ دحکم مطابق په هغه مصيبت کي دا الفاظ ووايي انا لله ..... خير منها(مونږ دخدای يو او دهغه وطرفته زمونږ وروسته ورتلل دي ، ای الله ! زما په مصيب ماله ثواب راکړې او کم حالت چي دي دهغه څخه بهتر راکړې)نو خدای ﷻ هغه ته دهغه څخه بهتره شی ورکوي ، حضرت ام سلمه وايي چي کله ابو سلمه ﷺ (يعني دهغې خاوند) وفات سو نو ما وويل : دابو سلمه ﷺ څخه به غوره کوم مسلمان وي ، هغه داسي سړی وو چي تر ټولو مخکي يې دخپل اهل وعيال سره هجرت کړي وو ، ما دغه کلمات وويل ، نو خدای ﷻ ماته د ابو سلمهٔ ﷺ په عوض کي حضرت رسول الله ﷺ راکړ(يعني زما سره نبی کريم ﷺ نکاح وکړل).(مسلم) يعني دابو سلمه ﷺ په وفات کي ما دغه کلمات وويل چي پورته بيان سول . نو الله تعالی ماته بهتر خاوند (حضرت محمد ﷺ) راکړ. مسلم

**د مړي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء**

﴿١٥٣١﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالَ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ . رواه مسلم

دبی بی ام سلمه رضی الله عنها څخه روايت دي چي کله دابوسلمه ﷺ(يعنی دهغې دخاوند) سترگي (دمرگ په وخت کي) غړېدلي پاته سوې نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ ، او په خپل لاس سره يې دهغه سترگي بندي کړی ، بيا ئې وفرمايل : کله چي روح قبض کيږي ، نو دهغه ديد هم دهغه دروح سره ولاړ سي ،( دابو سلمه ﷺ دکور خلك په دې اورېدلو سره پوه سول ، چي ابوسلمه وفات سوي دي) هغوئ په ژړا سول ، نبی کريم ﷺ وفرمايل ، دځان دپاره دخير څخه ماسوا بله دعا مه کوئ ، ځکه چي په دې وخت کي څه چي ستاسو دژبې څخه وځي ، ملائکي په هغه آمين وايي ، ددې څخه وروسته نبی کريم ﷺ

وفرمایل : اللهم اغفر ....ونور له فیه . (اې الله ! ابوسلمه وبخښې ، او دهغه درجه لوړه کړې ، هغه په هغو خلکو کې شامل کړې چې هغوئ ته سیده لا ره ښوول سوي ده او د هغه وروسته پاتو کار ساز سې ، او اې ددوارو جهانو پروردګاره! موږ او دی وبخښې او قبر یې ورپراخ کړی او منور یې کړې) (مسلم)

**د وفات وروسته پر رسول الله ﷺ باندې اچول سوی ځادر**

﴿۱۵۳۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ . متفق علیه

دحضرت بی بی عائشې څخه روایت دی کوم وخت چې رسول الله ﷺ وفات سونو په یمنی ځادر باندې یې بدن مبارک پټ کړل سو . (بخاري او مسلم)

## دویم فصل

**په اخري وخت کې د کلمې طیبې ویل د دخول جنت ضمانت دی**

﴿۱۵۳۳﴾: عَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد

دحضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دیو چا اخیري خبره چې لااله الاالله سوه ، هغه په جنت کې داخلیږي ابوداؤد

**د زکندن په وخت کې د سورة یاسین ویلو حکم**

﴿۱۵۳۴﴾: وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا يس عَلَى مَوْتَاكُمْ . رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة.

دحضرت معقل بن یسار ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : مړ کیدونکي ته سورة یس وایاست . (احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه)

**مسلمان مړی مچول جائز دی**

﴿۱۵۳۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُوْنٍ وَّهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِيْ حَتّٰى سَالَ دُمُوْعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى وَجْهِ عُثْمَانَ . رواه الترمذي و أبو داود وابن ماجه

دبی بی عائشې رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ دعثمان بن مظعون بدن دوفات څخه وروسته مچ کړ او دهغه په مړی یې وژړل ، تر دې چې د نبی کریم ﷺ اوښکې مبارکې دعثمان پر مخ وبهېدلې . (ترمذي ، ابو داؤد ، ابن ماجه)

﴿۱۵۳۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى

د عائشې رض څخه روایت دی چې حضرت

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مَيِّتٌ . رواه الترمذي وابن ماجه

ابوبکر ﷺ رسول الله ﷺ دوفات څخه وروسته پر مخ باند مچ کړ. (ترمذي ، ابن ماجه)

**په تجهيز او تکفين کي تلوار کول پکار دي**

(۱۵۳۷): وَعَنْ حُصَيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ فَقَالَ إِنِّي لَا أَرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ بِهِ الْمَوْتُ فَآذِنُونِي بِهِ وَعَجِّلُوا فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ . رواه ابوداؤد .

دحضرت حصين بن وحوح ﷺ څخه روايت دي چي طلحه بن براء ناروغه سو ، نو رسول الله ﷺ دهغه پوښتني ته راغي او ويې فرمايل : زه وينم چي دطلحه مرگ راغلي دي ، کم وخت چي دی وفات سو ، نو ما سمدستي خبر کړئ او تاسو دده په کفن و دفن کي دتلواري څخه کار واخلئ ، څکه چي مسلمان مړي دکور په مينځ کي زيات ساتل مناسب نه دي . (ابوداؤد)

## دريم فصل

**مړ کېدونکي ته تلقين ورکول**

(۱۵۳۸): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ لِلْأَحْيَاءِ قَالَ أَجْوَدُ وَأَجْوَدُ . رواه ابن ماجه .

دحضرت عبدالله بن جعفر ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مړ کېدونکي ته تاسو ددې کلماتو ښوونه کوئ : لا اله الا الله .... رب العالمين (دالله څخه ماسوا بل څوك دعبادت لائق نسته ، چي حليم او کريم دي ، الله تعالی دلوی عرش پروردگار دي ، ټوله تعريفونه دهغه دپاره دي ، چي دداوړو جهانو پالونکي دي ) اصحابو عرض وکړ: يا رسول الله ﷺ! ددې کلمو ښوول وصحتمندو خلکو ته څنگه دي؟ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : بهتر او ډېر بهتر دي . (ابن ماجه)

**د مؤمن او کافر د روح قبض کولو حال**

(۱۵۳۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَيِّتُ تَحْضُرُهُ الْمَلَائِكَةُ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَالِحًا قَالُوا اخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ اخْرُجِي حَمِيدَةً وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مرگ ته نژدې انسان ته ملائکي راځي ، که هغه صالح بنده وي ، نو ملائکي ورته وايي ، اې پاك روحه چي په پاك بدن کي وې ، راووځه . په داسي حال کي چي دخدای ﷻ

ذَلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَيُفْتَحُ لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هَذَا فَيَقُولُونَ فُلَانٌ فَيُقَالُ مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الطَّيِّبَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ ادْخُلِي حَمِيدَةً وَأَبْشِرِي بِرَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَلَا يَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ حَتَّى يُنْتَهَى بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي فِيهَا اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ السُّوءُ قَالَ اخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ اخْرُجِي ذَمِيمَةً وَأَبْشِرِي بِحَمِيمٍ وَغَسَّاقٍ وَآخَرَ مِنْ شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ فَلَا تَزَالُ يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ حَتَّى تَخْرُجَ ثُمَّ يُعْرَجُ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ فيفتح لَهَا فَيُقَالُ مَنْ هَذَا فَيُقَالُ فُلَانٌ فَيُقَالُ لَا مَرْحَبًا بِالنَّفْسِ الْخَبِيثَةِ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الْخَبِيثِ ارْجِعِي ذَمِيمَةً فَإِنَّهَا لَا تُفْتَحُ لَكِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَيُرْسَلُ بِهَا مِنَ السَّمَاءِ ثُمَّ تَصِيرُ إِلَى الْقَبْرِ. رواه ابن ماجة.

او مخلوق په نيز ستا تعريف سوي دي ، او خوشحاله په راحت ، دجنت پاك رزق ، او تا ته دي دخدایﷻ دملاقات زيري وي ، چي په تا باندي غضب ناكه نه دي ، (بلكه ستاخخه خوشحاله دي). داملائكي مخامخ دهغه سړي ومخته داكلمات وايي . تر دې چي روح يې په خوشحالي سره دبدن څخه په خوشحالي راووځي ، او ملائكي يې داسمان ولورته يوسي ،او بيا دهغه ومخته داسمان دروازه خلاصه سي ، دربانَ ورڅخه پوښتنه كوي ، چي څوك دي ؟ ملائكي وايي چي دا فلانكى بنده دي ، نو ورته وايي چي دا پاك روح دى هر كله راسي ، چي په پاك بدن كي وو . اې پاكه روحه! په اسمان كي په داسي حال كي داخل سه چي ستا تعريف سوي دي . او تا ته دي دراحت ، دجنت رزق او دخوشحالي زيري وي . داجملې وهغه ته مخامخ ويل كيږي . تر دې چي دهغه روح هغه اسمان ته راورسيږي چي په هغه كي خداىﷻ دى ، او كه هغه بدكاره انسان وي نو ملائكي هغه ته وايي اى خبيثه نفسه! چي په خبيث او ناپاك بدن كي وې ، بهر راووځه ، په داسي حال كي چي ستا بد ويل سوي دي ، او تا ته دي دنو په شان دگرمو ابو ، او درنگارنگ عذابونو زيري وي ، ملائكي ورته مخامخ د االفاظ وايي، تر دې چي دهغه روح دبدن څخه راووځي ، او ملائكي هغه داسمان ولور ته يوسي ، داسمان دروازه ورته خلاصه سي ، پوښتنه وسي چي څوك دي ؟ ورته وويل سي ، فلاني بنده دي، داسمان دربند ورته وايي ، ناپاكه روح ته دي زيري نه وي ، چي په ناپاك بدن كي وو ، په داسي حال كي چي ستا بدى ويل سوي ده ، او ستا دپاره داسمان دروازي نه خلاصيږي او هغه دقبر وطرفته ولاړ سي . (ابن ماجه)

(۱۵۴۰): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُ الْمُؤْمِنِ تَلَقَّاهَا مَلَكَانِ يُصْعِدَانِهَا قَالَ حَمَّادٌ فَذَكَرَ مِنْ طِيبِ رِيحِهَا وَذَكَرَ

دحضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دي چي رسول اللهﷺ وفرمايل : كله چي دمؤمن روح ووځي نو دوې فرشتې هغه داسمان ولور ته وړي حماد

الْمِسْكَ قَالَ وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ طَيِّبَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ صَلَّى اللهُ عَلَيْكِ وَعَلَى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِينَهُ فَيُنْطَلَقُ بِهِ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ يَقُولُ انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ قَالَ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا خَرَجَتْ رُوحُهُ قَالَ حَمَّادٌ وَذَكَرَ مِنْ نَتْنِهَا وَذَكَرَ لَعْنًا وَيَقُولُ أَهْلُ السَّمَاءِ رُوحٌ خَبِيثَةٌ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْأَرْضِ فَيُقَالُ انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى آخِرِ الْأَجَلِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَرَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَيْطَةً كَانَتْ عَلَيْهِ عَلَى أَنْفِهِ هَكَذَا. رواه مسلم

راوي وايي ، ددې څخه وروسته ابوهريره ﷺ د روح دخوشبو او مشکو ذکر وکړ (يعني داچي ددې څخه دمشکو بوئ راځي) ددې څخه وروسته راوي د رسول الله ﷺ داقول بيان کړ: داسمان ملائکي چي داروح ويني نو وايي: يو پاك روح دمځکي لخوا څخه راځي ، بيا اسمان والا هغه مخاطب کړي ورته وايي ، دخداى رحمت دى پر تا او ستا پر بدن باندي نازل وي ، چي تا به اباد ساتي ،بيا ملائکي هغه وپروردگار ته يوسي ، او پروردگار دا حکم وركړي د قيامت تر ورځي پوري معطل کړي ، او کله چي دکافر روح وځي ، حماد وويل: ابوهريرة ﷺ ددې روح دبدبوي ذکر وکړ ، او بيا يې دلعنت ، ددې څخه وروسته يې وفرمايل: ددې روح په لېدو سره داسمان والا وايي ، چي يو ناپاك روح دمځکي دلور څخه راځي ، بيا وويل سي ، چي دايوسي ، او دقيامت تر ورځي پوري مهلت ورکړئ ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمائي: ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دخپل پټو څوکه پر خپله پزه کښېښودل (لکه چي دکافر دروح بدبوئ رسول الله ﷺ ته محسوسه سول) (مسلم)

﴿۱۵۴۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حُضِرَ الْمُؤْمِنُ أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ بِحَرِيرَةٍ بَيْضَاءَ فَيَقُولُونَ اخْرُجِي رَاضِيَةً مَرْضِيًّا عَنْكِ إِلَى رَوْحِ اللَّهِ وَرَيْحَانٍ وَرَبٍّ غَيْرِ غَضْبَانَ فَتَخْرُجُ كَأَطْيَبِ رِيحِ الْمِسْكِ حَتَّى أَنَّهُ لَيُنَاوِلُهُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ بَابَ السَّمَاءِ فَيَقُولُونَ مَا أَطْيَبَ هَذِهِ الرِّيحَ الَّتِي جَاءَتْكُمْ مِنَ الْأَرْضِ فَيَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِينَ فَلَهُمْ أَشَدُّ فَرَحًا بِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ بِغَائِبِهِ يَقْدَمُ عَلَيْهِ فَيَسْأَلُونَهُ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ مَاذَا فَعَلَ فُلَانٌ فَيَقُولُونَ دَعُوهُ فَإِنَّهُ كَانَ فِي غَمِّ الدُّنْيَا فيقول قدمات اما

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي ديو مؤمن دمرگ وخت رانژدې سي نو درحمت ملائکي ذوربښم سپينه کپړه راوړي ، او دمؤمن وروح ته وايي: اې روحه ا دبدن څخه راووځه ، او دخداى ﷻ وطرفته ته راځه ، په داسي حال کي چي ته دخداى ﷻ څخه راضي يې ، او خداى ﷻ ستا څخه راضي دي ، دخداى ﷻ رحمت ، او دجنت رزق ، ستا دپاره دي ، نو روح راووځي او خوشبويي يې دمشکو په شان وي ، او ملائکي يې لاس په لاس واسمان ته وړئ ، کله چي

اتاكم فإذا قَالَ أَمَا أَتَاكُمْ فيقولون ذُهِبَ بِهِ إِلَى أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا احْتُضِرَ أَتَتْهُ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ بِمِسْحٍ فَيَقُولُونَ اخْرُجِي سَاخِطَةً مَسْخُوطًا عَلَيْكِ إِلَى عَذَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَتَخْرُجُ كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ بَابَ الْأَرْضِ فَيَقُولُونَ مَا أَنْتَنَ هَذِهِ الرِّيحَ حَتَّى يَأْتُونَ بِهِ أَرْوَاحَ الْكُفَّارِ . رواه احمد والنسائي .

ملائكي دا روح داسمان ودروازو ته يوسي ، نو داسمان ملائكي وايي چي څه ښه خوشبويي ده ، چي تاسو دمځكي دطرفه څخه راوړې ده ، بيا ملائكي (داروح دمؤمنانو ارواحو ته يوسي ، او هغوي ورسره دونه خوشحاله سي ، چي ديو خپل دسفر څخه په بيرته راتلو سره ، يا ديو ورك سوي خپل په بيرته راتلو سره تاسو خوشحاله كيږي ، بيا دمؤمنانو روحونه د هغه روح څخه پوښتنه كوي ، چي فلاني فلاني بنده څه وكړه ، يعني دفلاني فلاني بنده څه حال دي ، بيا دمؤمنانو روحونه خپلو كي وايي ، دى پرېږدي ، دى ددنيا په رنځ او تكليف كي اخته وو ،هر كله چي ده ته سكون او ارام حاصل سي ، نو بيا ور څخه پوښتنه وكړئ ، بيا داروح (دارام دحاصلولو څخه وروسته ) وايي ، چي فلاني بنده مړ سو ، ايا هغه تاسو ته نه دي راغلي ؟ دمؤمنانو روحونه به ورته وايي ، فرښتو هغه وخپل ځاي (دوږخ) ته يو وړ . او كله چي دكافر دمرگ وخت نژدې سي ، نو دعذاب ملائكي هغه ته ټاټ راوړئ او ورته وايي : اې روحه! بهر راووځه ، دخداى ﷻ عذاب تاته متوجه دي ، نو هغه روح دبدبوئ مرداري په شان راوځي ، تر دې پوري چي ملائكي يې دمځكي دروازو طرفته راوړي ، او ورته ويل كيږي ، څنگه ناپاكه او بدبويه روح دي ،بيا هغه دكافرو روح ته يووړل سي .(احمد ، نسائي)

(۱۵۴۲): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمَّا يُلْحَدْ فَجَلَسَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ وَكَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ اسْتَعِيذُوا بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مَلَائِكَةٌ مِنَ السَّمَاءِ بِيضُ الْوُجُوهِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الشَّمْسُ

دحضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دي چي موږ د رسول الله ﷺ سره ديوه انصاري جنازې ته ورغلو ، تر دې چي موږ دهغه قبر ته ورسېدو ، ترهغه وخته پوري هغه ښخ سوي نه وو ، رسول الله ﷺ كښېنستي ، او موږ هم د نبى كريم ﷺ سره شاوخوا سر كښته او خاموش كښېناستو، گواكي زموږ پر سرو باندي مرغان ناست دي ، نو د نبى كريم ﷺ په لاس كي دغه وخت يو لرگى وو ، چي په هغه سره يې مځكه گروول ، بيا نبى كريم ﷺ خپل سر مبارك پورته كړ او ويې

مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ وَحَنُوطٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ عَلَيْهِ السَّلَامِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ اخْرُجِي إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ قَالَ فَتَخْرُجُ تَسِيلُ كَمَا تَسِيلُ الْقَطْرَةُ مِنْ فِي السِّقَاءِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَأْخُذُوهَا فَيَجْعَلُوهَا فِي ذَلِكَ الْكَفَنِ وَفِي ذَلِكَ الْحَنُوطِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ قَالَ فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ يَعْنِي بِهَا عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ فَيَقُولُونَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ وَأَعِيدُوهُ إِلَى الْأَرْضِ فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى قَالَ فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ فَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ مَنْ رَبُّكَ فَيَقُولُ رَبِّيَ اللَّهُ فَيَقُولَانِ لَهُ مَا دِينُكَ فَيَقُولُ دِينِيَ الْإِسْلَامُ فَيَقُولَانِ لَهُ مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ فَيَقُولُ هُوَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولَانِ لَهُ وَمَا عِلْمُكَ فَيَقُولُ قَرَأْتُ كِتَابَ اللَّهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ فَيُنَادِي مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ عَبْدِي فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى

فرمایل: دقبر دعذاب څخه پناه غواړئ ، دوه یا دري واري نبی کریم ﷺ دا الفاظ وویله ، ددې څخه وروسته یې وفرمایل : هر کله چي دمؤمن بنده تعلق ددنیا څخه قطعه کېدونکي وي او هغه داخرت ولور ته متوجه وي نو هغه ته د اسمان دلوري څخه ملائکي راځي ، دهغوی مخونه داسي روښانه وي گواکي دهغوئ مخونه لمر غوندي وي ، دهغوي سره دجنت کفن او دجنت خوشبويي وي ، تر دې چي هغوي دونه ليري کښيني ، څونه چي نظر کار کوي ، بيا دمرگ ملائکه راسي ، او مؤمن بنده ته کښېني او ورته وايي اي پاکه روحه ا دخدای دبخښني او درضا ولور ته راسه ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : چي روح داسي بهېدونکي دبدن څخه راوو ځي لکه څنگه چي دابو څاڅکي دمشك څخه بهېدونکي راووځي، دمرگ ملائکه هغه روح واخلي او سمدستي نوري ملائکي دملك الموت څخه هغه روح واخلي ، يعني دسترگو د رف څخه ژر، او هغه په كفن او خوشبويي كي كښېږدي ، كم چي هغوئ راوړي دي ، ددې روح څخه هغه بهترينه خوشبويي خيژي ، چي په مځکه کي دټولو خوش بويو شيانو څخه افضله وي ، بيا ملائكي داروح داسمان و طرف ته وړئ ، او دفرښتو دكمي ټولی څخه چي داروح نيژدي تيرېږي نو هغه ټولی وايي .دا پاك روح دچا دي ، كمي ملائكي چي داروح وړئ هغوئ وايي ، دا فلاني بنده دي او دفلاني زوی (يا لور) دي ،

الْجَنَّةِ قَالَ فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا وَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدَّ بَصَرِهِ قَالَ وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ حَسَنُ الْوَجْهِ حَسَنُ الثِّيَابِ طَيِّبُ الرِّيحِ فَيَقُولُ أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُرُّكَ هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ فَيَقُولُ لَهُ مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالْخَيْرِ فَيَقُولُ أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ فَيَقُولُ رَبِّ أَقِمِ السَّاعَةَ حَتَّى أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي وَمَالِي قَالَ وَإِنَّ الْعَبْدَ الْكَافِرَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ مَلَائِكَةٌ سُودُ الْوُجُوهِ مَعَهُمُ الْمُسُوحُ فَيَجْلِسُونَ مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ فَيَقُولُ أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ اخْرُجِي إِلَى سَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَغَضَبٍ قَالَ فَتَفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ فَيَنْتَزِعُهَا كَمَا يُنْتَزَعُ السَّفُّودُ مِنَ الصُّوفِ الْمَبْلُولِ فَيَأْخُذُهَا فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَجْعَلُوهَا فِي تِلْكَ الْمُسُوحِ وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ فَيَصْعَدُونَ بِهَا فَلَا يَمُرُّونَ بِهَا عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا مَا هَذَا الرُّوحُ الْخَبِيثُ فَيَقُولُونَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِأَقْبَحِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانَ يُسَمَّى بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ فَلَا يُفْتَحُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ } فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الْأَرْضِ السُّفْلَى فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا ثُمَّ قَرَأَ { وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ

يعني دهغه نوم او لقب ور وښئي ،چي په دنيا كي يې ذكر كيږي ، تر څو چي دا ملائكي يې ددنيا اسمان ته راورسوئ او دهغه دپاره داسمان دروازه خلاصه سي اودهغه سره دهر اسمان ملائكي دبل اسمانه پوري څي ، ترڅو پوري چي هغه روح اووم اسمان ته ورسول سي ، او الله ﷻ فرمائي : زما دبنده اعمال نامه مقام العلين كي (كم ځاي چي نيك روحونه قرار لري) كښيږدي ، او دا روح دمځكي وطرف ته يوسي (يعني دده بدن چي ښخ سوي دي واپس كړئ)ما دمځكي څخه بدنونه پيدا كړي دي او مځكي ته يې واپس كوم ، او دمځكي څخه به يې دويم وار راباسم ،ددې څخه وروسته نبی كريم ﷺ وفرمايل چي هغه روح بيا دهغه په بدن كي اچول كيږي ، بيا هغه ته دوې ملائكي راځي هغه كښېنوي او دهغه څخه پوښتنه كوي ، ستا رب څوك دي ؟ په جواب كي هغه ورته وايي . زما پروردگار الله ﷻ دي ، بيا هغوئ پوښتنه ځيني وكړي ، ستادين څه دي ؟ (يعني ته په كم دين يې؟)هغه ورته وايي ، زما دين اسلام دي ، بيا هغوئ ځيني پوښتنه وكړئ چي دا څوك دي ، چي تاسو ته درليږل سوي وو ؟ هغه ورته په جواب كي وايي ، دا دخدای ﷻ رسول دي ، بيا ځيني پوښتنه كوئ ، چي تا دده رسالت څنگه وپيژندي ؟ هغه ورته وايي ، ما دخدای ﷻ كتاب ولوستي ، ما ايمان پر راوړ ، او تصديق مي وكړ ، بيا يو اواز كونكي داسمان څخه يو

فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ }فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ مَنْ رَبُّكَ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ لَهُ مَا دِينُكَ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ لَهُ مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ فَافْرِشُوهُ مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ قَبِيحُ الْوَجْهِ قَبِيحُ الثِّيَابِ مُنْتِنُ الرِّيحِ فَيَقُولُ أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُوءُكَ هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ فَيَقُولُ مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالشَّرِّ فَيَقُولُ أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ فَيَقُولُ رَبِّ لَا تُقِمِ السَّاعَةَ. وَفِي رِوَايَةٍ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ إِذَا خَرَجَ رُوحُهُ صَلَّى عَلَيْهِ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ أَنْ يُعْرَجَ بِرُوحِهِ مِنْ قِبَلِهِمْ . وَتُنْزَعُ نَفْسُهُ يَعْنِي الْكَافِرَ مَعَ الْعُرُوقِ فَيَلْعَنُهُ كُلُّ مَلَكٍ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَكُلُّ مَلَكٍ فِي السَّمَاءِ وَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ بَابٍ إِلَّا وَهُمْ يَدْعُونَ اللَّهَ أَنْ لَا يُعْرَجَ رُوحُهُ مِنْ قِبَلِهِمْ . رواه احمد

اواز وکړي ، چي زما بنده رېښتني دي ، دده دپاره دجنت بستره هواره کړئ ، او دجنت جامه په واغوندئ ، او دجنت ولور ته یو کلکین ورته خلاص کړئ ، نو کلکین ورته خلاص سي ، او دهغه لاري ورته دجنت هوا او خوشبويي راځي ، او هغه قبر ورته ډېر پراخه سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : بیا وهغه ته یو ډېر ښائسته سړی راسي ، چي ښائسته لباس يې اغوستي وي او بهترينه خوشبويي يې لګولې وي ، او هغه ته وايي ، تاته دي دهغه شي زيري وي چي ستا خوشحالوونکي دي (يعني ستا دپاره دهر قسم نعمتونه موجود دي ) ، دا هغه ورځ ده چي ددغه نعمتو وعده سوي وه ، مړي ځيني پوښتنه کوي چي ته څوك يې ؟ چي ستا ښائست کامل دي ، او تا زيري راوړي دي ، هغه به ورته ووايي ، زه ستا نيك عمل يم ، مړي چي داواوري نو وايي ،چي اې زماپروردګاره قيامت راولې،اې زما پروردګاره ! قيامت راولې، چي زه بيا يو وار دمال اوعيال ولور ته ولاړسم ، ددې څخه وروسته نبی کریم ﷺ وفرمایل :کافر بنده چي ددنیا څخه داخرت ولور ته ځي ،نو تورمخي دعذاب ملائکي ورته راسي ، او دهغوئ سره ټاټ وي ، هغوئ دونه ليري ځيني کښېني ، چي تر کمه ځايه پوري سترګي ديد کوي ، بيا دمرګ ملائکه ورته راسي او دهغه سره کښېني او ورته وايي ، ای خبيثه او ناپاکه روحه! دخدای دغضب ولور ته راځه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دکافر روح چي داواوري بدن يې په لړزه سي (اودجسم څخه دراوتلو څخه بيريږي ليکن دمرګ ملائکه هغه روح راکاږي لکه ازغی چي دلندو وړی څخه راکاږي ، اوهغه دبدن څخه راوکاږي او دسترګو په رف کي دهغه څخه روح هغه

ملائکي راوکاږئ ، چي دهغه اخیستلو دپاره راغلي وي ، ملائکي هغه روح په ټاټ کي وپېچي ، او دهغه ځخه ډیره سخته بدبویي راوځي ، لکه دمرداري ، هغه بوی چي په مځکه کي بیا پیدا سي ، بیا ملائکي هغه روح داسمان لور ته وړئ ، دفرښتو دکمي ډلي ځخه چي داروح تیرېږي ، هغوئ داوايي چي دا دچا ناپاکه روح دي ؟ ملائکي جواب ورکوئ ، دفلاني بنده دفلانـي دزوی (یالور) یعني هغه په بدو لقبو او نومو سره ذکر کوي ، چي ور سره په دنیا کي هغه مخاطب کولای سو ، تردې چي ملائکي هغه ددنیا اسمان تـه ورسوئ او دروازه خلاصه کړئ لیکن دروازه نسي خلاصولای . ددې ځخه وروسته نبی کریم ﷺ وویل : لا تفتح لهم ........ فی سم الخیاط . (داسمانونو دروازې دکافرانو دپاره نسي خلاصیدلای او نه به هغوئ په جنت کي داخل کړل سي تر ځو پوري چي اوښ دستني سخم کي د اخل نسي یعني دهغوئ په جنت کي داخلېدل ممکن نه دي)بیا به الله ﷻ حکم وکړي ، دده اعمالنامه په سجین کي کښېږدئ (چي په دوږخ کي دیو ځاي نوم دي )چي په اوومه مځکه دننه دي ،بیا دهغه روح وغورځول سي ، ددې ځخه وروسته نبی کریم ﷺ دا ایات ولوستي : ومن یشرك .....فی مکان سحیق (چاچي دخدای ﷻ سره ځوك شریك کړ ، هغه لکه چي داسمان ځخه پرمخي راولوېدي ، مرغان هغه خورئ یا یې هوا په لیري ځای کي غورځوي ) ددې ځخه وروسته نبی کریم ﷺ وفرمایل : بیا دهغه روح په بدن کي واچول سي ، او دوې ملائکي راسي ، هغه کښېنوي او پوښتنه ځیني وکړئ ، ستا رب ځوك دي ؟ هغه به ورته ووايي . هاها ماته معلوم نه دي ،بیا به ځیني پوښتنه وسي ، چي ستا دین کم دي ، هغه به ووایي هاها ماتـه معلوم نـه دي ، بیا به دهغه ځخه پوښتنه وسي ، چي هغه ځوك دي چي تاستو تـه لېږل سوي وو ، هغـه بـه پـه جواب کي ووایي چي هاها ماته معلوم نه دي ، ددې ځخه وروستـه یو اواز کوونکی دخدای ﷻ دطرفه ځخه اواز کوي چي دا دروا غجن دي ، دده دپاره داور فرش هوار کړئ ، او دد ه دپاره ددوږخ لور ته دروازه خلاصه کړئ ، نو ددوږخ ولور ته یوه دروازه خلاصه سي ، نو ددوږخ گرمي او هوا وده ته رسیږي ، او قبر یې تنگ سي ، تر دې پوري چي دهغه پښتی دیوه خوا ځخه بلي خواته وځي ، بیا به یو بد صورت سړی چي خیرني جامې یې اغوستي وي ، هغه ته به راسي ، چي دهغه ځخه به سخته بد بویي خیژي ، ورته وبه وایي ، تا ته دي دهغه شي زیري وي (بد زیري) چي تا ته به بد معلومیږي ،دا هغه ورځ ده چي ددې وعده درسره سوې وه ، مړي دهغه ځخه پوښتنه کوي چي ته ځوك یې ؟ ته خو ډېر بد شکل یې او بد زیري دي راوړي دي ، هغه به په جواب کي ورته ووایي چي زه ستا عمل یم ، په دې اورېدو سره به مړی ووایي اې پروردگاره ! قیامت مه راوله . په یو بل روایت کي داتوله خبره ذکر ده ، او دونه نوره زیاته ده چي کم وخت دمؤمن بنده

روح دبدن څخه وځي نو په هغه باندي هره ملائکه چي داسمان او مځکي ترمینځ وي رحمت لیږي او هغه ملائکه چي په اسمان کي وي دهغه دپاره داسمان دروازې خلاصوي او دهر مسلمان لپاره داسمان ملائکي دخدای ﷻ څخه دا دعا غواړئ چي دهغه روح ددوئ ددروازو څخه تیریږي چي دهغه په زیارت مشرف سي او دکافر روح دهغه ځایو څخه منعه سي ، او هره ملائکه چي د اسمانو او مځکو په مینځ کي وي لعنت پر وايي . ا و داسمان ټولي دروازې ورته بندي سي او دهرې دروازې ملائکي دخدای ﷻ څخه دادعا غواړئ چي دهغه روح دهغوئ په دروازو کي تېر نه سي ، (احمد

## په عالم برزخ کي د مؤمن روح

(۱۵۴۳): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ كَعْبًا الْوَفَاةُ اَتَتْهُ اُمُّ بِشْرٍ بِنْتُ الْبَرَاءِ بْنِ مَعْرُوْرٍ فَقَالَتْ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اِنْ لَقِيتَ فُلَانًا فَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّي السَّلَامَ قَالَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكِ يَا اُمَّ بِشْرٍ نَحْنُ اَشْغَلُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَتْ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَمَا سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اَرْوَاحَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ بِشَجَرِ الْجَنَّةِ قَالَ بَلٰى قَالَتْ فَهُوَ ذَاكَ . رواه ابن ماجة والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

حضرت عبدالرحمن بن کعب ؓ دخپل پلاره څخه روایت کوي ، کوم وخت چي دکعب ؓ دمرگ وخت رانژدې سو ،نو د براء بن معرور لور بی بی ام بشر هغه ته راغله ، او ویې ویل : اې ابو عبدالرحمن اکه په اخرت کي دفلاني سره یوځاي سوې ، نو هغه ته زما سلام وایه ،کعب ؓ جواب ورکړ ، اې ام بشر! خدای ﷻ دي تا وبخښي هلته به ددې څخه زیات په مهم کار باندي مشغول یو ، (یعني هلته به مونږ دځان څخه خبر نه یو ، نو دبل چا خبر به څنګه اخلو)

. بی بی ام بشر وویل : اې ابو عبدالرحمن ! ایا تا د رسول الله ﷺ څخه دا نه دي اورېدلي چي دمؤمنانو شکلونه به دشنو مرغانو په شکل کي وي ، چي دجنت ددرختو څخه به مېوې خوري. کعب ؓ ورته وویل: او ما (هم داسي)اورېدلي دي ، بی بی ام بشر رض ورته وویل : دا هغه فضل وکرم دي چي دا ستا دپاره امید کېداي سي .(یعني ستا روح به په هغو روحونو کي شامل وي) (ابن ماجه ، بیهقي در کتاب البعث والنشور)

(۱۵۴۴): وَعَنْهُ عن ابيه اَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَيْرٌ تَعْلُقُ فِيْ شَجَرَ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَرْجِعَهُ اللّٰهُ فِيْ جَسَدِهِ يَوْمَ يَبْعَثُهُ . رواه مالك والنسائي والبيهقي في كتاب البعث والنشور

حضرت عبدالرحمن ؓ دخپل پلاره څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دمؤمن روح به دمرغانو په شکل دجنت ددرختو څخه مېوې خوري ، تر څو چي هغه بیا الله ﷻ هغه په بدن کي اچوي په هغه ورځ به ئې الله ﷻ پورته کړي

،یعني دقیامت په ورځ .(مالك ، نسائي ، بیهقي کتاب البعث والنشور) .

(۱۵۴۵): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ وَهُوَ يَمُوتُ فَقُلْتُ اقْرَأْ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامَ . رواه ابن ماجة.

حضرت محمد بن منکدر ﷺ فرمائي : کم وخت چي دجابربن عبدالله ﷺ دمرگ وخت نژدې سو ، نو زه ورسره وم ، او ورته مي وويل : زما سلام و رسول الله ﷺ ته ورسوه .(ابن ماجه)

# بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ وَ تَكْفِيْنِه

## (د مړي غسل او کفن ورکول)

## لومړی فصل

### مړي ته غسل ورکول

(۱۵۴۶): عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَغْسِلُ ابْنَتَهُ فَقَالَ اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذٰلِكَ بِمَاءٍ وَّ سِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُوْرًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُوْرٍ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَلْقَى إِلَيْنَا حِقْوَهُ فَقَالَ أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ وَ فِيْ رِوَايَةٍ اغْسِلْنَهَا وِتْرًا ثَلٰثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا وَ ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا وَ قَالَتْ فَضَفَرْنَا شَعَرَهَا ثَلَاثَةَ قُرُوْنٍ وَأَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا . متفق عليه

دبي بي ام عطیه رض څخه روایت دئ کله چي مونږ د رسول الله ﷺ لور (بی بی زینب رض) ته غسل ور کوئ ، نو رسول الله ﷺ تشریف راوړ ، او ویې فرمایل : دې ته په اوبو او د بیري په پاڼو سره درې یا پنځه واري غسل ورکړئ ، که تاسو ددې ضرورت وګڼئ یا زیات تر درو ، او اخر کافور یا دکافور یو څه شي په کښي واچوئ ،او هر وخت چي دغسل څخه فارغه سواست نو ما ته خبر راکړئ ، بیا چي مونږ دغسل څخه فارغه سو نو نبی کریم ﷺ ته مو خبر ورکړ، نو نبی کریم ﷺ خپل لنګ مونږ ته راغورځوي ، او ویې فرمایل : دالنګ دمړی دبدن سره ولګوئ ، یعني دهغه په بدن یې واچوئ ، او په یو بل روایت کي داالفاظ دي :طاق یعني درې یا پنځه یا اووه واره غسل ورکړئ ، او غسل دراسته او داوداسه داعضاو څخه شروع کړئ ،بی بی ام عطیه رض فرمایي : مونږ دمړي دویښتانو څخه درې کوڅۍ جوړي کړئ او هغه مو دهغې شا ارخ ته ایله کړئ .(بخاري او مسلم) .

**د رسول الله ﷺ کفن**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۴۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ انَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ . متفق عليه | دبی بی عائشې رض څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ ته ديمن په درو سپينو کپړو سره کفن ورکول سو ، چي دسحول (په يمن کي يو کلي کي ) جوړي سوي وي او دپمبو وې ،په دغه کپړو کي قميص او لنګوټه نه وه .(بخاري او مسلم) |

**ښه کفن ورکول**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ . رواه مسلم | دحضرت جابر ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي تاسو خپل ورور ته کفن ورکوئ ، نو پکار ده چي ښه کفن ورکړئ .(مسلم) |

**د محرم د کفن مسئله**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۴۹﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰه بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انَّ رَجُلًا كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَصَتْهُ نَاقَتُهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَكَفِّنُوْهُ فِي ثَوْبَيْهِ وَلَا تمسوه بطيب وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا. متفق عليه و سنذكر حديث خباب قتل مصعب بن عمير في باب جامع المناقب ان شاء الله تعالى . | دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دي ،يو سړی د نبي کريم ﷺ ملګري وو ، او دحج احرام يې تړلي وو ، چي دهغه اوښي دهغه غاړه ماته کړه او هغه مړ سو ، رسول الله ﷺ اصحابو ته حکم ورکړ ، چي ده ته دبيرو دپاڼو په اوبو سره غسل ورکړئ ، او : په دوو کپړو کي ورته کفن ورکړئ ، مه ورباندي خوشبويي لګوئ او مه سر ورپټوئ ، ځکه چي دقيامت په ورځ به داسړی لبيك ويونکي |

دقبر څخه راپورته کيږي .(ډېر ژر به انشاء الله په باب جامع المناقب کي دحضرت عمر ﷺبن مصعب دقتل حديث ذکر کړو)

## دويم فصل

**د کفن لپاره سپينه جامه غوره ده**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۵۰﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمْ الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ وَإِنَّ خَيْرَ | دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو سپيني جامې اغوندئ ،چي دا غوره جامې دي ، او په سپينو |

| | |
|---|---|
| اَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ فَاِنَّهُ يُنْبِتُ الشَّعْرَ وَ يَجْلُو الْبَصَرَ . رواه ابوداؤد والترمذي و روى ابن ماجة الى موتاكم. | کپړو کي ومړي ته کفن ورکوئ ،او ستا سو دپاره بهترين رانجه اثمد(تور رانجه) دي ، ځکه |

چي دا بانړو شنه کوي او دسترگو ديد زياتوي .(ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه تر موتاکم پوري روايت کړي دي .

## گران بيه کفن منعه دئ

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۵۱﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ فَإِنَّهُ يُسْلَبُهُ سَلْبًا سَرِيعًا . رواه ابوداؤد. | دحضرت علی ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کفن کي ډېره قيمتي جامه مه استعمالوئ ، ځکه چي هغه ژر خرابيږي . (ابوداؤد) |

## په قيامت کي مړی څرنگه پورته کيږي

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۵۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّهُ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ دَعَا بِثِيَابٍ جُدُدٍ فَلَبِسَهَا ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي يَمُوتُ فِيهَا . رواه ابوداؤد. | دحضرت ابو سعيد خدری ﷺ څخه روايت دي ، کم وخت چي دهغه دمرگ وخت رانژدې سو، نو هغه نوي کپړې راوغوښتلې ، او وايې غوستلې او ويې ويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي خي مړي په هغه کپړو کي راپاځيږي په کوم کي چي مړ سوي وي . (ابوداؤد) |

## غوره کفن کوم يو دی؟

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۵۳﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ وَخَيْرُ الْأُضْحِيَّةِ الْكَبْشُ الْأَقْرَنُ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه عن ابي امامة. | دحضرت عباده بن صامت ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل :بهترين کفن حله دی (يعني لنگ ، څادر او قميص) بهترينه قرباني دښکرور پسه ده .(ابوداؤد ، ترمذي او ابن ماجه |

داروايت دابو امامه څخه نقل کړي دي )

## شهيدان په خپلو جامو کي ښخول پکار دي

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۵۴﴾:وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلَى أُحُدٍ أَنْ يُنْزَعَ عَنْهُمُ الْحَدِيدُ وَالْجُلُودُ وَأَنْ يُدْفَنُوا بِدِمَائِهِمْ وَثِيَابِهِمْ . رواه ابوداؤد وابن ماجة. | دحضرت عباس ﷺ څخه روايت دي چي داحد دشهيدانو په اړه رسول الله ﷺ دا امر وکړ ، چي دهغو د بدنو څخه دي اوسپنه او دپوست جامې وغيره ليري کړل سي ، او بيا دي په هغو کپړو کي چي په وينو دي ښخ کړل سي : (ابوداؤد ، ابن ماجه) |

## دریم فصل

**د حضرت مصعب او حضرت امیر حمزه (رض) کفن**

(۱۵۵۵): عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا فَقَالَ قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي كُفِّنَ فِي بُرْدَةٍ إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَإِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ وَأُرَاهُ قَالَ وَقُتِلَ حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِنِّي ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ أَوْ قَالَ أُعْطِينَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِينَا وَقَدْ خَشِينَا أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِي حَتَّى تَرَكَ الطَّعَامَ. رواه البخاري

حضرت سعد بن ابراهیم‌ؓ دخپل پلاره څخه روایت کوي چي دعبدالرحمن ؓ روژه وه ، چي هغه ته ډوډۍ راوړل سوه ، هغه وویل : مصعب بن عمیرؓ شهید سو ، او هغه زما څخه بهتر وو ، خو هغه په یوه کپړه کي ښخ سو ، اودونه کوچنی وو ،که سر به یې ورته پټ کړ نو پښې به یې لڅي سوې او که به یې پښې ورته پټي کړې نو سر به یې لڅ سو ، ، دراوي بیان دي ، عبدالرحمن بن عوف ؓ داهم وویل :چي حضرت حمزهؓ شهید سو او هغه زما څخه افضله وو او هغه ته هم دغسي کفن ورکول سو ، او بیا زموږ لپاره په دنیا کي پراخي سول هغه چي پراخه سول . یا داالفاظ یې وویل : موږ ته دنیا راکول سوه ،هغه قدر چي راکړل سوه، زموږ سره دا بیره پیدا سوه چي شاید زموږ دنیکو بدله موږ ته ژر راکول سوه ، ددې په ویلو سره هغه دخپل ځان سره په ژړا سو ترڅو یې ډوډۍ خوړل پرېښول (بخاري)

**د عبدالله ابن أبی سره د مرگ وروسته د رسول الله ﷺ معامله**

(۱۵۵۶): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ حُفْرَتَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ فَوَضَعَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَنَفَثَ عَلَيْهِ مِنْ رِيقِهِ وَأَلْبَسَهُ قَمِيصَهُ قال وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا. متفق علیه

دحضرت جابر ؓ څخه روایت دئ کله چي دعبدالله بن ابی مړی په قبر کي کېښېښودل سو نو رسول الله ﷺ تشریف راوړ ، او حکم یې وکړ چي مړی دقبر څخه راوباسئ ،نو مړی راوکښل سو ، نبی کریم ﷺ هغه په خپلو زنګنو مبارکو کېښېښوئ او دهغه په خوله کي یې خپلي ناوړی مبارکي واچولي او خپل قمیص یې ورته واغوستئ، حضرت جابرؓ فرمایي :چي عبدالله بن ابیؓ حضرت عباسؓ ته دبدر په غزا کي قمیص ور اغوستئ وو نو نبی کریم ﷺ دهغه بدله ورکړه .(بخاري او مسلم .

# بَابُ الْمَشْيِ بِالْجَنَازَةِ وَالصّلوةُ عَلَيْهَا

## (د جنازې سره تلَل او د جنازې دلمانځه بيان)

## لومړی فصل

### په جنازه کي تلوار کول

(۱۵۵۷): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا وَإِنْ يَكُ سِوَى ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُوْنَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ . متفق عليه

دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دجنازې په وړلو کي تلوار کوئ ، ځکه که هغه دنيك سړی جنازه وي نو هغه دنيکي وطرفته ژر رسول پکار دي او که هغه دبد کاره جنازه وي ، نو هغه دخپلو غاړو څخه ژر کښته کړئ .(بخاري اومسلم)

### د نيک او بد جنازه

(۱۵۵۸): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَتْ الْجَنَازَةُ فَاحْتَمَلَهَا الرِّجَالُ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ فَإِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ قَدِّمُونِي وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَة قَالَتْ لِأَهْلِهَا يَا وَيْلَهَا أَيْنَ تَذْهَبُونَ بِهَا يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الْإِنْسَانَ وَلَوْ سَمِعَ الْإِنْسَانُ لَصَعِقَ . رواه البخاري

دحضرت ابو سعيدخدري ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي جنازه تياره سي ، نو خلك يې پر اوږو پورته کوئ ، بيا که هغه دنيك سړی جنازه وي ، نو وايي چي ما ژر دخپل منزل وطرف ته ورسوئ ، او که دبدکاره جنازه وي نو خپلو قريبانو ته وايي افسوس دی وتاسو ته ما چيري وړئ ، دمړي دا اواز دانسان څخه ماسوا نور هر څوك اوري پرته دانسانانو څخه ، که يې انسان واوري نو بې هوشه کيږي يا مړ کيږي (بخاري)

### د جنازې په ليدو سره د درېدلو حکم

(۱۵۵۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمْ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ . متفق عليه

دحضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي تاسو يوه جنازه ووينئ نو ودرېږئ او څوك چي دجنازې سره ولاړ سي هغه دي تر هغه وخته پوري نه کښېني تر څو چي يې جنازه نه وي ايښې . (بخاري او مسلم)

(١٥٦٠): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ مَرَّتْ جَنَازَةٌ فَقَامَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْنَا مَعَهُ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهَا يَهُودِيَّةٌ فَقَالَ إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ فَإِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا . متفق عليه

دحضرت جابر ﷛ څخه روايت دي چي يوه جنازه تېره سوه ، رسول الله ﷺ چي هغه وليدل نو ولاړ سو ، بيا موږ عرض وکړ يا رسول الله ﷺ داخو ديوې يهودي ښځي جنازه وه ، نبی کریم ﷺ وفرمايل : مرگ دخوف او وېري شی دی، تاسو چي جنازه ووينئ ، نو ورته دریږئ . (مسلم)

(١٥٦١): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ رَأَيْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ فَقُمْنَا وَقَعَدَ فَقَعَدْنَا يَعْنِي فِي الْجَنَازَةِ . رواه مسلم و في رواية مالك و ابي داوٗد قام في الجنازة ثم قعد بعد .

دحضرت على ﷛ څخه روايت دي چي موږ رسول الله ﷺ ولیدئ چي ولاړ وو ، نو موږ هم ودرېدو ،بيا چي نبی کریم ﷺ کښېنستئ نو موږ هم کښېناستو يعني دجنازې په ليدو سره .(مسلم) او دمالك او ابوداؤد په روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ جنازه وليده نو ولاړ سو ، بيا کښېناستي .

**د جنازي سره د تللو او ښخولو ثواب**

(١٥٦٢): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّه يَرْجِعُ مِنَ الْاَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ اَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ. متفق عليه

دحضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کم سړی چي ديو مسلمان دجنازې سره دمؤمن په حیثیت او دثواب دطلب په غرض ولاړ سي ، ورسره وي ،جنازه وکړي ، او د هغه دښخ کولو څخه فارغه سي ، نو هغه ته دوه قيراطه ثواب حاصليږي ،چي هر قيراط د احد دغره برابر دي ، او څوك چي صرف د جنازې لمونځ وکړي او بيرته راسي او په ښخولو کي نسي شريك ، نو هغه ته يو قيراط ثوا ب حاصليږي .(بخاري او مسلم)

**د نجاشي پاچا د جنازې غائبانه لمونځ**

(١٥٦٣): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى النَّاسَ النَّجَاشِيَّ الْيَوْمَ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ . متفق عليه

دحضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ خلکو ته دنجاشي (دحبشې دباچا) خبر ورکړ ، په هغه ورځ په کومه ورځ چي هغه مړ سوی وو ، بيا داصحابو سره عيدگاه ته ولاړئ ، بيا يې صفونه

جوړ کړل او څلور تکبیرونه یې وویل (یعني پر هغه یې دجنازې لمونځ وکړ) (بخاري او مسلم)

**د جنازې د لمانځه تکبیرات**

(۱۵۶۴): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ زَيْدبن ارقم يُكَبِّرُ عَلَى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا وَإِنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ خَمْسًا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُهَا . رواه مسلم

دحضرت عبدالرحمن بن ا بی لیلی ﷺ څخه روایت دي چي زید بن ارقم به زموږ دجنازې په لمونځو کي څلور یا پنځه تکبیرونه ویل ، موږ ځیني ددې سبب وپوښتئ ، هغه وویل : چي رسول الله ﷺ به پنځه تکبیرونه کول (مسلم) (تکبیرونه څلور دي ،پنځه منسوخ دي)

**د جنازې په لمانځه کي د سورة فاتحې ویلو مسئله**

(۱۵۶۵): وَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاس عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ لِيَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ . رواه البخاري

دحضرت طلحه بن عبد الله بن عوف ﷺ څخه روایت دي چي ما په ابن عباس ﷺ پسي دجنازې یولمونځ وکړ ، هغه (دهغه تکبیرو څخه وروسته) سورة فاتحه وویل ، بیا یې وویل : ماسورة فاتحه ځکه وویل چي تاسو ته معلومه سي چي سنت ده .(بخاري)

**د جنازې په لمانځه کي د رسول الله ﷺ دعاء**

(۱۵۶۶): وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَ فِي رِوَايَةٍ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَ عَذَابَ النَّارِ قَالَ حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ أَنَا ذَلِكَ الْمَيِّتَ . رواه مسلم

دحضرت عوف بن مالك ﷺ څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ په یوه جنازه کي لمونځ وکړ او نبی کریم ﷺ چي کومه دعا په لمانځه کي وکړل هغه ما په یاد کړه ، هغه دعا داده : اللهم ....من عذاب النار .اې الله! دی وبخښې ، او رحم پر وکړې او دبدو څخه یې بري کړې ، او دده قصور معاف کړې ، او دده ښه مېلمستیا وکړې ، او دده قبر پراخه کړې ، او دی په اوبو سره واوري سره او یخي سره پاك کړې ، دده ګناهونه پاك کړې ، څنګه چي سپینه کپړه دمیل (خیرې) څخه پاکیږي ، او ده ته دکور څخه افضله کور ورکړې ، او دده دښځي څخه افضله ښځه ورکړې (دده دخادمانو څخه ښه خادمان ورکړې) اودی په جنت کي داخل کړې ، او دده قبر ددوږخ دعذاب څخه خلاص کړې او په یو ه بل روایت کي راغلي

دي او دده قبر ددوږخ دفتنې او ددوږخ دعذاب څخه خلاص کړي ، عوف وايي کله چي ما د رسول الله ﷺ دژبی څخه داالفاظ واورېدل ، نو بې اختياره زما په زړه کي دا آرزو پيدا سوه ، چي کاشکي دا مړی زه واي . او رسول الله ﷺ زما دپاره دادعا کړې واى (مسلم)

**په مسجد کي د جنازې لمونځ کولو مسئله**

(۱۵۶۷): وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ عَائِشَةَ لَمَّا تُوُفِّيَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَتْ: ادْخُلُوا بِهِ الْمَسْجِدَ حَتَّى أُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَأُنْكِرَ ذٰلِكَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ وَاللّٰهِ لَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ سُهَيْلٍ وَأَخِيهِ . رواه مسلم

دحضرت ابو سلمه بن عبد الرحمان ﷺ څخه روايت دي کله چي سعدبن ابی وقاص ﷺ وفات سو ، نو بی بی عائشې رض خلکو ته وويل : دده جنازه مسجد ته يوسئ چي زه لمونځ ورکړم خلکو د جنازې مسجد ته د وړلو څخه انکار وکړ ، بی بی عائشې رض وفرمايل : په خدای ﷻ دي مي قسم وي رسول الله ﷺ دبيضاء پسر دواړو زامنو (سهيل او د هغه ورور) باندي دجنازې لمونځ په مسجد کي وکړ .(مسلم)

**د جنازې په لمانځه کي د امام ځای**

(۱۵۶۸): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا فَقَامَ عَلَيْهَا وَسَطَهَا . متفق عليه

دحضرت سمره بن جندب ﷺ څخه روايت دي چي ما په رسول الله ﷺ پسي ديوې ښځي دجنازې لمونځ وکړ کوم چي دنفاس په وجه مړه سوې وه ، نبی کريم ﷺ دجنازې په مينځ کي ودرېدئ .(بخاري)

**د ښخېدو وروسته د جنازې لمونځ**

(۱۵۶۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَبْرٍ قَدْ دُفِنَ لَيْلًا فَقَالَ مَتَى دُفِنَ هٰذَا قَالُوا الْبَارِحَةَ قَالَ أَفَلَا آذَنْتُمُونِي قَالُوا دَفَنَّاهُ فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ فَكَرِهْنَا أَنْ نُوقِظَكَ فَقَامَ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پر يو قبر تير سو چي په هغه کي د شپې مړي دفن کړل سوی وه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا کله دفن سوي دي صحابه کرامو عرض وکړ نن شپه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو زه ولي خبر نه کړم؟ صحابه کرامو عرض وکړ موږ دوئ په تياره کي ښخ کړل او په داسي وخت کي مو ستاسو را کښينول مناسب نه وګڼل ، رسول الله ﷺ ودريدئ او موږ وروسته صف جوړ کړی او پر هغه (قبر) یې لمونځ وکړ . بخاري او مسلم

(۱۵۷۰): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ امْرَاَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ اَوْ شَابًّا فَفَقَدَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَ عَنْهَا اَوْ عَنْهُ فَقَالُوا مَاتَ قَالَ اَفَلَا كُنْتُمْ آذَنْتُمُوْنِي قَالَ فَكَاَنَّهُمْ صَغَّرُوا اَمْرَهَا اَوْ اَمْرَهُ فَقَالَ دُلُّوْنِي عَلَى قَبْرِهِ فَدَلُّوْهُ فَصَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَ اِنَّ هٰذِهِ الْقُبُوْرَ مَمْلُوْءَةٌ ظُلْمَةً عَلَى اَهْلِهَا وَاِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ . متفق عليه و لفظه للمسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يوې توري ښځي او يا يو زلمي به مسجد نبوي جارو کوئ ، رسول الله ﷺ چي هغه غائب وليدئ نو پوښتنه يې وکړه (چي چيري دي) صحابه کرامو عرض وکړ هغه مړه سوې ده (يا مړ سوئ دئ) رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو زه ولي خبر نه کړم، ابوهريرة وايي لکه چي صحابه کرامو د هغه مرگ معمولي گڼئ له دي کبله يې رسول الله ﷺ ته خبر ور نه کړ، رسول الله ﷺ وفرمايل ما ته د هغه قبر وښياست ، صحابه کرامو د هغه قبر ته بوتلئ او پر هغه قبر يې لمونځ وکړ بيا يې وفرمايل : دا قبرونه د تاريکو څخه ډك دي او زما لمونځ کول پر هغه څلانده کوي . بخاري او مسلم .

**په جنازه کي د (۴۰) کسانو د گډون کولو ثواب**

(۱۵۷۱): عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ مَاتَ ابْنٌ لَهُ بِقُدَيْدٍ اَوْ بِعُسْفَانَ فَقَالَ يَا كُرَيْبُ انْظُرْ مَا اجْتَمَعَ لَهُ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَخَرَجْتُ فَاِذَا نَاسٌ قَدْ اجْتَمَعُوا لَهُ فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ تَقُوْلُ هُمْ اَرْبَعُوْنَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اَخْرِجُوْهُ فَاِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلَى جَنَازَتِهِ اَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُوْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا اِلَّا شَفَّعَهُمْ اللّٰهُ فِيْهِ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ ازاد سوی غلام کريب د ابن عباس ﷺ څخه روايت کوي چي د هغه زوی په قديد يا عسفان نامي ځای کي مړ سو هغه ووېل : اې کريب ! وگوره او دجنازې د لمانځه لپاره يو څو کسه يو ځای کړه، کريب وايي زه د باندي ولاړم او وه مي ليدل چي ډير خلك يو ځای سوي دي ، ما ابن عباس ته دې څخه خبر کړ ، هغه پوښتنه وکړه ايا ستا په خيال دا خلك به څلوېښت وي ؟ ما عرض وکړ هو، هغه ووېل ښه دئ جنازه. راواخلئ ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي هر کله چي يو مسلمان مړي باندي څلوېښت داسي خلك يوځای سي چي د الله سره شريك نه نيسي (او هغه مړي ته جنازه ورکړي) نو الله تعالى د هغوئ شفاعت د مړي په حق کي قبلوي . مسلم

(۱۵۷۲): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّي عَلَيْهِ اُمَّةٌ مِنَ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر کوم مړي چي د

الْمُسْلِمِينَ يَبْلُغُونَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُونَ لَهُ إِلَّا شُفِّعُوا فِيهِ . رواه مسلم

مسلمانانو یو ډله چي د سلو شمیر ته ورسیږي لمونځ وکړي او ډله د مړي لپاره الله تعالی ته سفارش وکړي نو د هغه ډلي سفارش قبلیږي . مسلم .

## د مؤمنانو شاهدي

(۱۵۷۳): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ مَرُّوا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَتْ ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا فَقَالَ وَجَبَتْ فَقَالَ عُمَرُ مَا وَجَبَتْ فَقَالَ هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ . متفق عليه و في رواية المؤمنون شهداء لله في الارض .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي د صحابه کرامو یو ډله پر یوه جنازې تیر سول او د هغه د نیکی تعریف یې وکړ ، نبي کریم ﷺ چي د هغوئ تعریف واوریدئ نو وه یې فرمایل واجب سو ، بیا دا ډله پر یو بله جنازه تیره سول او د هغه بدي یې وکړل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : واجب سو ، حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړه اي دالله رسوله ! څه شي واجب سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل ، د کوم مړي د نیکی چي تاسو تعریف وکړ د هغه لپاره جنت واجب سو او د کوم چي تاسو د بدی بیان وکړ د هغه لپاره دوږخ واجب سو او تاسو خلك پر مځکه د الله شاهدان یاست . بخاري او مسلم ، او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي مؤمن بندگان په مځکه کي د الله تعالی شاهدان دي .

(۱۵۷۴): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ قُلْنَا وَثَلَاثَةٌ قَالَ وَثَلَاثَةٌ قُلْنَا وَاثْنَانِ قَالَ وَاثْنَانِ ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ . رواه البخاري

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم مسلمان لپاره چي څلور کسان د نیکی شاهدي ورکړي الله تعالی به هغه په جنت کي داخل کړي ، موږ عرض وکړ اي دالله رسوله ! که دري کسان شاهدي ورکړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : او که دري کسان هم شاهدي ورکړي نو الله تعالی به هغه په جنت کي داخل کړي، موږ بیا عرض وکړ او که دوه کسان د هغه شاهدي ورکړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : او که دوه کسان هم شاهدي ورکړي نو بیا هم (په جنت کي داخلیږي) بیا موږ د یوه سړي د شاهدي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړل . بخاري .

## د مړي بد مه وایاست

(۱۵۷۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا . رواه البخاري

رسول الله ﷺ وفرمايل : په مړو پسې بد مه واياست ځکه چې هغوئ ځه کړي وي د هغه جزا او سزا ته ورسيدل . بخاري

**د احد د شهيدانو تكفين او تدفين**

(۱۵۷۶): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا . رواه البخاري

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د احد دوه دوه شهيدان په يوه جامه کي پټول يعني دوو کسانو ته يې يو کفن ورکوئ ، بيا به رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه کول چې په دوئ دواړو کي کوم يو په قرآن کريم کي زيات وو ، صحابه کرامو چې به يوه ته اشاره وکړه نو هغه به په لحد کي د قبلې په لور لومړی کښېښودل سو ، بيا به يې وفرمايل : زه به د قيامت په ورځ د دوئ د شهادت شاهدي ورکوم، بيا رسول الله ﷺ حکم وکړ چې دوئ همداسې په خاورو او وينو لړلي ښخ کړئ ، رسول الله ﷺ هغوئ ته د جنازې لمونځ ور نه کړ او غسل يې هم ور نه کړ . بخاري .

**د جنازې څخه ستنبدل**

(۱۵۷۷): وَ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفَرَسٍ مُعْرَوْرٍ فَرَكِبَهُ حِينَ انْصَرَفَ مِنْ جَنَازَةِ ابْنِ الدَّحْدَاحِ وَنَحْنُ نَمْشِي حَوْلَهُ . رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمره ﷺ څخه روايت دئ کله چې د ابن دحداح جنازه ښخ کړل سول نو د رسول الله ﷺ لپاره يو آس راوستل سو پر کوم چې ځين نه وو ، رسول الله ﷺ پر هغه سپور سو او موږ د رسول الله ﷺ شاوخوا روان سوو. مسلم.

## دويم فصل

**د جنازې سره د تللو طريقه**

(۱۵۷۸): عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرَّاكِبُ يَسِيرُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَالْمَاشِي يَمْشِي خَلْفَهَا وَأَمَامَهَا وَعَنْ يَمِينِهَا عَنْ يَسَارِهَا قَرِيبًا مِنْهَا وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ وَيُدْعَى

د حضرت مغيرة بن شعبه ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سپور سړی دي د جنازې شا ته ځي او پياده خلك دي مخکي ، وروسته ، راسته او چپه لور ته نژدې نژدې ځي

لِوَالِدَيْهِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ . رواه ابوداؤد و في رواية احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة قال الراكب خلف الجنازة و الماشي حيث شاء منها والطفل يصلي عليه و في المصابيح عن المغيرة بن زياد .

او دكوچني پر جنازه دي لمونځ وكړل سي او د هغه مور اوپلار لپاره دي د بخښني او رحمت دعاء وكړل سي . ابوداؤد.د احمد، ترمذي او نسائي په يو روايت كي دا الفاظ دي چي سپور سړی دي تر جنازې شاته وي او پياده چي دده خوښه وي او د كوچني پر جنازه دي لمونځ وكړل سي او په مصابيح كي د مغيره بن زياد څخه روايت دئ .

**د جنازې مخكي د تللو مسئله**

﴿١٥٧٩﴾: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ يَمْشُوْنَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وقال الترمذي وأهل الحديث كأنهم يرونه مرسلا

حضرت زهري د سالم څخه او سالم د خپل پلار څخه روايت كوي چي ما رسول الله ﷺ، حضرت ابوبكر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ ليدلي دي چي هغوئ به تر جنازې مخكي تلل ، احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه ، ترمذي او محدثين دا مرسل گڼي .

**د جنازې تر شا تلل بكار دي**

﴿١٥٨٠﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ وَلَا تَتْبَعُ ليس مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا. رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجة قال الترمذي و ابوماجد الراوي رجل مجهول.

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك د جنازې تابع دي چي تر هغه وروسته ولاړ سي او هغه (جنازه) د خلكو تابع نه ده چي تر خلكو وروسته وي او څوك چي تر جنازې مخكي ځي هغه ته د جنازې د ملگرتيا ثواب نه تر لاسه كيږي. ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد، ترمذي ويلي دي ابو ماجد مجهول راوي دئ .

**جنازې ته اوږه وركول د مړي د حق ادا كول دي**

﴿١٥٨١﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ مِنْ حَقِّهَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و قدوري في شرح السنة ان النبي صلى الله عليه وسلم حمل جنازة سعد بن معاذ بين العمودين .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د جنازې سره ولاړ سي او درې واره يې هغې ته اوږه وركړه نو هغه خپل حق ادا كړ ، ترمذي وفرمايل چي دا حديث غريب دئ . او په شرح السنة كي دي چي رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ جنازه د دوو لرگيو په منځ كي پورته كړې وه .

**د جنازې سره پر سپرلۍ تلونکو ته تنبیه**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۸۲﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَرَأَى نَاسًا رُكْبَانًا فَقَالَ أَلَا تَسْتَحْيُونَ إِنَّ مَلَائِكَةَ اللّٰه عَلَى أَقْدَامِهِمْ وَأَنْتُمْ عَلَى ظُهُورِ الدَّوَابِّ . رواه الترمذي و ابن ماجة و روي ابوداؤد نحوه قال الترمذي و روي عن ثوبان موقوفا . | د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د نبي کریم ﷺ سره په یو جنازه کي ګډون وکړ ، موږ ولیدل چي خلك سپاره دي ، رسول الله ﷺ هغه سپاره مخاطب کړل او ورته وه يې فرمایل : تاسو ته شرم او حیاء نه درځي د الله ﷻ ملائکي پر پښو رواني دي او تاسو د حیوانانو پر شا |

سپاره یاست . ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد او دا حدیث د ثوبان څخه موقوفا روایت دئ .

**په جنازه کي سورة فاتحه ویل**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۸۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د جنازې (په لمانځه کي) سورة فاتحه وویل . ترمذي ، ابوداؤد ، ابن ماجه . |

**د مړي لپاره د اخلاص دعاء**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۸۴﴾: وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ . رواه ابوداؤد وابن ماجة. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو د مړي لمونځ وکړئ نو په اخلاص سره د هغه لپاره دعاء و غواړئ . ابوداؤد ،. ابن ماجه |

**د جنازې د لمانځه دعاء**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۵۸۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذَا صَلَّى عَلَى الْجَنَازَةِ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسلام وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ اللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي و ابن ماجة. | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د جنازې په لمانځه کي دا دعاء کول : (اللهم ...... ولا تفتنا بعده) اې الله زموږ مړه او ژوندي و بخښې زموږ حاضر او زموږ غایب ، زموږ ماشومان او زموږ لویان، زموږ نارینه او زموږ ښځینه ، اې الله په موږ کي چي څوك ژوندی پاته کړې نو پر اسلام يې ژوندی لرې او په موږ کي چي څوك وفات کړې نو هغه |

د ایمان سره وفات کړې اې الله موږ د هغه د ثواب څخه مه محرومه کوې او د هغه وروسته موږ په

فتنه کي مه اچوې . احمد ، ابوداؤد ، ترمذي، ابن ماجه،

**د يو مړي لپاره د رسول الله ﷺ دعاء**

(۱۵۸۶): وَعَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْاَسْقَعِ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ اللّٰهُمَّ فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ . رواه ابوداؤد و ابن ماجة.

د حضرت واثلة بن اسقع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ سره د يو مسلمان د جنازې لمونځ وکړ او ما د رسول الله ﷺ څخه دا دعاء واوريدل : اللهم ان .... الغفور الرحيم. اې الله ! فلان زوی د فلان ستا په امن کي دئ ته دی د قبر د فتني څخه او د دوږخ د عذاب څخه وساتې اې الله ! ته د وفا او حق خاوند يې اې الله ! دا مړی و بخښې او پر ده رحم وکړې ببله شکه ته بخښونکی او رحم کونکئ يې . ابوداؤد، ابن ماجه.

**د مړو بدوالی مه واياست**

(۱۵۸۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ . رواه ابوداؤد و الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مړو نيکی يادوئ او د هغوئ بد مه يادوئ . ابوداؤد ،ترمذي.

**په جنازه کي د امام د دريدو ځای**

(۱۵۸۸): وَعَنْ نَافِعٍ أَبِيْ غَالِبٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلٰى جَنَازَةِ رَجُلٍ فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهِ ثُمَّ جَاءُوا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَقَالُوا يَا أَبَا حَمْزَةَ صَلِّ عَلَيْهَا فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ هٰكَذَا رَأَيْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مُقَامَكَ مِنْهَا وَمِنَ الرَّجُلِ مُقَامَكَ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي و ابن ماجة و في رواية ابي داؤد نحوه مع زيادة و فيه مقام عند عجيزة المراة

د حضرت نافع ابو غالب ﷺ څخه روايت دئ چي د يو سړي جنازه ما د حضرت انس بن مالك ﷺ سره وکړل ، حضرت انس د جنازې سر ته نژدې ودريدئ او بيا د يو قريشي ښځي جنازه راوړل سوه او ورته وويل سول اې ابو حمزه ! پر دې لمونځ وکړه اوس انس ﷺ د جنازې د تخت د مينځ سره ودريدئ ، علاء بن زياد انس ته وويل ايا تا رسول الله ﷺ په جنازه کي داسي ولاړ ليدلی دئ څنګه چي ته ددې ښځي د جنازې په منځ کي او د سړي د جنازې سر تـه مخامخ ولاړ يې ، انس بن مالك ﷺ وويـل هو ، . ترمذي، ابن ماجه، او د ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي انس بن مالك د هغې ښځي د تشي سره نژدې ودريدئ .

## دریم فصل

### د جنازې په لیدو سره د درېدو مسئله

(۱۵۸۹): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى قَالَ كَانَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ وَقَيْسُ بْنُ سَعْدٍ قَاعِدَيْنِ بِالْقَادِسِيَّةِ فَمَرُّوا عَلَيْهِمَا بِجَنَازَةٍ فَقَامَا فَقِيلَ لَهُمَا إِنَّهَا مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ أَيْ مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ فَقَالَا إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ جَنَازَةٌ فَقَامَ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ أَلَيْسَتْ نَفْسًا . متفق عليه

د حضرت عبدالرحمن بن ابولیلی ﷺ څخه روایت دئ چي سهل بن حنیف او قیس بن سعد په قادسیه کي یو ځای ناست وه چي یوه جنازه هلته تیره سوه دواړه د هغه په لیدو سره ولاړ سول ، هغوئ ته وویل سول چي دا خو د ذمي جنازه ده، هغوئ وویل : د رسول الله ﷺ په لوړ هم یو جنازه تیره سوې وه او رسول الله ﷺ ورته ولاړ سوی وو ، کله چي رسول الله ﷺ ته وویل سول چي دا جنازه خو د یهودي ده نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا دی ساه لرونکی نه دئ . بخاري او مسلم .

### د رسول الله ﷺ معمول او د هغه منسوخ کېدل

(۱۵۹۰): وَ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اتَّبَعَ الْجَنَازَةَ لَمْ يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ فَعَرَضَ لَهُ حَبْرٌ من اليهود فَقَالَ له انا هَكَذَا نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ قَالَ فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ خَالِفُوهُمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد وا بن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب و بشر بن رافع الراوي ليس بالقوي .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د یو جنازې سره تلئ نو تر هغو پوري نه کښینستئ تر څو پوري چي هغه په قبر کي نه وو ایښېودل سوې . یو یهودي عالم د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ اې محمد ! موږ هم داسي کوو ، د راوي بیان دئ چي ددې وروسته به رسول الله ﷺ د مړي ښخولو یا په لحد کي د کښېته کولو څخه مخکي کښینستئ او فرمایل به یې په دې اړه تاسو د یهودو مخالفت وکړئ . ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ ، بشر بن رافع راوي قوي نه دئ .

### د جنازې په لیدو سره درېدل نه دي پکار

(۱۵۹۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِالْقِيَامِ فِي الْجَنَازَةِ ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ ذَلِكَ وَأَمَرَنَا بِالْجُلُوسِ . رواه احمد

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړئ چي د جنازې په لیدو سره چي ودرېږئ بیا رسول الله ﷺ کښینستئ او موږ ته یې هم د ناستي حکم راکړئ . احمد .

﴿۱۵۹۲﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ فَقَامَ الْحَسَنُ وَلَمْ يَقُمْ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ الْحَسَنُ أَلَيْسَ قَدْ قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ قَالَ نَعَمْ ثُمَّ جَلَسَ . رواه النسائي .

د حضرت محمد بن سیرین ﷺ څخه روایت دئ چي حسن بن علي او د ابن عباس سره نژدې یوه جنازه تیره سوه ، ددې په لیدو سره حسن بن علي ولاړ سو مگر ابن عباس ولاړ نه سو، حسن ابن عباس ته وویل ایا رسول الله ﷺ د یهودي د جنازې په لیدلو سره ولاړ نه سوو ، ابن عباس وویل : هو، مگر بیا ناست وو . (او نه دریدئ) نسائي

**رسول الله ﷺ د یهودي جنازې ته ولي ولاړ سو ؟**

﴿۱۵۹۳﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ كَانَ جَالِسًا فَمُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَامَ النَّاسُ حَتَّى جَاوَزَتْ الْجَنَازَةُ فَقَالَ الْحَسَنُ إِنَّمَا مُرَّ بِجَنَازَةِ يَهُودِيٍّ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى طَرِيقِهَا جَالِسًا وَكَرِهَ أَنْ تَعْلُوَ رَأْسَهُ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَامَ . رواه النسائي .

حضرت جعفر بن محمد د خپل پلار څخه روایت کوي چي حسن بن علي ﷺ ناست وو چي یوه جنازه تیره سوه ، خلك ودریدل تر څو چي جنازه تیره سوه ، حسن بن علي وویل : رسول الله ﷺ په یو ځای کي تشریف فرما وو چي د یو یهودي جنازه پر هغه لور تیره سوه ، رسول الله ﷺ دا کار بد وگڼئ چي د یهودي جنازه د رسول الله ﷺ تر سر تیره سي له دې کبله رسول الله ﷺ ودریدئ . نسائي.

﴿۱۵۹۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا مَرَّتْ بِكَ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مُسْلِمٍ فَقُومُوا لَهَا فَلَسْتُمْ لَهَا تَقُومُونَ إِنَّمَا تَقُومُونَ لِمَنْ مَعَهَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ . رواه احمد

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ستا سو په مخکي د یو یهودي، نصراني یا مسلمان جنـــازه تیریږي نو ودریږئ تاسو د جنازې (د ادب او احترام) لپاره نه بلکه د هغه ملائکو لپاره ودریږئ چي د جنازې سره وي . احمد

﴿۱۵۹۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ جَنَازَةً مَرَّتْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ فَقِيلَ إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ فَقَالَ إِنَّمَا قُمْنَا لِلْمَلَائِكَةِ . رواه النسائي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي یوه جنازه د رسول الله ﷺ سره تیره سوه ، نو رسول الله ﷺ ودریدئ ، رسول الله ﷺ ته وویل سول چي دا خو د یهودي جنازه ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زه د ملائکو له کبله ودریدم . نسائي .

## د جنازې په لمانځه کې درې صفونه جوړول پکار دي

(١٥٩٦): وَعَنْ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ فَيُصَلِّي عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوفٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا أَوْجَبَ فَكَانَ مَالِكٌ إِذَا اسْتَقَلَّ أَهْلَ الْجَنَازَةِ جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوفٍ لِهٰذَا الْحَدِيثِ. رواه ابوداؤد و في رواية الترمذي قال كان مالك بن هبيرة اذا صلى على جنازة فتقال الناس عليها جزاهم ثلثة اجزاء ثم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى عليه ثلثة صفوف اوجب .

د حضرت مالك بن هبيرة ﷺ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل یې : هر کله چې یو مسلمان مړ سي او د هغه په جنازه کې درې صفه د لمانځه جوړ سي نو الله تعالى د هغه لپاره جنت واجب کوي ، ددې حديث د اوريدو وروسته به حضرت مالك کله چې د جنازې په لمانځه کې تر درې صفو کم وليدل نو هغوئ به یې پر درو صفو ويشل . ابوداؤد. د ترمذي په يو روايت کې دي چې مالك بن هبيرة به کله د جنازې کولو اراده وکړه او لږ خلك به یې وليدل نو هغوئ به یې پر درو برخو وويشل بيا به یې وويل : رسول الله ﷺ فرمايلي دي پر چا چې درې صفه لمونځ وسي نو د هغه لپاره شفاعت واجب سي . ابن ماجه هم داسي روايت کړئ دئ .

## د جنازې په لمانځه کې د رسول الله ﷺ دعاء

(١٥٩٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْجَنَازَةِ اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبُّهَا وَأَنْتَ خَلَقْتَهَا وَأَنْتَ هَدَيْتَهَا لِلْإِسْلَامِ وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا وَأَنْتَ أَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا جِئْنَاكَ شُفَعَاءَ فَاغْفِرْ لَهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به په جنازه کې دا دعاء کول : اللهم انت ..... فاغفرله . اې الله ! ته دده پروردگار یې تا دی پيدا کړی دئ او تا د اسلام په لور هدايت ورته کړئ دئ او تا یې روح قبض کړې ده دده په ظاهر او باطن ته ښه خبردار یې موږ دده سفارش ته راغلي يو ته دی و بخښې . ابوداؤد .

## د يو کوچني پر جنازه باندي د حضرت ابوهريره ﷺ دعاء

(١٥٩٨): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى صَبِيٍّ لَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً قَطُّ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . رواه مالك

د حضرت سعيد بن المسيب ﷺ څخه روايت دئ چې ما په ابوهريرة ﷺ پسي د يو داسي کوچني د جنازې لمونځ وکړ چې هغه هيڅکله هم گناه نه وه کړې نو په لمانځه کې ما د ابوهريرة څخه دا واوريدل : اللهم اعذه من ..... اې الله ! دی د قبر د عذاب څخه وساتې . مالك .

## د كوچني د جنازې د لمانځه دعاء

(۱۵۹۹): وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيْقًا قَـالَ يَقْـرَءُ الْحَسَنُ عَلَى الطِّفْلِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا سَلَفًا وَّفَرَطًا وَّ ذُخْرًا وَّأَجْرًا .

د امام بخاري (رح) څخه دا حديث معلق (يعني بېله سنده) روايت دئ چي حضرت حسن بصري رضي الله عنه به د كوچني د جنازې په لمانځه كي (د تكبير اولى وروسته د سبحانك اللهم پر ځاى) سورة فاتحه ويل او بيا به يې دا دعـاء كول: اللهم ...واجرا. اي الله! دى زموږ پېشوا وګرځوې او زموږ پېش رو يې جوړ كړې او ذخيره او ثواب يې وګرځوې. بخاري

## د كوچني لمونځ

(۱۶۰۰): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلطِّفْلُ لاَ يُصَلِّي عَلَيْهِ لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ حَتّٰى يَسْتَهِلَّ . رواه الترمذي و ابن ماجة الا انه لم يذكروا لا يورث .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر كوچني دي لمونځ نه كېږي ، نه دي هغه د چا وارث وي او نه دي څوك د هغه وارث وي تر څو پوري چي د زېږېدني پر وخت د هغه آواز وا نه وريدل سي. ترمذي، ابن ماجه، مګر ابن ماجه (ولا يورث) لفظ نه دى ذكر كړى.

## د جنازې په لمانځه كي دي امام لوړ او مقتديان كښته نه درېږي

(۱۶۰۱): وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّقُوْمَ الْإِمَامُ فَوْقَ شَيْءٍ وَالنَّاسُ خَلْفَهُ يَعْنِيْ أَسْفَلَ مِنْهُ . رواه الدار قطني في المجتبى في كتاب الجنائز .

د حضرت ابي مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چي امام دي پر يو لوړ ځاى يا لوړ شي ولاړ وي او خلك تـر ده كښتـه ولاړ وي. دارقطنـي د مجتبى كتاب الجنائز كي بيان كړى دئ.

# بَابُ دَفْنِ الْمَيِّتِ (د مړي ښخول)

## لومړی فصل

### مستحب قبر

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۰۲﴾: عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ الْحَدُوا لِي لَحْدًا وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم | د حضرت عامر بن سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دئ چي سعد بن ابي وقاص ﷺ په خپل هغه ناروغۍ کي چي پکښې وفات سو وویل : زما د ښخولو لپاره لحد جوړ کړئ او پر ما اومې |

خښتي ودروئ لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ په لحد کي سوي وه . مسلم .

### پر قبر د څادر اچولو مسئله

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۰۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جُعِلَ فِي قَبْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ . رواه مسلم | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په قبر کي سور څادر اچول سوی وو . مسلم |

### د اوښ د بوک په ډول قبر افضل دی

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۰۴﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ أَنَّهُ رَأَى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا . رواه البخاري | د حضرت سفیان تمار ﷺ څخه روایت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ قبر مبارك ولیدئ چي د اوښ د قوب (ماهي پشت) په ډول وو . بخاري |

### د قبر لوړولو منعه

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ قَالَ قَالَ لِي عَلِيٌّ أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ . رواه مسلم | د حضرت ابو الهیاج الاسدي ﷺ څخه روایت دئ چي ما ته حضرت علي بن ابي طالب وویل : ایا زه تا په هغه کار مامور نه کړم په کوم چي زه رسول الله ﷺ مامور کړی وم او هغه دادئ چي کوم ځای عکس ووینئ نو هغه نیست او نابود کړه او چیري چي لوړ قبر ووینې نو هغه برابر کړه . مسلم . |

### د قبر ګچول ، عمارت جوړول او پر قبر د کښېنستلو منعه

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۰۶﴾: وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله |

| | |
|---|---|
| اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ وَاَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ وَاَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ. رواه مسلم | ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چې قبر دې پوخ جوړ کړل سي يا پر قبر دې عمارت جوړ کړل |

سي او پر قبر باندي د ناستي څخه يې منع فرمايلې ده . مسلم

**د قبرو په اړه يو څو احکام**

| | |
|---|---|
| (١٦٠٧): وَعَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا . رواه مسلم | د حضرت ابو مرثد الغنوي ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : پر قبرو مه کښېنئ او مه د قبرو په لور لمونځ کوئ. مسلم |

**پر قبر کښېنستل**

| | |
|---|---|
| (١٦٠٨):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ . رواه مسلم | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : که په تاسو کي څوك د اور پر سکروټو کښېني او هغه د هغه جامې وسوځي د هغه پوست ته ورسيږي نو دا ددې څخه غوره ده چې هغه پر قبر کښېني. مسلم |

## دويم فصل

**صندوقي قبر هم مشروع دی**

| | |
|---|---|
| (١٦٠٩): عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا يَلْحَدُ وَالْآخَرُ لَا يَلْحَدُ فَقَالُوا أَيُّهُمَا جَاءَ أَوَّلًا عَمِلَ عَمَلَهُ فَجَاءَ الَّذِي يَلْحَدُ فَلَحَدَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه في شرح السنة | د حضرت عروة بن الزبير ﷺ څخه روايت دئ چې په مدينه کي دوه کسان وه چې په هغوئ کي يوه لحد جوړوئ او بل لحد نه جوړوئ ، د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د صحابه کرامو دا رايه سوه چې په هغو کي کوم يو لومړی راسي هغه دې |

خپل کار وکړي نو لحد جوړولو والا مخکي راغلی او د رسول الله ﷺ لپاره لحد تيار کړل سو . شرح السنة

**د دوري والا قبر فضيلت**

| | |
|---|---|
| (١٦١٠): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا. رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه رواه احمد عن جرير بن عبدالله | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : لحد زموږ لپاره دئ او شق زموږ څخه د پرته لپاره (يعني لحد د انبياؤ لپاره خاص دئ او شق يعني خلاص قبر د ټولو لپاره جائز دئ) . |

ترمذي، ابوداؤد، نسائي ، ابن ماجه، احمد د جرير بن عبد الله څخه روايت کړئ دئ .

## قبر ژور کښل پکار دي

(۱۶۱۱): وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ احْفِرُوْا وَأَوْسِعُوْا وَأَعْمِقُوْا وَأَحْسِنُوْا وَادْفِنُوْا الْاِثْنَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ فِيْ قَبْرٍ وَّاحِدٍ وَقَدِّمُوْا أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا . رواه أحمد والترمذي وأبو داود والنسائي وروى ابن ماجه إلى قوله وأحسنوا

د حضرت هشام بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احد په ورځ وفرمايل :قبرونه وکاږئ پراخ يې کړئ او ژور يې کړئ ښه يې جوړ کړئ او په يوه يوه قبر کي دوه دوه دري دري ښخ کړئ . او په قبر کي لومړی هغه کس ايږدئ چي قرآن يې زيات زده وي . احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسائي ، ابن ماجه تر واحسنوا پوري بيان کړئ دئ .

## د مړي د يو ځای څخه بل ځای ته نقلول

(۱۶۱۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ جَاءَتْ عَمَّتِيْ بِأَبِيْ لِتَدْفِنَهُ فِيْ مَقَابِرِنَا فَنَادَى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ رُدُّوا الْقَتْلٰى إِلٰى مَضَاجِعِهَا . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي ولفظه للترمذي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ کله چي د احد ورځ سوه يعني د احد جګړه وسوه او په هغه کي مسلمانان شهيدان سول نو زما ء زما د پلار مړي ته راغلل چي زموږ يعني په خپله هديره کي يې ښخ کړي ، په دا وخت کي سمدستي د رسول الله ﷺ له لوري دا دعلان وکړل سو چي شهيدان د هغوئ د شهادت ځای ته ورسوئ چي هلته ښخ کړل سي . احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي او الفاظ د ترمذي دي.

## مړی قبر ته څرنګه کښته کړي؟

(۱۶۱۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سُلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ . رواه الشافعي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سر د لوري څخه قبر ته کښته کړل سو . شافعي

(۱۶۱۴): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ قَبْرًا لَيْلًا فَأُسْرِجَ لَهُ سِرَاجٌ فَأَخَذَهُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ وَقَالَ رَحِمَكَ اللّٰهُ إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ . رواه الترمذي وقال في شرح السنة اسناده ضعيف .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د شپې يو قبر ته کښته سو نو د رسول الله ﷺ لپاره څراغ بل کړل سو او هغه مړی د قبلې لور ته رسول الله ﷺ په قبر کي کښېښودئ او بيا يې وويل : رحمك الله .... تلاء

للقرآن. الله دي پر تا رحم وکړي ته ډير ژړېدونکی او قرآن ويونکی وې . ترمذي ، په شرح السنة کي راځي چي ددې سند ضعيف دئ .

**د مړي قبر ته کښته کولو په وخت کي څه ويل پکار دي؟**

﴿١٦١٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتَ الْقَبْرَ قَالَ بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وروى أبو داود الثانية

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ کله چي به رسول الله ﷺ يو مړی قبر ته کښته کوئ نو فرمايل به يې : بسم الله .... على سنة رسول الله . زه تا د الله په نامه سره د الله په حکم سره او د رسول الله او شريعت سره سم قبر ته کښته کوم ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د رسول الله ﷺ پر طريقه . احمد ، ترمذي، ابن ماجه . د ابوداؤد په يوه روايت کي آخري الفاظ دي .

**پر قبر خاوره پاشل او اوبه پاشل سنت دي**

﴿١٦١٦﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ مُرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَثَا عَلَى الْمَيِّتِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ بِيَدَيْهِ جَمِيْعًا وَأَنَّهُ رَشَّ عَلَى قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِيْمَ وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَاءَ . رواه في شرح السنة وروى الشافعي من قوله : رش .

حضرت جعفر بن محمد د خپل پلار څخه په مرسل توګه روايت کوي چي رسول الله ﷺ په دواړو لاسو کي دري لپې خاوره پر يو مړي واچول او د خپل زوی ابراهيم پر قبر يې اوبه ونښولې ، او پر قبر يې د ننښې لپاره ډبري ودرولې . شرح السنة . امام شافعي تر (رش) پوري ذکر کړئ دئ .

**پر قبرو د ليکلو منعه**

﴿١٦١٧﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُوْرُ وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا وَأَنْ تُوطَأَ . رواه الترمذي

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قبرونو د پخولو ،پر قبرو د ليکلو او د قبرو په پښو سره پايماله کولو څخه منع فرمايلې ده . ترمذي

**د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک اوبه وپاشل سوې**

﴿١٦١٨﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَشَّ قَبْرُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ الَّذِيْ رَشَّ الْمَاءَ عَلَى قَبْرِهِ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ بِقِرْبَةٍ بَدَأَ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ حَتَّى انْتَهَى إِلَى رِجْلَيْهِ . رواه البيهقي . في دلائل النبوة

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ پر قبر مبارك باندي اوبه ونښول سوي او چا چي ونښولې هغه بلال بن رباح وو ، بلال په ژي سره اوبه ونښولې او تر قدمو پوري يې د پاشلې . بيهقي .

## د نبي لپاره پر قبر ډبره ايښودل جائز دي

(١٦١٩): وَعَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ اَبِيْ وَدَاعَةَ قَالَ لَمَّا مَاتَ عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُوْنٍ أُخْرِجَ بِجَنَازَتِه فَدُفِنَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا اَنْ يَأْتِيَهُ بِحَجَرٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ حَمْلَهُ فَقَامَ إِلَيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ قَالَ الْمُطَّلِبُ قَالَ الَّذِي يُخْبِرُنِي ذٰلِكَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ ذِرَاعَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ حَسَرَ عَنْهُمَا ثُمَّ حَمَلَهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَأْسِه وَقَالَ أَعْلَمُ بِهَا قَبْرَ أَخِي وَأَدْفِنُ إِلَيْهِ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِي . رواه ابوداؤد .

د حضرت مطلب بن ابو وداعه ﷺ څخه روايت دئ کله چي عثمان بن مظعون وفات سو نو د هغه جنازه پورته سول او ښخ کړل سول ، رسول الله ﷺ يو سړي ته حکم ورکړ چي هغه ډبري راوړي هغه سړي ډبري را نه وړلای سوې (د ډبرو راوړلو طاقت يې نه درلودی) نو رسول الله ﷺ په خپله ورغلئ او لستوني يې پورته کړل ، مطلب وايي کوم سړي چي ما ته دا روايت کړئ دئ هغه يادونه وکړه چي لکه زه چي اوس هم سپينوالی وينم چي د لستونو پورته کولو څخه د رسول الله ﷺ د بغلو څخه ما ته هغه څرګنده سوې وه . بيا رسول الله ﷺ ډبري پورته کړې او د قبر د سر په لور يې کښېښودلې او وه يې فرمايل : ما د خپل ورور پر قبر نښه ولګول او زه به بيا هغه څوک چي زما د کورنۍ څخه مر سي دده قبر سره ښخوم . ابوداؤد .

## د رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ قبرونه

(١٦٢٠): وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا أُمَّاهُ اكْشِفِي لِي عَنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَكَشَفَتْ لِي عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُوْرٍ لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ مَبْطُوْحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ . رواه ابوداؤد

د حضرت قاسم بن محمد ﷺ څخه روايت دئ چي زه د حضرت عائشي په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي اې مورجاني ! زما لپاره د رسول الله ﷺ او د هغه د دواړو ملګرو يعني ابوبکر صديق، او عمر (رض) قبر (يعني دروازه) خلاصه کړه، حضرت عائشي (رض) د حجري دروازه خلاصه کړه ما دري قبرونه وليدل چي نه لوړ وه او نه بيخي د مځکي سره برابر پر هغو د مدينې د ميدان د شاوخوا سرې شګي پرتې وې . ابوداؤد .

(١٦٢١): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمْ يُلْحَدْ بَعْدُ فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَجَلَسْنَا

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د يو انصاري په جنازه کي د رسول الله ﷺ سره ولاړو او قبر ته ورسيدلو نو څرګنده سوه چي اوس لا هغه تيار سوی نه وو ، رسول الله ﷺ

مَعَهُ .. رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة و زاد في آخره كان على روؤسنا الطير .

مخ پر قبله کښېنستې او موږ د رسول الله ﷺ سره کښېنستو . ابوداؤد او نسائي . د ابن ماجه په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي موږ داسي پټه خوله ناست وو لکه زموږ پر سرو چي مرغان ناست وه.

د مړي سپکاوی منع دی

(۱۶۲۲): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيًّا. رواه مالك و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د مړي هډوکي ماتول داسي دي لکه د ژوندي انسان هډوکي ماتول. مالك ، ابوداؤد ، ابن ماجه.

## دریم فصل

د لور پر وفات باندي د رسول الله ﷺ اوښکي

(۱۶۲۳):عَنْ اَنَسٍ قَالَ شَهِدْنَا بِنْتَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُدْفَنُ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ فَقَالَ هَلْ فِيْكُمْ مِنْ اَحَدٍ لَمْ يُقَارِفْ اللَّيْلَةَ فَقَالَ اَبُو طَلْحَةَ أَنَا قَالَ فَانْزِلْ فِيْ قَبْرِهَا فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا . رواه البخاري

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ د لور بي بي ام کلثوم رضي الله عنها په ښخولو کي ګډون وکړ ، رسول الله ﷺ د قبر سره ناست وو او دسترګو مبارکو څخه یې اوښکي رواني وې ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي داسي څوك سته چي هغه نن شپه د خپل بي بي سره صحبت نه وي کړی ، ابوطلحه وویل : زه یم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د هغې قبر ته کښنته سه نو هغه هم کښنته سو . بخاري .

د حضرت عمروبن عاص ﷺ وصیت

(۱۶۲۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ لِابْنِهِ وَهُوَ فِيْ سِيَاقِ الْمَوْتِ إِذَا أَنَا مُتُّ فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُورٌ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتَّى اسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَاعْلَمَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي . رواه مسلم

د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دئ چي هغه خپل زوی ته د زکندن په حالت کي وویل : کله چي زه مړ سم نو زما د جنازې سره دي نه څوك غم کونکی وي او نه دي اور وي، کله چي تاسو ما ښخ کړئ نو پر ما کرار کرار خاوره اچوئ ، د ښخولو وروسته زما د

قبر سره دومره انتظار سئ په څومره وخت کي اوښ حلالېداى سي او د هغه غوښي ويشل کيداى سي څکه زه ستاسو له کبله ارام تر لاسه کوم او په دي پوه سم چي د خپل پروردگار ملائکو ته څه جواب ورکوم . مسلم .

**په ښخولو کي تلوار کول پکار دي**

(۱۶۲۵): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا مَاتَ أَحَدُكُمْ فَلَا تَحْبِسُوْهُ وَأَسْرِعُوْا بِهِ إِلَى قَبْرِهِ وَلْيُقْرَأْ عِنْدَ رَأْسِهِ فَاتِحَةُ الْبَقَرَةِ وَعِنْدَ رِجْلَيْهِ بِخَاتِمَةِ الْبَقَرَةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان . وقال : والصحيح أنه موقوف عليه

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د سول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : هر کله چي په تاسو کي يو څوك مړ سي نو هغه مه زنده‌وئ بلکه ژر يې قبر ته ورئ او پکار دي چي د ښخولو وروسته د هغه سر ته لومړی سورة بقرة (تر مفلحون پوري) وويل سي او د پښو خـــوا ته يې د سورة بقرة آخري آياتونه وويل سي (يعني د آمن الرسول څخه تر پايه پوري) مرقاة .

**حضرت عائشه (رض) د خپل ورور پر قبر !**

(۱۶۲۶): وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ بِحُبْشِيٍّ وَهُوَ مَوْضِعٌ فَحُمِلَ إِلَى مَكَّةَ فَدُفِنَ فِيهَا فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ أَتَتْ قَبْرَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَتْ وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً مِنَ الدَّهْرِ حَتَّى قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعًا ثُمَّ قَالَتْ وَاللهِ لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مُتَّ وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ. رواه الترمذي

د حضرت ابو مليکة ﷺ څخه روايت دئ چي کله عبدالرحمن بن ابوبکر ﷺ په حبشي (مقام) کي وفات سو نو د هغه مړی مکې ته راوړل سو او ښخ کړل سو ، کله چي حضرت عائشة (رض) د حج لپاره مکې ته راغلل نود خپل ورور عبدالرحمن بن ابوبکر قبر ته راغلل او دا شعر يې ووايه : (ژباړه) : موږ دواړه خو په کراره کراره په جذيمه کي د دوو همنشينانو په ډول وو چي تر ډيره وخته پوري د يو بل څخه بيل سو تر دې چي دا وويل سول چي دوئ به هيڅکله نه بيليږي بيا تر ډيره وخته پوري د يو ځای اوسيدو څخه وروسته بيل سو نو داسي څرگندېده لکه چي يو ځای مو شپه هم نه وي تيره کړې ) ددې وروسته حضرت عائشي (رض) وفرمايل : په الله دي مي قسم وي که زه هغه وخت ستا سره موجود وای کوم وخت چي ته ښخېدلې نو ته به ما هيڅکله دلته نه وای ښخ کړی بلکه هلته به مي ښخ کړی وای کوم ځای چي ته مړ سوی وې او که ستا د وفات په وخت کي زه ستاسره موجود وای نو ستا ليدني ته به راتلای . ترمذي

**د امام شافعي رحمه الله استدلال**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ سَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدًا وَرَشَّ عَلٰى قَبْرِهِ مَاءً . رواه ابن ماجة . | د حضرت ابو رافع ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د سر د خوا څخه قبر ته کښته کړل سو او د هغه پر قبر اوبه وپاشل سوې. ابن ماجه |

**د سر له خوا څخه د خاورو پاشل مستحب دي**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ ثُمَّ اَتَى الْقَبْرَ فَحَثٰى عَلَيْهِ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ ثَلَاثًا . رواه ابن ماجة . | د حضرت ابوهریرة ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ پر یو جنازه لمونځ ادا کړ بیا د هغه قبر ته ورغلئ او د خاورو درې لپي يې د هغه د سر خوا ته واچولې. ابن ماجه |

**قبر ته څنګ وهل منع دي**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۲۹﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ قَالَ رَاٰنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلٰى قَبْرٍ فَقَالَ لَا تُؤْذِ صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ أَوْ لَا تُؤْذِهِ . رواه احمد. | د حضرت عمرو بن حزم ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ زه د یو قبر سره په څنګ وهلو باندي ولیدم نو وه يې فرمایل: ته دې قبر والا |

ته تکلیف مه ورکوه ، یا يې دا وفرمایل: ده ته تکلیف مه ورکوه . احمد .

# بَابُ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ (پر مړي باندي ژړا کول)

## لومړی فصل

**د لور پر وفات د رسول الله ﷺ غم**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۶۳۰﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ دَخَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى اَبِيْ سَيْفِ الْقَيْنِ وَكَانَ ظِئْرًا لِإِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَام فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِبْرَاهِيْمَ فَقَبَّلَهُ وَشَمَّهُ ثُمَّ دَخَلْنَا عَلَيْهِ بَعْدَ ذٰلِكَ وَإِبْرَاهِيْمُ يَجُوْدُ بِنَفْسِهِ فَجَعَلَتْ عَيْنَا رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَذْرِفَانِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَاَنْتَ يَا رَسُوْلَ | د حضرت انس ﷜ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ابوسیف پښ ته ورغلو ، چي د نبي کریم ﷺ د زوی ابراهیم د دائي خاوند وو، نبي کریم ﷺ ابراهیم په غیږ کي واخیستئ مچ يې کړئ او بوي يې کړئ (یعني خپل پزه او خوله يې د هغه پر مخ داسي کښېښودل لکه څوک چي بویوي) ددې پښتي څو ورځي وروسته موږ بیا ابوسیف ته ورغلو ابراهیم په دغه وخت کي پر |

اللّٰهِ قَالَ يَا ابْنَ عَوْفٍ إِنَّهَا رَحْمَةٌ ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرَى فَقَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يَرْضَى رَبُّنَا وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ. متفق عليه

زكندن وو د هغه په ليدو سره د رسول الله ﷺ سترگي په بهېدو پيل سوې ، عبدالرحمن بن عوف ﷺ عرض وكړ اې دالله رسوله ! تاسو هم ژاړئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې د عوف زويه ! دا (اوښكي) رحمت دئ ، ددې وروسته د رسول الله ﷺ د سترگو څخه بيا اوښكي رواني سوې رسول الله ﷺ وفرمايل : سترگي اوښكي بيوي او زړه غمگين دئ مگر موږ په خپله ژبه سره هغه خبره كوو چي په هغه سره زموږ پروردگار راضي وي ، ابراهيمه موږ ستا په بيلتون غمگين يو . بخاري او مسلم .

## د ملسي پر وفات باندي د رسول الله ﷺ اوښكي

(۱۶۳۱): وَعَنْ أُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ قَالَ أَرْسَلَتْ ابْنَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ إِنَّ ابْنًا لِي قُبِضَ فَأْتِنَا فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلَامَ وَيَقُولُ إِنَّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمَعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرِجَالٌ فَرُفِعَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّبِيُّ وَنَفْسُهُ تَتَقَعْقَعُ قَالَ حَسِبْتُهُ أَنَّهُ قَالَ كَأَنَّهَا شَنٌّ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا هَذَا فَقَالَ هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللّٰهُ فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ. متفق عليه

د حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت دئ چي د نبي كريم ﷺ لور بي بي زينب نبي كريم ﷺ ته د يو سړي په ذريعه دا پيغام وليږئ چي زما د زوى ساه خيژي تاسو تشريف راوړئ ، رسول الله ﷺ په جواب كي د سلام څخه وروسته وفرمايل : كوم شى چي خداى واخلي هغه د خداى دئ او كوم شى چي هغه وركړي هغه هم د هغه دئ او د هغه سره د هر يو شي وخت ټاكلئ دئ نو ته صبر كوه او د ثواب غوښتونكې سه ، بي بي زينب دوهم وار سړى وليږئ او رسول الله ﷺ ته يې د تشريف راوړلو لپاره قسم وركړ ، نو رسول الله ﷺ سعدستي را ولاړ سو دا وخت سعد بن عبادة ، معاذ بن جبل ، ابى بن كعب ، زيد بن ثابت او نور صحابه كرام هم ورسره وه ، كوچني رسول الله ﷺ ته راوړل سو او د رسول الله ﷺ په غيږ كي وركړل سو دغه وخت د زكندن حالت وو ، د هغه په ليدو سره د رسول الله ﷺ د سترگو څخه اوښكي رواني سوې ، سعد وويل اې د الله رسوله ! دا څه دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دا د خداى رحمت دئ چي الله ﷻ د خپلو بندگانو په زړو كي پيدا كړئ دئ او الله په خپلو بندگانو كي پر هغه چا رحم كوي چي هغه مهربانه وي . بخاري او مسلم

**په لوړ اواز ژړل بدکار دی**

(۱۶۳۲): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اشْتَكَى سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ شَكْوَى لَهُ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ فَوَجَدَهُ فِي غَاشِيَةِ أَهْلِهِ فَقَالَ قَدْ قَضَى قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَبَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَوْا فَقَالَ أَلَا تَسْمَعُونَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَا بِحُزْنِ الْقَلْبِ وَلٰكِنْ يُعَذِّبُ بِهٰذَا وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ أَوْ يَرْحَمُ وَإِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي سعد بن عبادة ناروغ سو ، نبي کريم ﷺ د هغه پوښتني ته تشريف راوړئ ، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص، او عبدالله بن مسعود هم ورسره وه ، کله چي رسول الله ﷺ را ورسيدئ نو هغه د بې هوشي په حالت کي وو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا وفات سو ؟ صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! يا، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ ته ژړا ورغلل ، صحابه کرامو چي رسول الله ﷺ په ژړا وليدئ نو هغوئ هم په ژړا سول، رسول الله ﷺ وفرمايل : واورئ الله تعالى د سترګو په جاري کېدو عذاب نه ورکوي او نه د زړه په غمګين کېدو ، مګر الله تعالى له دې کبله عذاب ورکوي او رحم هم کوي او رسول الله ﷺ ژبي ته اشاره وکړه ، البته مړي ته د هغه د کورنۍ د ژړا په سبب عذاب ورکول کيږي (يعني په لوړ آواز سره ژړا او په چغو چغو سره ژړل) . بخاري او مسلم.

(۱۶۳۳): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ وَشَقَّ الْجُيُوبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوك زموږ څخه نه دئ څوك چي مخ ووهي، ګريوان څيري کړي او د جاهليت د زماني په ډول په چغو چغو ژاړي . بخاري او مسلم.

(۱۶۳۴): وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أُغْمِيَ عَلَى أَبِي مُوسَى فَأَقْبَلَتْ امْرَأَتُهُ أُمُّ عَبْدِ اللّٰهِ تَصِيحُ بِرَنَّةٍ قَالَا ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَلَمْ تَعْلَمِي وَكَانَ يُحَدِّثُهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ حَلَقَ وَصَلَقَ وَخَرَقَ . متفق عليه و لفظه للمسلم.

د حضرت ابو بردة ﷺ څخه روایت دئ چي ابو موسى ﷺ بې هوشه سو نو د هغه ښځه ام عبدالله په چغو چغو ژړا پيل وکړ ، کله چي ابو موسى په هوش کي سو نو هغه ورته وويل : ايا تا ته ځرګنده نه ده چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي زه د هغه چا څخه بېزاره يم چي په

مصیبت کي د سر وربښتان شکوي، په چغو چغو ژاړي او جامې شکوي . بخاري او مسلم .

**د نوحې کولو منعه**

﴿۱۶۳۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعٌ فِي اُمَّتِي مِنْ اَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُونَهُنَّ الْفَخْرُ فِي الْاَحْسَابِ وَالطَّعْنُ فِي الْاَنْسَابِ وَالْاِسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ وَالنِّيَاحَةُ وَقَالَ النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ . رواه مسلم

د حضرت ابو مالك اشعري ﷺ څخه روایت دئ. چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د جاهلیت د زمانې څلور شیان دي چي زما امت به یې نه پریږدي : ۱: په حسب فخر کول . ۲: په نسب طعنه ورکول ۳: د ستورو څخه اوبه غوښتل ۴: ویر او ماتم کو ل ، که ویر کونکې ښځه د مرگ څخه مخکي توبه ونه باسي نو د قیامت په ورځ به په داسي حال کي را پورته سي چي د هغې پر بدن به د قطران او خارش قمیص وي . مسلم .

﴿۱۶۳۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ اتَّقِي اللّٰهَ وَاصْبِرِي قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّي فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي وَلَمْ تَعْرِفْهُ فَقِيلَ لَهَا إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ فَقَالَ إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْاُولَى . متفق علیه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یوې ښځي په لور تیر سو چي پر یو قبر یې په چغو چغو ژړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د الله څخه و بیریږه او صبرکوه ، هغې ښځي ورته وویل : پر خپل لار څه تا ته زما په ډول ستونزي نه دي رسیدلي، هغې ښځي رسول الله ﷺ نه وو پیژندلئ ، بیا چي هغې ته وویل سول چي دا رسول الله ﷺ وو، نو هغه ښځه د نبي کریم ﷺ دروازې ته راغلل او هلته یې چوکیدار ونه لیدئ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض یې وکړه : ما تاسو نه واست پیژندلی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : صبر د غم په پیل کي وي . بخاري او مسلم .

**د کوم مسلمان چي دري اولاده مړه سي هغه دوږخ ته نه داخلیږي**

﴿۱۶۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَمُوتُ لِمُسْلِمٍ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَيَلِجَ النَّارَ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم مسلمان چي دري کوچنیان مړه سي هغه به اور ته نه داخلیږي ،مگر د قسم پوره کولو لپاره،دا ددې آیت په لور اشاره ده : (وان منکم الا واردها) : یعني قسم دئ په تاسو کي هیڅوک داسي نسته چي په دوږخ کي به داخل نه سي که څه هم د یوې لحظې لپاره وي . بخاري او مسلم .

﴿۱۶۳۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ لَا يَمُوْتُ لِإِحْدَاكُنَّ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَحْتَسِبَهُ إِلَّا دَخَلَتِ الْجَنَّةَ فَقَالَتْ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ أَوِ اثْنَيْنِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ أَوِ اثْنَيْنِ. رواه مسلم و في رواية لهما ثلثة لم يبلغوا الحنث .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د انصارو ښځو ته وفرمايل :په تاسو کي چي د يو چا درې ماشومان مړه سي او هغه په صبر او شکر سره د ثواب غوښتونکې وي نو په جنت کي به داخل سي ، د دې په اوريدو سره په هغو ښځو کي يوې ښځي وويل : اې د الله رسوله ! که د چا دوه ماشومان مړه سي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو، ددوو لپاره هم (دا زيرى دئ). مسلم او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي درې ماشومان چي بالغ سوي نه وي .

**د قريب او محبوب پر وفات باندي د صبر جزا جنت ده**

﴿۱۶۳۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالَى مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةُ . رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك فرمايي : نسته دى بنده زما لره زما څخه جزا هغه وخت چي قبض کړم ، هغه غوره دۀ ته په اهل دنيا کي بيا طلب د ثواب وکړى دى په هغه مگر جنت دى . بخاري .

# دويم فصل

**پر نوحه کونکي باندي لعنت**

﴿۱۶۴۰﴾: عَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو سعيد خذري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر وير کونکې او وير اورېدونکي باندي لعنت ويلئ دئ . ا بوداؤد .

**مؤمن په هر وخت کي صابر او شاکر وي**

﴿۱۶۴۱﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجَبٌ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ اللّٰهَ وَشَكَرَ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيْبَةٌ حَمِدَ اللّٰهَ وَصَبَرَ فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِيْ كُلِّ أَمْرِهِ حَتّٰى فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلٰى فِيْ امْرَأَتِهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن بنده عجيبه حال دئ چي کله خير ورته ورسيږي نو د الله تعريف او شکر ادا کوي او کله چي ستونزه ورته ورسيږي نو هم حمد او شکر ادا کوي او هم صبر کونکى اوسي ، نو

مؤمن ته په دواړو حالتو کي ثواب تر لاسه کيږي تر دې چي کومه ګوله هغه پورته کړي او د خپل بي بي په خوله کي يې واچوي پر دې هم ثواب تر لاسه کوي . بيهقي .

**د مؤمن پر مرګ مځکه او اسمان ژاړي**

(١٦٤٢): وَعَنِ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ : فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ . رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر مؤمن لپاره دوې دروازې وي پر يوه دروازه د هغه اعمال پورته خيژي او پر دويمه دروازه د هغه رزق را کښته کيږي ، هر کله چي مؤمن مړ کيږي نو دواړي دروازې پر هغه ژاړي او دا معنا ده د الله پاك ددې ارشاد : (فما بکت عليهم السماء والارض) پر کافرانو باندي آسمان او مځکي هيڅا ونه ژړل . ترمذي .

**د کوچني اولاد مرګ د اخرت ذخيره ده**

(١٦٤٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِي أَدْخَلَهُ اللّٰهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ قَالَ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا مُوَفَّقَةُ قَالَتْ فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ قَالَ فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي چيٰ د يو چا دوه ماشومان مړه سوي وي نو الله تعالی دهغوئ له کبله هغه په جنت کي داخلوي ، بي بي عائشې پوښتنه وکړه او ستاسو په امت کي چي د يو چا يو کوچني مړ سوئ وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : (تاته دي د نيکی توفيق درکړل سي) د چاچي يو کوچني مړ سوی وي د هغه لپاره هم دا حکم دئ ، بي بي عائشې بيا پوښتنه وکړه او ستاسو په امت کي چي د يو چا يو کوچني هم نه وي مړ سوئ ؟ (د هغه لپاره څه حکم دئ ) رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د خپل امت د کاروان امير يم کومي ستونزي چي ما ته رسيدلي دي هغوئ ته نه دي رسيدلي . ترمذي ، دا حديث غريب دئ .

**د اولاد پر مرګ باندي د صبر اجر**

(١٦٤٤): وَ عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي

د حضرت ابو موسى اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د يو مؤمن بنده زوی مړ کيږي نو الله تعالی ملائکو

فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيَقُولُ قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيَقُولُ مَاذَا قَالَ عَبْدِي فَيَقُولُونَ حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ فَيَقُولُ اللّٰهُ ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ . رواه احمد والترمذي

ته فرمايي : تاسو زما د بنده د زوئ روح قبض كړل ؟ هغوئ وايي هو، الله تعالى فرمايي : تاسو د هغه د زړه ميوه وشكول، هغوئ وايي هو، او الله تعالى پوښتنه كوي زما بنده څه وويل ؟ هغوئ ورته وايي : ستا تعريف يې وكړ او انا لله وانا اليه راجعون يې وويل ، الله تعالى فرمايي : زما د بنده لپاره په جنت كي يو كور جوړ كړئ او د هغه نوم بيت الحمد كښيږدئ . احمد ، ترمذي

## غمجن ته د تسلي وركونكي ثواب

﴿۱۶۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَزّٰى مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ " . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي : هذا حديث غريب لا نعرفه مرفوعا إلا مَن حديث علي بن عاصم الراوي وقال : ورواه بعضهم عن محمد بن سوقة بهذا الإسناد موقوفا

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي يو ستونزمن ته ډاډ وركړ نو هغه ته به د هغه سره سم ثواب رسيږي . ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ دا حديث مرفوعا يوازي د علي بن عاصم څخه روايت دئ او ځينو د محمد بن سوقة څخه په دې اسنادو سره موقوفا روايت كړئ دئ .

﴿۱۶۴۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَرْزَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَزّٰى ثَكْلٰى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت ابو برزة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي هغه ښځي ته ډاډ وركړي د كومي چي زوی مړ سوئ وي ، نو په جنت كي به غوره لباس ور واغوستل سي ، ترمذي دا حديث غريب دئ.

## د مړي د كورني لپاره مېلمستيا مستحب ده

﴿۱۶۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَقَد اتاهم مَا يَشْغَلُهُمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ څخه روايت دئ چي كله د جعفر ﷺ د مرگ خبر راغلئ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل د جعفر د كورني لپاره ډوډی تياره كړئ ځكه چي هغوئ ته هغه مصيبت رسيدلئ دئ كوم چي هغوئ د (ډوډی) څخه بوخت كړي دي . ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجة .

## دریم فصل

**پر مړي باندي په نوحه او ژړا کولو سره عذاب ورکول کيږي**

(۱۶۴۸): عَنِ الْمُغِيْرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. متفق عليه

د حضرت مغيرة بن شعبة ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي پر چا چي ډير وکول سي نو د هغه وير له کبله به د قيامت په ورځ هغه ته عذاب ورکړل سي. بخاري او مسلم.

(۱۶۴۹): وَعَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَذُكِرَ لَهَا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ عليه تقول يَغْفِرُ اللّٰهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلٰكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ أَخْطَأَ إِنَّمَا مَرَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى يَهُودِيَّةٍ يُبْكَى عَلَيْهَا فَقَالَ إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا . متفق عليه

د حضرت عمرة بنت عبدالرحمن (رض) څخه روايت دئ چي د بي بي عائشي (رض) په مخکي دا يادونه وسول چي عبدالله بن عمر داسي وايي چي پر مړي باندي د ژوندو خلکو د ژړا له کبله عذاب کيږي نو هغې وفرمايل : الله دي ابي عبدالرحمان و بخښي ، هغه درواغ نه دي ويلي مگر هيره څيني وسوه يا په بيان کي يې غلطي وکړه ، پېښه داده چي رسول الله ﷺ د يهودي ښځي پر قبر تيريدئ چي پر هغې ژړا کېده نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خلک پر دې ژاړي او پر هغې عذاب کيږي په قبر کي. بخاري او مسلم.

(۱۶۵۰): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ تُوُفِّيَتْ ابْنَةٌ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ بِمَكَّةَ فَجِئْنَا لِنَشْهَدَهَا وَحَضَرَهَا ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنِّي لَجَالِسٌ بَيْنَهُمَا فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ لِعَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ مُوَاجِهُهُ أَلَا تَنْهَى عَنِ الْبُكَاءِ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَدْ كَانَ عُمَرُ يَقُولُ بَعْضَ ذٰلِكَ ثُمَّ حَدَّثَ فَقَالَ صَدَرْتُ مَعَ عُمَرَ مِنْ مَكَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ إِذَا هُوَ بِرَكْبٍ تَحْتَ ظِلِّ سمرة فَقَالَ

د حضرت عبيد الله بن ابي مليكة ﷛ څخه روايت دئ چي په مکه کي د عثمان بن عفان ﷛ لور مړه سوه د هغې په جنازه او ښخولو کي موږ گډون وکړ، ابن عمر او ابن عباس هم گډون وکړ، زه د دوئ دواړو په منځ کي ناست وم چي عبدالله بن عمر، عمرو بن عثمان ته چي د هغه مخته ناست وو وويل : تاسو خپل قريبانْ ولې د ژړا څخه نه منع کوئ څکه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي مړي ته د هغه د کورني په ژړا عذاب ورکول کيږي . (د دې په اوريدو سره) ابن

اذهَبْ فَانْظُرْ مَنْ هَؤُلَاءِ الرَّكْبُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ صُهَيْبٌ قَالَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ادْعُهُ فَرَجَعْتُ إِلَى صُهَيْبٍ فَقُلْتُ ارْتَحِلْ فَالْحَقْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ فَلَمَّا أَنْ أُصِيبَ عُمَرُ دَخَلَ صُهَيْبٌ يَبْكِي يَقُولُ وَا أَخَاهُ وَا صَاحِبَاهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا صُهَيْبُ أَتَبْكِي عَلَيَّ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ بِبَعْضِ بُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَلَمَّا مَاتَ عُمَرُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ يَرْحَمُ اللّٰهُ عُمَرَ لَا وَاللّٰهِ مَا حَدَّثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان الميت ليعذب ببكاء اهله عليه ولكن إِنَّ اللّٰهَ يَزِيدُ الْكَافِرَ عَذَابًا بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ قَالَ وَقَالَتْ عَائِشَةُ حَسْبُكُمْ الْقُرْآنُ { وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عِنْدَ ذَلِكَ وَاللّٰهُ أَضْحَكَ وَأَبْكَى، قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ فما قَالَ ابْنُ عُمَرَ شَيْئًا . متفق عليه

عباس وويل : حضرت عمر داسي څه ويلي دي (يعني په عامه توگه سره به يې د ژړا څخه منع نه كولاى بلكه په چغو چغو ژړا به يې منع كولاى) ددې وروسته ابنْ عباس دا پېښه بيان كړل چي زه يو وار د حضرت عمر ﷺ سره د مكې څخه راستون سوم كله چي موږ بيداء نامي ځاى ته راورسيدو نو حضرت عمر ﷺ يو قافله وليدل چي د كيكر تر يو درختي لاندي تم وه ، حضرت عمر ﷺ ما ته وفرمايل : وگوره چي په دې قافلې كي كوم خلك دي ، زه ورغلم نو وه مي ليدل چي په هغو كي حضرت صهيب ﷺ وو، ما حضرت عمر ﷺ ددې څخه خبردار كړ ، هغه وويل هغه راوغواړه، زه ورغلم هغه ته مي وويل د امير المؤمنين حضرت عمر ﷺ ملاقات ته راسه، ددې وروسته په مدينه كي حضرت عمر ﷺ ژوبل سو نو صهيب ﷺ ژړل او په دې ويلو سره د هغه په خدمت كي حاضر سو چي هاى زما وروره ! هاى زما اكا، د دې په اوريدو سره حضرت عمر ﷺ وفرمايل : اې صهيبه ! ايا پر ما ژاړې؟ حال دا چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي مړي ته د هغه د خپلو قريبانو د ژړا له كبله عذاب وركول كيږي ، ددې پېښي بيانولو وروسته ابن عباس ﷺ وويل د حضرت عمر ﷺ د وفات وروسته بي بي عائشې ته ما ددې پېښي يادونه وكړه نو هغې وويل : الله دي پر عمر رحم وكړي په الله دي مي قسم وي د رسول الله ﷺ حديث دا نه دئ چي مړي ته د هغه د قريبانو د ژړا له كبله عذاب وركول كيږي بلكه حديث دادئ چي پر كافر مړي باندي د ژړا له كبله د، هغه عذاب زياتيږي ، ددې وروسته حضرت عائشې وفرمايل : (ددې په ثبوت كي) ستاسې د قرآن مجيد دا ارشاد بس دئ : (و لا تزر وازرة وزر اخرى) : او هيڅوك به د بل چا بوج نه پورته كوي، ابن عباس ﷺ وويل : دې ته نژدې ددې آيت مفهوم دا هم دئ چي : (وانه هو اضحك وابكى) : او هم الله څوك خندوي او هم يې ژړوي، ابن ابي ملكيه وايي ددې تولې پېښي د اوريدو وروسته حضرت ابن عمر ﷺ هم هيڅ ونه ويل . بخاري او مسلم .

## پر مړي د ژړا منعه

(۱۶۵۱): وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَجَعْفَرٍ وَابْنِ رَوَاحَةَ جَلَسَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ وَأَنَا أَنْظُرُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تعني شَقِّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ وَذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ لَمْ يُطِعْنَهُ فَقَالَ انْهَهُنَّ فَأَتَاهُ الثَّالِثَةَ قَالَ وَاللّٰهِ لَقَدْ غَلَبْنَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَزَعَمَتْ أَنَّهُ قَالَ فَاحْثُ فِي أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ فَقُلْتُ أَرْغَمَ اللّٰهُ أَنْفَكَ لَمْ تَفْعَلْ مَا أَمَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ تَتْرُكْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَنَاءِ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي کله د ابن حارثه ، جعفر او ابن رواحه د شهادت خبر رسول الله ﷺ ته راغلئ (چي په غزوه موته کي شهيدان سوي وه) نو رسول الله ﷺ په مسجد کي کښينستئ او پر مخ مبارك يې د غم نښي ځرګندي وي او ما د دروازې د سريو څخه په کور کي دننه د رسول الله ﷺ حال ليدئ ، يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ : د جعفر د کورنۍ ښځي داسي داسي کوي، يعني د هغوئ د ژړا يادونه يې وکړه ، رسول الله ﷺ هغه ته حکم وکړ چي هغوئ د ژړا څخه منع کړئ ، هغه سړی ورغلئ او دويم وار حاضر سو او وه يې ويل هغوئ نه منع کيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل هغوئ منع کړه ، هغه ولاړئ بيا راغلئ او وه يې ويل : په الله دي مي قسم وي اې دالله رسوله! هغوئ پر موږ غالب راغلي يعني هغوئ زموږ دمنع کېدو څه پروا ونه کړل، بي بي عائشه وايي زما خيال دادئ چي د هغه په جواب کي رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي د هغوئ په خوله کي خاوري واچوه ، بي بي عائشة وايي ما په خپل زړه کي د هغه په اړه وويل : خدای دي ستا پزه په خاورو ولړيْ تا ته چي رسول الله ﷺ کوم حکم درکړئ نه خو تا په هغه عمل وکړلای سو او نه دي رسول الله ﷺ پر کراره پرېښودئ د خفګان رسولو څخه. بخاري او مسلم.

(۱۶۵۲): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ غَرِيبٌ وَفِي أَرْضِ غُرْبَةٍ لَأَبْكِيَنَّهُ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ فَكُنْتُ قَدْ تَهَيَّأْتُ لِلْبُكَاءِ عَلَيْهِ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ مِنَ الصَّعِيدِ تُرِيدُ أَنْ تُسْعِدَنِي فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ أَتُرِيدِينَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللّٰهُ مِنْهُ مَرَّتَيْنِ فَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ فَلَمْ أَبْكِ . رواه مسلم

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چي کله ابو مسلمه (يعني د هغې خاوند ) مړ سو نو ما په زړه کي وويل : ابو سلمه په سفر کي د هيواد څخه د باندي مړ سوئ دئ زه به پر ده داسي ژاړم چي خلك به زما د ژړا ياد يو بل ته کوي نو زه د ژړا په تياري کي بوخته وم چي يوه ښځه کور ته راغله ، غالبا يې زما په غم کي د زما سره د ګډون اراده درلودل، ناڅاپه رسول الله ﷺ

(یعني تازه وفات دئ) احمد او نسائي.

(۱۶۵۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا تَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَتِ النِّسَاءُ فَجَعَلَ عُمَرُ يَضْرِبُهُنَّ بِسَوْطِه فَأَخَّرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِه وَقَالَ مَهْلًا يَا عُمَرُ ثُمَّ قَالَ إِيَّاكُنَّ وَنَعِيقَ الشَّيْطَانِ ثُمَّ قَالَ إِنَّهُ مَهْمَا كَانَ مِنَ الْعَيْنِ وَالْقَلْبِ فَمِنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمِنَ الرَّحْمَةِ وَمَا كَانَ مِنَ الْيَدِ وَاللِّسَانِ فَمِنَ الشَّيْطَانِ . رواه احمد

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي کله درسول الله ﷺ لور بي بي زينب وفات سوه نو ښځي په ژړا سوې، حضرت عمر ﷺ هغه ښځي په خپل کروړي (تازيانه) ووهلې، رسول الله ﷺ حضرت عمر په خپل لاس سره منع کړ او ورته وه يې فرمايل: اې عمره! نرمي کوه ددې وروسته يې خپلو ښځو ته وفرمايل: خپل ځان د شيطان د آواز څخه ليري وساتئ يعني په: چغو چغو د ژړا څخه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل څه چي د سترګو څخه وي يعني اوښکي او څه چي د زړه څخه وي يعني غم دا د الله تعالى د لوري دي او د رحمت سبب دئ او څه چي د لاس او ژبې څخه وي يعني ځان وهل، جامې شکول، ورېښتان شکول، او په چغو چغو وير او ماتم کول دا ټول د شيطان د لوري وي. احمد.

**يو خاص واقعه**

(۱۶۵۷): وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ ضَرَبَتْ امْرَأَتُهُ الْقُبَّةَ عَلَى قَبْرِه سَنَةً ثُمَّ رُفِعَتْ فَسَمِعُوا صَائِحًا يَقُولُ أَلَا هَلْ وَجَدُوا مَا فَقَدُوا فَأَجَابَهُ الْآخَرُ بَلْ يَئِسُوا فَانْقَلَبُوا .

د امام بخاري څخه دا روايت تعليقا روايت دئ چي کله حسن بن حسن بن علي وفات سو نو د هغه ښځي د هغه پر قبر تر يو کال پوري خيمه ودرول او بيا يې ايسته کړل بيا يې غيبي آواز واوريدئ: څه چي ورك سوي وه ايا د خيمې په دريدو سره هغه بيرته تر لاسه سو؟ دويم آواز راغلئ: چي نااميده سوه او خيمه يې وکښل.

**د جاهليت د زماني يو رواج او د هغه منع**

(۱۶۵۸): عَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ وَأَبِي بَرْزَةَ قَالَا خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَرَأَى قَوْمًا قَدْ طَرَحُوا أَرْدِيَتَهُمْ يَمْشُونَ فِي قُمُصٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبِفِعْلِ الْجَاهِلِيَّةِ تَأْخُذُونَ أَوْ بِصُنْعِ الْجَاهِلِيَّةِ تَشَبَّهُونَ لَقَدْ

د حضرت عمران بن حصين او ابو برزة (رض) څخه روايت دئ چي موږ دواړو د رسول الله ﷺ سره په يو جنازه کي ګډون وکړ، نو رسول الله ﷺ ځيني خلك وليدل چي هغوئ خپل څادرونه غورزولي وه، قميصونه يې اغوستي ... روان وه، رسول الله ﷺ د هغوئ په ليدو سره

هَمَمْتُ اَنْ اَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُونَ فِي غَيْرِ صُوَرِكُمْ قَالَ فَاَخَذُوا اَرْدِيَتَهُمْ وَلَمْ يَعُودُوا لِذَلِكَ . رواه ابن ماجه .

وفرمايل : ايا دجاهليت په فعل عمل کوئ يا د جاهليت د کارو ورته والی کوئ ، ما اراده وکړه چي ستاسو لپاره دا ښيرا وکړم چي تاسو کورونو ته ستانه سئ نو په نورو شکلو کي را ستانه سئ ، د راوي بيان دئ چي د رسول الله ﷺ د دې الفاظو په اورېدو سره خلکو خپل څادرونه پر سر کړل او بيا يې هيځکله همداسي ونه کړل. ابن ماجه .

## د شريعت خلاف شي د جنازې سره وړلو منع

﴿۱۶۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تُتْبَعَ جِنَازَةٌ مَعَهَا رَانَّةٌ. رواه احمد وابن ماجة .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه جنازې سره د تلو څخه منع فرمايلې ده چي د کوم سره وير کونکې ښځه وي . احمد او ابن ماجه .

## کوچني مړه اولادونه به مور او پلار جنت ته بيايي

﴿۱۶۶۰﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ رَجُلاً قَالَ لَهُ مَاتَ ابْنٌ لِي فَوَجَدْتُ عَلَيْهِ هَلْ سَمِعْتَ مِنْ خَلِيْلِكَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلاَمُهُ شَيْئًا يُطَيِّبُ بِاَنْفُسِنَا عَنْ مَوْتَانَا قَالَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ يَلْقَى اَحَدُهُمْ اَبَاهُ فَيَاْخُذُ بِثَوْبِهِ فَلاَ يُفَارِقُهُ حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ . رواه مسلم و احمد واللفظ له .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي يو سړي هغه ته وويل : زما کوچني زوی مړ سوئ دي زه په هغه ډېر غمجن يم ايا د خپل دوست (نبي کريم ﷺ) څخه يو داسي خبره زموږ د ماشومانو په اړه اورېدلې ده چي زموږ زړونه په خوشحاله سي ؟ ابوهريرة ؓ وايي د دې په جواب کي ما ورته وويل : هو، ما د رسول الله ﷺ څخه دا اورېدلي دي چي د مسلمانانو ماشومان به په جنت کي داسي وي لکه د درياب حيوانان، په دوئ کي چي څوک د خپل پلار سره يو ځای کيږي نو د هغه لمن به نيسي او تر هغو پوري به يې نه پرېږدي تر څو پوري چي جنت ته يې داخل نه کړي. مسلم او احمد .

## د اولاد د مرګ اجر

﴿۱۶۶۱﴾: وَعَنْ اَبِي سَعِيْدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَاَةٌ اِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيْثِكَ فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْمًا نَاْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ فَقَالَ اجْتَمِعْنَ

د حضرت ابو سعيد ؓ څخه روايت دئ چي يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او عرض يې وکړ : اې دالله رسوله ! نارينو ستاسو د حديثو څخه ګټه تر لاسه کړه تاسو زموږ لپاره يوه ورځ و ټاکئ چي موږ ستاسو په

فِي يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فِي مَكَانِ كَذَا وَكَذَا فَاجْتَمَعْنَ فَأَتَاهُنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً إِلَّا كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ فَقَالَتْ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَوْ اثْنَيْنِ فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ . رواه البخاري .

خدمت كي حاضر سو او تاسو موږ ته هغه خبري وښياست كومي چي الله تعالى تاسو ته ښودلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ښه دئ، تاسو په فلاني ورځ په فلاني وخت په فلاني ځاى كي يو ځاى سئ نو هغه ښځي پر هغه ټاكلي وخت يو ځاى سوې ، رسول الله ﷺ تشريف راوړئ او هغوئ ته يې هغه خبري وښودلې كومي چي الله تعالى رسول الله ﷺ ته ښودلي وې ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي چا درې ماشومان مخكي ليږلي وي (يعني وفات سوي وي) نو هغه به ورته د اور پرده وي (يعني هغه به مو دوږخ ته نه پرېږدي) په هغوئ كي يوې ښځي وويل اي دالله رسوله ! كه چا دوه ماشومان ليږلي وي ، دوه واره هغې دا الفاظ وويل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوو هم دغه ثواب دئ . بخاري .

(١٦٦٢): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يُتَوَفَّى لَهُمَا ثَلَاثَةٌ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللّٰهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمَا فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَوْ اثْنَانِ قَالَ أَوْ اثْنَانِ قَالُوا أَوْ وَاحِدٌ قَالَ أَوْ وَاحِدٌ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ السِّقْطَ لَيَجُرُّ أُمَّهُ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ إِذَا احْتَسَبَتْهُ .
رواه احمد و روى ابن ماجة من قوله والذي نفسي بيده

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دْ كوم مسلمان (يعني ښځي او سړي) چي درې ماشومان وفات سي الله به هغه په جنت كي داخل كړي ، صحابه كرامو پوښتنه وكړه اي دالله رسوله ! كه دوه ماشومان يې وفات سوي وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دوو هم د غه ثواب دئ ، صحابه كرامو بيا پوښتنه وكړه اي دالله رسوله ! او د يوه څه حكم دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د يوه هم دغه حكم دئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك كي زما روح دى چي اوم كوچني چي ساقط سي خپله مور به د نامه په ذريعه جنت ته بيايي ، په دې شرط چي د هغه مور صبر كړى وي او د ثواب غوښتونكې سوې وي . احمد ، ابن ماجه .

(١٦٦٣): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَدَّمَ ثَلَاثَةً مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ كَانُوا لَهُ حِصْنًا

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي خپل درې نابالغ ماشومان مخكي ليږلي وي (يعني مړه سوي وي) نو

حَصِينًا مِنَ النَّارِ فقَالَ أَبُو ذَرٍّ قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ قَالَ وَاثْنَيْنِ قَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْب ابوالمنذر سَيِّدُ الْقُرَّاء قَدَّمْتُ وَاحِدًا قَالَ وَوَاحِدًا . رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب .

هغه ماشومان به د هغه لپاره د دوزخ د اور څخه ټينګه پناه وي، ابوذر وويل : ما دوه ماشومان مخکي ليږلي دي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دوو حکم هم دغه دئ ، ابو کعب چي د قاريانو سردار دئ وويل چي ما يو کوچني مخکي ليږلئ دئ (يعني يو اولاد مي مړ سوئ دئ) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د يوه هم دغه حکم دئ ، ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

﴿١۶۶۴﴾: وَعَنْ قُرَّةَ الْمُزَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ابْنٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُحِبُّهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَحَبَّكَ اللّٰهُ كَمَا أُحِبُّهُ فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَان قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَاتَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا قَالَ بَلْ لِكُلِّكُمْ . رواه احمد

د حضرت قرة بن مزني ؓ څخه روايت دئ چي يو سړی به د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضريدئ او د هغه سره به د هغه زوئ هم وو ، يوه ورځ د هغه څخه رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي ستا ددې زوئ سره ډيره مينه ده ؟ هغه عرض وکړ اې دالله رسوله! ستاسره دي الله داسي مينه وکړي لکه څرنګه چي زه ددې زوئ سره مينه کوم ، يو وار هغه سړی راغلئ او هغه زوئ ورسره نه وو، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه د فلاني سړي زوئ څه سو ؟ صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! هغه مړ سوئ دئ ، رسول الله ﷺ د هغه پلار ته وفرمايل : ايا ته دا خوښوې چي ته د جنت دروازې ته ورسې او هلته خپل زوئ انتظار کونکی ووينې ؟ (يعني دا چي ستا زوئ تا جنت ته بوزي) يو بل سړي چي دا واوريدل نو عرض يې وکړ : اې دالله رسوله! دا زيری يوازي ددې سړي لپاره دئ او که زموږ ټولو لپاره ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستاسو ټولو لپاره دئ ، احمد

## ماشوم خپل مور او پلار جنت ته بيايي

﴿١۶۶۵﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ السِّقْطَ لَيُرَاغِمُ رَبَّهُ إِذَا أَدْخَلَ أَبَوَيْهِ النَّارَ فَيُقَالُ أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهُ أَدْخِلْ أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ فَيَجُرُّهُمَا بِسَرَرِهِ حَتَّى يُدْخِلَهُمَا الْجَنَّةَ. رواه ابن ماجة .

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د اومه کوچني د مور او پلار الله تعالی دوزخ ته دداخلولو اراده وکړي نو هغه د الله تعالی سره جګړه کوي هغه ته به وويل سي اې جګړه کونکي اوم ماشومه! ته

خپل مور او پلار جنت ته بوزه ، نو هغه کوچني به خپل مور او پلار د نامه څخه راکاږي او هغوئ به جنت ته بيايي . ابن ماجه

**پر مصيبت او پېښه باندې د صبر اجر جنت دی**

(۱۶۶۶): وَعَنْ اَبِیْ اَمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللّٰهُ. سُبْحَانَهُ ابْنَ آدَمَ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُونَ الْجَنَّةِ . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي : اې انسانه ! که ته پرلومړی صدمه صبر وکړې او د الله څخه د ثواب غوښتونکئ سې نو زه به ستا لپاره تر جنت په کم ثواب راضي ته سم . ابن ماجه

**د استرجاع فضيلت**

(۱۶۶۷): وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ وَلَا مُسْلِمَةٍ يُصَابُ بِمُصِيبَةٍ فَيَذْكُرُهَا وَإِنْ طَالَ عَهْدُهَا فَيُحْدِثُ لِذَلِكَ اسْتِرْجَاعًا إِلَّا جَدَّدَ اللّٰهُ تبارك وتعالى لَهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَأَعْطَاهُ مِثْلَ أَجْرِهَا يَوْمَ أُصِيبَ بِهَا . رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان .

د حضرت حسين بن علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان سړي يا ښځي ته چي يو ستونزه ورسيږي او هغه هغه ستونزه په ياد کړي که څه هم هر څومره زيات وخت تير سوئ وي او هر کله چي ور په ياد سي او هغه وخت انا لله وانااليه راجعون ووايي نو الله تعالى هغه ته هغه ثواب ورکوي کوم ثواب چي د مصيبت په ورځ ورکول کېدئ . احمد او بيهقي

(۱۶۶۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ أَحَدِكُمْ فَلْيَسْتَرْجِعْ فَإِنَّهُ مِنَ الْمَصَائِبِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي د يو چا د څپليو تسمه وشکيږي نوهغه ته هم پکار دي چي انا لله وانااليه راجعون ووايي ځکه چي دا هم يو ستونزه ده .

**پر نعمت باندې شکر او پر مصيبت باندې صبر د امت وصف عظيم دی**

(۱۶۶۹): وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ : يَا عِيسَى إِنِّي بَاعِثٌ مِنْ بَعْدِكَ أُمَّةً إِذَا أَصَابَهُمْ مَا يُحِبُّونَ حَمِدُوا اللّٰهَ وَإِنْ أَصَابَهُمْ مَا يَكْرَهُونَ احْتَسَبُوا

د حضرت ام درداء (رض) څخه روايت دئ چي ما د ابودرداء ﷺ څخه اوريدلي دي چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي الله تعالى حضرت عيسى عليه السلام ته وفرمايل : اې عيسى ! زه ستا وروسته يو داسي قوم پيدا کوم

وَصَبَرُوْا وَلاَ حِلْمَ وَلاَ عَقْلَ . فَقَالَ : يَا رَبِّ كَيْفَ يَكُوْنُ هٰذَا لَهُمْ وَلاَ حِلْمَ وَلاَ عَقْلَ ؟ قَالَ : أُعْطِيْهِمْ مِنْ حِلْمِيْ وَعِلْمِيْ " . رواهما البيهقي في شعب الإيمان

چي هغو ته يو داسي شی تر لاسه سي چي هغه خوښوي نو هغوئ به د الله شکر ادا کړي او هرکله چي يو داشی ورته پېښ سي چي هغه نه خوښوي نو پر هغه صبر کوي او د ثواب غوښتونکی وي يعني د مصيبت اخته کېدو له کبله د حلم او عقل څخه د بېگانه کېدو سربيره بيا هم صبر کوي نو زه به ورته خپل بردباري او خپل عقل ورکړم . بيهقي په شعب الايمان کي .

## بَابُ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ (د قبرو دزيارت بيان)

### لومړی فصل

**د قبرو زيارت مستحب دی**

(١٦٧٠): عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْأَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمْسِكُوْا مَا بَدَا لَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيْذِ إِلَّا فِيْ سِقَاءٍ فَاشْرَبُوْا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَا تَشْرَبُوْا مُسْكِرًا . رواه مسلم

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو د قبرونو د زيارت کولو څخه منع کړي ياست ، نو اوس تاسو د هغه زيارت کوئ ، ما تاسو د درو ورځو څخه وروسته د قرباني د غوښو خوړلو څخه منع کړي واست اوس تاسو د هغه قرباني غوښه تر څو پوري چي ساتلای سئ وساتئ او ما تاسو د نبيذو څخه منع کړي واست مگر په ژي کي دننه د نبيذو څخه مي نه واست منع کړي اوس تاسو چي په کوم لوښي کي غواړئ چښئ مگر نشه راوستونکئ شی هيڅکله مه چښئ . مسلم

**رسول الله ﷺ د خپل اولاد پر قبر باندي !**

(١٦٧١): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ زَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْرَ أُمِّهِ فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ اسْتَأْذَنْتُ رَبِّيْ فِيْ أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يُؤْذَنْ لِيْ وَاسْتَأْذَنْتُهُ فِيْ أَنْ أَزُوْرَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِيْ فَزُوْرُوا الْقُبُوْرَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْمَوْتَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خپل مور د قبر زيارت وکړ ، رسول الله ﷺ وژړل او ورسره خلکو هم وژړل ، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل : ما د خپل پروردگار څخه اجازت غوښتئ وو چي د خپلي مور د بخښني دعاء ځيني وغواړم مگر ما ته اجازه رانه کړل سوه ، بيا ما د هغې د قبر د زيارت اجازه

وغوښتل او ددې اجازه راکړل سول ، نو تاسو د قبرونو زيارت کوئ ځکه چي دا مرگ په يادوئ . مسلم

**هديرې ته په رسيدو سره څه ويل پکار دي؟**

(۱۶۷۲): وَعَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُمْ إِذَا خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بكم للاحِقُون نَسْأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ . رواه مسلم

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به مسلمانانو ته ښودل چي کله تاسو قبرو ته ولاړ سئ نو دا کلمات واياست : السلام عليكم ..... ولكم العافية . ( اې کورونووالا! مؤمنانو او مسلمانانو پر تاسو دي سلامتيا وي

موږ به هم کله چي دالله تعالى خوښه وي ستاسره يو ځاى کيږو او موږ دالله تعالى څخه د ځان لپاره او ستاسو لپاره د عافيت دعاء غواړو) مسلم .

## دويم فصل

(۱۶۷۳): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُورِ الْمَدِينَةِ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په مدينه کي پر يو څو قبرو تير سو نو د هغو په لور يې مخ کړ او وه يې فرمايل : السلام عليكم ....بالاثر. اې د قبرو خاوندانو ! پر تاسو دي سلامتيا وي الله دي موږ او تاسو و

بخښي تاسو زموږ څخه تر مخه ياست او موږ در پسې يو . ترمذي ، دا حديث حسن غريب دئ .

## دريم فصل

**رسول الله ﷺ د شپې په اخيره کي هديرې ته تلل**

(۱۶۷۴): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَا تُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي کله به ددې شپه د رسول الله ﷺ سره وه نو رسول الله ﷺ به د شپې په آخر کي د مدينې هديرې (بقيع) ته تشريف وړئ او فرمايل به يې السلام عليكم .... بقيع الغرقد. اې د مؤمنانو قومه! پر تاسو دي سلام وي او تاسو ته هغه

شى راغلئ چي د هغه درسره وعده سوې وه سبا ته يعني د قيامت په ورځ او تاسو ته د يو تاكل سوي وخت مهلت دركړل سو او موږ هم كه الله تعالى وغوښتل تاسو ته راتلونكي يو اې الله بقيع الغرقد والا وبخښي . (بقيع الغرقد د مدينې د هديرې نوم دئ) .مسلم .

**هديرې ته په رسيدو سره څه ويل پكار دي ؟**

| | |
|---|---|
| (١٦٧٥): وَعَنْهَا قَالَتْ كَيْفَ أَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ تعني في زيارة القبور قَالَ قُولِي السَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَيَرْحَمُ اللَّهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ . رواه مسلم . | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي د قبرو د زيارت په وخت كي څه وايم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دا وايه (السلام على..... للاحقون) : پر مؤمن او مسلمان كوروالاوو دي سلامتيا وي او |

الله ﷺ دي زموږ په مخكنيو او وروستنيو رحم وكړي او موږ هم كه الله تعالى وغواړي ستاسو سره يو ځاى كيدونكي يو . مسلم .

**د مور او پلار قبرو ته د تللو حكم او د هغه فضيلت**

| | |
|---|---|
| (١٦٧٦): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ يَرْفَعُ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ زَارَ قَبْرَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدِهِمَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهُ وَكُتِبَ بَرًّا " . رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا . | حضرت محمد بن النعمان ؓ دا حديث تر رسول الله ﷺ پوري رسولئ دئ او وايي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي هره اونۍ د خپل مور اوپلار د قبرو زيارت كوي يا په هغو كي د يوه د قبر ، نو هغه بخښل كيږي او نيك ليكل كيږي . بيهقي . |

**د قبرو د زيارت اجازت او د هغه علت**

| | |
|---|---|
| (١٦٧٧): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ : رواه ابن ماجه . | د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما به تاسو د قبرو د زيارت كولو څخه منع كولاست ، اوس تاسو د هغو زيارت كوئ ځكه چي د |

قبرو زيارت كول سړى د دنيا څخه بې شوقه كوي او آخرت ور په يادوي . ابن ماجه .

**د ښځو د قبرو د زيارت څخه منع**

| | |
|---|---|
| (١٦٧٨): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا | د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر هغه ښځو چي قبرو ته ډيري ځي لعنت ويلئ دئ، احمد ، ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ويلي |

حديث حسن صحيح وقال : قد رأى بعض أهل العلم أن هذا كان قبل أن يرخص النبي في زيارة القبور فلما رخص دخلّ في رخصته الرجال والنساء . وقال بعضهم : إنما كره زيارة القبور للنساء لقلة صبرهن وكثرة جزعهن . تم كلامه

دي دا حديث حسن صحيح دئ (د ځيني عالمانو خيال دئ چي دا لعنت د اجازې تر مخه دئ بيا چي رسول الله ﷺ د قبرو دزيارت اجازه ورکړل نو په دې کي سړي او ښځي دواړه شامل سول ، او ځيني علماء وايي چي د ښځو لپاره د قبرو زيارت کول مکروه دئ ځکه چي په دوئ کي د صبر ماده کمه وي او هغوئ ژړاوي او انګولاوي زياتي کوي . د ترمذي کلام پوره سو.

**د مړي هغه لحاظ کول پکار دي کوم چي په ژوند کي يې کېدی**

(١٦٧٩): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَدْخُلُ بَيْتِي الَّذِي فِيهِ دُفِنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي فَأَضَعُ ثَوْبِي فَأَقُولُ إِنَّمَا هُوَ زَوْجِي وَأَبِي فَلَمَّا دُفِنَ عُمَرُ مَعَهُمْ فَوَاللّٰهِ مَا دَخَلْتُ إِلَّا وَأَنَا مَشْدُودَةٌ عَلَيَّ ثِيَابِي حَيَاءً مِنْ عُمَرَ. رواه احمد .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي زه به هغه حجرې ته تلم په کوم کي چي رسول الله ﷺ ښخ کړل سوئ وو او ما به خپل جامې (څادر وغيره) لاندي ا ښودل او په زړه کي به مي ويل چي دا زما خاوند دئ (يعني رسول الله ﷺ) او دا زما پلار دئ (يعني ابوبکر صديق ﷺ) نو د دوئ څخه څه شرم او حجاب کول پکار دي، بيا چي کله حضرت عمر ﷺ په هغه حجره کي ښخ کړل سو نو په الله دي مي قسم وي چي بيا زه هيڅکله هم حجرې ته دننه نه سوم مګر په داسي حال کي چي خپل بدن به مي د حضرت عمر څخه د حياء له کبله په جامو کي نغښتئ وو . احمد.

# کِتَابُ الزَّکٰوة

## (دزکات بیان)

## لومړی فصل

### د زکوة په اړه د رسول الله ﷺ احکام

﴿۱۶۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا اِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ اِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَمُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ على فُقَرَائِهِمْ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ حضرت معاذ بن جبل یمن ته ولیږئ او ورته وه یې فرمایل : ته یو داسي قوم ته ځې چي اهل کتاب دي (یعني یهود او نصارا دي) نو هغوئ ددې خبري شاهدي ته راوبله چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد د الله تعالی رسول دئ او که هغوئ دا ومني نو هغوئ ته وښیه چي الله تعالی پر هغوئ په شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه فرض کړي دي که هغوئ دا هم قبول کړي نو بیا هغوئ ته وښیه چي الله تعالی پر هغوئ زکوة فرض کړئ دئ چي د شتمنو څخه واخیستل او پر غریبانو وویشل سي ، که هغوئ دا هم ومني نو د هغوئ غوره مال (په زکوة کي) مه اخله (بلکه درمیانه مال اخله) او (د زکوة په تر لاسه کولو کي) خپل ځان د مظلوم د ښیراوو څخه وساته ځکه چي د مظلوم د عاء او د الله تعالی په منځ کي پرده نسته . بخاري او مسلم .

### د زکوة پر منع کونکو د عذاب تفصیل

﴿۱۶۸۱﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د سرو او سپینو زرو خاوند وي او هغه د هغه حق (یعني زکوة) ادا نه کړي نو د قیامت په ورځ به د هغه لپاره تخت جوړ سي چي پر اور به تودیږي او په هغه تخت سره به د هغه بغلونه، تندی او ملا

أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالْإِبِلُ قَالَ وَلَا صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ قَالَ وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلَا جَلْحَاءُ وَلَا عَضْبَاءُ تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالْخَيْلُ قَالَ الْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللّٰهِ فِي ظُهُورِهَا وَلَا رِقَابِهَا فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فِي مَرْجٍ وَرَوْضَةٍ فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ

داغيږي او هر كله چي هغه يخ سي نو بيا به د دوږخ په اور كي توديږي او بيا به په داغيږي او هميشه به ورسره داسي كيږي، او دا ورځ په كومه ورځ چي به داسي ورسره كول كيږي دومره لويه وي چي د هغه اندازه به ددنيا د پنځوس زرو كلو برابر وي تر دې چي د بندگانو حساب كتاب به ختم سي او جنت ته تلونكيٌ به جنت ته او دوږخ ته تلونكي به دوږخ ته وليږل سي . د رسول الله ﷺ د ارشاد اوريدوسره پوښتنه وسول اې دالله رسوله! دا حكم خو د زرو دئ د اوښانو څه حكم دئ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د اوښانو خاوند هم كه هغه د اوښانو حق ادا نه كړي نو د قيامت په ورځ به د اوښانو خاوند پړمخې د اوښانو مخكي په يو هوار ميدان كي را وغورزول سي او د هغه ټول اوښان سره د بچيانو به هلته موجود وي يعني په شمير به پوره وي او د اوښانو خاوند به په هغوئ كي يو هم كم پيدا نه كړي، تر دې چي يو بچى به يې هم كم نه وي او دا اوښان او بچي به ښه څاربه وي خپل خاوند به تر پښو لاندي ميده كوي او په خپلو غاښو سره به يې چيچي او هر كله چي د اوښانو يو قطار د ميده كولو او چيچلو څخه وروسته ولاړ سي نو دويم قطار به راسي تر پښو لاندي به يې ميده كوي او په غاښو به يې چيچي او هميشه به ورسره داسي كيږي او په كومه ورځ چي به داسي كيږي د هغې ورځي اندازه به پنځوس زره كاله وي تر څو چي د بندگانو په

حَسَنَاتٌ وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالْحُمُرُ قَالَ مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلَّا هَذِهِ الْآيَةَ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ { فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ }. رواه مسلم

منځ كي به پريكړه و سي او هغوئ به دوږخ او جنت ته ولاړ سي ، د دې په اوريدو سره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! د غواوو او د پسو د خاوند به څه حال وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : څوك چي د هغوئ حق (زكات) نه ادا كوي د قيامت په ورځ به په هوار ميدان كي پړموخي پرې ايستل سي او د هغه غواوو او پسو څخه به هيڅ شی كم نه وي او د هغوئ ښكرونه به غونډ نه وي او نه به مات وي او نه به په هغوئ كي بې ښكره وي يعني د تولو پر سرونو به ښكرونه وي او سالم به وي دا غواوي او پسونو به خپل خاوند په ښكرو وهي او په خپلو نوكانو سره به يې نوكاري كوي او هر كله چي يو قطار خپل كار وكړي ولاړ سي نو دويم قطار به راسي خپل كار به كوي او همداسي به كيږي او په كومه ورځ چي به داسي كيږي د هغې ورځي اندازه به پنځوس زره كاله وي تر څو چي د بندگانو په منځ كي پريكړه و سي او هغوئ به پر خپله خپله لار جنت او دوږخ ته ولاړ سي، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! د آسانو څه حكم دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : آسان پر درې ډوله دي د يو ډول سړي لپاره خو د گناه سبب كيږي او د يو ډول سړي لپاره پرده وي او د يو ډول سړي لپاره د ثواب سبب وي ، هغه آسان چي د گناه سبب وي د هغه سړي آسان دي چي د فخر او غرور د څرگندوني لپاره د ريا لپاره يا د مسلمان سره د دښمني لپاره وي ، او هغه آسان چي د سړي لپاره پرده وي د هغه سړي آسان دي چي هغه د الله په لار كي د كار اخيستلو لپاره تړلي وي او د هغوئ په شاوو او غاړو كې هغه د الله تعالى حق نه هيروي دا آسان به د هغه لپاره پرده وي ، او هغه آسان چي د ثواب سبب گرځي د هغه سړي آسان دي چي د مسلمانانو لپاره يې د الله په لاره كي د جهاد لپاره تړلي وي او په وربشو او وښو سره به يې ساتل، څومره وابنه چې دغه آسان خوري د هغه په حساب كې د هغه په اندازه نيكى ليكل كيږي، د هغو گندگي او بولي هم په نيكيو كي شميرل كيږي، او كوم آس چي رسۍ وشكوي يو يا دوه ميدانه وځغلي الله تعالى د هغوئ د قدمو نښي او گندگي هم په نيكيو كي ليكي، او هر كله چي د هغوئ خاوند هغه وياله ته بوځي او هغوئ د ويالې څخه اوبه چېښي كه څه هم د خاوند اراده د اوبو وركولو نه وي نو د اوبو د اندازې سره سم د هغه په حساب كې نيكى ليكل كيږي، د دې بيان

په اوريدو سره صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! د خرو څه حکم دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر ما د خرو حکم نه دئ نازل سوئ خو يوازي يو جامع آيت : (فمن يعمل ...) څوك چي د يوې ذرې په اندازه نيکي وکړي هغه به ويني او څوك چي د يوې ذرې په اندازه بدي وکړي هغه به ويني. مسلم.

(۱۶۸۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا { لَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ } الْآيَةَ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا ته چي الله تعالی شتمني ورکړې وي او د هغې زکوة يې ادا نه کړ نو د قيامت په ورځ به د هغه د شتمنۍ څخه يو مار جوړ سي چي د هغه په سترګو کي به دوې تورې شغلې وي او د مار څخه به طوق جوړ سي او د هغه په غاړه کي به واچول سي بيا به دا مار هغه تر دواړو وښکونه ونيسي او ورته وايي به زه ستا شتمني او ستا خزانه يم ، ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّٰهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) کوم خلك چي بخل کوي هغوئ دي دا ګمان نه کوي ....... الخ . بخاري .

(۱۶۸۳): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا تَكُونُ وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا كُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ . متفق عليه

د حضرت ابوذر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا سره چي اوښان، غواوي يا پسونه وي او د هغوئ حق (زکات) ادا نه کړي نو د قيامت په ورځ به دا شيان ډير لوی او په بد شکل کي راوستل سي او هغه کس به په خپلو پښو سره ميده. کوي او په خپلو ښکرونو سره به يې وهي او د هغوئ قطارونه به يو په بل پسې داسي کوي تر څو چي د خلکو ډ حساب او کتاب پريکړه و سي . بخاري او مسلم

## د زکوة اخيستونکی په خوښۍ واستوئ

(۱۶۸۴): وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ

د حضرت جرير بن عبدالله ؓ څخه روايت دئ چي

اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ . رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو ته زکوة اخیستونکی راسي نو تاسو ته پکار ده چي هغه ستاسو څخه راضي ولاړ سي. مسلم.

## زکوة ادا کونکي ته دعاء

(۱۶۸۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ فُلَانٍ فَأَتَاهُ أَبِيْ بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ أَبِيْ أَوْفٰى. متفق عليه وَفِيْ رِوَايَةٍ إِذَا أَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ بِصَدَقَتِهِ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ .

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ ته یو قوم د زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ به فرمایل: اې الله ! پر آل دفلاني باندي رحمت نازل کړې ، یوه ورځ زما پلار زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله ! پر آل دابو اوفی رحمت نازل کړې . بخاري او مسلم او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي هر کله به یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي د زکوة ورکولو لپاره راغلئ نو رسول الله ﷺ به فرمایل: اې الله ! پر ده رحمت وکړې .

(۱۶۸۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْعَبَّاسُ فقال رَسُول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا قَدْ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَدَهُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا مَعَهَا ثُمَّ قَالَ يَا عُمَرُ أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ حضرت عمر ﷺ د زکوة کارکونکی و ټاکئ ، یو چا رسول الله ﷺ خبر کړ چي ابن جمیل، خالد بن ولید او عباس زکوة نه دئ ورکړئ ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ابن جمیل خو له دې کبله د زکوة ورکولو څخه انکار کړئ دی چي (په یوه زمانه کي ) هغه مفلس او نیست مند وواو اوس الله تعالی او د هغه رسول هغه شتمن جوړ کړئ (د حضرت محمد ﷺ د دعاء په برکت دی غني سو)، او خالد بن ولید نو تاسو پر هغه ظلم کوئ (چي د هغه څخه زکات غواړئ) ځکه چي هغه خپل زغري اود جنګ ټول سامان د جهاد لپاره وقف کړئ دئ ، پاته سو عباس ﷺ نو د هغه زکوة پر ما واجب دئ او په مثل ددې نور هم ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : اې عمر ! ایا تا ته ځرګنده نه ده چي د سړي اکا د هغه د پلار په ډول وي، بخاري او مسلم.

## د زکوة وصول کونکي لپاره هدیه نسته

(١٦٨٧): وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا أُهْدِيَ فَخَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ رِجَالاً مِّنْكُمْ عَلَى أُمُوْرٍ مِّمَّا وَلَّانِيَ اللّٰهُ فَيَأْتِيْ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِيْ فَهَلاَّ جَلَسَ فِيْ بَيْتِ أَبِيْهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهِ فَيَنْظُرُ أَيُهْدٰى لَهُ أَمْ لاَ ؟ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِّنْهُ شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ إِنْ كَانَ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةً تَيْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ بِيَدِهِ حَتّٰى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ . متفق عليه . قال الخطابي : وفي قوله : " هلا جلس في بيت أمه أو أبيه فينظر أيهدى إليه أم لا ؟ " دليل على أن كل أمر يتذرع به إلى محظور فهو محظور وكل دخل في العقود ينظر هل يكون حكمه عند الانفراد كحكمه عند الاقتران أم لا ؟ هكذا في شرح السنة

د حضرت ابو حمید الساعدي ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د ازد د قبیلې څخه یو سړی چي ابن اللتبیه نومیدئ د زکوة کارکونکئ وټاکئ کله چي هغه مدینې ته راغلی نو مسلمانانو ته یې وویل : دا مال ستاسو دئ (یعني د زکوة مال) او دا مال ما ته د تحفې په ډول راکول سوی دئ ، د دې پېښې په اوریدو سره رسول الله ﷺ د خلکو په وړاندي خطبه وویل ، لومړی یې د الله تعالی حمد او ثناء بیان کړه بیا یې وفرمایل : زه په تاسو کي ځیني خلك پر ځینو کارو و ټاکم چي په هغه کي الله تعالی زه ټاکلی یم اوس په تاسو کي یو سړی راځي او دا وایي چيْ دا ستاسو مال دئ او دا ما ته تحفه راکړل سوې ده، هغه سړی دي د خپل مور اوپلار په کور کي کښیني او وه دي ګوري چي هغه ته څوك تحفه رالیږي یا نه ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده په تاسو کي چي څوك یو شی د (استحقاق څخه پرته) اخلي هغه به د قیامت په ورځ د هغه پر ښټ بار کړی راوړل سي که هغه شی اوښ وي نو د هغه آواز به وي که غواوي نو د هغې آواز به وي که پسه وي نو د هغه آواز به وي (یعني دا شیان به د هغه پرښټ سپاره وي او آوازونه به کوي) ددې وروسته رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه دومره پورته کړل چي مونږ د رسول الله ﷺ د بغلو سپین والی ولیدئ او وه یې فرمایل : اې الله ما ستا حکم ورسوئ اې الله ما ستا حکم ورسوئ . بخاري او مسلم ، خطابي ویلي دي چي د رسول الله ﷺ دا قول چي د خپل مور اوپلار په کور کي کښیني ددې لیدو لپاره چي ایا هغه ته څوك تحفه رالیږي که یا ، دا قول پر دې خبره د لیل دئ چي کوم شی د امر حرام ذریعه جوړه کړل سي هغه

وسيله هم حرامه ده او هر هغه عقد چي په عقود كي داخل وي نو كتل كيږي چي ايا ددې حكم يوازيني وخت هغه دئ چي د اجتماع په وخت كي دئ كه يا ، همداسي په شرح السنة كي بيان سوئ دئ.

**د زكوة وصول كونكى دي خيانت نه كوي**

﴿١٦٨٨﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُوْلًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم

د حضرت عدي بن عمير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي يو څوك په يو كار مامور سي (يعني عامل يا حاكم وټاكل سي) او بيا هغه زموږ څخه د ستني په اندازه يا ددې څخه زيات يو شى پټ كړي نو دا پټول خيانت دئ او د قيامت په ورځ به هغه د هغه شي سره راځي. مسلم.

## دويم فصل

**د زكوة نه وركونكو ته د قران كريم تنبيه**

﴿١٦٨٩﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ { وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ } قَالَ كَبُرَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا أُفَرِّجُ عَنْكُمْ فَانْطَلَقَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ إِنَّهُ كَبُرَ عَلَى أَصْحَابِكَ هٰذِهِ الْآيَةُ إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيْثَ وَذَكَرَ كَلِمَةً لِتَكُوْنَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ فَكَبَّرَ عُمَرُ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (والذين.... والفضة) او كوم خلك چي سره او سپين زر يو ځاى كوي، نو مسلمانانو دا ګران فكر وكړ ، حضرت عمر ﷺ خلكو ته وويل زه به ستاسو دا فكر ليري كړم او دا مشكل به مو حل كړم ، نو حضرت عمر د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر او عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! دا آيت ستاسو پر اصحابو درووند سوئ دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالى له دې كبله زكوة فرض كړئ دئ چي هغه ستاسو پاته مال پاك كړي ، او ميراث يې له دې كبله فرض كړئ دئ چي ستاسو كوم خلك پاته سي هغوئ ته مال تر لاسه سي ، ابن عباس وايي د رسول الله ﷺ د دې بيان په اوريدو سره حضرت عمر ﷺ د ډيري خوشحالي څخه الله اكبر ووايه، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ته د يو داسي غوره شي خبر در نه كړم چي د هغه په جمع كولو انسان خوشحاله كيږي او هغه شى نيكبخته ښځه ده چي د هغې په لور سړى

وګوري نو زړه یې خوشحاله سي او هر کله چي سړی هغې ته څه حکم ورکړي نو هغه یې ومني او هر کله چي هغه غائب وي نو د هغه د مال او اولاد ساتنه کوي . ابوداؤد

**د زکوة وصول کونکي خوشحاله کړئ**

(۱۶۹۰): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيْكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيَأْتِيكُمْ رُكَيْبٌ مُبْغَضُوْنَ فَإِنْ جَاءُوكُمْ فَرَحِّبُوا بِهِمْ وَخَلُّوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَبْتَغُوْنَ فَإِنْ عَدَلُوا فَلِأَنْفُسِهِمْ وَإِنْ ظَلَمُوا فَعَلَيْهَا وَأَرْضُوهُمْ فَإِنَّ تَمَامَ زَكَاتِكُمْ رِضَاهُمْ وَلْيَدْعُوا لَكُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت جابر بن عتيك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ته به يوه کوچنۍ قافله راسي (د زکوة اخيستلو لپاره) چي مبغوض به وي هر کله چي هغوئ تاسو ته راسي نو تاسو ښه راغلاست ورته واياست او د هغوئ په خدمت کي د زکوة مال حاضر کړئ او بل هيڅ شی د هغوئ او خپل په منځ کي حائل نه کړئ که هغوئ د زکوة په اخيستو کي د انصاف څخه کار واخلي نو هغوئ لپاره دا غوره ده او که ظلم وکړي نو د هغوئ وبال پر هغو دئ او تاسو زکوة اخيستونکي راضي کړئ او پوره زکوة ورکول د هغوئ رضامندي ده او کارکونکي ته پکار دي چي هغوئ تاسو ته دعاء وکړي . ابوداؤد .

(۱۶۹۱): وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ جَاءَ نَاسٌ يَعْنِي مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ يَأْتُوْنَا فَيَظْلِمُوْنَا فَقَالَ أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَإِنْ ظَلَمُوْنَا قَالَ أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ وَإِنْ ظُلِمْتُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت جرير بن عبدالله ﷺ څخه روايت دئ چي د صحراء د خلکو يو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول او عرض يې وکړ : زکوة اخيستونکی موږ ته راځي او پر موږ ظلم کوي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : تاسوزکوة اخيستونکي خلك راضي کړئ ، هغوئ عرض وکړای د الله رسوله ! که څه هم هغوئ پر موږ ظلم کوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زکوة اخيستونکي راضي کوئ که څه هم هغوئ پر تاسو ظلم وکړي . ابوداؤد

**د زکوة يو برخه پټول يا منع کول جائز نه دي**

(۱۶۹۲): وَعَنْ بَشِيْرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَةِ قَالَ قُلْنَا إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُوْنَ عَلَيْنَا أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُوْنَ فَقَالَ لَا . رواه ابوداؤد .

د حضرت بشير بن خصاصية ﷺ څخه روايت دئ چي موږ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي زکوة اخيستونکي پر موږ ظلم کوي يعني د اندازې څخه زيات مال راڅخه اخلي ايا په داسي حالت کي موږ خپل مال (د هغو څخه) پټوو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يا ، ابوداؤد

## د زکوة وصول کونکي اجر

(۱۶۹۳): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللّٰهِ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ . رواه ابوداؤد والترمذي .

د حضرت رافع بن خدیج ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل په انصاف او حق سره زکوة وصولونکی کارکونکی د الله په لار کي د غازي په ډول دئ تر څو چي هغه کور ته راستنیږي . ابوداؤد ترمذي .

## د زکوة اخیستونکي لپاره هدایت

(۱۶۹۴): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُورِهِمْ . رواه ابوداؤد .

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نه دي زکوة اخیستونکي حیوانان په را غوښتلو غواړي او نه دي زکوة ورکونکی حیوان لیري څیني بیايي بلکه د حیوانان زکوة دي د هغو په کورو کي وصول کړل سي . ابوداؤد

## د مال مستفاده د زکوة مسئله

(۱۶۹۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيهِ عَلَيْهِ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ ، رواه الترمذي و ذكر جماعة انهم وقفوه على ابن عمر .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي مال تر لاسه کړي نو پر هغه تر هغه وخته پوري زکوة نسته تر څو چي یو کال پر تیر نه سي ، ترمذي، د محدثینو یو ډله یادونه کوي چي هغوئ دا حدیث پر ابن عمر موقوف کړئ دئ .

## تر کال تیرېدو مخکي زکوة جائز دی

(۱۶۹۶): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَعْجِيلِ صَدَقَتِهِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذٰلِكَ . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي حضرت عباس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د ژر زکوة ادا کولو په اړه پوښتنه وکړه (یعني د کال تیریدو څخه وړاندي د زکوة ورکولو پوښتنه یې وکړه ) رسول الله ﷺ ددې اجازه ورکړه . ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، دارمي

## د نابالغ د مال د زکوة مسئله

(۱۶۹۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول

فَقَالَ أَلَا مَنْ وَلِيَ يَتِيمًا لَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرْ فِيهِ وَلَا يَتْرُكْهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الصَّدَقَةُ . رواه الترمذي و قال في اسناده مقال لان المثني بن الصباح ضعيف .

الله ﷺ خلكو ته خطبه وويل او وه يې فرمايل : څوك چي د يتيم سرپرست وي او د هغه يتيم سره مال وي نو هغه سرپرست ته پكار دي چي د هغه په مال سره تجارت وكړي او هغه بې تجارته نه پرېږدي ، ځكه چي كه سوداګري (تجارت) په مال ونه سي او زكات څيني وركول سي نو هغه مال كميږي . ترمذي ويلي دي ددې په اسنادو كي خبري سته ځكه چي مثنى بن صباح ضعيف دى .

## دريم فصل

### د مانعين زكوة سره د ابوبكر صديق ﷺ اقدام

(۱۶۹۸): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ قَالَ عُمَرُ بن الخطاب لابي بَكْرٍ كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا قَالَ عُمَرُ فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ وفات سو نو ابوبكر صديق ﷺ د رسول الله ﷺ خليفه وټاكل سو ، په عربو كي چي څوك كافر كيدل هغوئ كافران سول ، حضرت ابوبكر صديق ﷺ د هغوئ سره د جګړې اراده وكړه نو عمر بن خطاب ورته وويل ته ددې خلكو سره څنګه جګړه كوې حال دا چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل : ما ته حكم سوئ دئ چي زه تر هغه وخته د خلكو سره و جنګيږم تر څو پوري چي هغوئ لااله الاالله ونه وايي نو چا چي لااله الاالله وويل نو هغه زما څخه خپل ځان او مال وساتئ ، خو د الله تعالى او اسلام حق پر هغه پاته سو ، حضرت ابوبكر صديق ﷺ ورته وويل : قسم په خداى ﷺ زه به د هغه كس سره جنګيږم چي دلمانځه او زكوة په منځ كي فرق كوي زكوة د مال حق دئ ، په الله دي مي قسم وي كه خلك د ميږو بچيان هم نه راكوي كوم چي به د رسول الله ﷺ په زمانه كي وركول كېده نو زه به په دې انكار د هغوئ سره وجنګيږم ، حضرت عمر ﷺ وويل : قسم په خداى خبره هيڅ نه ده خو دا چي ما وليدل چي الله تعالى د ابوبكر سينه د غزا لپاره خلاصه كړې ده بيا ما ته څرګنده سوه چي د

حضرت ابوبکر صدیق رایه صحیح وه او هغه پر حق وو . بخاري او مسلم

**بېله زکاته خزانه د قیامت په ورځ عذاب وي**

(۱۶۹۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ . رواه احمد .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو خزانه به د قیامت په ورځ یو مار پك جوړ کړل سي د هغه خاوند به ځیني تښتي او هغه به وریسې ځغلي تر څو چي هغه لاندي کړي او د هغه ګوتي به ګوله کړي . احمد

(۱۷۰۰): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ رَجُلٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاةَ مَالِهِ إِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي عُنُقِهِ شُجَاعًا ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ { وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهِ } . الاية. رواه الترمذي و النسائي وابن ماجة .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د خپل مال زکوة ادا نه کړي د قیامت په ورځ به د هغه مال څخه الله تعالی مار جوړ کړي او د هغه په څټ کي به زړېدلي وي، بیا رسول الله ﷺ ددې په اړه د قرآن کریم دا آیت تلاوت کړ : ولا یحسبن الذین ....... ترمذي ، نسائي او ابن ماجه .

**په حلال مال کي د حرام مال ګډول د مال ضائع کول دي**

(۱۷۰۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا خَالَطَتِ الزَّكَاةُ مَالاً قَطُّ إِلاَّ أَهْلَكَتْهُ " . رواه الشافعي والبخاري في تاريخه والحميدي وزاد قال : يكون قد وجب عليك صدقة فلا تخرجها فيهلك الحرام الحلال . وقد احتج به من يرى تعلق الزكاة بالعين هكذا في المنتقى وروى البيهقي في شعب الإيمان عن أحمد بن حنبل بإسناده إلى عائشة . وقال أحمد في " خالطت " : تفسيره أن الرجل يأخذ الزكاة وهو موسر أو غني وإنما هي للفقراء

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي په کوم مال کي زکوة ګډ ود سي (یعني زکوة ځیني بېل نه سي ) نو هغه مال ضائع کیږي، شافعي، بخاري او حمیدي په دې روایت کي دا الفاظ زیات کړي چي پر تا زکوة واجب وي او ته هغه ور نه کړې نو حرام حلالو لره ضائع کوي دا حدیث د هغه خلکو لپاره دلیل دئ چي د زکوة عین سره د متعلق کیدو قائل دي ، او همداسي په منتقی کي دي او بیهقي په شعب الایمان کي د احمد بن حنبل څخه روایت کړئ دئ چي د هغې اسناد

بي بي عائشې ته رسيږي. او احمد د لفظ (خالطت) تفسير داسي بيان کړئ دئ چي هغه څوك زکوة اخلي چي خپله په زکوة ادا کولو مامور وي يا غني وي حال دا چي زکوة د فقيرانو لپاره دئ.

# بَابُ ما يَجب فيه الزكوة

## (په کومو شيانو کي زکوة واجب دئ)

## لومړی فصل

### د زکوة نصاب

﴿١٧٠٢﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْد الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ. متفق عليه

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر پنځو وسقو خرماوو څخه په کم کي زکوة واجب نه دئ او تر پنځه اوقيه څخه کم سپينو زرو باندي زکوة واجب نه دئ او تر پنځو سرو (دانو) اوښانو څخه په کم کي زکوة واجب نه دئ.

### د غلام او اس زكوة

﴿١٧٠٣﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِي عَبْدِهِ وَلَا فِي فَرَسِهِ، و في رواية قال ليس في عبده صدقة الا صدقة الفطر. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر مسلمانانو د هغه په آس او غلام کي زکوة واجب نه دئ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د مسلمانانو په غلام کي زکوة واجب نه دئ مگر صدقة فطر پر واجب دئ. بخاري او مسلم.

### د زکوة د نصاب تفصيل

﴿١٧٠٤﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِي فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ وَالَّتِي أَمَرَ اللّٰهُ بِهَا رَسُولَهُ فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِ فِي

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي ابوبکر صديق ﷺ هغه د بحرين په لور وليږئ نو دا حکم نامه يې وليکل د الله پنامه سره پيل کوم کوم چي ډير مهربان او زيات رحم کونکئ دئ، دا د هغه زکوة بيان دئ چي رسول الله ﷺ د الله تعالى په حکم سره پر مسلمانانو زکوة فرض کړئ دئ

أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الْإِبِلِ فَمَا دُونَهَا مِنَ الْغَنَمِ مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ إِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثَى فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلَاثِينَ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ أُنْثَى فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَسِتِّينَ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ فَفِيهَا جَذَعَةٌ فَإِذَا بَلَغَتْ يَعْنِي سِتًّا وَسَبْعِينَ إِلَى تِسْعِينَ فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْجَمَلِ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الْإِبِلِ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا فَفِيهَا شَاةٌ ومن بلغت عنده من الإبل صدقة الجذعة وليست عنده جذعة وعنده حقة فإنها تقبل منه الحقة ويجعل معها شاتين أن استيسرتا له أو عشرين درهما . ومن بلغت عنده صدقة الحقة وليست عنده الحقة وعنده الجذعة فإنها تقبل منه الجذعة ويعطيه المصدق عشرين درهما أو شاتين . ومن بلغت عنده صدقة الحقة وليست إلا عنده بنت لبون فإنها تقبل منه بنت لبون ويعطي شاتين أو عشرين درهما . ومن بلغت صدقته بنت لبون وعنده حقة فإنها تقبل منه الحقة ويعطيه المصدق عشرين درهما أو شاتين . ومن بلغت صدقته بنت لبون وليست عنده وعنده بنت مخاض فإنها تقبل منه بنت مخاض ويعطي معها عشرين

كله چي زكوة وغوښتل سي نو ددې پيمانې سره سم دي وركړل سي او كه ددې څخه زيات وغوښتل سي نو نه دي يې وركوي : په څلرويشتو اوښانو يا ددې څخه په كم كي زكوة داسي واجب دئ چي د هرو پنځو اوښانو پر سر يو پسه دئ او هر كله چي پوره پنځه ويشت اوښان وي نو تر پنځه ديرشو پوري يوه يوكلنه ښځينه اوښه ده، د شپږ ديرشو څخه تر پنځه څلوېښتو پوري دوه كلنه اوښه ده، او د شپږ څلوېښتو څخه تر شپيتو پوري درې كلنه اوښه چي لائقه د ختو د اوښ وي او د يو شپيتو څخه تر پنځه اويا پوري هغه اوښه چي د څلورو كاله وي او په پنځم كال كي داخله سوې وي، او د شپږ اويا څخه تر نيوي پوري دوه دوه كلني اوښي او د يو نيوي څخه تر يو سل اوشلو پوري دوې اوښي چي د درو درو كالو وي، او هر كله چي د يوسل او شلو څخه زيات سي نو د هر څلوېښتو پر سر دوه كلنه اوښه او د هر پنځوسو پر سر د درو درو كلو اوښه او د چا سره چي يوازي څلور اوښان وي نو پر هغه زكوة واجب نه دئ ، مگر كه خاوند يې وغواړي نو په نفلي ډول سره يې وركولاى سي هر كله چي پنځه اوښان سي نو يو پسه پر واجب دئ او د چا سره چي دومره اوښان وي چي په هغه كي څلور كلنه اوښه واجب وي يعني د يو شپيته څخه تر پنځه اويا پوري او هغه سره څلور كلنه اوښه نه وي درې كلنه وي نو درې كلنه اوښه دي ځيني قبوله

درهما أو شاتين . ومن بلغت صدقته بنت مخاض وليست عنده وعنده بنت لبون فإنها تقبل منه ويعطيه المصدق عشرين درهما أو شاتين . فإن لم تكن عنده بنت مخاض على وجهها وعنده ابن لبون فإنه يقبل منه وليس معه شيء وَفِي صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ شَاةٌ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ فَفِيهَا شَاتَانِ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ فَإِذَا كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا ولا تخرج في الصدقة هرمة ولا ذات عوار ولا تيس الا ماشاء المصدق ولا يجمع بين متفرق ولا يفرق بين مجتمع خشية الصدقة وما كان من خليطين فإنهما يتراجعان بينهما بالسوية وَفِي الرِّقَّةِ رُبْعُ الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا . رواه البخاري

کړي او که ورسره وي نو دوه پسونه دي ورکړي یا شل درهم دي ورسره کړي . او د چا سره چي دومره اوښان وي چي په هغو کي درې کلنه اوښه واجب وي یعني د شپږ څلويښتو څخه تر شپيتو او ښانو پوري وي او د هغه سره درې کلنه اوښه نه وي بلکه څلور کلنه اوښه ورسره وي نو څلور کلنه اوښه به د هغه څخه اخيستل کيږي او د زکوة اخيستونکئ به هغه ته دوه پسونه يا شل درهمه بيرته ورکوي ، د چا سره چي دومره اوښان وي چي درې کلنه اوښه پر واجب وي او د هغه سره درې کلنه اوښه نه وي بلکه دوه کلنه ورسره وي نو دوه کلنه اوښه دي ځيني واخيستل سي او زکوة ورکونکی دي دوه پسونه يا شل درهمه هغه ته نور ورکړي ، او د چا سره چي دومره اوښان وي چي پر هغو دوه کلنه اوښه واجب کيږي او د هغه سره دوه کلنه اوښه نه وي نو درې کلنه ه دي ځيني واخيستل سي او زکوة اخيستونکی دي هغه ته شل درهمه يا دوه پسونه ورکړي ، او د چا سره چي دومره اوښان وي چي په هغو کي دوه کلنه اوښه واجب وي او د هغه سره دوه کلنه اوښه نه وئ بلکه يو کلنه اوښه ورسره وي نو يو کلنه اوښه دي قبوله کړي او زکوة ورکونکی دي شل درهمه يا دوه پسونه نور هم ورکړي، او د چا سره چي دومره اوښان وي چي پر هغو يو کلنه اوښه واجب وي او د هغه سره دوه کلنه اوښه وي نو هغه دوه کلنه اوښه دي واخلي او زکوة اخيستونکئ دي شل درهمه يا دوه پسونه بيرته ورکړي او که يو کلنه اوښه نه وي دوه کلن (نر) ا وښ وي نو هغه دي ورکړي او هيڅ شی دي بيرته نه ورکول کيږي . د پسو زکوة دادئ : که د پسو پيونکئ وي نو د څلويښتو څخه تر شپيتو پسو پوري يو پسه واجب دئ او د شپږ شلو څخه (۱۲۰) چي تر دوو سوو پوري وي نو دوه پسونه دي ، او دوو سوو څخه تر درو سوو پوري درې پسونه دي او که تر درو سوو زيات

وي نو په هر سلو كي يو پسه دئ. او كه څرونكي پسونه تر څلوېښتو كم وي نو په هغو كي زكوة واجب نه دئ كه د هغه خاوند وغواړي نو د نفل په ډول څه وركولاى سي، په زكوة كي دي زوړ (حيوان) نه وركول كيږي او نه هم عيب داره، او دا حكم د اوښانو او غواوو هم دئ، او په زكوة كي دي بكر (نر) نه وركول كيږي البته كه زكوة اخيستونكي د يو مصلحت په وجه بوك (نر پسه) اخيستل وغواړي نو څه پروا نشته، ډول ډول حيوانان يو ځاى كول نه دي پكار يعني د څو ډولو حيوانانويو ځاى كولو څخه دي شمير نه پوره كول كيږي او نه دي د زكوة د بيري څخه حيوانان بيل بيل كړل سي او كوم شرعي نصاب چي د ذوو برخه لرونكو يعني د دوو شريكانو په منځ كي واجب دئ هغه دي دواړه برابر وويشي، او په سپينو زرو كي څلوېښتمه برخه زكوة واجب دئ كه د يو چا سره يو سل نيوي درهمه وي نو په هغو كي زكوة واجب نه دئ البته كه د هغه خاوند و غواړي دخيرات په ډول يې وركړي نو كولاى سي. بخاري.

**د عشر وركولو حكم**

﴿١٧٠٥﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيمَا سَقَتْ السَّمَاءُ وَالْعُيُوْنُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ. رواه البخاري

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كومه مځكه چي آسمان (باران) اوبه كړي وي يا چينو او يا په خپله شنه سوې وي نو په هغې كي لسمه برخه (زكوة) واجب دئ او كومه مځكه چي په څاه اوبه كيږي د هغې د حاصلاتو شلمه برخه واجب ده. بخاري

**په خزانو كي زكوة**

﴿١٧٠٦﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه حيوان څوك ژوبل كړي نو معاف دئ كه په څاه كي ولويږي مړ سي نو معاف دئ. كه په كان كنبلو كي څوك مړ سي نو معاف دئ او په كان يا پخوانى ښخه سوې خزانه كي پنځمه برخه زكوة واجب دئ بخاري او مسلم.

## دويم فصل

**د غوا او غويي زكوة**

﴿١٧٠٧﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَفَوْتُ عَنِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيْقِ فَهَاتُوا

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما د هغه غلامانو ا و آسانو زكوة

صَدَقَةَ الرِّقَةِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمًا وَلَيْسَ فِي تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، رواه الترمذي و ابوداؤد و في رواية لابي داؤد عَنِ الْحَارِثِ الْاَعْوَرِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ زُهَيْرٌ اَحْسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّه قَالَ هَاتُوا رُبْعَ الْعُشْرِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ شَيْءٌ حَتَّى تَتِمَّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ فَمَا زَادَ فَعَلَى حِسَابِ ذَلِكَ وَفِي الْغَنَمِ فِي أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ الى عشرين ومائة فان زادت واحدة فشاتان الى مائتين فان زادت فثلث شياة الى ثلاث مائة فاذا زادت على ثلاث مائة ففي كل مائة شاة فان لم تكن الا تسع و ثلثون فليس عليك فيها شيئ وَفِي الْبَقَرِ فِي كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعٌ وَفِي الْأَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ .

(چي د تجارت لپاره نه وي) معاف کړ او تاسو زکوة د سپينو زرو څلوېښت درهمو باندي يو درهم ادا کوئ او پر يو سل نيوي درهمو باندي زکوة نسته او هر کله چي پوره دوه سوه درهمه سي نو پر هغه پنځه درهمه واجب دي . ترمذي، ابوداؤد د ابوداؤد په يوره روايت کي دي چي د زهير څخه نقل دئ چي زهير وويل : زما په خيال کي حارث اعور ته چي هغه وويل چي حضرت علي بيان وکړ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هر څلوېښت درهمو کي تاسو څلوېښتمه برخه ادا کوئ او تر هغه وخته پوري پر تاسو هيڅ واجب نه دي تر څو پوري چي پوره دوه سوه درهم نه سي بيا هر کله چي پوره دوه سوه درهمه سي نو په هغو کي پنځه درهمه واجب دي او څومره چي د دوو سوو درهمو څخه زيات وي په هغه حساب سره زکوة واجب دئ او په پسو کي پر هر څلوېښت باندي يو پسه واجب دئ ، تر يو سل او شلو پوري او هر کله چي پر دې شمير باندي يوه هم زياته سي نو دوه پسونه واجب دئ تر دوو سوو پوري او که تر دوو سوو زيات سي نو پر درو سوو باندي درې پسونه واجب دي او که تر درو سوو زيات سي نو په هر سل کي يو پسه واجب دئ ، او که کم يعني يو کم څلوېښت پسونه وي نو پر هغو هيڅ شی واجب نه دئ او په غواوو کي پر هر ديرشو غواوو باندي يو کلن گيلگی. او پر څلوېښتو باندي يوه غوا چي دوه کلنه وي او د کار پر حيوانانو باندي زکوة نسته .

(١٧٠٨): وَعَنْ مُعَاذٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الْبَقَرِ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعًا أَوْ تَبِيعَةً وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةً. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي والدارمي .

د حضرت معاذ ؓ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ هغه د يمن په لور وليږئ حکم يې ورکړ چي په غواوو کي پر ديرشو غواوو د يو کلن گيلگي زکوة اخله او په څلوېښتو کي دوه کلنه غوا اخله . ابوداؤد، ترمذي او نسائي .

### تر مقدار زيات زكوة اخيستل گناه ده

| | |
|---|---|
| ﴿١٧٠٩﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا. رواه ابوداؤد والترمذي . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په زكوة كي زياتي كونكى د هغه چا په ډول دئ چي د زكوة څخه انكار كونكى |

وي يعني د دوارو يو ډول گناه ده . ابوداؤد او ترمذي .

### د غلې او خرماوو زكوة

| | |
|---|---|
| ﴿١٧١٠﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتَّى تَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ . رواه النسائي . | د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په غله او خرماوو كي زكوة نسته تر څو چي د هغو اندازه پنځو وسقو (ديرشو منو) ته ونه رسيږي . نسائي . |
| ﴿١٧١١﴾: وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ عِنْدَنَا كِتَابُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ الصَّدَقَةَ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَالزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ . مرسل رواه في شرح السنة | د حضرت موسى بن طلحه ﷺ څخه روايت دئ چي زموږ سره د معاذ بن جبل هغه خط موجود دئ چي هغه ته نبي كريم ﷺ ليږلئ وو ، د معاذ بيان دئ چي نبي كريم ﷺ ما ته حكم راكړئ وو چي د غنمو ، اوربشو ، انگورو او خرماوو |

باندي زكوة وصول كړم . شرح السنة مرسلا .

### د انگورو زكات

| | |
|---|---|
| ﴿١٧١٢﴾: وَعَنْ عَتَّابِ ابْنِ أَسِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي زَكَاةِ الْكُرُومِ إِنَّهَا تُخْرَصُ كَمَا يُخْرَصُ النَّخْلُ ثُمَّ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ زَبِيبًا كَمَا تُؤَدَّى زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا. رواه الترمذي و ابوداؤد . | د حضرت عتاب ابن اسيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د انگورو په اړه دا فرمايلي دي چي انگور دي اندازه كړل سي او د وچو انگورو موافق دي زكوة ادا كړل سي څنگه چي د وچو خرماوو ادا كيږي . ترمذي ابوداؤد. |
| ﴿١٧١٣﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ أَبِي حَثْمَةَ حَدَّثَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ إِذَا خَرَصْتُمْ فَخُذُوا وَدَعُوا الثُّلُثَ فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا الثُّلُثَ فَدَعُوا | د حضرت سهل بن ابي حثمة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي هر كله چي تاسو د خرماوو او انگورو زكوة اندازه كړئ نو د واجب اندازه سوي اندازې څخه دريمه حصه پريږدي او كه دريمه حصه نه پريږدي نو |

الرُّبُعَ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي | خلورمه حصه پريږدي (مالك ته). ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

## د خرماوو اندازه

(۱۷۱۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْعَثُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ رَوَاحَةَ إِلَى يَهُودَ فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به عبدالله بن رواحه د خيبر د يهودو په لور ليږئ او هغه به د خرماوو اندازه هغه وخت كول چي په هغو كي به خوږوالى پيدا سو مگر د خوراك به لا نه وه . ابوداؤد.

## په شاتو (عسلو) كي زكات

(۱۷۱۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَسَلِ فِي كُلِّ عَشَرَةِ أَزُقٍّ زِقٌّ . رواه الترمذي و قال في اسناده مقال ولا يصح عن النبي صلى الله عليه وسلم في هذا الباب كثير شئ .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په لس ژيو شاتو كي دي يو ژى شات واخيستل سي ، ترمذي ويلي دي ددې حديث په سند كي شبه ده او د شاتو په اړه د رسول الله ﷺ څخه زيات نقل نسته .

## په زيوراتو كي زكوة

(۱۷۱۶): وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَتْ خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الترمذي

د حضرت عبدالله بن مسعود د ښځي بي بي زينب څخه روايت دئ چي زموږ په وړاندي رسول الله ﷺ خطبه وويل چي : اې ښځو د خپل مال زكوة وركوئ كه څه هم هغه ستاسو جامي وي څكه په تاسو كي به د قيامت په ورځ زياتي دوږخياني وي . ترمذي

(۱۷۱۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ أَتَتَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي أَيْدِيهِمَا سُوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ لَهُمَا أَتُؤَدِّيَانِ زَكَاتَهُ قَالَتَا لَا فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُحِبَّانِ أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللّٰهُ بِسُوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ قَالَتَا لَا قَالَ فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث قد روي المثني ابن الصباح عن

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي دوې ښځي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضري سوې او د هغو په لاسو كي دوه باهوگان وه د سرو زرو، رسول الله ﷺ د هغو څخه پوښتنه وكړه ايا تاسو ددې زكوة وركوئ ؟ هغوئ عرض وكړ يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا تاسو غواړئ چي الله تعالى تاسو ته د اور باهوگان

عمروبن شعيب نحو هذا والمثنى ابن الصباح وابن لهيعة يضعفان في الحديث و لا يصح في هذا الباب عن النبي صلى الله عليه و سلم شئ .

واچوي، هغوئ عرض وكړ :يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې زكوة ادا كړئ ، ترمذي ويلي دي دا حديث مثنى بن صباح د عمربن شعيب څخه داسي روايت كړئ دئ ابن صباح او ابن لهيه دواړه ضعيف دي په دې اړه د نبي كريم ﷺ څخه صحيح حديث منقول نه دئ .

(۱۷۱۸): وَعَنْ أُمِّ سَلْمَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَكَنْزٌ هُوَ فَقَالَ مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ . رواه مالك و ابوداؤد .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي ما به اوضاح (د كالو نوم دئ) اغوستل چي د سرو زرو وه ، ما يوه ورځ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه ايا دا (كالي) هم كنز (خزانه) دئ (د كوم وعيد چي په قرآن كريم كي راغلئ دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل كه دا هغه اندازې ته رسيږي چي پر هغه زكوة واجب دئ او د هغه زكوة ادا كړل سي نو بيا دا كنز نه دئ . مالك ابوداؤد.

## د تجارت د مال زكوة

(۱۷۱۹): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ . رواه ابوداؤد ..

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به موږ ته حكم راكوئ چي كوم مال موږ د تجارت لپاره تيار كړئ دئ په هغو كي زكوة وركوو . ابوداؤد.

## دكان د زكوة مسئله

(۱۷۲۰):وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ وَهِيَ مِنْ نَاحِيَةِ الْفُرْعِ فَتِلْكَ الْمَعَادِنُ لَا يُؤْخَذُ مِنْهَا إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ربيعة بن ابي عبدالرحمن ﷺ د ډيرو صحابه كرامو څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ بلال بن حارث مزني ﷺ ته د قبليه نامي ځاى كانونه وركړي وه او د هغو كانو څخه تر اوسه پوري يوازي زكوة اخيستل كيږي يعني څلوېښتمه برخه او خمس (پنځمه برخه) ځيني نه سي اخيستل كيدلاى ځكه چي د كانو په اړه حكم دئ . ابوداؤد .

## دريم فصل

### په شينگياوو کي زکوة نشته

(۱۷۲۱): عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ فِيْ الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ وَلاَ فِي الْعَرَايَا صَدَقَةٌ وَلاَ فِيْ أَقَلِّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ وَلاَ فِي الْعَوَامِلِ صَدَقَةٌ وَلاَ فِي الْجَبْهَةِ صَدَقَةٌ قَالَ الصَّقْرُ: اَلْجَبْهَةُ الْخَيْلُ وَالْبِغَالُ وَالْعَبِيْدُ. رواه الدارقطني

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په سبزيجاتو کي زکوة واجب نه دئ او نه په هغه درختو کي چي د چا څخه مستعار (العرايا) هغه درخته چي مالك يې بل چا ته اجازه ورکړې وي چي ميوه يې ته خوره اخيستل سوي وي او پر پنځو وسقو (ديرش منه) کم اندازه باندي زکوة واجب نه دئ او نه د کار پر حيوانانو زکوة سته ، او نه پر جبهة باندي زکوة سته . صقر راوي وايي چي جبهة (آس، غاتره، او غلام ته وايي) دارقطني . (مستعار : د يو څو ورځو لپاره په پور اخيستل سوي ته وايي) .

### د وقص حيوانانو مسئله

(۱۷۲۲): وَعَنْ طَاوُسٍ أَنَّ مُعَاذَ بْنِ جَبَلٍ أُتِيَ بِوَقْصِ الْبَقَرِ فَقَالَ لَمْ يَأْمُرْنِيْ فِيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ. رواه الدارقطني والشافعي وقال: الوقص ما لم يبلغ الفريضة

د حضرت طاؤس ﷺ څخه روايت دئ چي معاذ بن جبل ته د غواوو دومره شمير راوړل سو چي په هغو کي زکوة واجب نه وو ، هغه وويل نبي کريم ﷺ ما ته پر دومره شمير باندي د زکوة اخيستلو حکم نه دئ راکړئ ، دارقطني او شافعي، مگر شافعي ويلي دي چي د وقص څخه مراد هغه اندازه ده چي د نصاب څخه کم وي او فرضيت ته ونه رسيږي .

# بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ (د سرسايې بيان)

## لومړی فصل

### سرسايه واجب ده که فرض؟

(۱۷۲۳): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ صدقه فطر (سرسايه) فرض کړې ده پر مسلمانانو باندي پر هر غلام، آزاد، نر، ښځي، کوچني او سپين ږيري

وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ . متفق عليه

باندي يو صاع (كاسه) اور بشي يا خرماوي او حکم يې کړئ دئ چي دا دي لمانځه ته تر تلو وړاندي ادا کړل سي. بخاري او مسلم. صاع تقريبا څلور سيره کيږي.

**د سرسايې اندازه**

﴿١٧٢٤﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ . متفق عليه

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ به صدقه فطر د خوراك (يعني غنمو) څخه يوصاع يا د وربشو څخه يو صاع يا د خرماوو څخه يو صاع يا د پنيرڅخه يو صاع يا د وچو انګورو څخه يو صاع ورکول. بخاري او مسلم.

# دويم فصل

﴿١٧٢٥﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي آخِرِ رَمَضَانَ أَخْرِجُوا صَدَقَةَ صَوْمِكُمْ فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الصَّدَقَةَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د روژې په آخر کي خلکو ته وويل: تاسو د خپلو روژو صدقه ادا کړئ دا صدقه رسول الله ﷺ پر هر يو مسلمان فرض کړې ده که هغه آزاد وي يا غلام، ښځه وي يا نر، کوچنی وي يا لوی د هر يوه د لوري څخه د يو صاع د خرماوو څخه يا اوربشو څخه او نيم صاع د غنمو څخه (ورکوئ) ابوداؤد او نسائي.

**د سرسايې واجب کېدل ولي دي ؟**

﴿١٧٢٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د پالتو خبرو او لغو کلام څخه د پاکولو لپاره رسول الله ﷺ صدقه فطر واجب کړې ده اود مسکينانو د خوراك لپاره يې واجب کړې ده. ابوداؤد.

## دریم فصل

### د سرسایې اندازه

| | |
|---|---|
| ﴿۱۷۲۷﴾: عَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَیْبٍ عَنْ أَبِیْهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُنَادِیًا فِي فِجَاجِ مَکَّةَ أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ ذَکَرٍ أَوْ أُنْثٰی حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ صَغِیْرٍ أَوْ کَبِیْرٍ مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ . رواه الترمذي | حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ د مکې په کوڅو کي يو اعلان کونکی ولیږئ چي صدقه فطر پر هر مسلمان واجب ده که هغه نارینه وي یا ښځینه ، آزاد وي یا غلام ، کوچنی وي یا لوی دوه مد (نصف صاع) د غنمو |

څخه او ددې څخه پرته نور د خوراك د شیانو څخه يو صاع . ترمذي

| | |
|---|---|
| ﴿۱۷۲۸﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ أَوْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي صُعَیْرٍ عَنْ أَبِیْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَاعٌ مِنْ بُرٍّ أَوْ قَمْحٍ عَلٰی کُلِّ اثْنَیْنِ صَغِیْرٍ أَوْ کَبِیْرٍ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَکَرٍ أَوْ أُنْثٰی أَمَّا غَنِیُّکُمْ فَیُزَکِّیْهِ اللّٰهُ وَأَمَّا فَقِیْرُکُمْ فَیَرُدُّ اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ أَکْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهُ . رواه ابوداؤد. | حضرت عبدالله بن ثعلبه یا ثعلبه بن عبدالله بن ابي صغیر د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : صدقه فطر واجب ده يو صاع د غنمو د دوارو د لوري که هغه کوچنی وي یا لوی، آزاد وي یا غلام، سړی وي یا ښځه . ستاسو غني الله تعالی پاکوي او فقیر ته |

الله تعالی زیات ورکوي څومره چي هغه ورکړي وي . ابوداؤد .

# بَابُ من لا تَحل له الصدقة

## (هغه كسان چي زكوة اخيستل ورته حرام دئ)

## لومړی فصل

### نبي كريم ﷺ ته د زكوة مال خوړل حرام وه

﴿١٧٢٩﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرَةٍ فِي الطَّرِيقِ فقَالَ لَوْلَا أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ مِنْ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر لاره روان وو او يوه خرما يې پر لاره پيدا كړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : كهٔ زه نه بيريدلای چي دا خرما د زكوة ده نو ما به خوړلې وای . بخاري او مسلم .

### بني هاشم ته د زكوة او صدقې مال خوړل حرام دي

﴿١٧٣٠﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِخْ كِخْ لِيَطْرَحَهَا ثُمَّ قَالَ أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي حسن بن علي د خرماوو څخه يوه خرما پورته كړه او په خوله كي يې واچول ، نبي كريم ﷺ د هغه د منع كولو او خرما غورزولو لپاره كخ كخ وويل ، بيا يې فرمايل : ايا تا ته څرگنده نه ده چي موږ خلك (يعني بنوهاشم) صدقه او زكوة نه خورو . بخاري او مسلم .

### زكوة د انسان خيره ده

﴿١٧٣١﴾: وَعَنْ عَبْدِالْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ . رواه مسلم .

د حضرت عبد المطلب بن ربيعة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا صدقې (زكوة او داسي نور) د خلكو خيري دي او ددې خوراك د محمد او د هغه د اولاد لپاره جائز نه دئ . مسلم

### د صدقې د مال څخه د رسول الله ﷺ احتياط

﴿١٧٣٢﴾: وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ فَإِنْ قِيلَ صَدَقَةٌ قَالَ لِأَصْحَابِهٖ كُلُوا وَلَمْ يَأْكُلْ وَإِنْ قِيلَ هَدِيَّةٌ ضَرَبَ بِيَدِهٖ ص فَأَكَلَ مَعَهُمْ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته به يو چا خوراك راوړئ نو پوښتنه به يې كول چي دا هديه ده او كه صدقه ، كه هغه به ويل چي دا صدقه ده نو

رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته وفرمايل تاسو يې وخورئ او په خپله يې نه خوړل ، او که هغه به ويل چې هديه ده نو رسول الله ﷺ به د خوراك لپاره لاس وړاندې کړي او د صحابه کرامو سره به يې خوړل. بخاري او مسلم.

**د تمليک مسئله**

| | |
|---|---|
| (۱۷۳۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ اِحْدَى السُّنَنِ اَنَّهَا عُتِقَتْ فَخُيِّرَتْ فِيْ زَوْجِهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَاءُ لِمَنْ اَعْتَقَ وَدَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْبُرْمَةُ تَفُوْرُ بِلَحْمٍ فَقُرِّبَ اِلَيْهِ خُبْزٌ وَاُدْمٌ مِنْ اُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ اَلَمْ اَرَ بُرْمَةً فيها لحم قالوا بلى ولكن ذالك لحم تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ هو عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ . متفق عليه. | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې د بريرې (د بي بي عائشې مينځې) له کبله درې سنت په وجود کې راغلل يو خو دا چې هغه آزاده سوه او اختيار ورکړل سو چې هغه خپل خاوند قائم وساتي، دويم دا چې رسول الله ﷺ وفرمايل د مينځې ميراث د هغه چا دئ څوك چې يې آزاده کړي . دريم دا چې رسول الله ﷺ کور ته تشريف راوړ او وه يې ليدل چې د غوښو کټو ښه په جوش باندې ده بيا رسول الله ﷺ |

ته ډوډۍ او د کور سبزيجات وړاندې سول ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا کټو نه ده پخه چې په هغه کې غوښه وه ؟ عرض يې وکړ : هو، مگر هغه د صدقې غوښه ده چې بريره ته ورکړل سوه او تاسو صدقه نه خورئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا غوښه د بريره لپاره صدقه ده او زموږ لپاره هديه ده . بخاري او مسلم.

**رسول الله ﷺ تحفه قبلول او د هغې بدله يې ورکول**

| | |
|---|---|
| (۱۷۳۴): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا . رواه البخاري | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به هديه قبلول او د هغې بدله به يې ورکول . بخاري |

**معمولي شی هم قبلول**

| | |
|---|---|
| (۱۷۳۵): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ وَلَوْ اُهْدِيَ اِلَيَّ ذِرَاعٌ لَقَبِلْتُ . رواه البخاري. | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : که د پسه د پنډۍ ما ته بلنه راکړل سي نو زه به يې قبلوم او که ما ته يو ورون په تحفه کې راکړل سي نو زه يې قبلوم (مراد ادنی او معمولي شی دئ) بخاري |

**مسکین څوک دی ؟**

﴿١٧٣٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلٰكِنَّ الْمِسْكِينُ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسکين هغه څوك نه دئ چي د خلکو څخه يې غواړي او هغه يوه گوله يا دوې گولې يا يوه خرما يا دوې خرماوي ورکړل سي بلکه مسکين هغه دئ چي دومره مال نه لري چي هغه بې پروا کړي او نه چا ته د هغه محتاج کېدل معلوم وي چي هغه ته صدقه ورکړل سي او نه هغه چا ته د غوښتلو لپاره ورسي . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

**د بني هاشم غلامانو ته هم د زکوة مال اخيستل حرام دي**

﴿١٧٣٧﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ عَلَى الصَّدَقَةِ فَقَالَ لِأَبِي رَافِعٍ اصْحَبْنِي كَيْمَا تُصِيبَ مِنْهَا فَقَالَ لَا حَتّٰى آتِيَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا وَإِنَّ مَوَالِيَ الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بني مخزوم يو سړی د زکوة وصولولو لپاره و ټاکئ ، هغه ابو رافع ته وويل چي ته هم زما سره ولاړ سه چي تا ته هم د زکوة څخه څه تر لاسه سي ، ابورافع ورته وويل : تر څو چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړم نه درسره ځم ، نو ابورافع د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د هغه سړي سره يې د تلو اجازه وغوښتل رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زکاة موږ خلکو (يعني بنو هاشم) لپاره حلال نه دئ او د بنو هاشم آزاد کړل سوی غلام هم د بنو هاشم په حکم کي داخل دئ . ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي .

**زکات د چا لپاره د زکوة اخيستل حلال نه دئ**

﴿١٧٣٨﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي و رواه احمد والنسائي وابن ماجه عن ابي هريرة.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د شتمن لپاره زکوة اخيستل رواه نه دئ او نه د هغه چا لپاره چي روغ او توانا وي (او دکار کسب کولو توان لري)، ترمذي ابوداؤد ، نسائي، دارمي، احمد، او ابن ماجه د ابوهريرة ﷺ څخه .

**روغ او توان لرونكي ته زكوة اخيستل مناسب نه دي**

(۱۷۳۹): عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ قَالَ أَخْبَرَنِي رَجُلَانِ أَنَّهُمَا أَتَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يُقَسِّمُ الصَّدَقَةَ فَسَأَلَاهُ مِنْهَا فَرَفَعَ فِينَا الْبَصَرَ وَخَفَضَهُ فَرَآنَا جَلْدَيْنِ فَقَالَ إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا وَلَا حَظَّ فِيهَا لِغَنِيٍّ وَلَا لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ. رواه ابوداؤد والنسائي.

د حضرت عبيدالله بن عدي بن الخيار ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته دوو كسانو بيان وكړ چي هغوئ په حجة الوداع كي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سول ، دغه وخت رسول الله ﷺ د زكوة مال ويشئ ، هغوئ د رسول الله ﷺ څخه د زكوة مال وغوښتئ ، رسول الله ﷺ هغوئ ته په غور سره وكتل بيا يې لاندي باندي ورته وكتل او موږ دواړه يې قوي وليدلو بيا يې وفرمايل : كه تاسو غواړئ نو زه به يې تاسو ته دركړم مگر په دې كي نه خو د شتمن برخه سته او نه د هغه چا چي د كار او كسب توان لري . ابوداؤد ، او نسائي .

**په ځيني صورتو كي غني ته هم زكوة اخيستل حلال دي**

(۱۷۴۰): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ لِغَازٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا أَوْ لِغَارِمٍ أَوْ لِرَجُلٍ اشْتَرَاهَا بِمَالِهِ أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ فَأَهْدَى الْمِسْكِينُ لِلْغَنِيِّ. رواه مالك و ابوداؤد و في رواية لابي داؤد عن ابي سعيد اوابن السبيل.

د حضرت عطاء بن يسار څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زكوة د شتمن لپاره روا نه دئ ، مگر يوازي د پنځو كسانو لپاره حلال دئ : د خدای په لار كي جهاد كونكي لپاره ،دويم د زكوة كاركونكي لپاره، دريم د تاوان پوره كولو والا لپاره، څلورم د هغه چا لپاره چي د يو مفلس څخه د زكوة مال رانيسي ، پنځم د هغه چا لپاره چي د هغه همسايه غريب وي او هغه ته زكوة وركړل سي او هغه د زكوة د مال څخه هغه غني ته هديه وركړي وي. مالك ، ابوداؤد ، د ابوداؤد په يوه روايت كي دي چي ابو سعيد څخه د مسافر لفظ هم نقل دئ .

**د زكوة مستحق هغه كسان دي كوم چي په قران كي دي**

(۱۷۴۱): وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ أَتَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَعْطِنِي مِنَ الصَّدَقَةِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت زياد بن الحارث الصدائي ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم د رسول الله ﷺ په لاس مي بيعت وكړ ، د دې وروسته هغه يو اوږد حديث بيان كړ بيا

تَعَالَى لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي الصَّدَقَاتِ حَتَّى حَكَمَ فِيهَا هُوَ فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ . رواه ابوداؤد .

يې وويل : يو كس د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د زكوة مال يې وغوښتئ ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل : د زكوة په اړه الله تعالى نه خو د يو نبي په حكم راضي سو او نه د غير نبي ، بلكه خپله الله تعالى د زكوة مصرف (وړ) بيان كړ، الله تعالى زكوة پر اته برخو ويشلئ دئ يعني د اتو ډولو كسانو لپاره الله تعالى د زكوة مال حلال كړئ دئ كه ته دْ هغو اتو كسانو څخه يې نو زه به زكوة دركړم . ابوداؤد.

## دريم فصل

**د حضرت عمر ﷺ يو واقعه**

﴿۱۷۴۲﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا فَأَعْجَبَهُ فَسَأَلَ الَّذِي سَقَاهُ مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُونَ فَحَلَبُوا لِي مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِي سِقَائِي فَهُوَ هَذَا فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. رواه مالك و البيهقي في شعب الايمان

د حضرت زيد بن اسلم ﷺ څخه روايت دئ چي عمر بن الخطاب ﷺ يوه ورځ شيدې وچښلې او ښه پر ولګېدلې ، چا چي شيدې وركړې وې د هغه څخه يې پوښتنه وكړه دا شيدې د كوم ځاى دي هغه ورته وويل : د اوبو يو ځاى ته د زكوة اوښان راغلل هلته يې اوبه څښلې ، د اوښانو خاوند د هغه شيدې ولوښلې او دا لږ شيدې ما په خپل زي كي واچولې دا هغه شيدې دي ، عمر ﷺ په خوله كي ګوته ننه ايستل او هغه شيدې يې قى كړې . مالك ، بيهقي په شعب الايمان كي .

# بَابُ مَنْ لاَ تَحِلُّ لَهُ الْمَسْئَلَةُ و مَنْ تَحِلُّ لَهُ

## (چا ته سوال كول روا نه دئ او چا ته روا دئ)

## لومړى فصل

**چا ته سوال كول جائز دي**

﴿۱۷۴۳﴾: عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ قَالَ تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ فِيهَا فَقَالَ أَقِمْ حَتَّى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَأْمُرَ لَكَ بِهَا قَالَ

د حضرت قبيصه بن خارق الهلالي ﷺ څخه روايت دئ چي ما د يو پور ضمانت پر غاړه واخيستئ ، بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي

ثُمَّ قَالَ يَا قَبِيصَةُ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ رَجُلٍ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتَّى يَقُومَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِي الْحِجَا مِنْ قَوْمِهِ لَقَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتًا يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا. رواه مسلم .

حاضر سوم د پور د ادا کولو لپاره مي سوال وکړ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : يو ځو ورځي تم سه موږ ته د زکوة مال راتلونکی دئ د هغه څخه به يې درکړو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : اې قبيصه ! سوال کول يوازي درو کسانو ته جائز دئ : يو هغه چا ته چي د يو پور ضمانت يې کړي وي هغه ته دومره اندازه غوښتل جائز دي چي په هغه سره خپل پور ادا کړي او دهغه وروسته بيا ئه ونه غواړي، دويم هغه کس ته چي په يو آفت او ستونزه کي اخته وي هغه ته دومره غوښتل پکار دي چي په هغه سره يې ضرورت پوره سي يا ژوند يې قائم پاته سي، دريم هغه کس ته چي لوږه پر راسي او د محل درې کسان ددې شاهدي ورکړي چي اوږی دئ نو هغه ته هم سوال کول جائز دي يوازي دومره چي ژوند يې پر قائم پاته سي . ددې خلکو څخه پرته اې قبيصه ! بل چا ته سوال کول صحيح نه دي او که يو څوك ددې څخه پرته سوال کوي نو دا سوال حرام دئ او هغه حرام مال خوري . مسلم

## پر سوال کولو باندي وعيد

(۱۷۴۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د خلکو څخه ددې لپاره سوال وکړي چي د هغوئ څخه مال واخلي او خپل مال زيات کړي نو هغه گويا د اور سکروټه غواړي اوس نو هغه ته اختيار دئ که ډير غواړي او يا لږ غواړي . مسلم

## د قيامت په ورځ د سوال کولو پای

(۱۷۴۵): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مزعة لَحْمٍ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو کس به هميشه د خلکو څخه سوال کوي تر دې چي د قيامت په ورځ به هغه په داسي حال کي راسي چي د هغه پر مخ به د غوښو يوه ټوټه هم نه وي . بخاري او مسلم .

## په سوال كولو كي مبالغه كول نه دي ښكار

﴿١٧٤٦﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُلْحِفُوا فِي الْمَسْأَلَةِ فَوَاللّٰهِ لَا يَسْأَلُنِي أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا فَتُخْرِجَ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّي شَيْئًا وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتُهُ. رواه مسلم

د حضرت معاوية ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په سوال كولو كي مبالغه مه كوئ په الله دي مي قسم وي زما څخه چي څوك يو شی په داسي حال كي وغواړي چي د هغه وركول زه بد ګنم نو كوم شی چي زه وركړم او په هغه كي دي بركت راسي (يعني دا دواړه نه سي يو ځاى كيدلاى) يعني څوك چي زما څخه يو شی غواړي او د هغه وركول زه بد ګنم نو په هغه كي دي بركت نه وي. مسلم

## مزوري كول تر سوال كولو غوره دي

﴿١٧٤٧﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الْحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا فَيَكُفَّ اللّٰهُ بِهَا وَجْهَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ. رواه البخاري

د حضرت زبير بن العوم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي چي څوك خپله رسۍ واخلي او پر شا د لرګو يو پيتي راوړي هغه خرڅ كړي او الله تعالى د معاش په دې ذريعه د هغه عزت برقرار وساتي نو دا تر دې غوره ده چي هغه د خلكو څخه سوال وكړي او هغوئ يې وركړي يا يې نه وركړي. بخاري

## لوړ لاس تر كښته لاس غوره دي

﴿١٧٤٨﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَانِي ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي ثُمَّ قَالَ يَا حَكِيمُ إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى قَالَ حَكِيمٌ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. متفق عليه

د حضرت حكيم بن حزام ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه سوال وكړ او هغه زما سوال پوره كړ، بيا مي سوال وكړ او بيا يې راكړل، بيا يې راته وفرمايل: اې حكيم! دا مال شين او خوږ دئ څوك چي دا په بې پرواهي سره تر لاسه كړي يعني د حرص او طمع څخه پرته نو په هغه كي بركت راځي او څوك چي دا دنفس د طمعي سره تر لاسه كړي نو په هغه كي بركت نه راځي او د هغه حالت د هغه چا په ډول دئ چي خوري يې مګر نس يې نه مړيږي او (اې حكيمه!) لوړ لاس تر لاندې لاس غوره دئ (يعني خيرات وركول تر اخيستلو غوره دئ)، حكيم وايي ددې وروسته ما عرض وكړ اې

دالله رسوله ! په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو يې په حق سره راليږلي ياست اوس به زه د هيچا د مال څخه څه کم نه کړم تر څو چي ددنيا څخه بيل سم . بخاري او مسلم .

(۱۷۴۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عن الْمَسْأَلَةَ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى فَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى هِيَ السَّائِلَةُ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر منبر وفرمايل : او د صدقي او سوال کولو څخه د منع کيدو يادونه يې وفرمايل چي لوړ لاس تر لاندي لاس غوره دئ او لوړ لاس خرڅ کونکی او ورکونکی لاس دئ اولاندي لاس د سوال کونکي لاس دئ . بخاري او مسلم

**څوک چي سوال نه کوي ....**

(۱۷۵۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ إِنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللّٰهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللّٰهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللّٰهُ وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي د انصارو څو کسانو د رسول الله ﷺ څخه سوال وکړ ، رسول الله ﷺ د هغوئ سوال پوره کړ تر څو چي څه د رسول الله ﷺ سره وه هغه ختم سول ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : په مال کي چي کوم شی زما سره وي زه به هغه ستاسو څخه منع نه کړم او څوک چي د سوال کولو څخه ځان ژغورل غواړي نو الله تعالی هغه ژغوري او څوک چي بي پرواهي ځرګندوي الله تعالی هغه بې پروا کوي څوک چي د صبر غوښتونکی سي الله تعالی هغه ته صبر ورکوي او د صبر څخه غوره او پراخ شی هيچا ته ورکول سوی نه دئ . بخاري او مسلم

**کوم شی چي پرته د سوال څخه راځي هغه اخله**

(۱۷۵۱): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِينِي الْعَطَاءَ فَأَقُولُ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّي فَقَالَ خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ وَ تَصَدَّقْ بِهِ فَمَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ . متفق عليه .

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به ما ته د زکوة تر لاسه کولو مزدوري راکول نو ما به عرض کوئ چي زما څخه زيات څوک اړ وي هغه ته يې ورکړه ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل ؛ په خپل مال کي يې ګډ کړه او خيرات يې کړه. کوم شی چي په دې مال کي تا ته پرته د طمع او غوښتني څخه تر لاسه

سي هغه اخله او کوم چي مرته داسي تر لاسه نه سي نو په هغه مه پسې کیږه . بخاري او مسلم.

## دویم فصل

### د سوال کونکي لپاره تهدید

(۱۷۵۲): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِي أَمْرٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سوال کول یو زخم دئ چي په هغه سوال کونکی خپل مخ ژوبل کوي (یعني په سوال سره خپل عزت دلاسه ورکوي) څوك چي غواړي نو پر خپل مخ دي یې پاته وساتي او څوك چي پاته ساتل نه غواړي نو هغه دي یې پریږدي مګر دا چي سړی د حاکم څخه سوال وکړي یا د یو داسي شي سوال وکړي چي ډير ضروري وي . ابوداؤد، نسائي

### د مستغني کېدو سربیره د سوال کولو وعید

(۱۷۵۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَسْئَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ أَوْ خُدُوشٌ أَوْ كُدُوحٌ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا الْغِنَى قَالَ خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د خلکو څخه سوال کوي حال دا چي د هغه سره هغه شی وي چي هغه غني جوړ کړي نو د قیامت په ورځ به هغه په داسي حالت کي راسي چي د هغه سوال به د هغه پر مخ د زخم په شـــــکل وي ، پوښتنه وسول اي د الله رسوله ! غني کونکی کوم شی دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : پنځوس ذرهم یا ددې قیمت سره زر ، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه ، دارمي .

---

(۱۷۵۴): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ وَعِنْدَهُ مَا يُغْنِيهِ فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ قَالَ النُّفَيْلِيُّ وهو احد رواته فِي مَوْضِعٍ آخَرَ وَمَا الْغِنَى الَّذِي لَا تَنْبَغِي مَعَهُ الْمَسْأَلَةُ قَالَ قَدْرُ مَا يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ وَقَالَ فِي مَوْضِعٍ

د حضرت سهل بن الحنظلية ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي سوال وکړي او د هغه سره دومره مال وي چي هغه غني کړي نو هغه ډیربدل د اور غواړي په یو بل ځای کي وایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ددې وروسته سوال کول جائز نه دي چي په اندازه د

آخَرَ أَنْ يَكُونَ لَهُ شِبْعُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ أَوْ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ. رواه ابوداؤد .

يوې ورځي او شپې په ماړه نس خوراك تر لاسه کړي، او په يو بل ځای کي يې ويلي دي چي په اندازه د يوې ورځي يا يوې ورځي او شپې د خوراك تر لاسه کول.

(۱۷۵۵): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي أَسَد قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ وَلَهُ أُوقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا . رواه مالك و ابوداؤد والنسائي .

حضرت عطاء بن يسار د بنو اسد د يو سړي څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په تاسو کي سوال وکړي او د هغه سره يوه اوقيه (څلوېښت درهمه يا دهغو بيه) موجود وي نو هغه د يو مجبوری څخه پرته سوال وکړ . مالك، ابوداؤد او نسائي

**سوال کول کله جائز دي؟**

(۱۷۵۶): وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَسْئَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ إِلَّا لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَرَضْفًا يَأْكُلُهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُقِلَّ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُكْثِرْ . رواه الترمذي .

د حضرت حبشي بن جناده ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سوال کول د شتمن لپاره جائز نه دئ او نه هغه چا ته چي روغ او توانا وي مگر د هغه کس لپاره جائز دئ چي مفلسی پر مځکي غورزولی وي يا چي ډير پوروړی وي او څوك چي يوازي ددې لپاره د خلکو څخه سوال کوي چي ددې په ذريعه سره خپل مال زيات کړي نو دا سوال به د قيامت په ورځ د هغه پر مخ يو زخم وي او په دوږخ کي به تودې ډبري جوړې کړل سي او هغه به خوري ، نو څوك چي غواړي سوال دي کم کړي او د چا چي زړه غواړي نو زيات دي يې کړي . ترمذي

(۱۷۵۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ فَقَالَ أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ فَقَالَ بَلَى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ قَالَ ائْتِنِي بِهِمَا قَالَ فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ وَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي هٰذَيْنِ قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ قَالَ مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ رَجُلٌ أَنَا

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي د انصارو يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او سوال کول يې پيل کړ ، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ايا ستاسو په کور کي هيڅ هم نسته ، هغه عرض وکړ يو غټ کمبل سته چي د هغه يوه برخه پر مځکه غوړوم او يوه برخه يې اغوندم او يوه پياله ده

آخذُهُمَا بدرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ وَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ وَقَالَ اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا فَأْتِنِي بِهِ فَأَتَاهُ بِهِ فَشَدَّ فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُودًا بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ فَاشْتَرَى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيءَ الْمَسْئَلَةُ نُكْتَةً فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ الْمَسْئَلَةَ لَا تَصْلُحُ إِلَّا لِثَلَاثَةٍ لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ . رواه ابوداؤد وروى ابن ماجة الى قوله يوم القيامة ..

چي په هغه کي اوبه چيښم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا دواړه شيان راوړه ، هغه سړي دا دواړه شيان راوړل ، رسول الله ﷺ هغه په لاس کي واخيستل او وه يې فرمايل : دا څوك رانيسي ؟ يو سړي وويل : زه يې په يوه درهم رانيسم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د يوه درهم څخه په زيات يې څوك رانيسي ؟ دوه واره يا درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل ، يوه سړي وويل : زه يې په دوو درهمو رانيسم ، رسول الله ﷺ هغه دواړه شيان هغه ته ورکړل او د هغه څخه يې دوه درهمه واخيستل او هغه انصاري ته يې ورکړل بيا يې ورته وفرمايل : په دې کي ديوه درهم د خوراك او چيښاك شيان رانيسه او خپل کورنۍ ته يې ورسوه او په دوېم د رهم تبر رانيسه او ما ته يې راوړه هغه تبر رانيوئ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي يې حاضر سو ، رسول الله ﷺ په خپل مبارك لاس په هغه تبر کي لاستۍ واچوئ او بيا يې تبر ورکړ او ورته وه يې فرمايل : ولاړ سه لرگي يو ځای کوه او پلوره يې اوس چي تر پنځلسو ورځو پوري دي زه ونه وينم ، هغه سړی ولاړئ لرگي به يې راوړل او پلوړل به يې ، يوه ورځ هغه سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو دهغه سره لس زره درهم وه په هغو کي يې په يو څه جامي رانيولې او په يو څه يې دخوراك شيان ، بيا هغه ته رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ستا لپاره تر هغه کار غوره دئ چي ته گرځې او سوال کوې او د قيامت په ورځ ستا پر مخ د سوال داغ وي ، سوال کول يوازي درو کسانو لپاره جائز دئ : يو خو د هغه مفلس لپاره چي مفلسی پر مخکه غورزولی وي ، دويم د هغه پوروړی لپاره چي د هغه پور دروند وي ، دريم د هغه چا لپاره چي د يو چا د ديت (وژني) ضامن وي او د هغه د ادا کولو توان نه لري . ابوداؤد ، او ابن ماجه تر يوم القيامة ، پوري روايت کړئ دئ .

**يوازي الله ﷺ ته خپل حاجتونه بيانول بكار دي**

(۱۷۵۸) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا ته چي فاقه

فَاقَتُهُ وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللّٰهِ أَوْشَكَ اللّٰهُ لَهُ بِالْغِنَى إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ أَوْ غِنًى عَاجِلٍ . رواه ابوداؤد والترمذي .

وي يعني يو سخت حاجت يې وي او هغه يې پر خلكو ځرگند كړي د حاجت لپاره يې خواهش كړي وي نو د هغه حاجت به نه سي پوره. چا چي خپل حاجت الله ته بيان كړ نو الله بـه ژر د هغه حاجت پـه اندازه د بسوالي پـوره كړي يعـني يا خو بـه هغـه غني كړي يا بـه يې ژر مړ كړي. ابوداؤد او ترمذي

## دريم فصل

### كه چيري ضرورت وي نو د نيكانو څخه سوال كوئ

(۱۷۵۹): وَعَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ أَنَّ الْفِرَاسِيَّ قَالَ قُلْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَإِنْ كُنْتَ سَائِلًا لَا بُدَّ فَسَلِ الصَّالِحِينَ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابن فراسي ﷺ څخه روايت دئ چي فراسي ﷺ وويل ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه اې دالله رسوله ! ايا زه (د خلكو څخه) سوال وكړم ، رسول الله ﷺ وفرمايل :يا، مگر كه ضروري وي نو د نيكو خلكو څخه يې غواړه . ابوداؤد، نسائي

### د خپل يو كار مزدوري د بيت المال څخه اخيستل جائز دي

(۱۷۶۰): وَعَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ فَقُلْتُ إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلّٰهِ وَأَجْرِي عَلَى اللّٰهِ قَالَ خُذْ مَا أُعْطِيتَ فَإِنِّي قَدْ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَمَّلَنِي فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَهُ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن ساعِدي ﷺ څخه روايت دئ چي حضرت عمر ﷺ زه د زكات كاركونكي و ټاكلم ، د خپل كار څخه چي زه فارغ سوم او د زكات مال مي حضرت عمر ته حواله كړ نو حضرت عمر ﷺ حكم راكړ چي زما د خدمت معاوضه دي ما ته راكړل سي ، ما عرض وكړ دا كار خو ما يوازي د الله لپاره كړئ دئ او ددې ثواب د الله تعالى پر ذمه دئ ، حضرت عمر وفرمايل : څه چي دركړل سي هغه واخله ما هم د رسول الله ﷺ په زمانه كي دا كار كوئ او ما ته به چي اجرت راكړل سو نو ما به داسي ويل څه چي ته وايې، نو رسول الله ﷺ به ما ته فرمايل: هر كله چي تا ته بې سواله كولو يو شى دركړل سي نو هغه خوره يا يې خيرات كوه . ابوداؤد .

## په کومو ځايو کي سوال کول نامناسب دي

﴿١٧٦١﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ يَوْمَ عَرَفَةَ رَجُلًا يَسْأَلُ النَّاسَ فَقَالَ اَفِيْ هٰذَا الْيَوْمِ وَ فِيْ هٰذَا الْمَكَانِ تَسْأَلُ مِنْ غَيْرِ اللّٰهِ فَخَفَقَهُ بِالدُّرَّةِ . رواه رزين .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي د عرفات په ورځ هغه واوريدل چي يو سړی د خلکو څخه سوال کوي نو هغه ته يې وويل ـ ايا په دا ورځ او په دې ځای کي چي دلته هره دعاء قبليږي ته د الله څخه پرته د بل چا څخه سوال کوې؟ نو هغه يې په دره ووهئ . رزين

## طمع افلاس او محتاجي ده

﴿١٧٦٢﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ تَعْلَمُنَّ أَيُّهَا النَّاسُ اَنَّ الطَّمْعَ فَقْرٌ وَ اَنَّ الْاِيَاسَ غَنِي وَّ اَنَّ الْمَرْءَ اذَا يَئِسَ مِنْ شَيْئٍ اسْتَغْنٰى عَنْهُ . رواه رزين .

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي هغه (خلکو ته) وويل : اې خلکو ! پوه سئ چي طمع ارتيا ده او د خلکو څخه بې پرواهي غنا ده او هر کله چي انسان د يو شي څخه انا اميده سي نو د هغه څخه بې پروا سي . رزين .

## د سوال نه کونکي لپاره د جنت زيری

﴿١٧٦٣﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَكْفُلُ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ فَقَالَ ثَوْبَانُ أَنَا فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي زما سره ددې خبري قول وکړي چي هغه به د خلکو څخه سوال نه کوي نو زه د هغه لپاره د جنت ضامن يم ، ثوبان وايي ما عرض وکړ : زه ددې قول کوم، ددې وروسته به ثوبان د چا څخه سوال نه کوئ . ابوداؤد او نسائي

## د چا څخه د سوال نه کولو حکم

﴿١٧٦٤﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ دَعَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَشْتَرِطُ عَلَيَّ أَنْ لَا تَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَلَا سَوْطَكَ إِنْ يَسْقُطَ مِنْكَ حَتّٰى تَنْزِلَ إِلَيْهِ فَتَأْخُذَهُ . رواه احمد .

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه را وغوښتلم او زما څخه يې ددې خبري عهد واخيستئ چي ته به د خلکو څخه هيڅ شی نه غواړې (يعني سوال به نه کوې) ما ددې خبري اقرار وکړ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تر دې چي ستا تازيانه (کروړه) ايله سي نو (د راپورته کولو لپاره مه وايه) د سپرلۍ څخه په خپله تا سه او پورته يې کړه . احمد .

# بَابُ الْاِنْفَاق وَ كَرَاهِيَةِ الْاِمْسَاك

## (د خرڅ کولو فضیلت او ذ بخل بدوالی)

## لومړی فصل

### د مال او زرو په اړه د رسول الله ﷺ جذبه

(۱۷۶۵): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ اُحُدٍ ذَهَبًا لَسَرَّنِيْ اَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ اِلَّا شَيْءٌ اُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ . رواه البخاري

د. حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: که زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي نو زما به دا خوښه نه وای چي پر هغه درې ورځي تیري سي او د هغه وروسته د هغه څخه زما سره یو څه پاته سي مگر یوازي دومره چي زه د هغه څخه پور ادا کړلای سم . بخاري

### د سخي لپاره د ملائکو دعاء او د بخیل لپاره ښېرا

(۱۷۶۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ اِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ اَحَدُهُمَا اللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یو ورځ داسي نه تیریږي چي په هغه کي سهار وختي دوې ملائکي را نازلیږي چي په هغو کي یوه دا وایي اې الله! نفقه کونکو ته ددې بدله ورکړې او دویم ملائکه وایي اې الله! د بخیل مال برباد کړې. بخاري او مسلم

### د سخاوت حکم

(۱۷۶۷): وَعَنْ اَسْمَاءَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انفقي ولا تحصي فيحصي الله عليك و لَا تُوعِي فَيُوعِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ . متفق عليه

د حضرت اسماء (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نفقه کوئ او شمیرل مه کوئ (څکه که ته په شمیر ورکول کوې) نو الله به هم په شمیر درکوي او ته د فقیر څخه مال مه منع کوه گوندي الله به هم تا منع نه کړي او ورکړه څومره چي طاقت دي وي . بخاري او مسلم

(۱۷۶۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . متفق عليه

الله ﷺ ويلي دي چي الله ﷻ فرمايلي دي : اې انسانه ! ته نفقه کوه (په خلګو) زه به پر تا نفقه کوم . بخاري او مسلم.

**د ضرورت څخه د زيات مال خرڅولو حکم**

(۱۷۶۹): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا ابْنَ آدَمَ أَنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ . رواه مسلم

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې انسانه ! څه چي ستا د خرڅ څخه زيات وي ستا لپاره د هغه خرڅ کول غوره دي او مال منع کول (ساتل) ستا لپاره بد دي په اندازه د ضرورت ساتلو باندې پر تا ملامتيا نسته تر ټولو وړاندې پر خپل کورنۍ خرڅ کوه . مسلم.

**د صدقه ورکونکي او بخيل مثال**

(۱۷۷۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ مَثَلُ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ قَدِ اضْطُرَّتْ أَيْدِيهِمَا إِلَى ثُدِيِّهِمَا وَتَرَاقِيهِمَا فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ وَجَعَلَ الْبَخِيلُ كُلَّمَا هَمَّ بِصَدَقَةٍ قَلَصَتْ وَأَخَذَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ بِمَكَانِهَا . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بخيل او خيرات کونکي حال د هغه دوو کسانو په ډول دئ چي د هغوئ پر بدن دوې زغري وي او د هغې زغرې د تنګۍ له کبله د هغوئ دواړه لاسونه د سينې او غاړې سره موښتي وي هر کله چي صدقه ورکونکی د صدقې ورکولو اراده وکړي نو د هغه زغره خلاسه سي او هر کله چي بخيل د صدقې ورکولو اراده وکړي نو د زغري کړۍ نوري تنګي سي . بخاري او مسلم

**د بخل بدوالی**

(۱۷۷۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ظلم څخه ځان وژغورئ ځکه چي ظلم به د قيامت په ورځ تاريکي وي او د بخل څخه ځان ژغورئ ځکه چي بخل هغه خلک هلاک کړي دي کوم چي ستاسو څخه وړاندي وه ، بخل هغوئ په دې اماده کړي وه چي هغوئ وژني وکړي او حرام حلال وګڼي . مسلم

**یوه زمانه به راسي چي صدقه اخیستونکی به نه وي**

(۱۷۷۲): وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقُوا فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِه فَلَا يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا يَقُولُ الرَّجُلُ لَوْ جِئْتَ بِهَا بِالْأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا فَأَمَّا الْيَوْمَ فَلَا حَاجَةَ لِي بِهَا. متفق علیه

د حضرت حارثة بن وهب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خیرات کوئ ځکه چي یوه داسي زمانه به راسي چي خلك به خیرات په لاس کي گرځوي او څوك قبلونکی به نه وي او هر سړی به دا ورته وایي که تا پرون راوړی وای نو ما به اخیستی وای نن ما ته ضرورت نسته. بخاري او مسلم.

**غوره صدقه**

(۱۷۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يا رسول الله أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا قَالَ أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! د کومي صدقې ثواب زیات دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په داسي حال کي خیرات کول چي روغ یې ، د مال بوږ خای کولو غوښتنه او حرص لري د مفلسۍ څخه بیرېږي او د شتمنۍ امید لري نو په صدقه ورکولو او خیرات کولو کي سستي مه کوه تر څو چي ستا ساه حلق ته راورسیږي نو بیا ته دا وایي چي دومره مال د فلاني لپاره دئ او دومره مال د فلاني لپاره حال دا چي ته په دې پوهیږې چي مال د فلاني دئ. بخاري او مسلم.

**د الله ﷻ په لار کي مصرف نه کونکي**

(۱۷۷۴): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَلَمَّا رَآنِي قَالَ هُمُ الْأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقُلْتُ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي مَنْ هُمْ قَالَ هُمُ الْأَكْثَرُونَ أَمْوَالًا إِلَّا مَنْ قَالَ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا مِنْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ وَعَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ . متفق علیه

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ د کعبې شریفې په سایه کي تشریف فرما وو چي زه یې ولیدم نو وه یې فرمایل : د کعبې په پروردگار دي مي قسم وي هغه خلك په لوی تاوان کي دي، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي هغه کوم خلك دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : ډیر مال یو خای کونکی ، خو (هغه خلك مستثنی دي) چي هغوئ آخوا دېخوا او دې طرف ته یعني خپل وړاندي او وروسته او راسته

چپه لور ته خرڅ وکړ او داسي خلك كم دي. بخاري او مسلم

## دويم فصل

### تر بخيل عابد جاهل سخي غوره دی

﴿۱۷۷۵﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسَّخِيُّ قَرِيْبٌ مِنَ اللّٰه قَرِيْبٌ مِنَ الْجَنَّةِ قَرِيْبٌ مِنَ النَّاسِ بَعِيْدٌ مِنَ النَّارِ وَالْبَخِيْلُ بَعِيْدٌ مِنَ اللّٰه بَعِيْدٌ مِنَ الْجَنَّةِ بَعِيْدٌ مِنَ النَّاسِ قَرِيْبٌ مِنَ النَّارِ وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ عَابِدٍ بَخِيْلٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سخي نژدې دئ د الله رحمت ته، نژدې دئ جنت ته او نژدې دئ خلکو ته (يعني تول يې خوښوي) او ليري دئ د دوزخ څخه، او بخيل سړی ليري دئ د الله د رحمت څخه، ليري دئ د جنت څخه، ليري دئ د خلکو څخه او نژدې دئ دوزخ ته او جاهل سخي د الله ﷺ په نزد تر بخيل عابد غوره دئ. ترمذي

### د روغتيا په حالت کي د صدقې فضيلت

﴿۱۷۷۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الخدري قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاَنْ يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِيْ حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ اَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ عِنْدَ مَوْتِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان د خپل روغتيا په ورځو کي يوه روپې خيرات کول د مرگ په وخت کي تر سلو روپو خيرات کولو غوره دئ. ابوداؤد

### د مرگ پر وخت د خيرات کونکي مثال

﴿۱۷۷۷﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الَّذِيْ يَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهِ اَوْ يَعْتِقُ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ اِذَا شَبِعَ . رواه احمد والنسائي والدارمي والترمذي و صححه .

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د مرگ په وخت کي خيرات وکړي يا غلام آزاد کړي د هغه مثال داسي دئ لکه څوك چي چا ته د تحفې په توگه هغه وخت ډوډی ولېږي چي په خپله موړ سي ، احمد ، نسائي ، دارمي، ترمذي، او هغه ددې تصحيح وکړ.

### ايمان او بخل دوه متضاد شيان دي

﴿۱۷۷۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُؤْمِنٍ اَلْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په مؤمن کي دوه عادته نه سي يو خای کيدلای يو بخل او بل بد اخلاقي. ترمذي

**د بخیل لپاره وعید**

(۱۷۷۹): وَعَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا بَخِيْلٌ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چمباز او بخیل به جنت ته ولاړ نه سي او نه هغه څوك چي په احسان اچولو سره خیرات کوي . ترمذي

**بد خصلتونه کوم دي؟**

(۱۷۸۰): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرُّ مَا فِي رَجُلٍ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ . ابوداوٗد، و سنذکر حديث ابي هريرة لا يجتمع الشح والايمان في كتاب الجهاد ان شاء الله تعالى .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د انسان په عادتونو کي دوه ډیر خراب عادتونه دي یو خو ډیر زیات بخل او بل ډیره بیره، ابوداوٗد، او ډیر ژر به انشاء الله د ابوهریرة حدیث چي د (بخیل او ایمان نه سي یو ځای کیدلای) په کتاب الجهاد کي بیان کړل سي

## دریم فصل

**د الله ﷻ په لار کي د مصرف کولکي فضیلت**

(۱۷۸۱): عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوْقًا قَالَ أَطْوَلُكُنَّ يَدًا فَأَخَذُوا قَصَبَةً يَذْرَعُوْنَهَا فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَتْ طُوْلَ يَدِهَا الصَّدَقَةُ وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوْقًا بِهٖ زَيْنَبُ وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ، رواه البخاري و في رواية مسلم قالت قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا قَالَتْ وكانت يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا قَالَتْ فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ ځیني بیبیانو رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي په موږ کي به څوك ستاسو سره ژر یو ځای کیږي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي د چا لاس تر تولو لوی وي ، د دې په اوریدو سره بیبیانو لرګي راواخیستل او په هغه سره یې خپل لاسونه اندازه کول پیل کړل، د بي بي سودې (رض) لاسونه اوږده وختل، مګر وروسته موږ ته څرګنده سوه چي د اوږدو لاسو څخه د رسول الله ﷺ مراد صدقه او خیرات کول وه نو په موږ تولو کي وړاندي بي بي زینب (رض) وفات سوه چي ډیر خیراتونه به یې کول ، بخاري شریف او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي

چي بي بي عائشې (رض) وویل: رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي زما سره ژر یو ځای کېدونکې اوږدو لاسو والا ده، بي بي عائشة وایي بیبیانو خپل لاسونه اندازه کول پیل کړل چي د چا لاسونه اوږده دي نو په موږ کي د بي بي زینب لاسونه اوږده وه ځکه چي هغې به په خپل لاسو سره ټول کارونه او خیرات کوئ.

## د بني اسرائیلو یو واقعه

(۱۷۸۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لَاَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِه فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ فَاَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ الليلة عَلَى سَارِقٍ فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ على سارق لَاَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِه فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ زَانِيَةٍ فَاَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ لَاَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِه فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ غَنِيٍّ فَاَصْبَحُوا يتحدثون تصدق الليلة عَلَى غَنِيٍّ قَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ وَعَلَى زَانِيَةٍ وَعَلَى غَنِيٍّ فَاُتِيَ فَقِيلَ لَهُ اَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ اَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِه وَاَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا اَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا وَاَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا اَعْطَاهُ اللّٰهُ. متفق عليه و لفظه للبخاري.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په بني اسرائیلو کي یو سړي وویل: زه نن (شپه) یو خیرات کوم، هغه مال واخیستئ روان سو او (په تیاره کي) یو غله ته یې ورکړئ کله چي سهار سو نو په خلکو کي اوازه سوه چي نن (شپه) غله ته خیرات ورکړل سوئ دئ هغه سړي چي دا واوریدل نو وه یې فرمایل: اې الله! غله ته په صدقه ورکولو تالره تعریف دئ، ددې وروسته هغه وویل: نن به زه بیا خیرات کوم، نو هغه مال واخیستئ او ووتئ او یوې زنا کاري ښځي ته یې خیرات ورکړئ کله چي سهار سو نو په خلکو کي اوازه سوه چي د شپې زناکاري ښځي ته صدقه ورکړل سوې ده، هغه سړي چي دا واوریدل نو وه یې ویل: اې الله! زناکاري ته په صدقه ورکولو تالره تعریف دئ، ددې وروسته هغه وویل: نن به زه بیا خیرات کوم نو هغه د مال سره ووتئ او یو شتمن سړي ته یې خیرات ورکړ کله چي سهار سو نو په خلکو کي اوازه سوه چي د شپې شتمن سړي ته صدقه ورکړل سوې ده، هغه سړي چي دا واوریدل نو وه یې ویل: اې الله! غله ته، زناکارې ته او شتمن ته په صدقه ورکولو باندي تالره تعریف دئ، نو هغه ته په خوب کي وښودل سول او ورته وویل سول چي: کومه صدقه چي تا غله ته ورکړې ده کیدای سي چي دا یې د غلا څخه منع کړي او کومه صدقه چي تا زناکارې ته ورکړې ده کیدای سي چي هغه د زنا څخه منع کړي او کومه صدقه چي تا شتمن ته ورکړې ده کیدای سي چي د هغه لپاره نصیحت او عبرت سي او څه

چي الله تعالى هغه ته ورکړي دي د هغه څخه نفقه وکړي. بخاري او مسلم مګر دا الفاظ د بخاري دي.

**د الله ﷺ په لارکي د خرڅ کولو برکت**

(١٧٨٣): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ فَتَنَحَّى ذٰلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذٰلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ مَا اسْمُكَ قَالَ فُلَانٌ لِلْاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ فَقَالَ لَهُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لِمَ تَسْأَلُنِي عَنِ اسْمِي فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هٰذَا مَاؤُهُ وَيَقُولُ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا قَالَ أَمَّا إِذْ قُلْتَ هٰذَا فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړی په ځنګل کي ولاړ وو هغه د وريځي څخه آواز واوريدئ چي د فلاني سړي باغ اوبه کړه بيا هغه وريځ يوې خوا ته ولاړه او پر يو ډبرني مځکي باندي يې باران واوروئ او هغه اوبه په کوچنی نالیئ کي يو ځای سوې او لويه ویاله څيني جوړه سوه او پر مخ ولاړې هغه سړي ددې څرګندولو لپاره چي دا اوبه چيري ځي د اوبو سره روان سو ناڅاپه هغه يو سړی وليدی چي په خپل بېلچې سره آخوا دېخوا اوبه خپروي ، پوښتنه څيني وسول چي اې دالله بنده : ستا نوم څه شي دئ ؟ هغه ورته وويل زما نوم فلانی دئ (يعني هغه نوم يې ور وښودئ کوم چي وريځي ته ويل سوئ وو)، بيا د هغه څخه پوښتنه وسول اې دالله بنده ! تا زما د نوم څنګه پوښتنه وکړه ؟ هغه سړي ورته وويل : ما ددې وريځي څخه چي دا دهغې اوبه دي دا آواز واوريدئ چي د فلاني سړي باغ اوبه کړه ، نو ته دا راته ووايه چي ته په خپل باغ کي د نيکۍ کوم کار کوې؟ هغه ورته وويل : هر کله چي تا دا پوښتنه وکړه نو زه يې در ښيم څه چي زما په باغ کي په لاس راځي د هغې دريمه برخه خيراتوم او دريمه برخه خپل کورنۍ باندي خرڅوم او دريمه برخه په باغ کي لګوم. مسلم.

**د شکر اجر او د ناشکرۍ سزا**

(١٧٨٤): وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ ثَلَاثَةً فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى فَأَرَادَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ ويذهب عني الذي قَدْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي په بني اسرائيلو کي درې کسان وه چي يو پيس (د جزام په ناروغۍ اخته) دويم پك او دريم روند وو، الله تعالى د هغوئ ازموينه اخيستل وغوښتل ،

قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ قذره فَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْإِبِلُ أَوْ قَالَ الْبَقَرُ شَكَّ اسحاق الا إِنَّ الْأَبْرَصَ وَالْأَقْرَعَ قَالَ أَحَدُهُمَا الْإِبِلُ وَقَالَ الْآخَرُ الْبَقَرُ قال فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ فَقَالَ يُبَارِكُ اللهُ لَكَ فِيهَا قال فاتى الْأَقْرَعَ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ شَعَرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي هَذَا الذي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ قَالَ فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عنه وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْبَقَرُ قَالَ فَأَعْطَاهُ بَقَرَةً حَامِلًا وَقَالَ يُبَارِكُ اللهُ لَكَ فِيهَا قال فَأَتَى الْأَعْمَى فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ ان يَرُدَّ اللَّهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَأُبْصِرُ به النَّاسَ قَالَ فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْغَنَمُ فَأَعْطَاهُ شَاةً وَالِدًا فَأُنْتِجَ هَذَانِ وَوَلَّدَ هَذَا فَكَانَ لِهَذَا وَادٍ مِنْ إِبِلٍ وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ بَقَرٍ وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ غَنَمٍ قال ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَت بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ بِهِ فِي سَفَرِي فَقَالَ لَهُ إِنَّ الْحُقُوقَ كَثِيرَةٌ فَقَالَ انه كَأَنِّي أَعْرِفُكَ أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللَّهُ مالا فَقَالَ لَقَدْ وَرِثْتُ هذا المال لِكَابِرٍ عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ قال وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ وهيئته فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهَذَا فَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَيْهِ هَذَا فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا

هغوئ ته يې يوه ملائکه راوليږل ملائکه تر ټولو وړاندي جزامي ته راغلل پوښتنه يې ځيني وکړه ستا تر ټولو زيات کوم شی خوښ دئ هغه وويل ښکلی رنگ او ښکلی پوست او د بدن څخه ددې ناروغی ليري کيدل چې ددې له کبله خلك زما څخه نفرت کوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل: ملائکي چي دا واوريدل نو د هغه پر بدن يې لاس تير کړ او د هغه ناروغي ختمه سوه ، او پوست يې ښکلي او پاك سو ، ددې وروسته ملائکي ورته وويل ستا کوم ډول مال خوښ دئ ؟ هغه وويل اوښان يا غواوي ، (ددې حديث راوي ته شك دئ چي هغه اوښان وويل که غواوي) په جزامي او پك دواړو کي يوه اوښان وښودل او بل غواوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه د غوښتني سره سم هغه ته بلاربي اوښي ورکړل سوې او ملائکي دعاء ورته وکړه چي الله دي ستا لپاره په دې کي برکت واچوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائکه هغه پك سړي ته راغلل او پوښتنه يې ځيني وکړه چي ستا کوم شی خوښ دئ ؟ هغه ورته وويل : ښکلي وربښتان او ددې ناروغی ليري کيدل، چي ددې له کبله خلك زما څخه نفرت کوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائکي د هغه پر سر لاس تير کړ او د هغه پکتوب ختم سو او ښکلي وربښتان ورکړل سول ، بيا ملائکي پوښتنه وکړه ستا کوم مال خوښ دئ ؟ هغه ورته وويل غواوي، نو هغه ته بلاربي غواوي ورکړل سوې

كُنْتَ وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ وَانْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللّٰهُ الي بَصَرِي فَخُذْ مَا شِئْتَ ودع ما شئت فَوَاللّٰهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلّٰهِ فَقَالَ أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ . متفق عليه

او ملائكي دعاء ورته وكړه چي الله تعالى دي ستا په دې مال كي بركت واچوي، ر ول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائكه د ند سړي ته راغلل او پوښتنه يې ځيني د چي ستا كوم شی خوښ دئ ؟ هغه وويل يرازي دا چي الله تعالى مي روند والى ختم كړي چي په سترګو سره خلك ووينم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائكي د هغه پر سترګو لاس تير كړ نو الله تعالى هغه بنا (ليدونكی) كړ ، بيا ملائكي پوښتنه وكړه چي ستا كوم ډول مال خوښ دئ ؟ هغه وويل : پسونه، نو هغه ته ډيري ميږي وركړل سوې ، د درو سره په مال كي الله تعالى بركت واچوئ د جزامي او پك د اوښانو او غواوو څخه ځنګل ډك سو او د ړانده لپاره يوه شيله د پسو ، نبي كريم ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائكه په خپل اصلي شكل كي چي وړاندي راغلې وه جزامي ته راغلل او ورته وه يې ويل زه يو مسكين سړی يم د سفر سامان نه لرم نن ورځ زه نسم كولای چي ورسيږم اول د الله تعالى مهرباني او بيا ستا سبب كيدای سي زه تا ته د هغه ذات واسطه دركوم چي ښه رنګ او مال يې دركړئ دئ يو اوښ غواړم چي ددې په ذريعه خپل منزل ته ورسيږم ، جزامي په جواب كي ورته وويل پر ما ډير حقوق دي (يعني زما ډير حقدار موجود دي او دهغوئ په شتون كي تاته څه حق نه رسيږي) ملائكي ورته وويل كيدای سي زه تا پيژنم ته هغه جزامي نه يې چي خلكو به در څخه نفرت كوئ ته فقير وې الله تعالى مال دركړئ ، جزامي ورته وويل : دا مال ما ته د پلرونو او نيكو څخه په لاس راغلئ دئ ، ملائكي ورته وويل : ښه دئ كه ته درواغجن يې نو الله دي بيا هغسي كړه څنګه چي پخوا وې، نو الله تعالى دی بيا هغسي كړ څنګه چي مخكي وو ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : ملائكه په خپل اصلي شكل كي پك ته راغلل او هغه ته يې هغه وويل څه چي يې جزامي ته ويلي وه ، هغه هم هغسي جواب وركړ څنګه چي جزامي وركړئ وو نو ملائكي ورته وويل ښه دئ كه ته درواغجن يې نو الله تعالى دي هغسي كړه لكه څنګه چي وړاندي وې ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې وروسته ملائكه په خپل اصلي شكل كي هغه ړوند ته راغلل او ورته وه يې ويل : زه يو مسكين سړی يم ، مسافر يم د سفر سامان راسره نسته اوس زه نسم كولای چي و كور ته ورسيږم د الله په مهرباني او ستا په ذريعه سره كيدای سي نوزه تا ته د هغه ذات واسطه دركوم چي تا ته يې بينايي

دوهم وار درکړې ده ، دا يو پسه در څخه غوارم چي ددې په ذريعه د خپل سفر سامان پوره کړم ددې په اوريدو سره ړوند ورويل : زه ړوند وم الله تعالى زه ليدونکی جوړ کړم نو څومره چي دي پکار وي هغه يوسه او څومره چي دي زړه غواړي هغه پرېږده په الله دي مي قسم وي زه به تا ته د هغه شي د بيرته راکولو تکليف در نه کړم کوم چي ته واخلې ، ددې په اوريدو سره ملائکي ورته وويل : ته دي خپل مال د ځان سره وساته پر تاسو ازموينه وسول الله تعالى ستا څخه راضي سو او ستا دملگرو څخه ناراضه سو . بخاري او مسلم .

## سوال کونکي ته يو څه ورکوئ

﴿۱۷۸۵﴾: وَعَنْ أُمِّ بُجَيْد قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰه إِنَّ الْمِسْكِينَ لَيَقِف عَلَى بَابِي حتى استحيي فَلا أَجِدُ في بيتي ما ادفع في يده فَقَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْفَعِي فِي يَدِهِ وَ لَوْ ظِلْفًا مُحْرَقًا . رواه ابوداؤد والترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت ام بجيد (رض) څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله! مسکين زما په دروازه کي ودرېږي او ما ته شرم راځي چي هغه ته د ورکولو لپاره زما په کور کي هيڅ هم نه وي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : که ستا سره سوزېدلې توټه هم وي نو هغه د هغه په لاس کي ورکړه (يعني که څه هم ډير لږ شی وي) ابوداؤد ، ترمذي .

## يو عبرتناکه واقعه

﴿۱۷۸۶﴾: وعن مولى لعثمان رضي الله عنه قال : أهدي لأم سلمة بضعة من لحم وكان النبي صلى الله عليه وسلم يعجبه اللحم فقالت للخادم : ضعيه في البيت لعل النبي صلى الله عليه وسلم يأكله فوضعته في كوة البيت . وجاء سائل فقام على الباب فقال : تصدقوا بارك الله فيكم . فقالوا : بارك الله فيك . فذهب السائل فدخل النبي صلى الله عليه وسلم فقال : " يا أم سلمة هل عندكم شيء أطعمه ؟ " . فقالت : نعم . قالت للخادم : اذهبي فأتي رسول الله صلى الله عليه وسلم بذلك اللحم . فذهبت فلم تجد في الكوة إلا قطعة مروة

د حضرت عثمان ﷺ د آزاد سوي غلام څخه روايت دئ چي بي بي ام سلمة ته د (پخ کړي) غوښو يوه توټه د تحفې په ډول راوړل سوه ، د نبي کريم ﷺ به غوښه ډيره خوښه وه ، ام سلمه خادمې ته وويل دا غوښه په کور کي کښيږده کيدای سي رسول الله ﷺ يې وخوري ، نو مينځي غوښه په تاخچه کي کښېښودل ، په دا وخت کي يو سوال کونکی راغلئ په دروازه کي ودريدئ او وه يې ويل : اې کور والاوو صدقه راکړئ الله تعالى دي برکت درکړي هغه ته وويل سول الله تعالى دي برکت درکړي ، سوال کونکي چي دا واورېدل نو ولاړئ او نبي کريم ﷺ کور ته

فقال النبي صلى الله عليه وسلم : " فإن ذلك اللحم عاد مروة لما لم تعطوه السائل " . رواه البيهقي في دلائل النبوة

تشریف راوړئ او وه یې فرمایل : ام سلمه ! د خوراك يو شی سته ؟ هغې وویل : هو، بیا ام سلمة مینځي ته وویل ورسه هغه غوښه راواخله مینځه چي ورغلل نو په تاخچه کي یې غوښه پیدا نه کړل د هغه پر ځای یې د سپیني ډبري یوه ټوټه ولیدل، نبي کریم ﷺ ته چي دا پېښه څرګنده سوه نو وه یې فرمایل : هغه غوښه د ډبري ټوټه جوړه سوه ځکه چي تاسو هغه سوال کونکي ته ور نه کړل . بیهقي په دلائل النبوة کي.

## د الله ﷻ پر نامه د سوال کونکي سوال پوره کوئ

(۱۷۸۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلاَ اُخْبِرُكم بِشَرِّ النَّاسِ مَنْزِلا ؟ قيل : نعم قال : الذي يسأل بالله ولا يعطي به " . رواه أحمد

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تاسو دا ونه ښیم چي د الله په نزد تر ټولو خراب څوك دئ ؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د الله په نزد په خلکو کي تر ټولو بد هغه کس دئ چي د هغه څخه د الله په نامه وغوښتل سي او هغه یې نه ورکړي . احمد.

## د مال او زرو په اړه د حضرت ابوذر ﷺ جذبه

(۱۷۸۸):وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّهُ يَسْتَأْذِنُ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَأَذِنَ لَهُ وَبِيَدِهِ عَصَاهُ فَقَالَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَا كَعْبُ إِنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ مَالًا فَمَا تَرَى فِيهِ فَقَالَ إِنْ كَانَ يَصِلُ فِيهِ حَقَّ اللّٰهِ فَلَا بَأْسَ عَلَيْهِ فَرَفَعَ أَبُو ذَرٍّ عَصَاهُ فَضَرَبَ كَعْبًا وَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أُحِبُّ لَوْ أَنَّ لِي هَذَا الْجَبَلَ ذَهَبًا أُنْفِقُهُ وَيُتَقَبَّلُ مِنِّي أَذَرُ خَلْفِي مِنْهُ سِتَّ أَوَاقٍ أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ يَا عُثْمَانُ أَسَمِعْتَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ نَعَمْ . رواه احمد

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي چي هغه حضرت عثمان ته د ورتلو اجازه وغوښتل ، عثمان اجازه ورکړه ، په دغه وخت کي د ابوذر په لاس کي لکړه وه ، عثمان وویل : اې کعب ! عبدالرحمن وفات سو او مال ځیني پاته سو، اوس د هغه مال په اړه ستا څه رایه ده ؟ کعب وویل : که هغه د مال څخه د الله حق (زکات) ورکړئ وي نو هیڅ پروا نسته د دې په اوریدو سره ابو ذر خپله لکړه پورته کړه او کعب یې ووهئ ، بیا یې وویل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي زه دا خبره نه خوښوم چي زما سره د احد د غره په اندازه سره زر وي او زه هغه خرڅ نه کړم او زما څخه دي امید وساتل سي چي زه د هغه څخه شپږ اوقیه پرېږدم ، ددې وروسته ابو ذر حضرت عثمان ته مخاطب سو او وه یې ویل : اې عثمانه ! زه تا ته په الله قسم درکوم چي تا هم

اوریدلي دي ، درې ځاره ابو ذر دا الفاظ وویل ، حضرت عثمان وویل هو، (یعني ما هم داسي اوریدلي دي) احمد.

## د دنیا سره بې رغبتي

(۱۷۸۹): وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلَى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ فَرَأَى أَنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوا مِنْ سُرْعَتِهِ قَالَ ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِي فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ. رواه البخاري و في رواية له قا كنت خلف في البيت تبرا من الصدقة فكرهت ان ابيته .

د حضرت عقبة بن حارث ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ سره په مدینه کي د مازدیگر لمونځ وکړ، رسول الله ﷺ د سلام گرځولو وروسته سمدستي ولاړ سو او د خلکو پر اوږو د اوښتلو سره د خپلو ځینو بیبیانو د کور په لور ولاړئ ، د دې په لیدلو سره خلك بیرې واخیستل ، کله چي رسول الله ﷺ راستون سو او وه یې لیدل چي خلك حیران دي نو وه یې گرمایل: ما ته د سرو زرو یو شی را یاد سوی وو چي په کور کي پروت وو ما ته بده ښکاري سوه چي هغه ما د قرب الهي څخه منع کړي نو د هغه د وېشلو حکم مي ورکړ. بخاري . په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما د سرو زرو یو شی په کور کي پرې ایښی وو ما بده وگڼل چي د شپې یې د ځان سره وساتم .

## نبي مال نه پرېږدي

(۱۷۹۰): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ كَانَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عندي في مرضه سِتَّةُ دَنَانِيْرَ او سبعة فَأَمَرَنِي نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُفَرِّقَهَا فَشَغَلَنِي وَجَعُ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَأَلَنِي عَنْهَا مَا فَعَلَتْ السِّتَّةُ أَوْ السَّبْعَةُ قُالَتْ لَا وَاللّٰهِ لَقَدْ كَانَ شَغَلَنِي وَجَعُكَ فَدَعَا بِهَا ثُمَّ وضعها فِي كَفِّهِ فَقَالَ مَا ظَنُّ نَبِيِّ اللّٰهِ لَوْ لَقِيَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهٰذِهِ عِنْدَهُ . رواه احمد

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ د ناروغۍ په زمانه کي زما سره شپږ یا اووه دیناره وه ، رسول الله ﷺ ما ته حکم راکړ چي زه یې ووېشم، مگر د رسول الله ﷺ د درد یا ناروغۍ د بوختیا له کبله ما هغه ونه ویشئ، ددې وروسته رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي هغه شپږ یا اووه دیناره څه سول ، ما عرض وکړ ، ستاسو په ناروغۍ کي د بوختیا له کبله ما هغه ونه وېشل ، بیا رسول الله ﷺ هغه دینارونه را وغوښتل په خپل لاس کي یې کېښښودل او وه یې فرمایل: ایا د الله تعالی د نبي ﷺ دا خیال دئ چي هغه د الله تعالی سره په داسي حال کي ملاقات وکړي چي د هغه سره دا (دینارونه) وي .احمد

**د مال ذخیره کولو پر ځای د توکل علی الله تعلیم**

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۱): وعن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل على بلال وعنده صبرة من تمر فقال ما هذا يا بلال ؟ قال شيء ادخرته لغد فقال أما تخشى أن ترى له غدا بخارا في نار جهنم يوم القيامة أنفق بلال ولا تخش من ذي العرش إقلالا | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ بلال ته راغلئ او د هغه سره د خرماوو کوټه وه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې بلاله ! دا څه دي ؟ بلال وویل : یو شی دئ چي ما د سبا لپاره یو ځای کړي دي (یعني د راتلونکي لپاره) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : |

ایا ته ددې څخه نه بیریږې چي د قیامت په ورځ به د هغه بخار د جهنم په اور کي جوړ سي ، اې بلاله ! دا نفقه کړه او د عرش عظیم د خاوند څخه د مفلسۍ او فقر بیره مه کوه . بیهقي

**د سخاوت فضیلت**

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۲): وعن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم السخاء شجرة في الجنة فمن كان سخيا أخذ بغصن منها فلم يتركه الغصن حتى يدخله الجنة والشح شجرة في النار فمن كان شحيحا أخذ بغصن منها فلم يتركه الغصن حتى يدخله النار. رواهما البيهقي في شعب الإيمان | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سخا په جنت کي یوه درخته ده ، څوك چي سخي وي هغه به ددې درختي ښاخونه ونیسي او هغه ښاخونه به یې تر هغه وخته نه پریږدي تر څو چي په جنت کي یې داخل کړی نه وي ، او همداسي د بخل په |

دوږخ کي یوه درخته ده څوك چي بخیل وي هغه به ددې درختي ښاخونه ونیسي او تر هغه وخته پوري به یې نه پریږدي تر څو پوري چي په دوږخ کي یې داخل نه کړي . بیهقي په شعب الایمان کي .

**صدقه دفع بلا ده**

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۳): وعن علي قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بادروا بالصدقة فإن البلاء لا يتخطاها " . رواه رزين | د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په صدقه او خیرات ورکولو کي تلوار کوئ ځکه چي په صدقې سره بلا او |

ستونزي نه زیاتیږي یعني صدقه بلاوي او ستونزي منع کوي . رزین .

# بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَةِ (د صدقې فضيلت)

## لومړی فصل

### د حرام مال صدقه نه قبليږي

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۴): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللّٰهُ إِلَّا الطَّيِّبَ فَإِنَّ اللّٰهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ . متفق عليه . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چ رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي خيرات کو که څه هم د خرما په اندازه وي نو د پاکي ا حلالي ګټي څخه دي خيرات کوي او الله تعال نه قبلوي مګر پاك ، نو خدای ﷻ به هغه قبلوي |

په خپل راسته لاس سره بيا هغه خيرات د خيرات کونکي لپاره پالي او زياتوي يې لکه څنګه چ موږ خپل ( بهاڼ ) د آس بچي ساتو تر دې چي هغه د غره په ډول جوړ سي . بخاري او مسلم

### صدقه مال نه کموي

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ . رواه مسلم | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چ رسول الله ﷺ وفرمايل : په خيرات کولو س مال نه کميږي او د يو چا قصور معاف کول سره الله تعالى د هغه بنده عزت زياتوي او |

څوك چي د الله لپاره تواضع کوي نو الله تعالى د هغه مرتبه لوړوي . مسلم

### د جنت دروازې

| | |
|---|---|
| (۱۷۹۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ و للجنة ابواب فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا عَلَى من | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي جوړی يا دو برابر شی د الله په لار کي خرڅ کړ نو هغه به د جنت د دروازو څخه و بلل سي او د جنت څو دروازې دي ، نو څوك چي لمونځ کونکی وي هغه به د جنت د باب الصلوة څخه و بلل سي او څوك چي جهاد کونکی وي نو هغه به د باب الجهاد د دروازې څخه و بلل سي او څوك چي |

يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ فَهَلْ يُدْعَى احد من تلك الابواب كُلِّهَا قَالَ نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ . متفق عليه .

خيرات کونکی وي هغه به د باب الصدقة څخه و بلل سي او څوك چي روژه دار وي نو هغه به د باب الريان څخه و بلل سي ، د دې په اوریدو سره حضرت ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل : په ځرګنده چي ددې ضرورت نسته چي د دې ټولو دروازو څخه هغه څوك و بلل سي کوم چي د یوې دروازې څخه بلل سوی وي او په جنت کي داخل سوئ وي مګر بیا هم داسي څوك سته چي په دغه ټولو دروازو و بلل سي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : زه امید لرم چي ته به د هغو خلکو څخه وې . بخاري او مسلم .

**د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د عبودیت مرتبه**

(۱۷۹۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ الْيَوْمَ صَائِمًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمْ الْيَوْمَ جَنَازَةً قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمْ الْيَوْمَ مِسْكِينًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا قَالَ فَمَنْ عَادَ مِنْكُمْ الْيَوْمَ مَرِيضًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي نن د چا روژه ده ؟ حضرت ابوبکر صدیق عرض وکړ : زما، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کي څوك نن د جنازې سره تللی دئ ؟ ابوبکر صدیق عرض وکړ : زه، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کي چا نن مسکین ته خوراك ورکړئ دئ ؟ ابوبکر عرض وکړ :ما، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په تاسو کي نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده ؟ ابوبکر صدیق عرض وکړ : ما ، نو رسول الله وفرمایل : په چا کي چي دا ټولي ښېګني یو ځای سي نو هغه به جنت ته ځي . مسلم .

**د لږ شي تحفه سپکه مه ګڼئ**

(۱۷۹۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاة . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې مسلمانو ښځو ! هیڅ یو همسایه دي خپلي همسایه ته هدیه یاصدقه لیږل سپك نه ګڼي که څه هم هغه د پسه یو نوکی وي . بخاري او مسلم

**هر نیک عمل صدقه ده**

(۱۷۹۹): وَعَنْ جَابِرٍ وَّ حُذَيْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ . متفق عليه . .

د حضرت جابر او حذیفه (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هره نیکي

صدقه ده . بخاري او مسلم .

**هیڅ یو نیک کار سپک مه ګڼئ**

(۱۸۰۰): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ شَيْئًا وَلَوْ اَنْ تَلْقَى اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د نیکۍ هیڅ یو شی معمولي او حقیر مه ګڼئ که څه هم ته د خپل ورور سره په ورین تندي لیدنه وکړې . مسلم

**ګټه وکړئ او خیرات وکړئ**

(۱۸۰۱): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ قَالُوا فَاِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ فَيَعْمَلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ قَالُوا فَاِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ اَوْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوْفَ قَالُوا فَاِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ قالوا فَاِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَاِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ . متفق علیه

د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر مسلمان صدقه واجب ده ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه که د چا سره هیڅ هم نه وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په دواړو لاسو سره دي کار وکړي مال دي تر لاسه کړي خپل ځان ته دي هم ګټه ورسوي او خیرات دي هم وکړي ، صحابه کرامو بیا پوښتنه وکړه که د چا توان نه وي او داسي نه سي کولای ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د غمجن او اړ کس مرسته دي وکړي ، صحابه کرامو عرض وکړ که داسي هم نه وکړای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د نیك کار لارښوونه دي وکړي ، صحابه کرامو عرض وکړ که داسي هم ونه کړلای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل خپل ځان دي د بدۍ څخه وژغوري دا هم د هغه لپاره صدقه ده . بخاري او مسلم

**د خپل بدن لپاره صدقه کول**

(۱۸۰۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ يَعْدِلُ بَيْنَ الاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا اَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَكُلُّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا اِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ وَيُمِيطُ الْاَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د انسان په بدن کي چي څومره بندونه دي په هغو کي هره ورځ پر هر یوه صدقه واجب ده د دوو کسانو په منځ کي انصاف کول هم صدقه ده ، او چي کومك وکړي د سړي سره پر حیوان د هغه سړي چي پر سپور یې کړي یا پورته یې کړي پر حیوان اسباب دده دا صدقه ده او ښه خبره صدقه ده ، او مسجد ته

په تلو سره چي کوم قدم پورته کوي هغه هم صدقه ده او د لاري څخه تکلیف ورکونکی شی لیري کول هم صدقه ده . بخاري او مسلم .

**د بدن د اندامو شمېر او د دوږخ څخه ساتنه**

(۱۸۰۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلق كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وَثَلَاثِ مِائَةِ مَفْصِلٍ فَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ وَحَمِدَ اللّٰهَ وَهَلَّلَ اللّٰهَ وَسَبَّحَ اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ اللّٰهَ وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا وَأَمَرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهَى عَنْ مُنْكَرٍ عَدَدَ تِلْكَ السِّتِّينَ وَالثَّلَاثِ مِائَةِ فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر انسان درې سوه شپیته (۳۶۰) بندونه پیدا کړل سوي دي څوک چي الله اکبر ووایي د الله حمد وکړي . لااله الاالله ووایي ، سبحان الله ووایي . د الله څخه استغفار وغواړي او د خلکو د لاري څخه ډبري، هډوکي یا ازغي لیري کړي یا یو چا ته نیکه خبره وښيي او د بدی څخه یې منع کړي او دا ټوله درې سوه شپېته ته ورسیږي نو داسي سړی په دغه ورځ داسي ګرځي لکه هغه چي ځان د اور څخه لیري ساتلی یي. مسلم

**معنوي صدقې**

(۱۸۰۲): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ قَالَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرًا . رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر تسبیح (سبحان الله ویل) صدقه ده او هر تکبیر (الله اکبر ویل) صدقه ده او هر تحمید (الحمدلله ویل) صدقه او هر تهلیل (لااله الاالله) ویل صدقه ده ، او د نیکي خبري لارښوونه کول صدقه ده او د بدي څخه منع کول صدقه ده او د خپلي ښځي یا مینځي سره کوروالي کول صدقه ده ، د دې په اوریدو سره صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې داالله رسوله ! په موږ کي هر څوک خپل شهوت پوره کوي او په دې کي هم هغه ته ثواب رسیږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا راته ووایاست که چیري هغه په حرامو خپل شهوت پوره کولای نو پر هغه به ګناه وای که نه ؟ همداسي د هغه په حلاله طریقه شهوت پوره کول د ثواب باعث دئ ، مسلم.

## غوره صدقه

﴿۱۸۰۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الصَّدَقَةُ اللِّقْحَةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً وَالشَّاةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً تَغْدُو بِإِنَاءٍ وَتَرُوحُ بِآخَرَ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره صدقه هغه زیات شیدې ورکونکې اوښه، (میږه، غوا وغیره) ده چي د شېدو لپاره یو چا ته ورکړل سي او بیا هغه زیات شیدې ورکونکې میږه چي د شیدو لپاره چا ته ورکړل سي چي هغه په سهار کي ډک لوښی شېدې کوي او په ماښام کي هم لوښی ډکوي. بخاري او مسلم

## د کښت تاوان او د هغه ثواب

﴿۱۸۰۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا اَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ انسان اَوْ طير اَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ. متفق علیه و في رواية لمسلم عن جابر و ما سرق منه له صدقة .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم مسلمان چي یو نیالگی ولگوي یا فصل وکري او د هغه څخه انسان، مرغان او حیوانان خوراك کوي نو دا هم د هغه لپاره صدقه ده . بخاري او مسلم .

## د حیوانانو سره ښه چلن

﴿۱۸۰۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُفِرَ لامْرَأَة مُومِسَة مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلَى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ فَنَزَعَتْ خُفَّهَا فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا فَنَزَعَتْ لَهُ مِنَ الْمَاءِ فَغُفِرَ لَهَا بِذَلِك قيل اِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا قَالَ فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یوه بد کاره ښځه (له دې کبله) و بخښل سوه چي هغه پر لاري تیریده چي د څاه سره یې یو سپی ولیدئ چي د تندې له کبله یې ژبه راوتلې وه او نژدې وو چي د تندې څخه مړ سي هغه ښځي خپله موزه وکښل او په خپل پوړني سره یې وتړل او د څاه څخه یې د هغه سپي لپاره اوبه راوکښې ددې له کبله هغه و بخښل سول ، پوښتنه وسول ایا د حیوانانو سره په احسان کولو کي هم موږ ته ثواب تر لاسه کیږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هر ساه لرونکي سره أحسان کولو کي ثواب دئ . بخاري او مسلم

## د حیوانانو سره بې رحمي

﴿۱۸۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُذِّبَتْ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ

د حضرت ابن عمر او ابوهریرة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یوې

امسكتها حَتّٰى مَاتَتْ من الجوع فلم تكن تطعمها ولا تر سلها فتَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْاَرْضِ . متفق عليه

ښځي ته د پیښي له کبله عذاب ورکړل سو چي هغه یې تړلې وه تر څو چي د لوږي څخه مړه سوه چي نه یې خوراك ورکوئ او نه یې خلاصول چي د مځکي د حیوانانو څخه یو شی وخوري . بخاري او مسلم .

**د لاري څخه د تکلیف رسونکي شي ایسته کول**

(١٨٠٩): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيْقٍ فَقَالَ لَاُنَحِّيَنَّ هٰذَا عَنْ طريق الْمُسْلِمِينَ لَا يُؤْذِيهِمْ فَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ. متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یو سړی د یو درختي پر ښاخ تیر سو چي په لاره کي پروت وو هغه وویل : زه به دا د مسلمانانو د لاري څخه لیري کړم چي هغوئ ته تکلیف ونه رسیږي په دې خبره هغه سړی جنت ته داخل کړل سو . بخاري او مسلم

(١٨١٠): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَاَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما یو سړی په جنت کي ولیدی چي له دې کبله جنت ته تللی وو چي هغه د لاري څخه یوه درخته پریکړه او وه یې غورزول چي خلکو ته یې تکلیف رسوئ . مسلم

(١٨١١): وَعَنْ اَبِيْ بَرْزَةَ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا اَنْتَفِعُ بِهِ قَالَ اعزِلْ الْاَذٰى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ. رواه مسلم و سنذكر حديث عدي بن حاتم اتقوا النار في علامات النبوة . ان شاء الله تعالى .

د حضرت ابو برزة ﷺ څخه روایت دئ چي ما نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چي اې دالله رسوله ! ما ته یو داسي خبره وښیه چي زه گټه څیني واخلم، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : د مسلمانانو د لاري څخه تکلیف رسونکی شی لیري کوه . مسلم او دير ژر به د عدي بن حاتم حديث (اتقوا النار) په علامات نبوت کي بيان کړل سي .

## دویم فصل

**د قربانو سره د ښه چلن حکم**

(١٨١٢): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه قَالَ لَمَّا قَدِمَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ

د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ مدیني ته تشریف راوړ نو زه یې

.جئت فلما تبينت وجهه عرفت ان وجهه ليس بوجه كذاب فكان اول ما قال: يا أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الارحام وصلوا بالليل وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . رواه الترمذي وابن ماجة ، والدارمي.

په خدمت كي حاضر سوم ، د رسول الله ﷺ په مخ مبارك ليدو سره ما ته څرگنده سوه چي دا مخ درواغجن نه دئ تر ټولو وړاندي رسول الله ﷺ دا وفرمايل : خلكو سلام خپور كړئ يعني هر مسلمان ته سلام ادا كوئ ، (لوږو) ته ډوډۍ وركوئ (د قريبانو) سره ښه چلن كوئ او د شپې هغه وخت لمونځ كوئ چي نور خلك بيده وي نو تاسو به په سلامتيا سره جنت ته داخل سئ . ترمذي، ابن ماجه ،

**غريبانو ته د خوراک ورکولو حکم**

﴿۱۸۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْبُدُوا الرَّحْمَنَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَأَفْشُوا السَّلَامَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى عبادت كوئ وږو ته ډوډۍ وركوئ او په لوړ آواز سره سلام عام كړئ نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل سئ . ترمذي او ابن ماجه.

**د صدقې گټه**

﴿۱۸۱۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : صدقه د الله تعالى غصه يخوي او خراب مرگ ليري كوي . ترمذي

**هره نيكي صدقه ده**

﴿۱۸۱۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ . رواه احمد والترمذي .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هره نيكي صدقه ده او دا هم نيكي ده چي ته په ورين تندي د خپل (مسلمان) ورور سره مخامخ سې او په خپله سلواغه د خپل ورور لوښى ډک كړې . احمد او ترمذي .

﴿۱۸۱۶﴾: وَعَنْ اَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ صَدَقَةٌ وَأَمْرُكَ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ

د حضرت ابو ذر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل ورور په وړاندي ستا خندل يا مسكى كيدل صدقه ده ، نيكه خبره كول صدقه ده

صَدَقَةٌ وَإِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ ونصرك الرجل الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ وَإِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَةَ وَالْعَظْمَ عَنِ الطَّرِيقِ لَكَ صَدَقَةٌ وَإِفْرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِي دَلْوِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

ستا د بدي خبري ځخه منع كيدل صدقه ده چا ته لار ښودل صدقه ده ، ړوند سړی تر لاس نيولی بيول صدقه ده ، دلاري ځخه ډبري ازغی او هډوكی ليري كول ستا لپاره صدقه ده او د خپل مسلمان ورور لوښی د اوبو ځخه ډكول هم ستا لپاره صدقه ده ، ترمذي روايت كړی او وايي دا حديث غريب دی.

**څاه كيندل غوره صدقه ده**

(۱۸۱۷): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ الْمَاءُ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ هٰذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت سعد بن عبادة ﷺ ځخه روايت دئ چي ما نبي كريم ﷺ ته عرض وكړ اي دالله رسوله ! ام سعد (يعني زما مور) مړه سوه نو كومه صدقه غوره ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : اوبه، نو سعد ﷺ څاه و كيندئ او وه يې ويل دا كوهي د ام سعد لپاره صدقه ده . ابوداؤد او نسائي

**غريبانو ته د جامو اغوستلو فضيلت .**

(۱۸۱۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللّٰهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللّٰهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقَى مُسْلِمًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللّٰهُ مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ . رواه ابوداؤد والترمذي .

د حضرت ابو سعيد ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم مسلمان چي يو لوڅ مسلمان ته جامې وركړي الله تعالى به هغه ته دجنت جامې راغوندې او كوم مسلمان چي يو اوږي ته ډوډۍ وركړي الله تعالى به هغه ته د جنت د ميوو ځخه خوراك وركړي او كوم مسلمان چي يو تږي باندې اوبه و چښي الله تعالى به هغه د مهر لګېدلو شرابو ځخه اوبه كړي . ابوداؤد او ترمذي

**د زكوة ځخه پرته نوري صدقې هم سته**

(۱۸۱۹): وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ { لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ } الْآيَةَ . رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي .

د حضرت فاطمي بنت قيس (رض) ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په مال كي د زكوة ځخه پرته هم حق سته ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ (ليس البر ...) نيكي يوازي دا نه ده چي خپل مخ ختيځ يا لويديځ لور ته وګرځوي . ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

**د اوبو او مالګي منع بنه نه ده**

(۱۸۲۰): وَعَنْ بُهَيْسَةَ عَنْ اَبِيهَا قَالَتْ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمَاءُ قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمِلْحُ قَالَ يَا نبي اللّٰه مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ اَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ . رواه ابوداؤد .

حضرت بهیسة (رض) د خپل پلار څخه روایت کوي چي د هغې پلار د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! هغه کوم شی دئ چي بندول (نه ورکول) يې جائز نه دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اوبه، بیا يې پوښتنه وکړل بل کوم شی بندول ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : مالګه ،بیا يې پوښتنه وکړه بل کوم شی دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نیکي کول ستا لپاره غوره ده . ابوداؤد.

**وچه مځکه ابادول هم صدقه ده**

(۱۸۲۱):وعن جابر قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من أحيى أرضا ميتة فله فيها أجر وما أكلت العافية منه فهو له صدقة " . رواه النسائي والدارمي

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي وچه ځمکه اباده کړه نو په دې کي هم د هغه لپاره ثواب دئ او کوم شی چي د کښت څخه وخوړل سي نو دا هم د هغه لپاره صدقه ده . دارمي

**د پور ورکولو فضیلت**

(۱۸۲۲): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةَ لَبَنٍ اَوْ وَرِقٍ اَوْ هَدَى زُقَاقًا كَانَ لَهُ مِثْلَ عِتْقِ رَقَبَةٍ . رواه الترمذي

د حضرت براء ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي يو چا ته د شيدو څښلو لپاره د شيدو حيوانان ورکړي يا نغدي روپۍ په پور ورکړي يا په لاره او کوڅه کي يو چا ته لار و ښيي نو هغه ته به د يوه غلام آزادلو ثواب ورسيږي . ترمذي

**نبوي نصيحتونه**

(۱۸۲۳): عَنْ اَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ اَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَرَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ لَا يَقُولُ شَيْئًا اِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا هَذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال قُلْتُ عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَرَّتَيْنِ قَالَ لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ قُلْ السَّلَامُ عَلَيْكَ قُلْتُ اَنْتَ

د حضرت ابو جری جابر بن سیلم ﷺ څخه روایت دئ چي کله زه مدینې ته راغلم نو يو سړی مي ولیدئ چي خلك د هغه پر رایه ځي یعني څه چي هغه وایي خلك په هغه عمل کوي، هغه داسي هیڅ خبره نه کوي چي خلك عمل په ونه کړي، ما پوښتنه وکړه دا څوك دئ ؟ خلکو وویل : دا

رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ أَنَا رَسُولُ اللّٰهِ الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرَاءَ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ قُلْتُ اعْهَدْ إِلَيَّ قَالَ لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا قَالَ فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً قَالَ وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوفِ وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ إِنَّ ذٰلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ وَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ. رواه ابوداؤد و روي الترمذي منه حديث السلام و في رواية فيكون لك اجر ذالك و باله عليه .

د الله رسوله دئ ، پر هغه دي د الله رحمت او سلام وي، زه «رسول الله ﷺ» ته ورغلم او وه مي ويل عليك السلام يا رسول الله ، ما دوه واره دا الفاظ وويل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : عليك السلام مه وايه ، ما ورته وويل دا دمړي دعاء ده بلكه السلام عليكم ووايه، ما ورته وويل تاسو د الله رسول ياست ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، زه د الله رسول يم ، هر كله چي تا ته يو تكليف ورسيږي او ته هغه «الله » ياد كړې نو هغه ستا تكليف ليري كوي او كه ته په وچ كالی كي اخته يې نو هغه ياد كړې نو په مځكه كي سبزيجات درته پيدا كړي او هر كله چي ته داسي مځكه كي يې چي د درختو او اوبو څخه خالي وي يا يو داسي ځنګل كي يې چي ابادي نه لري او ستا سپرلی ورك سي او ته هغه الله ﷻ ياد كړې نو هغه ستا سپرلي بيرته دركوي، د جابر ﷺ بيان دئ چي ددې په اوربدو سره ما وويل چي ما ته يو څه نصحيت وكړئ ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته چا ته بد مه وايه، جابر وايي ددې وروسته ما هيچا ته بد ونه ويل، يعني نه آزاد او نه غلام ته ، نه اوښ ته او نه پسه ته ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د نيكی هيڅ يو خبره سپكه مه ګڼه هر كله چي ته د خپل ورور سره خبري كوې نو په ورين تندي ورسره خبره وكړه چي دا هم نيكي ده ، او خپل پرتوګ تر نيمي پونډۍ پوري پورته كړه او كه دومره پورته دي خوښ نه وي نو تر خپل بجلكو لاندي پرتوګ ترلو څخه ځان وساته، ځكه چي دا د لويي نښه ده او الله تعالی تكبر «لويي» نه خوښوي ، او څوك چي درته ښكنځل وكړي او تا ته پر هغه غيب غيرت درسي چي هغه ته معلوم دئ نو د هغه پر هغه عيب كوم چي تا ته معلوم دئ هغه ته پيغور مه وركوه ځكه چي د هغه ګناه پر هغه ده ، «پر تا نه ده» ابوداؤد، او ترمذي سلام والا حديث روايت كړئ دئ او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي ستا لپاره به د هغه ثواب وي او د هغه لپاره وبال.

**د الله ﷺ په لار كي صدقه**

(۱۸۲۴): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً فَقَالَ

د حضرت عائشي «رض» څخه روايت دئ چي

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَقِيَ مِنْهَا قَالَتْ مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا . رواه الترمذي و صححه .

صحابه کرامو يو پسه حلال کړ ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا په هغه پسه کي يو شی پاته دئ ؟ بي بي عائشي وويل يوازي يو ورون پاته دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا خو ټول پسه پاته دئ (يعني پرته د ورون څخه د ټول پسه خيرات ثواب اوس هم سته) . ترمذي .

**لوڅ ته جامه ورکول**

﴿۱۸۲۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا كَانَ فِي حِفْظٍ مِنَ اللّٰهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ خِرْقَةٌ . رواه احمد والترمذي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي کوم مسلمان يو بل مسلمان ته جامه ورکړي نو تر څو پوري چي د هغه جامې يو تا هم پاته وي نو هغه سړی به د الله په امن کي وي . احمد او ترمذي

**په پټه د صدقې ورکولو فضيلت**

﴿۱۸۲۶﴾: وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ يَرْفَعُهُ قَالَ ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللّٰهُ رَجُلٌ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتْلُو كِتَابَ اللّٰهِ وَرَجُلٌ يتصدق بصدقة بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا أُرَاهُ قَالَ مِنْ شِمَالِهِ وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غير محفوظ احد رواته ابوبكر بن عياش كثير الغلط .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دري کسان داسي دي چي الله تعالی ورسره مينه کوي : يو هغه چي د شپې ولاړيږي او د قرآن تلاوت کوي ، دويم هغه کس چي په راسته سره صدقه ورکړي مگر چپه لاس يې هم خبر نه سي ، دريم هغه کس چي په يو لښکر کي .گډون وکړي د هغه ملګري ماته وخوري او هغه د دښمن په وړاندي پاته سي . ترمذي ويلي دي دا حديث غير محفوظ دئ ددې يو راوي ابوبکر بن عياش ډيري غلطۍ کوي

﴿۱۸۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللّٰهُ وَثَلَاثَةٌ يُبْغِضُهُمُ اللّٰهُ فَأَمَّا الَّذِينَ يُحِبُّهُمُ اللّٰهُ فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللّٰهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ لِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْيَانِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللّٰهُ وَالَّذِي أَعْطَاهُ وَقَوْمٌ سَارُوا لَيْلَتَهُمْ حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د درو کسانو سره الله مينه کوي او د درو کسانو سره الله تعالی بغض ساتي ، کوم خلك چي الله دوستي ورسره کوي د هغو څخه يو دادئ چي هغه داسي سړي ته صدقه ورکړي چي د يو قوم څخه د غوښتلو

إِلَيْهِمْ مِمَّا يَعْدِلُ بِهِ فَوَضَعُوا رُءُوسَهُمْ فَقَامَ يَتَمَلَّقُنِي وَيَتْلُو آيَاتِي وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ الْعَدُوَّ فَهُزِمُوا فَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ وَالثَّلَاثَةُ الَّذِينَ يُبْغِضُهُمُ اللّٰهُ الشَّيْخُ الزَّانِي وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ وَالْغَنِيُّ الظَّلُومُ . رواه الترمذي و النسائي مثله و لم يذكر و ثلثة يبغضهم .

لپاره راغلئ وو او هغه دغه قوم څخه د خپلولى د حق په نامه نه بلکه د الله تعالى په نامه سوال کړى وو مګر قوم د ورکولو څخه انکار وکړ نو د قوم څخه يو سړى را وراندي سو او په داسي پټه يې د هغه سوال پوره کړ چي د الله څخه پرته او د هغه سړي څخه پرته بل چا ته څرګنده نه سوه ، او دويم هغه سړى چي د قوم سره ټوله شپه ولاړئ تر دي چي خوب ورته ډير خوږ سو او ټول خلك بيده وي او دى را ولاړ سي د الله تعالى په وړاندي زارۍ کوي او قرآن مجيد وايي او دريم هغه سړى چي په يو لښکر کي وو ، د لښکر د دښمن سره مقابله سوه او ماته يې وخوړل او دا سړى د دښمن په وړاندي د سپر په ډول ولاړ وو ، تر څو چي قتل سي يا فتح تر لاسه کړي ، او هغه درې کسان چي الله تعالى بغض ورسره کوي په هغوئ کي يو هغه سپين ږيرى دئ چي زنا کوي او دويم تکبر کونکى فقير دئ او دريم ظلم کونکى شتمن دئ ، نسائي هم داسي روايت کړئ دئ او (ثلثة يبغضهم) يې نه دئ ذکر کړئ .

(١٨٢٨): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيدُ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَقَالَ بِهَا عَلَيْهَا فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ فَقَالُوا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْجِبَالِ قَالَ نَعَمْ الْحَدِيدُ فَقَالُوا يَا رَبِّ أَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْحَدِيدِ قَالَ نَعَمْ النَّارُ فَقَالُوا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ قَالَ نَعَمْ الْمَاءُ قَالُوا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ قَالَ نَعَمْ الرِّيحُ قَالُوا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيحِ قَالَ نَعَمْ ابْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا مِنْ شِمَالِهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و ذكر حديث معاذ الصدقة تطفئ الخطيئة في كتاب الايمان .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى چي ځمکه پيدا کړه نو هغه په لړزيدو سوه ، بيا يې غرونه پيدا کړل او هغو ته يې پر ځمکه د دريدو حکم ورکړ نو ځمکه ودريدل نو ملائکي د غرو په سختوالي حيراني سوې ، هغوئ پوښتنه وکړه اې پروردګاره ! ستا په مخلوق کي تر غره هم سخت شى سته ؟ الله تعالى ورته وفرمايل : هو ، اوسپنه ده ، بيا ملائکو پوښتنه وکړه اې پروردګاره ! ستا په مخلوق کي تر اوسپني هم زيات سخت شى سته ؟ الله تعالى ورته وفرمايل : هو ، اور دئ ، ملائکو بيا پوښتنه وکړه اې پروردګاره ! ستا په مخلوق کي تر اور هم سخت شى سته ؟ الله تعالى ورته وفرمايل :

هو، اوبه دي، ملائکو بیا پوښتنه وکړه ایربه ا ستا په مخلوق کي تر اوبو هم زیات سخت شی سته ؟ الله تعالی ورته وفرمایل : هو، هواء ده ، ملائکو بیا پوښتنه وکړه اې ربه ا ستا په مخلوق کي تر هواء هم زیات سخت شی سته ؟ الله تعالی ورته وفرمایل : هو، د آدم اولاده انسان دئ چي په راسته لاس سره داسې خیرات کوي چي د چپه لاس څخه یې هم پټوي . ترمذي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ ، د معاذ حدیث چي صدقه گناهونه رژوي په کتاب الایمان کي بیان سوی دئ .

## دریم فصل

### د دوو دوو شیانو د خیراتولو فضیلت

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۲۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُنْفِقُ مِنْ كُلِّ مَالٍ لَهُ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِلَّا اسْتَقْبَلَتْهُ حَجَبَةُ الْجَنَّةِ كُلُّهُمْ يَدْعُوهُ إِلَى مَا عِنْدَهُ قُلْتُ وَكَيْفَ ذَلِكَ قَالَ إِنْ كَانَتْ إِبِلًا فَبَعِيرَيْنِ وَإِنْ كَانَتْ بَقَرًا فَبَقَرَتَيْنِ. رواه النسائي . | د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم مسلمان چي د خپل هر مال څخه دوه دوه شیان د الله ﷻ په لار کي نفقه کوي نو د جنت ټول دربانان د هغه ښه راغلاست کوي او په هغوئ کي به هر یو هغه لره هغه د هغه شي په لور بولي |

چي ورسره دي ، ابوذر وایي ما پوښتنه وکړه ددې څه شکل دئ ؟ یعني دوه دوه شیان څنگه خرڅ کیږي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : که اوښان وي نو دوه اوښان او که غواوي وي نو دوې غواوي . نسائي .

### د قیامت په ورځ د مؤمن سایه د هغه صدقه وي

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۳۰﴾: وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ ظِلَّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ . رواه احمد . | د حضرت مرثد بن عبدالله ﷺ څخه روایت دئ چي ما ته د رسول الله ﷺ ځینو صحابه کرامو بیان کړئ دی چي هغوئ د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د قیامت په ورځ به د مؤمن سایه د هغه صدقه وي . احمد |

### د عاشورا په ورځ زیات مصرف وکړئ

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۳۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَسَّعَ عَلَى عِيَالِهِ فِي النَّفَقَةِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَسَّعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ سَائِرَ سَنَتِهِ " . قال سفيان : إنا قد جربناه فوجدناه كذلك . رواه رزين | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د عاشورې په ورځ په خپله کورنۍ زیات خرڅ وکړي نو الله تعالی به پر هغه ټوله کال پراخي وکړي ، د |

سفیان ثوري بیان دي چي. موږ ددې تجربه وکړه او همداسي وسول. رزین ، بیهقي په شعب الایمان کي د ابن مسعود ، ابوهریرة ، ابوسعید او جابر څخه روایت کړئ دئ او هغه دې حدیث ته ضعیف ویلي دي.

**د صدقې ثواب څو چنده دی**

(۱۸۳۲): وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ قَالَ اَبُوْذَرٍ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ الصَّدَقَةَ مَاذَا هِيَ قَالَ أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ وَعِنْدَ اللّٰهِ الْمَزِيْدُ . رواه احمد .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي ابو ذر د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! ما ته وښیاست چي د صدقې ثواب څه شي دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دوه برابر او ددوو برابرو څخه هم زیات او دالله تعالی په نزد د دې څخه هم زیات دئ . احمد

# بَابُ اَفْضَلِ الصَّدَقَة (د غوره صدقې بیان)

## لومړی فصل

**غوره صدقه**

(۱۸۳۳): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ وَ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ . رواه البخاري و رواه مسلم عن حكيم وحده .

د حضرت ابوهریرة او حکیم بن حزام څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره صدقه هغه ده چي په بې پرواهي سره ورکړل سي او صدقه د هغه چا څخه پیل کړه چي پر تا دهغه نفقه واجب ده . بخاري او مسلم یوازي د حکیم بن حزام څخه روایت کړئ دئ .

**پر خپل کورنۍ خرڅ کول صدقه ده**

(۱۸۳۴): وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى اَهْلِهِ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً . متفق عليه

د حضرت ابو مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مسلمان چي په خپل کورنۍ باندي خرڅ کوي او پر هغه د ثواب امید ساتي نو دا هم د هغه لپاره په صدقه کي شمیرل کیږي . بخاري او مسلم .

(۱۸۳۵): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيْنَارٌ اَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یو دینار دئ چي تاسو

وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ . رواه مسلم .

يې د الله تعالى په لار كي خرڅ كړئ او يو دينار دئ چي په غلام آزادولو يې خرڅ كړئ او يو دينار دئ چي مسكين ته يې صدقه كړئ او يو دينار دئ چي په خپل كورنۍ باندي يې خرڅ كړئ په دې ټولو كي د اجر له كبله هغه دينار تر ټولو زيات دئ چي تاسو يې په خپل كورنۍ باندي خرڅ كړئ . مسلم .

**غوره مصرف**

﴿۱۸۳۶﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . رواه مسلم .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره دينار چي سړی يې نفقه كوي هغه دينار دئ چي هغه يې په خپل كورنۍ نفقه كوي او هغه دينار دئ چي هغه يې په خپلو حيوانانو نفقه كوي چي د غزا لپاره يې ساتلي وي او هغه دينار دئ چي په خپلو ملګرو يې نفقه كوي كوم چي په جهاد كي بوخت وي . مسلم

**پر اولاد مصرف كول صدقه ده**

﴿۱۸۳۷﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ فَقَالَ أَنْفِقِي عَلَيْهِمْ فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ . متفق عليه

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دئ چي ما نبي كريم ﷺ ته عرض وكړ چي اې دالله رسوله ! كه زه د ابو سلمه په زامنو كي چي زما زامن هم دي نفقه كوم ؟ نو ايا ما ته به ددې ثواب راكول كيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ته پر هغو نفقه كوه څه چي ته پر هغوئ نفقه كړې د هغه به ثواب تر لاسه كړې ، بخاري او مسلم .

**خپل ماينې يا مېړه ته د صدقې وركولو مسئله**

﴿۱۸۳۸﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ قَالَتْ فَرَجَعْتُ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ فَقُلْتُ إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيفُ ذَاتِ الْيَدِ وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ فَإِنْ كَانَ ذَلِكَ يَجْزِي عَنِّي وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ قَالَتْ فَقَالَ لِي عَبْدُ اللّٰهِ بَلِ ائْتِيهِ أَنْتِ

د عبدالله ابن مسعود دښځي بي بي زينب څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ښځو ! خيرات كوئ كه څه هم هغه ستاسو د ګېڼو وي ، بي بي زينب وايي (د دې په اوريدو سره) كله چي زه خپل خاوند عبدالله ته ورسيدم نو ما ورته وويل : ته يو مفلس سړی يې او رسول الله ﷺ موږ ته د خيرات كولو حكم راكړئ

قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِبَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجَتِي حَاجَتُهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ قَالَتْ فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهُ ائْتِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلَانِكَ أَتُجْزِئُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَلَى أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ فِي حُجُورِهِمَا وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَحْنُ قَالَتْ فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هُمَا قَالَ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الزَّيَانِبِ قَالَ امْرَأَةُ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُمَا أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ .

متفق علیه و اللفظ للمسلم .

دئ ، اوس ته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سه او پوښتنه وکړه که زه پر تا او ستا پر اولاد خرځ کړم نو دا بس ده که یا؟ که دا صدقه کول بس وي نو زه به یې پر تا خرځ کړم ، یعني بل چا ته به یې نه ورکوم، بي بي زینب وايي : د دې په اورېدو سره زما خاوند عبدالله ما ته وویل : ته په خپله ولاړه سه او د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، زینب وايي زه ولاړم نو یو انصاري ښځه هم د رسول الله ﷺ په دروازه کي ناسته وه د هغې پوښتنه هم زما د پوښتني په ډول وه ، زینب وايي د رسول الله ﷺ ډېر هیبت وو (یعني خلك به څیني بیریدل) ناڅاپه بلال موږ ته راغلئ موږ هغه ته وویل چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړه چي دوې ښځي په دروازه کي ناستي دي او دا پوښتنه کوي که هغوئ خپلو خاوندانو ته او هغه یتیمانو کوچنیانو ته چي د هغوئ په روزنه کي دي صدقه ورکړي نو ایا دا بس ده ؟ او رسول الله ﷺ ته دا مه ښیه چي سوال کونکي ښځي څوك دي ، بي بي زینب وايي بلال د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د مسئلې پوښتنه یې وکړه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا دواړې ښځي څوك دي ؟ بلال ورته وویل یوه انصاري ښځه ده او بله زینب ده ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په زینبو کي کومه زینب ده ؟ بلال ورته وویل د عبدالله کوروالا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هغې ته به دوه برابر ثواب ورکول کیږي یو ثواب د قرابت او دویم د صدقې بخاري او مسلم

**قریبانو ته خیرات ورکول ډېر ثواب لري**

(۱۸۳۹): وَعَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً فِي زَمَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ . متفق علیه

د حضرت میموني بنت الحارث (رض) څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي هغې یوه مینځه آزاده کړه ، بیا رسول الله ﷺ ته د هغې یادونه وکړل ، رسول الله ﷺ ورته

وفرمایل که تا دا مینځه خپل ماما ته ورکړې وای نو لوی ثواب به دې سوی وای . بخاري او مسلم.

**د همسایګانو خیال ساتل**

(۱۸۴۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي جَارَيْنِ فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِي قَالَ إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا . رواه البخاري

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! زما دوه همسایګان دي زه په هغوئ کي کومي یوې ته تحفه ولیږم ، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : د چا دروازه چي ستا دروازې ته نژدې وي هغې ته . بخاري.

(۱۸۴۱): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَهَا وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ . رواه مسلم

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ته غوښي پخې کړې نو په هغه کي زیاتي اوبه اچوه او د خپلو همسایګانو خبر اخله . مسلم.

## دویم فصل

**د لږ مال لرونکي صدقه غوره ده**

(۱۸۴۲): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ جُهْدُ الْمُقِلِّ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! کومه صدقه غوره ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : د لږ مال خاوند زیات کوښښ کول (یعني په محنت او مزدوری چي څه تر لاسه سي د هغه څخه ورکول) او د صدقې پیل د هغه چا څخه کوه چي د هغوئ پر تا نفقه واجب وي . ابوداؤد.

**قریبانو ته صدقه ورکول د دوه چنده ثواب باعث دی**

(۱۸۴۳): وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ . رواه احمد والترمذي و النسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت سلیمان بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مسکین ته خیرات ورکول یوه صدقه ده یعني ددې ثواب یو دئ او شناخته ته صدقه ورکول صدقه هم ده او صله چلن هم ، یعني ددې صدقې دوه برابر ثواب تر لاسه کېږي . احمد ، ترمذي او دارمي

**د خرڅ کولو ترتیب**

(۱۸۴۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي یو

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عِنْدِي دِينَارٌ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلٰى نَفْسِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلٰى وَلَدِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ اَنْفِقْهُ عَلٰى اَهْلِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْفِقْهُ عَلٰى خَادِمِكَ قَالَ عِنْدِي آخَرُ قَالَ اَنْتَ اَعْلَمُ . رواه ابوداؤد والنسائي .

سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي زما سره یو دینار دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا په خپل خان خرڅ کړه، بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په خپل اولاد یې خرڅ کړه ،بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ .، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په خپل کورنۍ یې خرڅ کړه . بیا هغه وویل زما سره یو بل دینار هم دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل پر خپل خادم یې خرڅ کړه ، بیا هغه وویل زما سره یو بل هم دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اوس نو ته ښه پوهیږې ، ابوداؤد، نسائي .،

**غوره او بد خلک**

(۱۸۴۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ رَجُلٌ مُمْسِكٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِالَّذِي يَتْلُوهُ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ يُؤَدِّي حَقَّ اللّٰهِ فِيهَا اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ رَجُلٌ يُسْاَلُ بِاللّٰهِ وَلَا يُعْطِي بِهِ . رواه الترمذي و النسائي والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تاسو ته وښیم چي تر ټولو غوره کس څوك دئ ؟ دا هغه سړی دئ چي د الله تعالی په لاره کي د غزا لپاره د خپل آس واګي ونیسي (یعني دجهاد په انتظار وي) بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا دا هم درته وښیم چي هغه کوم یو سړی دئ چي په درجه کي هغه ته نژدې دئ ، دا سړی هغه څوك دئ چي د خپلو پسو سره یې کونج ناستي غوره کړې ده او د هغو پسو څخه د الله تعالی حق یعني زکوة ادا کوي ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل ایا زه تاسو ته تر ټولو خراب کس وښیم ، دا هغه کس دئ چي د هغه څخه د الله په نامه و غوښتل سي او د هغه په نامه څه ورنه کړي . ترمذي، نسائي او دارمي .

**سوال کونکی خالي لاس مه جوابوئ**

(۱۸۴۶): وَعَنْ اُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ . رواه مالك والنسائي والترمذي و ابوداؤد معناه .

د حضرت ام بجید (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سوال کونکی داسي جواب کړئ چي یو څه ورکړی که څه هم هغه سوځېدلي تونه وي . مالك، نسائي، ترمذي او ابوداؤد.

**د نورو سره ښه چلن کول**

(۱۸۴۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اسْتَعَاذَ بِاللّٰهِ فَأَعِيذُوهُ وَمَنْ سَأَلَ بِاللّٰهِ فَأَعْطُوهُ وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ حَتّٰى تَرَوْا أَنْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ. رواه احمد و ابوداؤد والنسائي .

رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د ا لله تعالى په ذريعه در څخه پناه وغواړي نو هغه ته پناه ورکړئ او څوك چي د الله تعالى په نامه در څخه څه وغواړي نو هغه ته يې ورکړئ او څوك چي تاسو ته بلنه درکړي نو. هغه قبوله کړئ او څوك چي احسان در سره وکړي نو د هغه د احسان بدله ورکړئ (او که بدله ممکن نه وي نو) دعاء ورته وکړئ تر څو چي تا ته يقين وسي چي تا د هغه بدله ادا کړه . احمد، ابوداؤد او نسائي

**د الله ﷺ په نامه سوال مه کوئ**

(۱۸۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللّٰهِ إِلَّا الْجَنَّةُ . رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى په روی د جنت پرته بل هيڅ شی غوښتل نه دي پکار . ابوداؤد

# دريم فصل

**د ابوطلحه ﷺ سخاوت**

(۱۸۴۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ { لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ } قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ { لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ } وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللّٰهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَخٍ مَالٌ رَابِحٌ وَقَدْ سَمِعْتُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي د مديني په انصارو کي د خرماوو په اعتبار ابوطلحه ډير شتمن وو، او د هغه تر ټولو زيات هغه باغ خوښ وو چي د هغه نوم بيرهاء وو، او دا باغ مسجد نبوي ته مخامخ وو ، رسول الله ﷺ به دغه باغ تلئ او هلته به يې خوړې اوبه څښلې ، انس وايي کله چي دغه آيت نازل سو (لن تنالوا البر ....) هيڅکله به نيکي تر لاسه نه کړئ تر څو پوري چي هغه مال د الله تعالى په لار کي خرځ نه کړئ کوم چي ستاسو زيات خوښ وي ، نو ابوطلحه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي اې دالله رسوله ا الله تعالى فرمايي (لن تنالوا البر ...) او ما ته په خپلو

مَا قُلْتَ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. متفق عليه

شتمنیو کي د بیرحاء باغ زیات خوښ دئ زه دغه د الله تعالی پر نامه صدقه کوم او د هغه څخه د نیکۍ امید لرم، چي دا به د الله تعالی په نزد زما لپاره ذخیره سي ، اې دالله رسوله ! تاسو چي کوم ځای مناسب گڼئ دا خرڅ کړئ ،ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل : شاباس شاباس، دا (باغ) گټور مال دئ ، تا چي څه وویل ما واورېدل ، اوس زما په نزد مناسب دادئ چي ته دا (باغ) په خپلو قریبانو کي وویشې ابوطلحه عرض وکړ اې دالله رسوله ! همداسي به وکړم، نو ابوطلحه خپل بیرحاء باغ په خپلو قریبانو او د اکا په زامنو باندي وویشئ ، بخاري او مسلم.

**د هر ساه لرونکي نس مړول صدقه ده**

(۱۸۵۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا ". رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره صدقه داده چي ته وږی موړ کړې . بیهقي

# بَابُ مَا تُنْفِقُهُ الْمَرْأَةُ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا

## (د خاوند د شتمنۍ څخه د ښځي خیرات کول)

## لومړی فصل

**ښځه د کور د شتمنۍ څخه خیرات کولای سي**

(۱۸۵۱): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ لَا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ښځه د کور د خوراك څخه صدقه ورکړي او اسراف ونه کړي نو هغې ته به د هغه ثواب رسیږي او خاوند ته به يې د هغې د ثواب گټلو ثواب رسیږي او اشپز ته به هم د هغه هغومره ثواب رسیږي . او دهغوئ په ثواب کي به د هیڅ په ثواب کي کمي نه راځي . بخاري او مسلم

(۱۸۵۲): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کومه ښځه چي د

زَوْجِهَا عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَلَهَا نِصْفُ أَجْرِهِ . متفق عليه .

خاوند د اجازې پرته خيرات وکړي نو هغې ته به نيم ثواب ورسيږي . بخاري او مسلم

**د بادار په حکم سره صدقه ورکول**

(۱۸۵۳): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الْأَمِينُ الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبًا بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ. متفق عليه

د حضرت ابو موسى اشعري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه امانتداره مسلمان خزانچي چي د خپل بادار د حکم سره سم صدقه او خيرات ورکړي او د حکم سره سم پوره پوره او په خوښي سره هغه چا ته ورکړي کوم ته چي د ورکولو حکم سوی دئ نو هغه هم د دوو صدقه کونکو څخه يو دئ يعني يو خاوند او دويم هغه. بخاري او مسلم.

**په مړي پسي خيرات کول**

(۱۸۵۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چي زما مور ناڅاپه مړه سوه که هغې د خبرو کولو موقع تر لاسه کړې واى نو خامخا به يې د صدقې او خيرات کولو وصيت کړی واى نو که زه صدقه ورکړم ايا هغې ته به ثواب رسيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو،. بخاري او مسلم

## دويم فصل

**ښځه دي د خپل خاوند دا جازې پرته خيرات نه کوي**

(۱۸۵۵): عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَلَا الطَّعَامُ قَالَ ذَاكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا . رواه الترمذي

د حضرت ابو امامة ﷛ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کي اوريدلي چي ښځه دي د خاوند د کور څخه د هغه د اجازې پرته هيڅ نه خيراتوي ، پوښتنه وسول چي اى دالله رسوله ! خوراك هم نه ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : خوراك خو زموږ په مال کي غوره مال دئ . ترمذي

(۱۸۵۶): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ لَمَّا بَايَعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّسَاءَ قَامَتْ امْرَأَةٌ جَلِيلَةٌ

د حضرت سعد ﷛ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ د ښځو سره بيعت کوئ نو يوه لويه

كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ إِنَّا كَلٌّ عَلَى آبَائِنَا وَأَبْنَائِنَا وَ أَزْوَاجِنَا فَمَا يَحِلُّ لَنَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ قَالَ الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ أَوْ تُهْدِيْنَهُ. رواه ابوداؤد .

ښځه چي کيداى سي د مضر د قبيلې ښځه وه ولاړه سوه او عرض يې وکړ چي اې دالله تعالى رسوله! زموږ خرڅ زموږ پر مور. اوپلار زموږ پر زامنو او زموږ پر خاوندانو دئ نو ايا زموږ لپاره دا جائز دئ چي موږ د هغوئ د مال ځخه پرته د ا جازې خرڅ وکړو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : تازه مال خورئ او تحفه کوئ يې .

## دريم فصل

د مالک د اجازې بغير خرڅ کول مناسب نه دي

(۱۸۵۷): عَنْ عُمَيْرٍ مُوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ أَمَرَنِي مَوْلَايَ أَنْ أُقَدِّدَ لَحْمًا فَجَاءَنِي مِسْكِيْنٌ فَأَطْعَمْتُهُ مِنْهُ فَعَلِمَ بِذٰلِكَ مَوْلَايَ فَضَرَبَنِي فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَدَعَاهُ فَقَالَ لِمَ ضَرَبْتَهُ فَقَالَ يُعْطِي طَعَامِي بِغَيْرِ أَنْ آمُرَهُ فَقَالَ الْأَجْرُ بَيْنَكُمَا، و في رواية قَال كُنْتُ مَمْلُوكًا فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ مَوَالِيَّ بِشَيْءٍ قَالَ نَعَمْ وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ . رواه مسلم .

د ابواللحم آزاد کړئ غلام حضرت عمير ﷺ روايت کوئ چي زما بادار (ابواللحم) ما ته حکم راکړ چي زه غوښه توټې توټې کړم ، په دا وخت کي يو فقير راغلئ نو ما هغه ته غوښه ورکړه نو هغه زه ووهلم ، زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او ښښه مي ورته بيان کړه ، رسول الله ﷺ زما بادار راوغوښتئ او پوښتنه يې وکړه تا خپل غلام ولي ووهئ ؟ هغه عرض وکړ : هغه زما طعام زما د اجازې پرته ورکوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو دواړو ته به ددې ثواب تر لاسه سي، او په يوه روايت کي دا الفاظ چي عمير وويل : زه غلام وم ما د رسول الله ﷺ ځخه پوښتنه وکړه چي ايا زه د بادار د مال ځخه خرڅ کولاى سم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، ددې ثواب به تاسو دواړو ته نيم په نيمه رسيږي . مسلم.

# بَابُ مَنْ لَا يَعُوْدُ فِي الصَّدَقَة (د خيرات بيرته اخيستلو بيان)

## لومړى فصل

خيرات بيرته اخيستل جائز نه دئ

(۱۸۵۸): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ فَأَرَدْتُ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ ځخه روايت دئ چي ما د الله په لاره کي يو سرى پر آس سپور کړ

أَنْ أَشْتَرِيَهُ وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تَشْتَرِي وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُوْدُ و في رواية لَا تَعُدْ فِيْ صَدَقَتِكَ فَانَّ الْعَائِدَ فِيْ صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ . متفق عليه

(يعني مجاهد ته مي آس ورکړ) نو هغه آس خراب کړ ، ما اراده وکړه چي هغه رانيسم او زما دا خيال وو چي هغه به يې ارزانه را باندي خرڅ کړي ، نو ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ايا زه يې بيرته واخلم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅکله يې مه رانيسه، خپله صدقه بيرته مه اخله که څه هم هغه يې په يوه درهم درکوي څکه خپله صدقه بيرته اخيستل داسي دي لکه سپى چي قى وکړي او بيا يې دويم وار وخوري ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپله صدقه بيرته مه اخله څکه چي صدقه بيرته اخيستونکى د هغه کس په ډول دئ چي يو شى قى کړي او بيا يې و خوري . بخاري او مسلم .

## د صدقې د مال بيرته اخيستلو يو صورت

﴿۱۸۵۹﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَتَتْهُ اِمْرَأَةٌ فَقَالَتْ يا رسول الله إِنِّي تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِجَارِيَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ فَقَالَ وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيرَاثُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُومُ عَنْهَا قَالَ صُومِي عَنْهَا قَالَتْ إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا قَالَ نعم حُجِّي عَنْهَا . رواه مسلم .

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم چي يوه ښځه راغلل او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! ما خپل مور ته يوه مينځه صدقه کړل اوس زما مور مړه سوه (ايا زه هغه بيرته واخلم) رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا ثواب تا ته تر لاسه سو او ميراث هغه مينځه تا ته بيرته درکړل ، يعني هغه ستا په ميراث کي ده ، هغې ښځي بيا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ايا زه د هغې د لوري روژې ونيسم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو د هغې د لوري روژې ونيسه، هغې ښځي بيا پوښتنه وکړه ايا زما مور حج نه دئ کړئ ايا زه د هغې لپاره حج وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو د هغې لپاره حجُ وکړه . مسلم .

# كِتَابُ الصَّوْمِ

## (دروژې بيان)

## لومړی فصل

**د روژې په میاشت کې شیطان بندي کیږي**

(۱۸۶۰): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ فُتِحَتْ اَبْوَابُ الْجَنَّة وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتْ الشَّيَاطِيْنُ ، و في رواية فتحت ابواب الرحمة . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې د روژې میاشت پیل سي نو د آسمان دروازې خلاصي سي او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د جنت دروازې خلاصي سي او د دوزخ دروازې وتړل سي او شیطانان بندي سي او په یوه روایت کې دي چې د رحمت دروازې خلاصي سي.

**د روژه نیونکي لپاره د جنت خاص دروازه**

(۱۸۶۱): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّة ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ منها بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُوْنَ . متفق عليه .

د حضرت سهل ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل د جنت اته دروازې دئ په هغو کې د یوې نوم الریان دئ پر دې دروازه به یوازې روژه نیونکي جنت ته ځي . بخاري او مسلم

**د روژې د میاشتې فضیلت**

(۱۸۶۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه وَمَنْ قَامَ رمضان إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چې په عقیدت او ایمان سره او د ثواب تر لاسه کولو په نیت د رمضان روژې ونیولې د هغه ټول مخکي ګناهونه بخښل کیږي او څوک چې د عقیدت ، ایمان او ثواب تر لاسه کولو په نیت ودرېږي (یعني تراویح یې وکړي) او څوک چې په شب قدر کې د تراویح وروسته نفل وکړي نو د هغه ټول مخکني ګناهونه بخښل کیږي . بخاري او مسلم

د روژې ثواب

(۱۸۶۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ وَلَخُلُوفُ فم الصائم أَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ والصيام جنة فاذا كان يوم صوم احدكم فلا يرفث و لا يصخب فان سابه احد او قاتله فليقل اني امرء صائم . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل د انسان د هر نيك عمل ثواب داسې زياتيږي چې د يوې نيكۍ ثواب لس برابر وركول كيږي تر څو چې دا ثواب اووه سوه پورې ورسيږي ، الله تعالى فرمايلي دي: د روژې ثواب تر دې هم زيات دئ ځكه چې روژه يوازې زما لپاره ده او زه به ددې ثواب وركوم ، (روژه نيونكى) خپل خواهشات او خپل خوراك يوازې زما د رضا لپاره پريږدي او هغه ته دوې خوښۍ تر لاسه كيږي يوه خوښي د روژه ماتي پر وخت او دويمه خوښي د خپل پروردگار سره د ملاقات پر وخت ، د روژه نيونكي د خولې بوى د الله په نزد تر مشكو هم زيات خوشبوداره دئ ، او روژه سپر دئ هر كله چې په تاسو كې د يو چا روژه وي نو د فحش خبرې دې نه كوي ، نه دې پالتو چغې وهي كه څوك هغه ته بد ووايي يا د جگړې كولو اراده ورسره وكړي نو هغه ته دې ووايي چې زما روژه ده . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

د روژې فضائل او بركتونه

(۱۸۶۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتْ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ وَيُنَادِي مُنَادٍ يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ وَلِلّٰهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ . رواه الترمذي و ابن ماجة و رواه احمد عن رجل و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چې د رمضان لومړۍ شپه راسي نو شيطان او سركښ پيريانان وتړل سي ، او ددوږخ دروازې بندې سي او هيڅ دروازه نه خلاصيږي ، او د جنت دروازې خلاصې سي او د هغه هيڅ دروازه نه بنديږي او يو اعلان كونكى اعلان كوي اې د نيكۍ غوښتونكې ، د نيكۍ په لور متوجه سه او اې د بدۍ اراده كونكې د بدۍ څخه منع سه او الله ﷺ (په دغه مياشت كې) ډير خلك د دوږخ څخه

آزادوي او داسي هره شپه كيږي (يعني اعلان هره شپه كيږي) . ، ترمذي ، ابن ماجه، احمد د يو سړي څخه روايت كړى دى ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

## دريم فصل

(۱۸۶۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السماء وَتُغْلَقُ فيه أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ مردة الشَّيَاطِينَ للهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا قَدْ حُرِمَ . رواه احمد والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر تاسو د رمضان مباركه مياشت راغلې ده د هغې روژې الله پر تاسو فرض كړي دي ، په دې مياشت كي د آسمان دروازې خلاصي سي او ددوزخ دروازې وتړل سي او سركښ شيطانانو ته توقونه واچول سي ، په دې مياشت كي د الله تعالى يوه خاصه شپه ده چي تر زرو مياشتو غوره ده ، څوك چي ددې د خير څخه محروم سو نو هغه (د هر خير څخه) محروم سو . احمد او نسائي .

### روژه د قيامت په ورځ شفاعت كوي

(۱۸۶۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَقُولُ الصِّيَامُ : أَيْ رَبِّ إِنِّيْ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهْوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَيَقُولُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ فَيُشَفَّعَانِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : روژه او قرآن كريم به د بنده شفاعت كوي ، روژه به وايي اې پروردگاره! ما دى د ورځي د خوراك او خواهشاتو څخه منع كړى وو نو دده لپاره زما شفاعت قبول كړې، او قرآن كريم به وايي ما د شپې د خوب څخه منع كړى وو او دده په حق كي زما شفاعت قبول كړې نو د هغوئ دواړو شفاعت به قبول كړل سي . بيهقي

### د شب قدر څخه محرومي

(۱۸۶۷): وَعَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ دَخَلَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ وَفِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُومٌ . رواه ابن ماجه

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي د رمضان مياشت پيل سول نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا مياشت پر تاسو راغلل او په دې كي يوه داسي شپه ده چي تر زرو مياشتو غوره ده څوك چي ددې شپې د خير څخه محروم سو نو هغه د

تولو خیرو څخه م.حروم سو او ددې شپې د نیکیو څخه یوازې بې نصیبه محروم کیږي . ابن ماجه

**روژه د برکت او سعادت میاشت ده**

﴿۱۸۶۸﴾: وعن سلمان الفارسي قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال : " يا أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله تعالى صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن أدى فريضة فيه كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء " قلنا : يا رسول الله ليس كلنا نجد ما نفطر به الصائم . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على مذقة لبن أو تمرة أو شربة من ماء ومن أشبع صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار ومن خفف عن مملوكه فيه غفر الله له وأعتقه من النار " . رواه البيهقي

د حضرت سلمان فارسي ﷺروایت دئ چې د شعبان په آخري ورځ رسول الله ﷺ موږ ته خطبه را کړه او وه یې فرمایل : اې خلکو ! یوه لویه میاشت پر تاسو سایه غوړلې ده چې ډیره برکتناکه میاشت ده دا داسې میاشت ده چې په دې کې یوه شپه ده چې تر زرو میاشتو غوره ده ، ددې میاشتې روژې الله تعالى فرض کړې دي او ددې میاشتې عبادت یې نفل ګرځولی دئ څوك چې په دې میاشت کې په نیکۍ سره د الله تعالى قرب و لټوئ نو دهغه ثواب دومره دئ څومره چې د فرضو د رمضان د میاشتې پرته په نورو میاشتو کې دئ څوك چې په دې میاشت کې فرض لمونځ ادا کړي د هغې ثواب د رمضان د میاشتې پرته د نورو میاشتو د اویا فرضو برابر دئ ، دا میاشت د صبر میاشت ده او د صبر ثواب جنت دئ دا میاشت د غمخوارۍ میاشت ده دا میاشت یوه داسې میاشت ده چې په دې کې د مؤمن رزق زیاتیږي څوك چې په دې میاشت کې د یوه روژه نیونکي د روژه ماتي بندوبست وکړي نو هغه د ګناهونو د بخښنې او د دوږخ د اور څخه د خلاصون سبب کیږي

او هغه ته د روژه نیونکي د روژې برابر ثواب ورکول کیږي او په دې سره د روژه نیونکي ثواب هم نه کمیږي، موږ پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! زموږ سره دومره سامان نسته چې د روژه نیونکي روژه ماتی ورکړو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالى دا ثواب هغه چا ته هم ورکوي چې د شیدو یو غړپ یا په خرما سره یا د اوبو یوه غړپ سره د چا روژه ماتی وکړي څوك چې روژه نیونکي ته په

ماره نس دودی، ورکړي الله تعالی به هغه زما په حوض داسي اوبه کړي چي بیا به هیڅکله نه تږی کیږي تر څو چي جنت ته ولاړ سي دا میاشت داسي میاشت ده چي په لومړی کي رحمت دئ په منځ کي بخښنه او په پای کي د دوزخ څخه خلاصون دئ، چا چي په دې میاشت کي د خپل روژه نیونکي غلام څخه لږ کار واخیستئ او د هغه په کار کي یې کمي وکړل نو الله یې بخښي او د دوزخ څخه خلاصون ورکوي. بیهقي

**په روژه کي د بندیانو خلاصون**

(۱۸۶۹): وعن ابن عباس قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا دخل شهر رمضان أطلق كل أسير وأعطى كل سائل. رواه البيهقي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي کله به د روژې میاشت راغلل نو رسول الله ﷺ به بندیان ایله کړل او هر سوال کونکي ته به یې ورکړه ورکول. بیهقي

**د روژې د استقبال لپاره د جنت زینت**

(۱۸۷۰): وَعَنِ ابنِ عُمَرَ ان النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال إِنَّ الْجَنَّةَ تزخرف لرمضان من رأس الحول إلى حول قابل". قال: "فإذا كان أول يوم من رمضان هبت ريح تحت العرش من ورق الجنة على الحور العين فيقلن: يا رب اجعل لنا من عبادك أزواجا تقر بهم أعيننا وتقر أعينهم بنا". روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: جنت د کال د پیل څخه د کال تر پایه پوري د رمضان د میاشتي لپاره ښکلی کیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د روژې لومړی ورځ سي نو د عرش الهي لاندي د جنت د درختو د پاڼو څخه پر حور عین هوا چلیږي، نو حور عین وایي اې پروردګاره! خپل بندګان زموږ خاوندان جوړ کړې او د هغوئ د صحبت او لذت څخه زموږ سترګي یخي کړې او د هغوئ سترګي زموږ د صحبت او لذت څخه یخي کړې، بیهقي

**روژه نیونکي ته د روژې په اخري شپه بخښنه کیږي**

(۱۸۷۱): وعن أبي هريرة قال عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال يغفر لأمته في آخر ليلة في رمضان قيل يا رسول الله أهي ليلة القدر؟ قال لا ولكن العامل إنما يوفى أجره إذا قضى عمله. رواه احمد

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د روژې آخري شپه د محمد ﷺ د امت لپاره بخښنه کیږي، پوښتنه وسول چي اې دالله رسوله! ایا هغه شب قدر ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: یا، مګر کارکونکي (روژه نیونکي) ته چي هغه خپل کار پوره کړي نو د هغه کار پوره اجرت ورکول کیږي احمد.

# بَابُ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ (د میاشتي لیدلو بیان)

## لومړی فصل

**بېله میاشت لیدلو مه روژه نیسئ او مه یې ختموئ**

﴿۱۸۷۲﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصُومُوا حَتّٰى تَرَوُا الْهِلَالَ وَلَا تُفْطِرُوا حَتّٰى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ، و في رواية قَالَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً فلا تصوموا حتى تروه فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فاكملوا العدة ثلثين . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو پوري چي د روژې میاشت ونه وینئ روژه مه نیسئ او روژه مه ماتوئ تر څو پوري چي داختر میاشت ونه وینئ، که ستاسو په مخکي وریځ وي او میاشت څرګنده نه سي نو اندازه وکړئ ، په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي میاشت کله د یو کم دیرش شپو وي تاسو تر هغه وخته پوري روژه مه نیسئ تر څو پوري چي میاشت ونه وینئ که ستاسو په مخکي وریځ وي نو پوره دیرش ورځي شمیرل کیږي. بخاري او مسلم

﴿۱۸۷۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ غم عَلَيْكُمْ فَاَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ . متفق عليه .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د میاشت لیدو سره روژه نیسئ او د میاشت لیدو سره یې ماتوئ، او که وریځ وي نود شعبان دیرش ورځي پوره کړئ . بخاري او مسلم

**د نجوم په قواعد سره د میاشتي اعتبار نسته**

﴿۱۸۷۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا و عقد الابهام في الثالثة ثم قال الشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا يَعْنِي تمام الثلاثين يعني مَرَّةً تِسْعَةً وَعِشْرِيْنَ وَمَرَّةً ثَلَاثِيْنَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : موږ یو امي (بې تعلیمه) قوم یو، لیکل ، لوستل، حساب او کتاب نه پیژنو، میاشت دومره او دومره وي یعني دوه واره یې ګوتي خلاصي کړې او په دریم وار یې بټه ګوته بنده کړه، ددې دا مطلب سو چي میاشت د نهه ویشتو ورځو هم وي، او بیا یې وفرمایل : میاشت داسي ، داسي او داسي وي . یعني درې واره یې ګوتي خلاصي ولرلې ، ددې مطلب دا سو چي کله پوره دیرش ورځي میاشت

وي او كله نهه ويشت ورځي، بخاري او مسلم.

**د رمضان او ذي الحجه مياشتي**

| | |
|---|---|
| (۱۸۷۵): وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرَا عيد لَا يَنْقُصَانِ رمضان وَذُو الْحَجَّةِ. متفق عليه ، | د حضرت ابوبكرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوې مياشتي نه كميږي يعني د رمضان او ذي الحجې مياشتي . بخاري او مسلم . |

**د روژې څخه يوه يا دوې ورځي مخكي د روژې نيولو منع**

| | |
|---|---|
| (۱۸۷۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَقَدَّمَنَّ اَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ اَوْ يَوْمَيْنِ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ رَجُلٌ كَانَ يَصُوْمُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ . متفق عليه | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي دي هيڅوك تر روژې مخكي يوه يا دوې ورځي مخكي روژه نه نيسي ، مگر نه هغه څوك چي د روژې نيولو |

عادت يې وي نو هغه ددغه ورځو روژې نيولاى سي . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

**د شعبان د نيمايي څخه روژه نه سته**

| | |
|---|---|
| (۱۸۷۷): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلَا تَصُوْمُوا . رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي د شعبان نيمه مياشت تيره سي نو روژه مه نيسئ . ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه او دارمي . |

**د شعبان ورځي ياد ساتئ**

| | |
|---|---|
| (۱۸۷۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْصُوا هِلَالَ شَعْبَانَ لِرَمَضَانَ . رواه الترمذي | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د روژې لپاره د شعبان مياشت شميرئ . (يعني د رمضان د مياشتي د څرگندېدو لپاره) ترمذي |

**رسول الله ﷺ د شعبان تولي روژې نيولې**

| | |
|---|---|
| (۱۸۷۹): وَ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ مَا رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ اِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي و ابن ماجة . | د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه پرته د شعبان او رمضان پرله پسې دوې مياشتي روژې نيول |

د بل چا نه دي ليدلي ، ددې دوارو مياشتو پرله پسې روژې به رسول الله ﷺ نيولې . ابوداؤد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه.

### د يوم الشک د روژې مسئله

﴿۱۸۸۰﴾: وَعَنْ عَمارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِيْ يشكُ فِيْه فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة .

د حضرت عمار بن ياسر ﷺ څخه روايت دئ چا چي په شک منه ورځ روژه ونيول نو هغه د ابوالقاسم ﷺ نافرماني وکړه . ابوداؤد، ترمذي ، نسائي او ابن ماجه.

### د مياشتي شهادت

﴿۱۸۸۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ يَعْنِي هِلَالَ رَمَضَان فَقَالَ أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ اشتهد ان محمدا رسول الله قال نعم قال يَا بِلَالُ أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ يَصُومُوا غَدًا . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي ما مياشت ليدلې ده ، (يعني د روژې مياشت) ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا ته ددې خبري شاهدي ورکوې چي دالله څخه پرته بل د عبادت ور نسته ، هغه وويل هو، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا ته ددې خبري اقرار کوې چي محمد ﷺ د الله رسول دئ ، هغه وويل :هو، ددې وروسته رسول الله ﷺ بلال ته وفرمايل : خلك خبر کړه چي د سبا څخه روژه ونيسي . ابوداؤد، ترمذي، نسائي ، ابن ماجه او دارمي.

﴿۱۸۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ تَرَاءَى النَّاسُ الْهِلَالَ فَأَخْبَرْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ رَأَيْتُهُ فَصَامَ وَاَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ . رواه ابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي خلك د مياشتي ليدو لپاره يو ځای سول ، ما رسول الله ﷺ خبر کړ چي ما مياشت لېدلې ده نو رسول الله ﷺ روژه ونيول او خلكو ته يې د روژې نيولو حکم ورکړ . ابوداؤد، دارمي.

# دریم فصل

**رسول الله ﷺ د شعبان ورځي په ډېر احتیاط سره شمیرلې**

(۱۸۸۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَفَّظُ مِنْ شَعْبَانَ مَا لَا يَتَحَفَّظُ مِنْ غَيْرِهِ ثُمَّ يَصُومُ لِرُؤْيَةِ رَمَضَانَ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِ عَدَّ ثَلَاثِينَ يَوْمًا ثُمَّ صَامَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د شعبان ورځې دومره په پاملرنې سره شمیرلې چې د بلې میاشتې شمیر به یې دومره پروا نه کول، بیا د رمضان د میاشتې په لیدو سره به رسول الله ﷺ روژه نیول، که وریځ به وه او د یوکم دیرشو میاشت به څرګنده نه سوه نو رسول الله ﷺ به پوره دیرش ورځې روژې نیولې . ابوداؤد .

**د میاشتې په لیدو سره روژه نیول پکار دي**

(۱۸۸۴): وَ عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا لِلْعُمْرَةِ فَلَمَّا نَزَلْنَا بِبَطْنِ نَخْلَةَ تَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ فَلَقِينَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْنَا إِنَّا رَأَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ فَقَالَ أَيَّ لَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوهُ فَقُلْنَا لَيْلَةَ كَذَا وَكَذَا فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَهُوَ لِلَيْلَةِ رَأَيْتُمُوهُ ، و في رواية عَنْهُ قَالَ أَهْلَلْنَا رَمَضَانَ وَنَحْنُ بِذَاتِ عِرْقٍ فَأَرْسَلْنَا رَجُلًا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَسْأَلُهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَمَدَّهُ لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ . رواه مسلم .

د حضرت ابو البختري ؓ څخه روایت دئ چې موږ د عمرې لپاره ولاړو کله چې موږ نخله نامې ځای کې تم سوو نو خلك د میاشتې لیدو لپاره یو ځای سوی وه ، ځینې خلکو (د میاشتې په لیدو سره) وویل دا د دریمې شپې میاشت ده ، او ځینو وویل د دویمې شپې ده ، بیا چې موږ د ابن عباس ؓ سره یو ځای سوو نو موږ هغه ته وویل چې موږ میاشت ولیدل ځینو ویل چې د درو شپو ده او ځینو ویل د دویمې شپې ده ، ابن عباس پوښتنه وکړه تاسو په کومه شپه میاشت لیدلې ده موږ ورته وویل په فلانۍ شپه نو ابن عباس وویل رسول الله ﷺ د رمضان وخت پر یوه میاشت لیدو موقوف کړئ دئ نو په کومه شپه چې تاسو میاشت لیدلې ده د هغه وخت څخه شمیرل کیږي، په یوه روایت کې د ابوالبختري څخه نقل دئ چې موږ په عرق نامې ځای کې میاشت ولیدل او یو سړی مو د ابن عباس په خدمت کې د تصدیق لپاره ولیږئ ابن عباس وویل : رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې الله تعالی د روژې وخت پر میاشت لیدلو موقوف کړئ دئ که پر آسمان وریځ وي نو د ورځو شمیر پوره کړئ . مسلم .

# بَابُ فِي مسائل متفرقة من كتاب الصوم

## (د روژې د ډول ډول مسئلو بیان)

## (د پیشلمي او روژه ماتي بیان)

## لومړی فصل

### د پیشلمي کولو حکم

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۸۵﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً . متفق عليه. | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پیشلمی کوئ ځکه چي په پیشلمي کي برکت وي ، بخاري او مسلم |

### د اهل ایمان او اهل کتاب فرق

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۸۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ . رواه مسلم | د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زموږ او د اهل کتاب په روژو کي د پیشلمي کولو فرق دئ مسلم |

### په روژه ماتولو کي تلوار ښه دی

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۸۷﴾: وَعَنْ سَهْلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ . متفق عليه | د حضرت سهل ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو چي خلك په روژه ماتي کي تلوار کوي (یعني دلمر لوېدو سره سمدستي |

روژه ماتوي) نو هغوئ به په خیر کي وي . بخاري او مسلم

### د روژې ماتولو وخت

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۸۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَا هُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ . متفق عليه. | د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي شپه ددې لوري څخه راسي (یعني په ختیځ کي توروالی سي) او ورځ دې لوري ته (لوېدیځ ته) ولاړه سي او لمر ولوېږي |

نو روژه نیونکی دي روژه ماته کړي . بخاري او مسلم .

### صوم وصال

| | |
|---|---|
| ﴿۱۸۸۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي |

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ فِي الصَّوْمِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ إِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قال وأيكم مثلي إِنِّي أبِيْت يطعمني رَبِّيْ وَيسقيني . متفق عليه .

رسول الله ﷺ د روژو پرله پسې نیولو څخه منع فرمایلې ده (یعني داسي روژې چي روژه ماتی پکښې نه وي) یو سړي د منع کیدو د حکم په اوریدو سره وویل اې دالله رسوله ! تاسو خو پرله پسې روژې نیسئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په تاسو کي څوك زما په ډول نه سي کیدلای ، زه شپه داسي تیروم چي زما رب په ما خوري او چښي . بخاري او مسلم .

## دویم فصل

### د روژې نیت کله وکړل سي

(۱۸۹۰): عَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يُجْمِعْ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهُ، رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي و قال ابوداؤد و وقفه على حفصة معمر والزبيدي وابن عيينة و يونس الايلي كلهم عن الزهري .

د حضرت حفصې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي تر سهار مخکي نیت ونه کړي نو د هغه روژه نه کیږي .، ترمذي ، ابوداؤد، نسائي او دارمي . او ابوداؤد ویلي دي چي حدیث معمر ، زبیدي ، ابن عیینه او یونس ایلي په بي بي حفصې پوري موقف بیان کړئ دي او ددې ټولو روایت د زهري څخه دئ .

### د پیشلمي اخیري وخت

(۱۸۹۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعَ أَحَدُكُمُ النِّدَاءَ وَالْإِنَاءُ فِيْ يَدِهِ فَلَا يَضَعْهُ حَتّٰى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ مِنْهُ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك د سهار آذان واوري او دهغه په لاس کي د اوبو لوښی وي نو لوښی دي تر هغو نه ایږدي تر څو چي خپل ضرورت پوره نه کړي . (یعني که اوبه چښي نو وه دي يې چښي) ابوداؤد .

### په روژه ماتولو کي تلوار بکار دی

(۱۸۹۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ عِبَادِيْ إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا . رواه الترمذي

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی فرمایي : زما په بندګانو کي تر ټولو زیات خوښ بنده هغه دئ چي په روژې ماتولو کي تلوار وکړي . ترمذي .

## په خرما یا اوبو روژه ماتول د برکت باعث دی

(۱۸۹۳): وَعَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا فَطَرَ اَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ فَاِنَّهُ بَرَكَةٌ فَاِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ فَاِنَّهُ طَهُورٌ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي و لم يذكر فانه بركة غير الترمذي .

د حضرت سلمان بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي چي څوك روژه ماتول غواړي نو هغه ته پکار دي چي په خرما سره روژه ماته کړي ځکه چي خرما د برکت سبب ده ، که خرما نه وي نو په اوبو سره دي یې ماته کړي ځکه چي اوبه پاکونکي دي . احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي .

## د رسول الله ﷺ روژه ماتول

(۱۸۹۴): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ قَبْلَ اَنْ يُصَلِّيَ عَلَى رُطَبَاتٍ فَاِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيْرَاتٌ فَاِنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيْرَاتٌ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د لمانځه ترمخه په تازه خرما سره روژه ماتول، که تازه خرما به نه وه نو په وچو خرماوو سره به یې ماتول او که وچي خرماوي به هم نه وي نو په څو غړپه اوبو . سره به یې روژه ماتول. ترمذي، او ابوداؤد، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ

## خلکو ته د روژه ماتی ورکولو ثواب

(۱۸۹۵): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا اَوْ جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ اَجْرِهِ " . رواه البيهقي في شعب الإيمان ومحيي السنة في شرح السنة وقال صحيح

د حضرت زید بن خالد ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د روژه دار د روژه ماتي بندوبست وکړي یا د یو غازي سامان پوره کړي نو هغه ته به د هغه برابر ثواب ورکول کیږي . بیهقي ،. او صاحب شرح السنة ویلي دي دا حدیث صحیح دئ .

## د روژه ماتي پر وخت د رسول الله ﷺ ارشاد

(۱۸۹۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَفْطَرَ قَالَ ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به روژه ماتول نو فرمایل به یې: تنده ولاړه ، رګونه تازه سول او ثواب ثابت سو که الله ﷻ وغواړي . ابوداؤد.

**د روژه ماتي دعاء**

(۱۸۹۷): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ زَهْرَةَ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ . رواه ابوداؤد مرسلا .

د حضرت معاذ بن زهرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله روژه ماتول نو فرمايل به يې : (اللهم لك ....) اې الله ! ما ستا لپاره روژه ونيول او ستا په رزق مي ماته کره . ابوداؤد مرسلا .

## دريم فصل

**د زر روژه ماتي کولو نمره**

(۱۸۹۸): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ الدِّينُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ لِأَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى يُؤَخِّرُونَ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دين به هميشه غالب وي تر څو پوري چي خلك په روژه ماتي کي تلوار کوي ځکه چي يهود او نصارا په روژه ماتولو کي زنډ کوي . ابوداؤد او ابن ماجه.

**په روژه ماتولو کي تلوار سنت دی**

(۱۸۹۹): وَعَنْ اَبِيْ عَطِيَّةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ قَالَتْ أَيُّهُمَا الَّذِي يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ قَالَ قُلْنَا عَبْدُ اللّٰهِ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ قَالَتْ هٰكَذَا صَنَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ أَبُو مُوسَى . رواه مسلم .

د حضرت بي بي عطية (رض) څخه روايت دئ چي زه او مسروق د بي بي عائشې په خدمت کي حاضر سو اوهغې ته مو وويل : اې د مؤمنانو مور ! د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي دوه کسان دي چي يو څو په روژه ماتي او لمونځ کي تلوار کوي او دويم په روژه ماتي او لمونځ کي زنډ کوي ، بي بي عائشې پوښتنه وکړه په روژه ماتي او لمونځ کولو کي څوك تلوار کوي ؟ موږ عرض وکړ : عبدالله بن مسعود ﷺ، بي بي عائشې وفرمايل : رسول الله ﷺ همداسي کول، د راوي بيان دئ چي دويم سړي چي په روژه ماتي او لمونځ کولو کي به يې زنډ کوئ هغه ابو موسى دئ . مسلم.

**پيشلمي بابرکته دی**

(۱۹۰۰): وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ

د حضرت عرباض بن سارية ﷺ څخه روايت دئ چي

دَعَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّحُورِ فِي رَمَضَانَ فَقَالَ هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

يو وار په روژه کي رسول الله ﷺ زه د پېشلمي خوړلو لپاره وغوښتلم او وه يې فرمايل د برکت خوړلو په لور راځه . ابوداؤد ، نسائي .

**غوره پېشلمی**

﴿۱۹۰۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن غوره پیشلمی خرما خوړل دي . ابوداؤد .

# بَابُ تَنْزِيْهِ الصَّوْمِ (د روژې پاکولو بیان)

## لومړی فصل

**باطلي خبري او باطل کارونه د روژې خلاف دي**

﴿۱۹۰۲﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايتَ دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي درواغ ويل او خراب کار پرېښودل نه پرېږدي (په روژه کي) نو الله ته ددې ضرورتْ نسته چي څوك خپل خوراك او څښاك پرېږدي . بخاري

**په روژې کي د مچي اخيستلو وغيره مسئله**

﴿۱۹۰۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د روژې په حالت کي مچه اخيستل او مباشرت به يې کوئ (يعني بدن به يې د بدن سره يو ځای کوئ) او رسول الله ﷺ پر خپل بدن به واك لرلو کي تر تاسو خلکو ډير توانا وو . بخاري او مسلم

**د جنابت په حالت کي د روژې نيت**

﴿۱۹۰۴﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ فِي رَمَضَانَ وَهُوَجُنُبٌ مِنْ غَيْرِ حُلْمٍ فَيَغْتَسِلُ وَيَصُومُ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي په روژې کي به کله داسي وسول چي پر رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت کي سهار سو ، او دا جنابت به د احتلام له کبله نه وو ، (بلکه د کوروالی له کبله به وو) نو رسول الله ﷺ به غسل کوئ او

روژه به یې نیول . بخاري او مسلم .

### د روژې په حالت کې وینه کښل جائز دي

(۱۹۰۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د احرام او روژې په حالت کي وینه کښل . بخاري

### په هیره خوراک او څښناک کول

(۱۹۰۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ وَشَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللّٰهُ وَسَقَاهُ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د روژې په حالت کي په هیره سره خوراك او څښناك وکړي نو هغه دي خپله روژه پوره کړي ځکه چي څه هغه په هیره سره خوړلې او څښلي دي هغه الله تعالی په خوړلي او څښلي دي . بخاري او مسلم

### کفاره خپل کورنۍ ته ورکول

(۱۹۰۷): وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلَكْتُ قَالَ مَا لَكَ قَالَ وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا صَائِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا قَالَ هَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا قَالَ فَمَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهَا تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ الضخم قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ فَقَالَ أَنَا قَالَ خُذْ هذا فَتَصَدَّقْ بِهِ فَقَالَ الرَّجُلُ أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَوَاللّٰهِ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي یو سړی حاضر سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! زه هلاك سوم ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه څه وسول ؟ هغه وویل : ما د روژې په حالت کې د خپلې ښځې سره کوروالي وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا ستا سره یو غلام سته چي هغه آزاد کړې ؟ هغه وویل :نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ایا ته دومره توان لرې چي پرله پسې دوې میاشتي روژې ونیسئ ؟ هغه وویل : یا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا ته شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکولای سې هغه وویل : یا ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : کښینه، او رسول الله ﷺ پخپله خوله کښېنستئ ،لکه د یو چا انتظار چي کوئ ، غرض دا چي موږ همداسي

أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ. متفق عليه

ناست وو چي رسول الله ﷺ ته يو عرق (د خرماوو كڅوړه) راوړل سوه ، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه : پوښتنه كونكى چيري دئ ؟ هغه وويل حاضر يم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا واخله او خيرات يې كړه ، هغه وويل اې دالله رسوله ! ايا پر هغه چا يې خيرات كړم چي تر زما زيات اړ وي ؟ قسم په خداى چي د مدينې په دواړو لورو كي په هيڅ كور كي زما تر كورنى زيات اړ نسته ، د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ ته خندا ورغلل تردې چي د رسول الله ﷺ مخكي غاښونه مبارك څرګند سول ، بيا يې وفرمايل : ښه دئ په خپل كورنى يې وخوره . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

### په روژه كي د خپل ښځي ژبه په خوله كي نيول

﴿١٩٠٨﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ وَيَمُصُّ لِسَانَهَا . رواه ابوداؤد .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د روژې په حالت د هغې څخه مچه اخيستل او د هغې ژبه به يې ژوول . ابوداؤد .

### د روژې په حالت كي مباشرت

﴿١٩٠٩﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ فَرَخَّصَ لَهُ وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ فَنَهَاهُ فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ وَالَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي هغه د روژې په حالت كي د خپل بي بي سره ګډون كوي، رسول الله ﷺ هغه ته اجازه وركړه ، يو بل سړى راغلئ هغه هم د اسي سوال وكړ ، رسول الله ﷺ هغه منع كړ ، چا ته چي يې اجازه وركړه هغه سپين ږيرى وو او څوك چي يې منع كړ هغه ځوان وو . ا بوداؤد.

### په روژه كي د قي كولو مسئله

﴿١٩١٠﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وهو صائم فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ . رواه الترمذي وابوداؤد وابن ماجه والدارمي ، وقال الترمذي هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عيسي ابن يونس

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د روژې په حالت كي چي پر چا قى غلبه وكړي (يعني په خپله قى ورسي) نو پر هغه قضا واجب نه ده او څوك چي په قصد سره قى وكړي پر هغه قضا واجب ده . ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه ، دارمي، ترمذي ويلي دي

و قال محمد يعني البخاري الا اراه محفوظا .

دا حديث غريب دئ مونږ د عيسى بن يونس د اسناد څخه دا روايت پيژنو، امام بخاري فرمايلي دي زه دا حديث غير محفوظ گڼم.

(١٩١١): وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ اَنَّ اَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَأَفْطَرَ قَالَ فَلَقِيتُ ثَوْبَانَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَقُلْتُ اَنَّ اَبَاالدَّرْدَاءِ حَدَّثَنِيْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَافْطَرَ قَالَ صَدَقَ أَنَا صَبَبْتُ لَهُ وَضُوءَهُ . رواه ابوداؤد والترمذي و الدارمي

د حضرت معدان بن طلحة ﷺ څخه روايت دئ چي ابودرداء دا حديث بيان کړئ دي چي رسول الله ﷺ قی وکړ او ددې وروسته يې روژه ماته کړه ، ددې وروسته معدان د دمشق مسجد کي د ثوبان سره يو ځای سو او هغه ته يې وويل : ابو درداء ما ته دا حديث بيان کړئ دي چي رسول الله ﷺقی وکړ بيا يې روژه ماته کړه ، ثوبان وويل ابودرداء رښتيا ويلي دي او ما د رسول الله ﷺ د اوداسه لپاره لوښی د اوبو څخه ډك کړی وو . ترمذي، ابوداؤد، او دارمي.

## په روژه کي مسواك وهل جائز دي

(١٩١٢): وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَا أُحْصِي يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ . رواه الترمذي و ابوداؤد

د حضرت عامر بن ربيعة ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د روژې په حالت کي په مسواك وهلو دومره واره ليدلی دئ چي زه يې شميرلای نه سم . ترمذي او ابوداؤد.

## په روژه کي رانجه لگول جائز دي

(١٩١٣): وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اشْتَكَتْ عَيْنِي أَفَأَكْتَحِلُ وَأَنَا صَائِمٌ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي وقال ليس اسناده بالقوي و ابو عاتكة الراوي يضعف .

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي زما سترگي خوږيږي ايا د روژې په حالت کي رانجه پکښي اچوم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، . ترمذي وويل ددې اسناد قوي نه دي د ابوعاتکه راوي کمزورتيا بيان سوې ده .

## په روژه کي پر سر اوبه تويول مکروه نه دي

(١٩١٤): وَعَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ الْمَاءَ عَلَى رَأْسِهِ وَهُوَصَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ

دنبي کريم ﷺ د ځينو صحابه کرامو څخه روايت دئ چي هغوئ په عرج نامي ځای کي رسول الله ﷺ وليدئ چي د روژې په حالت کي د

أَوْ مِنَ الْحَرِّ . رواه مالك و ابوداؤد .

سختي تندي يا زياتي گرمۍ له كبله يې پر سر مبارك اوبه اچولې . مالك ،ابوداؤد

**په روژه كې د ويني كښلو مسئله**

(١٩١٥): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتٰى رَجُلاً بِالْبَقِيعِ وَهُوَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِيْ لِثَمَانِيَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ فَقَالَ اَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي قال الشيخ الامام محي السنة رحمه الله وتاوله بعض من رخص في الحجامة اي تعرضا للافطار المحجوم للضعف والحاجم لانه لا يامن من ان يصل شئ الى جوفه بمص الملازم .

د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ بقيع ته تشريف يوړئ او هلته يې يو سړى وليدئ چي ښكر وهي او د روژې اتلسمه نيټه ده رسول الله ﷺ زما لاس نيولى وو ، رسول الله ﷺ چي هغه ښكر وهونكى وليدئ نو وه يې فرمايل : ښكر وهونكى او د چا څخه چي د ښكر له ذريعه وينه كښل كيږي د دواړو روژه ماته ده . ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمي، امام محي السنة وفرمايل د ښكر په ذريعه وينه كښونكى په اړه د روژې ماتولو اجازه وركونكو تاويل كړى دئ . يعني د چا څخه چي وينه وكښل سي د هغه د كمزورۍ له كبله او د ښكر كونكي له دې كبله چي د روژې ماتولو ته نژدې دئ كله چي هغه ښكر راكاږي نو د هغه نس ته خامخا څه ځي .

**ببله عذره روژه نه نيول**

(١٩١٦): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهٖ وَاِنْ صَامَهُ . رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي والبخاري في ترجمة باب و قال الترمذي سمعت محمدا يعني البخاري يقول ابو المطوس الراوي لا اعرف له غير هذا الحديث .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په روژه كي پرته د اجازې ، عذر يا ناروغۍ څخه روژه ونه نيسي نو د هغه ټول عمر روژه نيولو سره د هغې بدله نه سي پوره كيدلاى . احمد ، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة، دارمي، بخاري ترمذي ويلي دي ما د امام بخاري څخه واوريدل چي هغه ويل : د ابو المطوس څخه پرته ما ددې حديث هيڅ بل روايت نه دي تر لاسه كړئ .

**بې روحه روژه**

(١٩١٧): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير روژه نيونكي دي

صِيَامِهِ إِلَّا الظمأ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ . رواه الدارمي و ذكر حديث لقيط بن صبرة في باب سنن الوضوء .

چي هغو ته د هغوئ د روژو د تږي پرته نور څه په لاس نه ورځي او ډير د شپې عبادت کونکي داسي دي چي هغوئ ته د وېښ پاته کېدو څخه پرته نور څه په لاس نه ورځي . دارمي، او د لقيط بن صبرة حديث په سنن الوضوء کي ذکر سوی دئ .

## دريم فصل

### په وينه کښلو، قی او احتلام سره روژه نه ماتيږي

(۱۹۱۸): عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ الصَّائِمَ الْحِجَامَةُ وَالْقَيْءُ وَالِاحْتِلَامُ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غير محفوظ وعبدالرحمن بن زيد الراوي يضعف في الحديث .

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دري شيان دي چي د روژه دار روژه نه ماتوي : يو خو وينه کښل، دويم قی چي خپله راسي، او دريم احتلام. ترمذي ، ترمذي ويلي دي چي دا حديث غير محفوظ دئ ددې يو راوي عبدالرحمن بن زيد چي په حديث کي کمزور ګڼل سوی دئ .

(۱۹۱۹): وَعَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَكُنْتُمْ تَكْرَهُونَ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا إِلَّا مِنْ أَجْلِ الضَّعْفِ . رواه البخاري

د حضرت ثابت البنائي ﷺ څخه روايت دئ چي د انس ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا تاسو به د روژه دار لپاره په ښکر وينه کښل بد ګڼل ؟ هغه وويل : يا، البته له دې کبله مو مکروه ګڼل چي په ښکر وهلو سره روژه دار کمزوری کيږي کيدای سي چي دده د کمزورتيا څخه روژه ماته سي . بخاري

(۱۹۲۰): وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ صَائِمٌ ثُمَّ تَرَكَهُ فَكَانَ يَحْتَجِمُ بِاللَّيْلِ .

د امام بخاري (رح) څخه دا روايت تعليقا روايت دئ چي ابن عمر ﷺ به د روژې په حالت کي ښکر لګول پرېښودئ ، په شپه کي به يې بيا ښکر لګوئ .

### په خوله اوبه لغړولو او ناړو تېرولو سره روژه نه ماتيږي

(۱۹۲۱): وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ إِنْ مَضْمَضَ ثُمَّ أَفْرَغَ مَا فِي فِيهِ مِنَ الْمَاءِ لَا يَضُرُّهُ إِنْ يَزْدَرِدْ رِيقَهُ وَمَا بَقِيَ فِي فِيهِ وَلَا يَمْضَغُ الْعِلْكَ فَإِنِ ازْدَرَدَ رِيقَ الْعِلْكِ

د حضرت عطاء ﷺ څخه روايت دئ که روژه دار په خوله ا وبه ولغړوي او بيا اوبه د خولې څخه وباسي نو روژې ته څه تاوان نه رسيږي او څه

لَا أَقُولُ إِنَّهُ يُفْطِرُ وَلَكِنْ يُنْهَى عَنْهُ . رواه البخاري في ترجمة باب .

چي په خوله کي دننه پاته سي د هغه په تيرېدو کي څه پروا نسته او روژه دار دي ژاولي نه ژويي او که د ژاولو ناړي تيري کړي نو د هغه روژه ماته سوه که يا، زه په دې اړه څه نه وايم مګر ددې څخه ځان منع کولای سي . بخاري

## بَابُ صَوْمِ الْمُسَافِرِ (د مسافر د روژې بيان)

### لومړی فصل

**د سفر په حالت کي روژه نيول او نه نيول دواړه جائز دي**

﴿١٩٢٢﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَأَصُومُ فِي السَّفَرِ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ فَقَالَ إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) روايت دئ چي حمزه بن عمرو اسلمي ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ايا زه په سفر کي روژه ونيسم او حمزه به ډيري روژې نيولې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که غواړې نو نيسه يې او که يې نه غواړې نو مه يې نيسه. بخاري او مسلم

﴿١٩٢٣﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ فَلَمْ يَعِبْ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ . رواه مسلم

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د روژې پر شپاړلسمه د رسول الله ﷺ سره غزا ته روان سوو ، په موږ کي ځينو چي قوي وه روژه ونيول او ځينو (چي کمزوري وه) روژه نه ونيول ، روژه نيونکو روژه خوړنکو ته او روژه خوړنکو روژه نيونکو ته بد نه وويل . مسلم

**د ضعف او مشقت په حالت کي روژه نه نيول غوره دي**

﴿١٩٢٤﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ مَا هٰذَا فَقَالُوا صَائِمٌ فَقَالَ لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ . متفق عليه

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په سفر کي وو او بيا يې په يو ځای کي ګڼه ګونه وليدل او بيا يې يو سړی وليدئ چي (د لمر څخه) د ژغورني لپاره سايه پر جوړه سوې وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا څه دي ؟ خلکو ورته وويل : روژه دار دئ ، رسول الله ﷺ

وفرمایل: په سفر کي روژه نیول نیکي نه ده . بخاري او مسلم

(۱۹۲۵): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَنَزَلْنَا مَنْزِلاً فِيْ يَوْمٍ حَارٍ فَسَقَطَ الصَّوَّامُوْنَ وَقَامَ الْمُفْطِرُوْنَ فَضَرَبُوا الأَبنِيَة وَسَقَوا الرِّكَابَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ الْمُفْطِرُوْنَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ . متق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو ، په موږ کي د ځینو روژه وه او د ځینو روژه نه وه، یوه ورځ په ګرمي کي موږ په یو ځای کي تم سوو د کومو خلکو چي روژه وه هغوئ د کمزورۍ څخه ولویدل او د چا چي روژه نه وه هغوئ په خپلو کارو کي بوخت وه ، هغوئ خیمې هم ودرولې اوښان یې هم اوبه کړل ،.(د دې په لیدلو سره) رسول الله ﷺ وفرمایل: نن هغه خلکو ثواب تر لاسه کړ چي روژه یې نه وه نیولې . بخاري او مسلم

**په سفر کي د روژې ماتولو اجازه**

(۱۹۲۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ إِلَى مَكَّةَ فَصَامَ حَتّٰى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَرَفَعَهُ إِلَى يَدَيْهِ لِيُرِيَهُ النَّاسَ فَأَفْطَرَ حَتّٰى قَدِمَ مَكَّةَ وَذٰلِكَ فِي رَمَضَانَ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ قَدْ صَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْطَرَ فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ . متفق عليه و في رواية لمسلم عن جابر انه شرب بعد العصر .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ سره د مدینې څخه مکې ته روان سوو ، رسول الله ﷺ تر عسفان نامي ځای پوري روژه ونیول ، عسفان ته چي ورسیدو نو رسول الله ﷺ اوبه وغوښتلې خلکو ته د ښودلو لپاره یې په لاس کي اوبه پورته کړې بیا یې وڅښلې ، یعني روژه یې ماته کړه ، همداسي رسول الله ﷺ تر مکې پوري سفر وکړ یعني په سفر کي یې روژه ونه نیول، او دا د روژې میاشت وه ، ددې وروسته ابن عباس ﷺ خلکو ته وویل چي رسول الله ﷺ په سفر کي روژه نیولې هم ده او خوړلې یې هم ده نود چا چي خوښه سي روژه دي ونیسي او د چا چي خوښه سي نو ماته دي یې کړي . بخاري او مسلم . او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ په عسفان کي د مازدیګر وروسته روژه ماته کړه .

## دویم فصل

**د سفر په حالت کي د روژې معافي**

(۱۹۲۷): عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكِ الْكَعْبِيِّ قَالَ قَالَ

د حضرت انس بن مالك الكعبي ﷺ څخه روایت دئ

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى وَضَعَ عن المسافر شَطْرَ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمَ عَنْ الْمُسَافِرِ وَعَنْ الْمُرْضِعِ أَوْ الْحُبْلَى. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائيّ وابن ماجة .

چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د مسافر لپاره نيم لمونځ معاف کړئ دئ او د مسافر لپاره د شيدو ورکونکي (ښځي) او حاملې (ښځې) لپاره يې روژه معاف کړې ده . ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه

**که په سفر کي ارامي وي نو روژه نيول مستحب ده**

(۱۹۲۸): وَعَنْ سَلْمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ حَمُولَةٌ تَأْوِيْ إِلٰى شِبْعٍ فَلْيَصُمْ رَمَضَانَ مِنْ حَيْثُ أَدْرَكَهُ " . رواه أبو داود

د حضرت سلمة بن المحبق (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا سره چي ښه سپرلى وي چي هغه په آرامه سره خپل منزل ته ورسوي نو هغه ته پکار دي چي چيري روژه راسي نو روژه دي ونيسي . ابوداؤد .

## دريم فصل

**په سفر کي روژه نيول او د رسول الله ﷺ متابعت نه كول**

(۱۹۲۹): عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيمِ فَصَامَ النَّاسُ ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ فَرَفَعَهُ حَتَّى نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ فَقِيلَ لَهُ بَعْدَ ذَلِكَ إِنَّ بَعْضَ النَّاسِ قَدْ صَامَ فَقَالَ أُولَئِكَ الْعُصَاةُ أُولَئِكَ الْعُصَاةُ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ د روژې په مياشت کي مکې ته ولاړئ ، په دې سفر کي رسول الله ﷺ تر كراع الغميم نامي ځاى پوري روژه نيولې وه او د دده ملګرو هم روژه نيولې وه ، بيا يوه ورځ رسول الله ﷺ اوبه راوغوښتلې هغه يې په لاس کي پورته کړې چي خلك يې وويني او بيا يې وڅښلې ، ددې وروسته رسول الله ﷺ ته وويل سول چي ځينو خلکو روژه نيولې ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغوئ نافرمانه دي او سخت ګناه کار دي . مسلم

**په سفر کي روژه نيول او په حضر کي روژه نه نيول په دواړو کي مشابهت**

(۱۹۳۰): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَائِمُ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ كَالْمُفْطِرِ فِي

د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په سفر کي د روژې نيول داسي دي لکه په کور کي د روژې نه نيول . (يعني سخ ،ګناه

الْحَضَرِ . رواه ابن ماجة .

(٥) ابن ماجه، دا حديث د علماؤ په نزد منسوخ دئ.

**په سفر كي روژه نه نيول غوره دي**

(١٩٣١): وَعَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنِّيْ أَجِدُ بِي قُوَّةً عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ قَالَ هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللّٰهِ فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ . رواه مسلم

د حضرت حمزة بن عمرو اسلمي ﷺ څخه روايت دئ چي هغه رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! زه په خپل سفر كي د روژې نيولو توان لرم ايا گناه به وي كه زه روژه ونيسم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د روژې نه نيولو د الله د لوري اجازه ده څكه چي څوك ددې اجازې څخه گټه تر لاسه كړي غوره ده او څوك چي روژه نيول خوښوي پر هغه هيڅ گناه نسته . مسلم.

# بَابُ الْقَضَاءِ (د قضائي روژو بيان)

## لومړی فصل

**د حضرت عائشي (رض) قضا روژې**

(١٩٣٢): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ قَالَ يحيى بْن سعيد تعْني الشُّغْلُ مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي پر ما باندي قضائي روژې وې مگر ما به د شعبان د مياشتي څخه پرته په بله مياشت كي د قضاء راوړلو توان نه درلودئ ، يحيى بن سعيد راوي وايي ، حضرت عائشة د رسول الله ﷺ په خدمت كي زياته بوخته وه له دې كبله د روژې د مياشتي هغه روژې چي د حيض له كبله به پاته سوي وې هغې به تر لسو مياشتو پوري نه سوې نيولای او په شعبان كي به هغې ته د نيولو موقع په لاس ورتلل . بخاري او مسلم

**ښځه دي د خاوند د اجازې پرته نفلي روژه نه نيسي**

(١٩٣٣): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خاوند په شتون كي د هغه د اجازې پرته ښځي ته نفل روژې نيول جائز نه دي او ښځي ته پكار دي چي د خاوند د اجازې څخه پرته څوك كور ته نه پرېږدي . بخاري او مسلم.

**پر حائضه ښځه باندي د روژې قضا واجب ده**

﴿۱۹۳۴﴾: وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ اَنَّهَا قَالَتْ لِعَائِشَةَ مَا بَالُ الْحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ يُصِيبُنَا ذٰلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ . رواه مسلم

د حضرت معاذة العدوية (رض) څخه روايت دئ چي ما د بي بي عائشي څخه پوښتنه وکړه دا څه وجه ده چي حائضه ښځه قضائي روژې نيسي او قضاء لمونځ نه کوي، هغې وفرمايل: د رسول الله ﷺ په زمانه کي به موږ ته دا (حيض) پېښېدئ موږ ته به د روژو د قضاء حکم وو او د لمانځه دقضاء راگرځولو حکم به راته نه وو . مسلم

**د مړي له طرفه د روژو فديه**

﴿۱۹۳۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي مړ سي او د هغه پر ذمه قضائي روژې وي نو د هغه د لوري دي وارث روژې ونيسي يعني فديه دي ورکړي .بخاري او مسلم .

## دويم فصل

﴿۱۹۳۶﴾: عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرٍ فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينٌ . رواه الترمذي و قال والصحيح انه موقوف علي ابن عمر .

د حضرت نافع ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي مړ سي نو پکار دي چي دده د طرف څخه د هري روژې په بدل کي مسکين ته ډوډۍ ورکړي . ترمذي .

## دريم فصل

**د بل چا لپاره نه روژل نيول کېدای سي نه لمونځ کيدای سي**

﴿۱۹۳۷﴾: عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُسْأَلُ هَلْ يَصُومُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ اَوْ يُصَلِّي اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ فقال لَا يَصُومُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ وَلَا يُصَلِّي اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ . رواه في الموطا .

د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دئ چي د ابن عمر ﷺ څخه به دا ډول پوښتني کېدلې چي څوک دي د چا پر ځای روژې ونيسي ؟ د چا پر ځای دي لمونځ وکړي ؟ هغه به ددې په جواب کي ويل چي نه دي څوک د چا پر ځای روژې نيسي او نه دي د چا پر ځای لمونځ کوي . مؤطا .

## بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ (د نفلي روژو بيان)

### لومړی فصل

**د نفل روژو په اړه د رسول الله ﷺ معمول**

(۱۹۳۸): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْهُ صِيَامًا فِي شَعْبَانَ، و في رواية قَالَتْ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ وَكَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به پرله پسې روژې نيولې تر دې چي موږ به ويل چي اوس به رسول الله ﷺ روژې نه پرېږدي او کله چي به يې روژې نيول پرېښودل نو موږ به ويل اوس به رسول الله ﷺ روژې نه نيسي ، او ما نه دي ليدلي چي رسول الله ﷺ د رمضان د روژو پرته د يوې مياشتي روژې پوره نيولي وي او د شعبان څخه پرته يې په بله مياشت کي زياتي روژې نه دي نيولي ، په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي بي بي عائشې وويل : رسول الله ﷺ به د شعبان د پوره مياشتي روژې نيولې او په شعبان کي به يې روژې نيولې مگر څو ورځي به يې پرېښودلې . بخاري او مسلم

(۱۹۳۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرًا كُلَّهُ قَالَتْ مَا عَلِمْتُهُ صَامَ شَهْرًا كُلَّهُ إِلَّا رَمَضَانَ وَلَا أَفْطَرَهُ كُلَّهُ حَتَّى يَصُومَ مِنْهُ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ. رواه مسلم

د حضرت عبد الله بن شقيق ﷺ څخه روايت دئ چي ما د عائشي څخه پوښتنه وکړه چي ايا رسول الله ﷺ به د يوې مياشتي پوره روژې نيولې ؟ هغې وويل : زه نه . هيږم چي رسول الله ﷺ د کومې مياشتي پوره ر ژې نيولي دي پرته د رمضان څخه ، او هيڅ يوه م شت داسي نه ده تيره سوې چي په هغه کي دي رسول الله ﷺ روژې نه وي نيولې، تر څو چي رسو الله ﷺ وفات سو ، مسلم.

**د شعبان د اخيري د وو ورځو روژې**

(۱۹۴۰): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَأَلَهُ أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ فَقَالَ يَا أَبَا فُلَانٍ أَمَا صُمْتَ من

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه او يا رسول الله ﷺ د بل چا څخه پوښتنه وکړه او عمران واوريدل چي اې د فلاني پلاره ! ايا تا د آخري شعبان روژې نه

سَرَرَ شعبان قَالَ لا فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ . رواه مسلم .

ونیولې .؟ هغه عر . کړ :یا، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هر کله چې ته د رمـ . د روژو څخه فارغ سېنو دوې روژې نورې ونیسه (یعنې د کوچنې اختر وروسته). بخاري او مسلم.

## د محرم د نفل روژو فضیلت

(۱۹۴۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ .رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د رمضان د روژو څخه وروسته تر ټولو غوره روژې د محرم دي او تر فرض لمانځه وروسته تر ټولو غوره لمونځ د شپې لمونځ دئ. مسلم

## د عاشورا په ورځ روژه

(۱۹۴۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ يَعْنِي شَهْرَ رَمَضَانَ . متفق علیه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې ما نبي کریم ﷺ نه دئ لیدلئ چې د یوې ورځې د روژې نیولو اراده کوي او د نورو ورځو تر روژو نیولو یې غوره ګڼي مګر ددې ورځې د روژې یعنې د عاشورا د ورځې او ددې میاشتې د روژې یعنې د رمضان. بخاري او مسلم

## د عاشورا د ورځې د روژې مسئله

(۱۹۴۳): وَعَنْهُ قَالَ حِينَ صَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُوْرَآءَ وَ أَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوا يَا رَسُولُ اللَّهِ انه يوم يعظمه اليهود والنصارى فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَئِنْ بَقِيتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُومَنَّ التَّاسِعَ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ د عاشورا د ورځې روژه ونیول او خلکو ته یې ددې ورځې د روژې حکم وکړ نو خلکو وویل اې دالله رسوله ! په دې ورځ خو یهود او نصارا عظمت کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: که زه تر راتلونکي کال پورې ژوندی پاته سوم نو په نهم تاریخ به هم روژه نیسم. مسلم

## د عرفات د ورځې روژه

(۱۹۴۴): وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ صَائِمٌ وَقَالَ

د حضرت ام فضل بنت حارث (رض) څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ د عرفات د ورځې د روژې په اړه د هغوئ ﷺ په شتون کې د خلکو

بَعْضُهُمْ لَيْسَ بِصَائِمٍ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ. متفق عليه

په منځ كي اختلاف سو ، ځينو وويل نن د رسول الله ﷺ روژه ده او ځينو ويل روژه يې نه د ، ما رسول الله ﷺ ته د شېدو يو لوښى ولېږئ ، رسول الله ﷺ په دغه وخت كي پر اوښ سپور د عرفات په ميدان كي ولاړ وو ، رسول الله ﷺ د شېدو پياله واخيستل او وه يې چېښلي. بخاري او مسلم.

**د ذي الحجې په اوله لسيزه كي د روژې نيولو مسئله**

(۱۹۴۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ هيڅكله (د لوى اختر په لومړى) لسيزه كي په روژو نيولو نه دئ ليدلئ. مسلم

**نفل روژې**

(۱۹۴۶): وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَيْفَ تَصُومُ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَوْلِهِ فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ غَضَبَهُ قَالَ رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَغَضَبِ رَسُولِهِ فَجَعَلَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُرَدِّدُ هَذَا الْكَلَامَ حَتَّى سَكَنَ غَضَبُهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ الدَّهْرَ كُلَّهُ قَالَ لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ أَوْ قَالَ لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ وَيُطِيقُ ذَلِكَ أَحَدٌ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ ذَاكَ صَوْمُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَالَ كَيْفَ مَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ قَالَ وَدِدْتُ أَنِّي طُوِّقْتُ ذَلِكَ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ فَهَذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ

د حضرت ابو قتادة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ تاسو څنگه روژه نيسئ ؟ د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ په غضب سو، حضرت عمر ﷺ چي د رسول الله ﷺ غصه وليدل نو دا كلمات ويل يې پيل كړه : (رضينا .....) موږ د الله په رب كېدو ، د اسلام په دين كېدو، او د محمد ﷺ په نبي كېدو راضي يو، موږ د الله څخه د الله او د هغه د رسول د غضب څخه پناه غواړو، حضرت عمر ﷺ څو واره دا جملې ويلې تر څو چي در سول الله ﷺ غصه پاى ته ورسيده ، بيا حضرت عمر ﷺ وويل اې دالله رسوله! د هغه چا څه حال دئ چي هميشه روژه نيسي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه نه روژه ونيول او نه يې وخوړل، يا يې داسي وفرمايل : چي هغه روژه هم نه ونيول او روژه ماتې يې هم نه وكړ، بيا حضرت عمر ﷺ پوښتنه وكړه د هغه سړي څه حال دئ چي دوې دوې

وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ . رواه مسلم

ورځي روژه نيسي او يوه ورځ يې خوري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك ددې توان لري ، بيا حضرت عمر ؓ پوښتنه وکړه څوك چي يوه ورځ روژه نيسي او يوه ورځ يې خوري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :دا د داؤد عليه السلام روژه ده، بيا حضرت عمر ؓ پوښتنه وکړه څوك چي يوه ورځ روژه نيسي او دوې ورځي يې خوري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: زه غوارم چي زما ددې توان په برخه سي، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : درې روژې د هري مياشتي او د رمضان څخه تر رمضان پوري دا د ټول کال يعني د ټولي زمانې روژې دي ، او د عرفات د ورځي د روژې زما د الله څخه اميد دئ چي دا روژه به د هغه کال گناهونه چي تر دې دمخه سوي وي او د هغه کال گناه چي ددې وروسته دئ ټولي ليري کړي او د عاشورا د ورځي روژه د الله څخه اميد لرم چي د يوه کال مخکي گناهونه به ليري کړي . مسلم

## د دوشنبې په ورځ روژه

(۱۹۴۷): وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ الاثْنَيْنِ فَقَالَ فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ . رواه مسلم

د حضرت ابو قتادة ؓ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې د ورځي د روژې په اړه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زه په دې ورځ پيدا سوی يم او په دې ورځ قرآن نازليدل پيل سول . مسلم

## په هره مياشت کي درې نفل روژې

(۱۹۴۸): وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ أَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ قَالَتْ نَعَمْ فَقُلْتُ لَهَا مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ قَالَتْ لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ . رواه مسلم

د حضرت معاذة العدوية (رض) څخه روايت دئ چي هغې د بي بي عائشې څخه پوښتنه وکړه چي ايا رسول الله ﷺ به په هره مياشت کي درې روژې نيولې ، هغې وويل : هو، ما بيا پوښتنه وکړه چي د مياشتي په کومو ورځو کي به يې روژې نيولې ؟ هغې وويل : رسول الله ﷺ ددې پروا نه کول په کومو ورځو کي چي به يې غوښتل روژې به يې نيولې . مسلم

## د شوال د مياشتي شپږ روژې

(۱۹۴۹): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ

د حضرت ابو ايوب انصاري ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د رمضان د مياشتي روژې ونيسي بيا په شوال کي شپږ

الدَّهْرِ . رواه مسلم

روژې ونيسي نو لکه هغه چي د ټولي زمانې لپاره روژې ونيولې. مسلم

**منع روژې**

(۱۹۵۰): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ د روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده. بخاري او مسلم

(۱۹۵۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَوْمَ فِيْ يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالاُضْحٰى . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوو ورځو کي روژې نسته يعني کوچنی اختر او لوی اختر. بخاري او مسلم

**ايام تشريق**

(۱۹۵۲): وَعَنْ نُبَيْشَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيَّامُ التَّشْرِيْقِ اَيَّامُ اَكْلٍ وَّذِكْرِ اللّٰهِ . رواه مسلم .

د حضرت نبيشة الهذلي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د تشريق ورځي (يعني د ذي الحجې يوولسم، دوولسم او ديارلسمي نېټې) د خوراك، څښناك او د الله د يادولو ورځي دي. مسلم.

**د جمعې په ورځ روژه**

(۱۹۵۳): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَصُوْمُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُوْمَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُوْمَ بَعْدَهُ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي څوك د جمعې د ورځي روژه نيسي نو داسي دي يې نيسي چي د هغه څخه يوه ورځ مخکي يا يوه ورځ وروسته دي هم روژه نيسي. بخاري او مسلم

(۱۹۵۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي وَلَا تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ فِيْ صَوْمٍ يَصُوْمُهُ أَحَدُكُمْ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې شپه د عبادت لپاره او د جمعې ورځ د روژې لپاره مه خاصوئ مگر نه هغه وخت چي ستاسو د روژې ورځ جمعه راسي. مسلم

**د الله ﷺ په لاره کي يوه ورځ نفل روژه**

(۱۹۵۵): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ بَعَّدَ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا . متفق عليه

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله په لاره کي يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالى هغه د دوزخ څخه د اويا کاله په فاصله ليري ساتي. بخاري او مسلم

**په اعمالو کي ميانه روي اختيارول**

(۱۹۵۶): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اَلَمْ اُخْبَرْ اَنَّكَ تَصُوْمُ النَّهَارَ وَتَقُوْمُ اللَّيْلَ فَقُلْتُ بَلَى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ صُمْ وَاَفْطِرْ وَقُمْ وَنَمْ فَاِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَاِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَاِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَاِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا لا صام من صام الدهر صوم ثلثة ايام من كل شهر صوم الدهر كله صُمْ كُلَّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ وَاقْرَاِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ اُطِيقُ اَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ صُمْ اَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ صِيَامَ يَوْمٍ وَاِفْطَارَ يَوْمٍ وَاقْرَاْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً وَلَا تَزِدْ عَلَى ذَالِكَ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عبدالله ! زه خبر سوی يم چي ته هره ورځ روژه نيسې او د شپې عبادت کوې، ما عرض وکړ هو، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ وفرمايل: داسي مه کوه ، روژه نيسه هم او پرېږده يې هم، د شپې عبادت هم کوه او د شپې خوب هم کوه، ځکه چي ستا د بدن هم پر تا حق دئ ، ستا د سترگو هم پر تا حق دئ او ستا د ښځي هم پر تا حق دئ او ستا د ميلمه هم پر تا حق دئ ، چا چي هميشه روژه ونيول نو هغه روژه نه ونيول ، په مياشت کي درې ورځي روژې نيول د ټول عمر د روژو نيولو سره سم دي ، او په مياشت کي يو وار قرآن کريم وايه ، ما عرض وکړ : زه تر دې زيات توان لرم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : نو بيا غوره روژه نيسه يعني د داؤد عليه السلام روژه، يوه ورځ روژه نيول او يوه ورځ نه نيول، او په اوو شپو کي يو قرآن کريم (ختموه) او تر دې زيات نه . بخاري او مسلم .

# دويم فصل

## د دوشنبې او پنجشنبې روژې

(١٩٥٧): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُ الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د دوشنبې او پنجشنبې د ورځي روژې نيولې . ترمذي او نسائي .

(١٩٥٨): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُعْرَضُ الْاَعْمَالُ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَاُحِبُّ اَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَاَنَا صَائِمٌ . رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله (په دربار كي) د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ عملونه وړاندي كيږي نو زه دا خوښوم چي زما عملونه وړاندي كړل سي او زما روژه وي . ترمذي

## د ايام بيض روژې

(١٩٥٩): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَبَا ذَرٍّ إِذَا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَاَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوذره ! هر كله چي ته روژې نيول وغواړې نو په مياشت كي درې ورځي روژه نيسه يعني د هري مياشتي په ديارلسم، څورلسم او پنځلسم باندي . ترمذي او نسائي

## د جمعي په ورځ نفل روژه نيول جائز ده

(١٩٦٠): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه الترمذي والنسائي و رواه ابوداوٗد الى ثلثة ايام .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د هري مياشتي په پيل كي درې ورځي روژې نيولې، او داسي به ډير كم كيدل چي د جمعې په ورځ به يې روژه نه وه . ترمذي، نسائي او ابوداوٗد .

## رسول الله ﷺ د هفتې په ټولو ورځو كي روژه نيول

(١٩٦١): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالْاَحَدَ وَالِاثْنَيْنِ وَمِنَ الشَّهْرِ الْآخَرِ الثُّلَاثَاءَ وَالْاَرْبِعَاءَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په مياشت كي د شنبې، يكشنبې او دوشنبې په ورځ روژې نيولې او په بله

وَالْخَمِيسَ . رواه الترمذي

مياشت کي به يې د سه شنبې، چهارشنبې او پنجشنبې په ورځ روژې نيولې . ترمذي .

**د نفل روژې شروع د دوشنبې او پنجشنبې څخه**

﴿١٩٦٢﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ أَوَّلُهَا الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به ما ته فرمايل چي : په هره مياشت کي درې ورځي روژه نيسه او دا روژې د دوشنبې او پنجشنبې د ورځي څخه پيل کوه . ابوداؤد او نسائي .

**د هميشه روژو نيولو منع**

﴿١٩٦٣﴾: وَعَنْ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ فَقَالَ إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِي يَلِيهِ وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيسٍ فَإِذَا أَنْتَ قَدْ صُمْتَ الدَّهْرَ . رواه ابوداؤد والترمذي

د حضرت مسلم القرشي ﷺ څخه روايت دئ چي د هميشه لپاره د روژې په اړه ما يا بل چا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : پر تا ستا د کورنۍ هم حق دئ ، ته د رمضان د مياشتي روژې نيسه او د رمضان څخه وروسته شپږ روژې او د هري چارشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيسه ، (ددې په نيولو سره) لکه تا چې د ټول عمر لپاره روژه ونيول . ابوداؤد او ترمذي

**په عرفات کي د عرفات په ورځ روژه مکروه ده**

﴿١٩٦٤﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عرفات په ميدان کي د عرفات د ورځي د روژې نيولو څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد .

**يوازي د شنبې د ورځي د روژې منع**

﴿١٩٦٥﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ عَنْ أُخْتِهِ الصَّمَّاءِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيمَا افْتَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ . رواه احمد وابوداؤد والترمذي وابن ماجة والدارمي

حضرت عبدالله بن بسرد خپل خور بي بي صماء څخه روايت کوي چي هغې وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل : د شنبې په ورځ روژه مه نيسئ پرته د هغه روژو څخه چي پر تاسو فرض سي، که چيري تاسو د روژه ماتي لپاره شي پيدا نه کړئ نو د انګورو پوست يا د درختي لرګي دي وخيبني ، احمد ، ابوداؤد ، ترمذي ، ابن ماجة او دارمي .

**د الله ﷻ په لاره کي د يوې ورځي روژې نيولو فضيلت**

﴿١٩٦٦﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ جَعَلَ اللّٰهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ . رواه الترمذي

د حضرت ابوامامة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله لپاره يوه ورځ روژه ونيسي نو الله تعالى د هغه او ددوزخ په منځ کي يوه کنده جوړه کړي څنگه چي د آسمان او مځکي تر منځ ده. (يعني ډير څيني ليري سي) ترمذي

**د يخ روژه**

﴿١٩٦٧﴾: وَعَنْ عَامِرِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَنِيمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث مرسل و ذكر حديث ابي هريرة ما من ايام احب الى الله في باب الاضحية .

د حضرت عامر بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يخ غنيمت (په ژمي کي د روژې نيول دي. احمد او ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث مرسل دئ د ابوهريرة ﷺ حديث ما من ايام احب الى الله، د اضحيې په باب کي تير سو.

# دريم فصل

**د عاشورا د ورځي روژه ولي ؟**

﴿١٩٦٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَوَجَدَ الْيَهُودَ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِي تَصُومُونَهُ فَقَالُوا هٰذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ أَنْجَى اللّٰهُ فِيهِ مُوسَى وَقَوْمَهُ وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ فَصَامَهُ مُوسَى شُكْرًا فَنَحْنُ نَصُومُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ فَصَامَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړ نو يهوديان يې وليدل چي د عاشورا د ورځي روژه يې ده، رسول الله ﷺ د هغوئ څخه پوښتنه وکړه تاسو په دې ورځ روژه نيسئ ؟ دا ورځ څنگه ده ؟ يهوديانو وويل: دا ډيره د عظمت ورځ ده په دې ورځ حضرت موسى عليه السلام او د هغو قوم ته خلاصون ورکړل سو او فرعون او د هغه قوم يې غرق کړ، نو حضرت موسى عليه السلام په دې ورځ د شکر په ډول روژه ونيول او موږ هم روژه نيسو، د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: د موسى عليه السلام په پيروي کي موږ

تر تاسو زيات حقداره يو، نو رسول الله ﷺ خپله هم روژه ونيول او نورو خلکو ته يې هم د روژې نيولو حکم ورکړ . بخاري او مسلم.

### د شنبې او يکشنبې روژې

| | |
|---|---|
| ﴿۱۹۶۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ أَكْثَرَ مَا يَصُومُ مِنَ الْأَيَّامِ وَيَقُولُ إِنَّهُمَا يَوْمَا عِيدَا الْمُشْرِكِينَ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أُخَالِفَهُمْ . رواه احمد | د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به کله روژه نيول يو زيات وخت به يې د شنبې او يکشنبې په ورځ روژه نيول او فرمايل به يې: دا دواړې ورځې د مشرکانو |

د اختر ورځې دي زه غواړم چې په دې ورځو کې د هغو مخالفت وکړم . احمد.

### د رمضان د فرضيت څخه مخکې د عاشورا د روژو فضيلت زيات وو

| | |
|---|---|
| ﴿۱۹۷۰﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ لَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ . رواه مسلم | د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به موږ ته د عاشورا په ورځ د روژې نيولو حکم راکوئ او شوق به يې راکوئ، او د عاشورا د ورځې په نژدې راتلو سره به يې زموږ |

پوښتنه کول ، بيا چې کله د رمضان روژې فرض سوې نو نه يې موږ ته د عاشورا د ورځې د روژې نيولو حکم راکوئ او نه يې منع کولو او نه يې زموږ خبر اخيستئ . مسلم

### سنت مؤکده روژې

| | |
|---|---|
| ﴿۱۹۷۱﴾: وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ أَرْبَعٌ لَمْ يَكُنْ يَدَعُهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِيَامَ عَاشُورَاءَ وَالْعَشْرَ وَثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ . رواه النسائي . | د حضرت حفصة (رض) څخه روايت دئ چې څلور شيان دي چې رسول الله ﷺ به هيڅکله نه پرېښودل. يو د عاشورا روژې، دويم نهه روژې د ذي الحجې، دريم درې روژې د هرې مياشتې او څلورم دوه |

رکعته د سهار څخه ترمخه. نسائي . (د عشر څخه مراد نهه ورځې دي ځکه د قربانۍ په ورځ روژه نيول حرام دي) .

### د ايام بيض روژې

| | |
|---|---|
| ﴿۱۹۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُفْطِرُ أَيَّامَ الْبِيضِ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ . رواه النسائي . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به هيڅکله د ايام بيض روژې نه پرېښودلې، نه په کور کې او نه په سفر کې |

(د ايام بيض ښخه هراد د هري مياشتي ديارلسم، څورلسم او پنځلسمي نېټې دي). نسائي.

**د بدن زكوة روزه نيول دي**

(۱۹۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ شَيْءٍ زَكَاةٌ وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر شي زكوة سته او د بدن زكات روژه ده. ابن ماجة.

**د دوشنبې او پنجشنبې فضيلت ولي دی؟**

(۱۹۷۴): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُومُ يوم الاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰه إِنَّكَ تَصُومُ يوم الاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ فَقَالَ إِنَّ يَوْمَ الاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ يَغْفِرُ اللّٰهُ فِيهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ إِلَّا ذا هاجرين يَقُولُ دَعْهُمَا حَتَّى يَصْطَلِحَا. رواه احمد وابن ماجة

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيول، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي اې دالله رسوله! تاسو د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيسئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ الله تعالى د هر مسلمان گناهونه معاف كوي خو د هغه خلكو گناهونه نه معافوي چي په خپل منځ كي ملاقات پرېږدي او د هغوئ په نسبت فرمايي: دوئ پرېږدئ تر څو چي صلح وكړي. احمد او ابن ماجة.

**د الله ﷻ د رضا لپاره د روژې نيولو فضيلت**

(۱۹۷۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰه تَعَالَى بَعَّدَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جَهَنَّمَ كَبُعْدِ غُرَابٍ طَارَ وَهُوَ فَرْخٌ حَتَّى مَاتَ هَرِمًا. رواه احمد و روى البيهقي في شعب الايمان عن سلمة بن قيس.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله د رضا لپاره يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالى هغه ددوزخ څخه دومره ليري كوي څومره چي د كارگه يو بچى په هوا والوزي او په دې حال كي سپين ږيرى سي او مړ سي. احمد او بيهقي په شعب الايمان كي د سلمه بن قيس څخه روايت كړئ دئ.

# بَابُ فِي الْاِفْطَارِ مِنَ التَّطَوّعِ (د نفلي روژو ماتول)

## لومړی فصل

### د نفل روژې نیت په ورځ کي کیدای سي

﴿۱۹۷۶﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ فَقُلْنَا لَا قَالَ فَإِنِّي إِذَنْ صَائِمٌ ثُمَّ أَتَانَا يَوْمًا آخَرَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ فَقَالَ أَرِينِيهِ فَلَقَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا فَأَكَلَ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ یوه ورځ ما ته راغلئ او وه یې فرمایل ایا ستا سره د خوراك یو شی سته؟ موږ وویل :یا، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ښه دئ، ما د اوس څخه روژه کړه، بیا همدا بسي بله ورځ رسول الله ﷺ راغلئ او پوښتنه یې وکړه موږ عرض وکړ اې دالله رسوله زموږ کره په تحفه کي حیس (چکېده) راغلې ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته یې وښیاست نن سهار ما د روژې نیولو اراده کړې وه بیا رسول الله ﷺ هغه وخوړل. مسلم.

### د نفل روژې ماتول؛

﴿۱۹۷۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ فَقَالَ أَعِيدُوا سَمْنَكُمْ فِي سِقَائِهِ وَتَمْرَكُمْ فِي وِعَائِهِ فَإِنِّي صَائِمٌ ثُمَّ قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلَّى غَيْرَ الْمَكْتُوبَةِ فَدَعَا لِأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا . رواه البخاري

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ بي بي ام سلیم ته تشریف یووړ ، هغې د رسول الله ﷺ په خدمت کي خرما او غوړي وړاندي کړل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : غوړي په ژی کي واچوه او خرماوي په لوښي کي خکه چي زما روژه ده ، بیا رسول الله ﷺ د خوني یو کونج ته تشریف یووړ نفل لمونځ یې ادا کړ او بي بي ام سلیم او د هغې د کورنۍ لپاره یې دعاء وکړل. بخاري.

﴿۱۹۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ الى طعام وهوصائم فليقل اني صائم و في رواية قال إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَإِنْ كَانَ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو چا ته د خوراك بلنه درکړل سي او د هغه روژه وي نو دا دي ووایي : چي زما روژه ده او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي هر کله تاسو ته بلنه

مُفطِرًا فَلْيَطْعَمْ . رواه مسلم

درکړل سي نو هغه دبلونکي بلنه ومني او که روژه يې وي نو دوه رکعته لمونځ دي وکړي او که روژه يې نه وي نو هغه دوډۍ دي وخوري . مسلم.

## دويم فصل

﴿١٩٧٩﴾: عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَجَلَسَتْ عَلَى يَسَارِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمُّ هَانِئٍ عَنْ يَمِيْنِهِ فَجَاءَتِ الْوَلِيْدَةُ بِإِنَاءٍ فِيْهِ شَرَابٌ فَنَاوَلَتْهُ فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ أُمَّ هَانِئٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ لَقَدْ أَفْطَرْتُ وَكُنْتُ صَائِمَةً فَقَالَ لَهَا أَكُنْتِ تَقْضِيْنَ شَيْئًا قَالَتْ لاَ قَالَ فَلاَ يَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا . رواه أبو داود والترمذي والدارمي وفي رواية لأحمد والترمذي نحوه وفيه فقالت : يا رسول الله أما إني كنت صائمة فقال : " الصائم أمير نفسه إن شاء صام وإن شاء أفطر .

د حضرت ام هانئ (رض) څخه روايت دئ چي د مکې د فتح په ورځ کله چي مکه مکرمه فتحه سوه نو بي بي فاطمة (رض) راغلل او د رسول الله ﷺ چپه لوري ته کښېنستل او بي بي ام هانئ د رسول الله ﷺ راسته لوري ته کښېنستل ، نو يوه مينځه راغلل او د هغې سره د چښلو يو شی وو مينځي هغه لوښی رسول الله ﷺ ته ورکړ ، رسول الله ﷺ لږ اوبه و چښلې او بيا يې ام هانئ ته ورکړ ، ام هانئ اوبه وچښلې او بيا يې وويل اې دالله رسوله ! زما روژه وه او ما وچښلې، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا تا يو قضائي روژه نيولې وه ؟ هغې وويل :يا، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که دا نفلي روژه وه نو هيڅ پروا نسته . ابوداؤد. ترمذي، دارمي ، احمد او د ترمذي په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ام هانئ وويل : اې دالله رسوله ! زما روژه وه، رسول الله ﷺ وفرمايل : نفل روژه نيونکی د خپل نفس خاوند دئ که روژه ونيسي او که يې وخوري .

﴿١٩٨٠﴾: وَعَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ فَقَالَتْ حَفْصَةُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا كُنَّا صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ قَالَ اقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ. رواه الترمذي و ذكر جماعة من الحفاظ رووا عن الزهري عن عائشة مرسلا و لم يذكروا فيه عن عروة وهذا اصح و رواه

حضرت زهري د عروة څخه او هغه د حضرت عائشې څخه روايت کوي چي زما او د بي بي حفصې روژه وه، موږ ته خوراك وړاندي سو چي د هغه په خوشبويي سره زموږ خواهش زيات سو او موږ د هغه څخه خوراك وکړ، بي بي حفصې رسول الله ﷺ ته بيان وکړ چي زموږ د دواړو روژه وه او موږ ته خوراك وړاندي کړل سو نو موږ وخوړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ددې روژې

ابوداؤد عن زميل مولى عروة عن عروة عن عائشة . | بله قضائي راوړئ، ترمذي، دا حديث د حفاظو يو ډلي د زهري څخه او زهري د بي بي عائشې څخه مرسلا روايت کړئ دئ چي په هغه کي د عروة يادونه نسته دا صحيح ده ، ابوداؤد دا د عروة د آزاد کړي غلام زميل څخه او زميل د عروة څخه او عروة د بي بي عائشې څخه روايت کړئ دئ . ترمذي .

**د روژه دار په مخکي خوراک**

﴿۱۹۸۱﴾: وَعَنْ أُمِّ عُمَّارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَدَعَتْ لَهُ بِطَعَامٍ فَقَالَ لَهَا كُلِي فَقَالَتْ إِنِّي صَائِمَةٌ فَقَالَ اِنَّ الصَّائِمَ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتّٰى يَفْرُغُوْا . رواه احمد والترمذي و ابن ماجة والدارمي

د حضرت ام عمارة بنت کعب (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ کورته تشريف راوړ هغې خوراک ورته راوغوښتئ ، رسول الله ﷺ ام عمارة ته وفرمايل : ته يې هم وخوره، هغې وويل زما روژه ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل کله چي د روژه نيونکي په مخکي خوراک کول کيږي نو ملائکي تر هغه وخته پوري پر هغه باندي رحمت ليږي تر څو چي خوراک کونکي د خوراک څخه فارغ سي . احمد ، ترمذي، ابن ماجة او دارمي .

## دريم فصل

﴿۱۹۸۲﴾: عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ دَخَلَ بلال على رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يتغدى فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم الغداء يا بلال قال إني صائم يا رسول الله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم نأكل رزقنا وفضل رزق بلال في الجنة أشعرت يا بلال أن الصائم نسبح عظامه وتستغفر له الملائكة ما أكل عنده . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سهار ډوډۍ خوړل چي بلال دده مبارک په خدمت کي حاضر سو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې بلاله ! د سهار خوراک حاضر دئ ، بلال عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما روژه ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ خپل رزق خورو او د بلال رزق په جنت کي دئ بيا يې وفرمايل : اې بلاله ايا تا ته ځرګنده ده چي د روژه نيونکي هډوکي تسبيح وايي او تر څو چي د هغه په مخکي خوراک کيږي د هغه لپاره ملائکي بخښنه غواړي . بيهقيّ په شعب الايمان کي .

# بَابُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ (د شب قدر بیان)

## لومړی فصل

### شب قدر کله وي؟

(۱۹۸۳): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ. رواه البخاري

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: شب قدر د روژې د آخري لسیزې په طاقو نیټو کې لټوئ. (یعني یوویشتم، درویشتم، پنځه ویشتم، اووه ویشتم او نهه ویشتم کې). بخاري.

(۱۹۸۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې د رسول الله ﷺ ځینو اصحابو ته شب قدر د روژې په آخري اوو شپو کې په خوب کې وښودل سو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو خوبونه په آخري اوو شپو متفق سول، نو څوك چې شب قدر لټوي هغه دې یې په آخري اوو شپو کې و لټوي. بخاري او مسلم

(۱۹۸۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى. رواه البخاري

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: شب قدر د روژې په آخري لسیزه کې لټوئ. یعني په یوویشتم، اووه ویشتم او پنځه ویشتم کې. بخاري

(۱۹۸۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِي قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ إِنِّي اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيلَ

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د روژې په لومړۍ لسیزه کې اعتکاف وکړ، بیا یې په منځنۍ لسیزه کې په یوه ترکۍ خیمه کې بیا (یوه ورځ یې) د خیمې څخه سر راوایستئ او وه یې فرمایل: ما په

لِي إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعِي فَلْيَعْتَكِفْ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ فَقَدْ أُرِيتُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا وَقَدْ رَأَيْتُنِي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ مِنْ صَبِيحَتِهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَالْتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ قال فَمَطَرَتْ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيشٍ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَايَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَبْهَتِهِ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّينِ مِنْ صَبِيحَةِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ، متفق عليه في المعنى واللفظ لمسلم الى قوله فقيل لي انها في العشر الاواخر و الباقي للبخاري و في رواية عبدالله بن انيس قال ليلة ثلث و عشرين . رواه مسلم

لومړۍ لسیزه کي شب قدر لټولو لپاره اعتکاف کړئ وو، بیا ما په منځنۍ لسیزه کي اعتکاف وکړ نو ما ته یوه ملائکه راغلل او هغې راته و ښودل چي شب قدر د روژې په آخري لسیزه کي دئ نو څوك چي زما سره اعتکاف کول غواړي نو هغه دي په آخري لسیزه کي اعتکاف وکړي، ما ته شب قدر په خوب کي ښودل سوی وه خو زما څخه هیر سو، ما په خوب کي خپل ځان په داسي حال کي ولیدئ چي زه د شب قدر په سهار کي په اوبو او خټه کي سجده کوم، تاسو شب قدر په آخري لسیزه کي لټوئ او په هر طاق شپه کي یې لټوئ، د راوي بیان دئ په کومه شپه چي رسول الله ﷺ شب قدر لیدلی وو په هغه شپه باران سوی وو او د مسجد بام د خرماوو د لښتو څخه وو او په هغه باران سره مسجد و څڅېدئ، ما د رسول الله ﷺ پر مخ مبارك د خاورو او اوبو نښې ولیدلې او دا د یوویشتمي ورځي سهار وو. بخاري او مسلم. د امام مسلم په یوه روایت کي یوازي تر عشر اواخر پوري ذکر دئ او پوره حدیث د امام بخاري څخه نقل دئ او د عبدالله بن انیس په روایت کي د دروېشتم لفظ نسته. مسلم.

### د شب قدر علامت

﴿۱۹۸۷﴾: وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ مَنْ يَقُمْ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَالَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِي أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ فَقُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُولُ ذَلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ قَالَ بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا

د حضرت زر بن حبیش ؓ څخه روایت دئ چي ما د ابی بن کعب ؓ څخه پوښتنه وکړه چي ستا (دیني) وروړ ابن مسعود ؓ وایي څوك چي د کال په ټولو شپو کي عبادت وکړي نو هغه شب قدر تر لاسه کوي، ابی بن کعب وویل: الله دي پر هغه رحم وکړي هغه له دې کبله ویلي دي چي داسي نه وي چي خلك پر دې شپه باور وکړي، حال دا چي ابن مسعود ته څرګنده وه چي شب قدر په روژه کي وو او د روژې په آخري لسیزه

تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا . رواه مسلم

کي دئ او هغه اووه ويشتمه شپه ده ، ابی بن كعب قسم واخيستئ چي هغه اووه وېشتمه شپه ده ، او انشاء الله يې نه وويل، ما پوښتنه وکړه چي ته په څه دليل سره داسي وايي ؟ هغه وويل : په هغه نښو سره چي موږ ته رسول الله ﷺ ښودلي دي يعني ددې شپې په سهار چي لمر راخيژي نو په هغه کي رڼا نه وي (يعني ډيره کمه رڼا يې وي) مسلم

**د رمضان په اخيري لسيزه کي مجاهده**

﴿۱۹۸۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسيزه کي دومره هڅه کول چي په بله لسيزه کي به يې دومره نه کوئ . مسلم

﴿۱۹۸۹﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي کله به د روژې آخري لسيزه راغلل نو رسول الله ﷺ به خپل لونګ ټينګ وتړئ د شپې به ولاړېدئ او خپل کورنۍ به يې هم پورته کول . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

**د ليلة القدر دعاء**

﴿۱۹۹۰﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ الْقَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا قَالَ قُولِي اللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي . رواه احمد وابن ماجة والترمذي و صححه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله ! که ما ته شب قدر څرګند سي نو زه په هغه کي څه ووايم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا کلمات وايه: (اللهم ...) اې الله ته عفوه کونکی يې عفه کول خوښوې نو ما معاف کړې . احمد، ابن ماجة او ترمذي دې حديث ته صحيح ويلي دي .

**د شب قدر شپې**

﴿۱۹۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْتَمِسُوهَا يعني ليلة القدر فِي تِسْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي خَمْسٍ يَبْقَيْنَ أَوْ فِي

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي شب قدر په نوويشتم، دروېشتم، پنځه وېشتم او

ثَلَاثٍ أَوَاخِرِ لَيْلَةٍ . رواه الترمذي

اووه وېشتم شپو کې لټوئ يا په آخري شپه کې يې لټوئ . ترمذي

**شب قدر په هره روژه کې وي**

﴿١٩٩٢﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ فَقَالَ هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ . رواه ابوداؤد و قال رواه سفيان و شعبة عن ابي اسحاق موقوفا على ابن عمر .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه د شب قدر په اړه پوښتنه وسول ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا په هره روژه کې وي ، ابوداؤد .

**شب قدر په درويشتمه شپه کې**

﴿١٩٩٣﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ اُنَيْسٍ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ انَّ لِيْ بَادِيَةً اَكُوْنُ فِيْهَا وَاَنَا اُصَلِّيْ فِيْهَا بِحَمْدِاللّٰهِ فَمُرْنِيْ بِلَيْلَةٍ اَنْزِلُهَا اِلَى هٰذَا الْمَسْجِدِ فَقَالَ اَنْزِلْ لَيْلَةَ ثَلٰثٍ وَّعِشْرِيْنَ قِيْلَ لِابْنِهِ كَيْفَ كَانَ اَبُوْكَ يَصْنَعُ قَالَ كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ فَإِذَا صَلَّى الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ فَجَلَسَ عَلَيْهَا فَلَحِقَ بِبَادِيَتِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت عبدالله ابن انيس ﷺ څخه روايت دئ چې ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما کور په ځنګل کې دئ زه هلته اوسيږم او هلته لمونځ کوم د الله شکر دئ نو ما ته يوه شپه وښياست (يعني شب قدر) چې په هغه کې زه د عبادت لپاره مسجد نبوي ته حاضر سم ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په درويشتمه شپه راسه، د عبدالله د زوی څخه پوښتنه وسول چې ستا پلار به څه کول ؟ هغه ووېل : هغه به په درويشتم تاريخ د مازديګر د لمانځه وروسته مسجد نبوي ته ننوتئ او د مسجد څخه به د يو کار لپاره نه وتئ تر څو چې د سهار لمونځ به يې وکړ بيا د سهار د لمانځه وروسته به د مسجد څخه راووتئ او پر خپل سپرلي به چې د مسجد د باندې به ولاړ وو سپور سو او خپل ځنګل ته به تلئ . ابوداؤد .

## دريم فصل

**د رسول الله ﷺ د شب قدر علم او د هغه هېره**

﴿١٩٩٤﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ خَرَجْتُ لِاُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى اَنْ يَكُوْنَ

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ موږ ته د شب قدر د خبر را کولو لپاره د کور څخه راووتئ، نو دوه مسلمانان يې په جګړه وليدل ، رسول الله ﷺ

خَيْرًا لَكُمْ فَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ . رواه البخاري

وفرمايل : زه تاسو ته د شب قدر د خبر ورکولو لپاره راوتلی وم چي فلانی او فلانی مي په جګړه ولیدل ؛ د شب قدر خبر زما څخه پورته کړل سو ، کیدای سي ستاسو لپاره په دې کي غوره والی وي نو تاسو يې په نهه ويشتمه ، اووه ويشتمه او پنځه ويشتمه شپه کي و لټوئ . بخاري .

**د شب قدر فضيلت**

(۱۹۹۵): وعن أنس قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إذا كان ليلة القدر نزل جبريل عليه السلام في كبكبة من الملائكة يصلون على كل عبد قائم أو قاعد يذكر الله عز وجل فإذا كان يوم عيدهم يعني يوم فطرهم باهى بهم ملائكته فقال : يا ملائكتي ما جزاء أجير وفى عمله ؟ قالوا : ربنا جزاؤه أن يوفى أجره . قال : ملائكتي عبيدي وإمائي قضوا فريضتي عليهم ثم خرجوا يعجون إلى الدعاء وعزتي وجلالي وكرمي وعلوي وارتفاع مكاني لأجيبنهم . فيقول : ارجعوا فقد غفرت لكم وبدلت سيئاتكم حسنات . قال : فيرجعون مغفورا لهم " . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي شب قدر راسي نو جبرائيل عليه السلام د ملائکي د ډلي سره راځي او پر هر هغه بنده رحمت ليږي يا د هغه د بخښني لپاره دعاء غواړي چي په ولاړه يا په ناسته د الله ذکر او عبادت کوي ، بيا چي کله د مسلمانانو د اختر ورځ سي نو الله تعالى د خپلو بندګانو په سبب په ملائکو فخر کوي او فرمايي : اې زما ملائکو ! د هغه مزدور څه مزدوري ده کوم چي خپل کار پوره کړي ؟ ملائکي عرض کوي اې الله د هغه مزدوري داده چي پوره بدله ورکړل سي ، الله تعالى فرمايي : اې زما ملائکو زما غلامانو او زما مينځو فرض ادا کړل بيا هغوئ د کورو څخه ددعاء لپاره عيدګاه ته ووتل زما دي په خپل عزت، جلال، کرم، علو او لوړ منزلت قسم وي چي زه به ددوئ دعاء قبوله کړم بيا الله تعالى فرمايي : خپلو کورو ته ستانه سئ ما تاسو و بخښلاست او ما ستا سو ګناهونه په نيکيو بدل کړل . رسول الله ﷺ وفرمايل : نو مسلمانان د عيدګاه څخه په داسي حال کي ستنيږي چي د هغوئ ګناهونه بخښل سوي وي . بيهقي.

# بَابُ الْاعْتِكَاف (د اعتکاف بیان)

## لومړی فصل

**ښځې دې په خپل کورو کې اعتکاف وکړي**

﴿۱۹۹۶﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسیزه کې اعتکاف کوئ تر څو چې الله تعالی دده مبارك روح قبض کړ، بیا د رسول الله ﷺ وروسته د هغو ازواجو هم اعتکاف کوئ. بخاري او مسلم

**رسول الله ﷺ په خیر او نیکی کې سخي وو**

﴿۱۹۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ كَانَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام يَلْقَاهُ كُلَّ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې د خلکو سره د ښېګڼې کولو او ګټې رسولو په اعتبار رسول الله ﷺ تر ټولو خلکو زیات سخي وو، په خاصه توګه د روژې په میاشت کې به یې سخاوت ډیر زیات سو، جبرائیل علیه السلام به د روژې په هره شپه د رسول الله ﷺ سره لیدنه کول، رسول الله ﷺ به د هغه په مخکې قرآن کریم وایه کله چې به ورسره جبرائیل علیه السلام ملاقات کوئ نو د رسول الله ﷺ سخاوت به د باران راوړونکي هواء څخه هم زیات تیزېدئ. بخاري او مسلم

**په رمضان کې د جبرائیل ﷺ سره د رسول الله ﷺ دور**

﴿۱۹۹۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ وَكَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِينَ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ . رواه البخاري

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې قرآن کریم به هر کال (د جبرائیل علیه السلام په واسطه) رسول الله ﷺ ته یو وار وړاندې کېدئ. او په کوم کال چې رسول الله ﷺ وفات سو نو په هغه کال دوه واره وویل سو، او رسول الله ﷺ به هر کال لس ورځې اعتکاف کوئ او په کوم کال چې وفات سو په هغه کال یې شل ورځې اعتکاف وکړ. بخاري

**د اعتکاف ادبونه او شرطونه**

﴿۱۹۹۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَكَفَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ وهو في المسجد فَأُرَجِّلُهُ وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ اعتکاف کوئ نو د مسجد دننه به یې ما ته سر را وایستئ نو ما به سر ور ږمونځ کړئ ، د اعتکاف په وخت کې به رسول الله ﷺ یوازې د انساني حاجت لپاره کور ته راتلی. بخاري او مسلم.

**د جاهلیت د زماني نذر پوره کولو مسئله**

﴿۲۰۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ قَالَ فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د اسلام راوړلو څخه مخکې ما نذر ایښی وو چې یوه شپه به په مسجد حرام کې اعتکاف کوم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : خپل نذر پوره کړه . بخاري او مسلم.

## دویم فصل

**د سنت مؤکده قضا**

﴿۲۰۰۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَلَمْ يَعْتَكِفْ عَامًا فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ. رواه الترمذي و روى ابوداؤد وابن ماجة عن ابي بن كعب .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسیزه کې اعتکاف کوئ مګر یو کال یې اعتکاف ونه کړ، بیا چې دویم کال راغلئ نو شل ورځې اعتکاف یې وکړ، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجة د ابی بن کعب څخه.

**د اعتکاف شروع ؟**

﴿۲۰۰۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اَرَادَ اَنْ يَّعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ فِيْ مُعْتَكَفِه . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ د اعتکاف اراده وکړل نو د سهار لمونځ به یې ادا کړ او بیا به خپل د اعتکاف ځای ته تلئ. ابوداؤد او ابن ماجه.

**په اعتکاف کي د ناروغ پوښتنه**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۰۰۳﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُ الْمَرِيضَ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ فَلاَ يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ. رواه ابوداؤد وابن ماجة | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به په اعتکاف کي د ناروغ پوښتنه کول نو د مسجد څخه به سیده تلئ او نه به کیږیدی د ناروغ پوښتنه به یې وکړه . ابن ماجه او ابواؤد . |

**د اعتکاف ادبونه**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۰۰۴﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ السُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيضًا وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً وَلَا يَمَسَّ امْرَأَةً وَلَا يُبَاشِرَهَا وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ . رواه ابوداؤد . | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د اعتکاف کونکي لپاره سنت طریقه داده چي هغه د یو ناروغ پوښتنه ونه کړي د جنازې دلمانځه لپاره ولاړ نه سي، ښځي ته لاس ور نه وړي، او نه مباشرت وکړي او د یو ضرورت |

لپاره د باندي ولاړ نه سي مگر دداسي ضرورت لپاره وتلای سي چي د هغه څخه چاره نه وي ، او اعتکاف د روژې څخه پرته نه صحیح کیږي او اعتکاف په لوی مسجد کي صحیح دئ (یعني داسي مسجد چي په جماعت سره لمونځ پکښي کیږي) ابوداؤد.

## دریم فصل

**د رسول الله ﷺ د اعتکاف ځای**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۰۰۵﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ طُرِحَ لَهُ فِرَاشُهُ أَوْ يُوضَعُ لَهُ سَرِيرُهُ وَرَاءَ أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ . رواه ابن ماجة . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ اعتکاف کوئ نو فرش به ورته وغوړول سو یا د توبې د ستني (میل) شاته به کټ واچول سو . ابن ماجه . |

**د معتکف لپاره اجر**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۰۰۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا . رواه ابن ماجة . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د اعتکاف کونکي په اړه فرمایلي دي چي هغه د گناهو څخه ساتلی وي او د هغه لپاره نیکۍ جاري دي داسي نیکۍ لکه د کونکي د ټولو نیکو کارونو . ابن ماجه |

# كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ

## (دَ قران كريمَ فضيلتونه)

## لومړی فصل

### د قران زده کونکی او ښوونکی تر ټولو غوره دی

(۲۰۰۷): عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ . رواه البخاري

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي غوره هغه څوك دئ چي قرآن زده کړي او بل ته يې وښيي. بخاري

### د قران زده کولو فضیلت

(۲۰۰۸): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوْ الْعَقِيقِ فَيَأْتِيَ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰه كلنا نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمَ أَوْ يَقْرَأَ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللّٰه عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ . رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي موږ په صفه کي ناست وو چي رسول الله ﷺ تشریف راوړ او وه يې فرمایل: په تاسو کي څوك غواړي چي بطحان یا عقیق (بازارو) ته ولاړ سي او د هغو څخه لوی قبو والا دوه اوښه پرته د ګناه څخه او پرته د قرابت څخه (یعني په روا طریقه) راولي موږ وویل: دا خبره موږ ټول خوښوو، رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي هر څوك دي مسجد ته ځي د قرآن کریم دوه آیاتونه دي وايي بیا دي يې بل ته و ښيي داسي کول د هغه لپاره د دوو اوښو څخه غوره دي او دري آیاتونه به ددرو اوښو څخه غوره وي او څلور آیاتونه به د څلورو اوښو څخه غوره وي او د آیاتو شمیر به د اوښو د شمیر څخه غوره وي. مسلم

(۲۰۰۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِه أَنْ يَجِدَ فِيه ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِه خَيْرٌ لَهُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي څوك دا خبره خوښوي هر کله چي هغه خپل کور ته راسي نو دري غټي بلاربي اوښي خپل په کور

مِنْ ثَلَاث خَلَفَات عظَام سمَان . رواه مسلم

کي تر لاسه کړي ، موږ عرض وکړ موږ دا خبره خوښوو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي په تاسو کي د قرآن کریم دري آیاتونه په لمانځه کي ووايي نو دا آیاتونه تر غټو بلاربو اوښو غوره دي . مسلم

### د قران کریم د ماهر فضیلت

(۲۰۱۰): وَعَنْ عَائشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ الْمَاهرُ بالْقُرْآن مَعَ السَّفَرَة الْكرَام الْبَرَرَة وَالَّذي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فيه وَهُوَ عَلَيْه شَاقٌّ لَهُ أَجْرَان . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قرآن ماهر د هغه ملائکو سره دئ چي بزرګي او نیکي وي یعني هغه ملائکي چي په لوح محفوظ کي د الله تعالی کتابونه لیکي، او هغه چي قرآن په بندوالي وایي او هغه ته ویل مشکل وي نو هغوئ ته دوه برابر ثواب تر لاسه کیږي . بخاري او مسلم .

(۲۰۱۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ به آنَاءَ اللَّيْلِ وَ أنَاءِ النَّهَارِ وَرَجُلٌ أتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفقُ منْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حسد نه دئ پکار مګر د دوو کسانو سره : یو هغه ته چي الله تعالی قرآن په برخه کړئ وي یعني د هغه قرآن کریم یاد وي او هغه شپه او ورځ قرآن کریم وایي او عبادت کوي او دویم هغه څوك چي الله تعالی مال ورکړی وي او هغه شپه او ورځ په نیکو کارو کي خرڅ کوي . بخاري او مسلم.

### د قران ویونکي او نه ویونکي مثال

(۲۰۱۲): وَعَنْ أَبِيْ مُوسٰى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ مَثَلُ الْمُؤْمنِ الَّذي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلِ الْأُتْرُجَّة رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ وَمَثَلُ الْمُؤْمنِ الَّذي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلِ التَّمْرَة لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ وَمَثَلُ الْمُنَافقِ الَّذي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَة لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافقِ الَّذي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَة رِيحُهَا طَيِّبٌ

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم مؤمن چي قرآن وایي د هغه مثال نارنج (غټ لیمبو) په ډول دئ چي د هغه خوشبویي ښه او خوند یې خوږ وي او د هغه مؤمن حال چي قرآن نه وایي د هغه خرما په ډول دئ چي په هغه کي خوشبویي هم نه وي او خوند یې خوږ وي او د هغه منافق حال چي قرآن کریم نه وایي د مرغوني په ډول دئ چي په

وَطَعْمُهَا مُرٌّ .متفق علیه و في رواية المؤمن الذي يقرا القرآن و يعمل به كالاترجة والمؤمن الذي لا يقرا القرآن و يعمل به كالتمرة .

هغه کي خوشبويي هم نسته او خوند يې هم تريخ دئ او د هغه منافق حال چي قرآن وايي د ريحان په ډول دئ چي بوی يې ښه او خوند يې تريخ دئ. بخاري او مسلم ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د هغه مؤمن حال چي قرآن وايي او په هغه عمل کوي د نارنج په ډول دئ او د هغه مؤمن حال چي قرآن نه وايي او په هغه عمل کوي د خرما په ډول دئ.

## د قران ويونکي او نه ويونکي درجې

(۲۰۱۳): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ . رواه مسلم

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی ددې کتاب (قرآن) په ذريعه يو قوم لوړوي او بل قوم کښته کوي. مسلم

## د قران اورېدو لپاره د ملائکو شوق

(۲۰۱۴): وَعَنْ اَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ اَنَّ اُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ فَقَرَأَ فَجَالَتْ فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ وَلَمَّا اَخرهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ فلما اصبح حدث النبي صلى الله عليه وسلم فقال اقرا يا ابن حضير اقرا يا ابن حضير قال فاشفقت يارسول الله ان تطايحى وكان منها قريبا فانصرفت اليه ورفعت راسي الى السماء فاذا مثل الظلة فيها امثال المصابيح فَخَرَجَتْ حَتَّى لَا أَرَاهَا قَالَ وَتَدْرِي مَا ذَاكَ قَالَ لَا قَالَ تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ . متفق

د حضرت ابي سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي اسيد بن حضير ووېل: يوه شپه ما سورة بقرة ويل او زما آس زما سره تړلی وو ناڅاپه ما وليدل چي آس په ترپکو سو زه په ويلو کي پټه خوله سوم آس هم آرام سو ما بيا لوستل پيل کړل آس بيا په توپو سو ، زه پټه خوله سوم آس هم آرام سو ، ما بيا لوستل پيل کړل آس بيا هم هغسي په توپو سو په پای کي مي لوستل بند کړل او زما زوی يحيی د آس سره نژدې بيده وو زما سره بيره پيدا سول چي آس ورته ونه رسيږي نو د خپل زوی پورته کولو لپاره ورغللم ،په دې حال کي زما نظر پر آسمان ولويدئ ما وليدل چي د وريځ په ډول يو شی خپور سوئ دئ چي په هغه کي ډير شيان بليږي ، کله چي سهار سو نو دا پېښه مي رسول الله ﷺ ته بيان کړه ، رسول

عليه و اللفظ للبخاري و في مسلم عرجت في الجو بدل فخرجت على صيغة المتكلم .

الله ﷺ وفرمايل : اي ابن حضير ! ويل به دي ، اي ابن حضير ! ويل به دي، ما عرض وكړ اي دالله رسوله ! زما زوى يحيى نژدې وو او زما سره بيره پيدا سول چي آس يې ونه وهي له دې كبله ما ويل پريښودل ، او آسمان ته چي مي وكتل نو د وريځي په ډول راته ځرګند سو چي په هغه كي ډير شيان بليدل، بيا چي زه د باندي راووتم نو هيڅ هم نه وه، رسول الله ﷺ وفرمايل : ته پوهيږې چي دا څه وه ؟ ما عرض وكړ : يا ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ملائكي وې چي ستا قرائت اوريدو لپاره راغلې وې كه تا لوستل جاري ساتلې واى نو سهار ته به خلكو ملائكي ليدلې او ملائكي به د خلكو د نظر څخه نه پټېدلاى . بخاري او مسلم .

## د قرآن تلاوت د رحمت د نازلېدو سبب دى

(۲۰۱۵): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ وَإِلَى جَانِبِهِ حِصَانٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدْنُو وَتَدْنُو وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ . متفق عليه

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي سورة كهف لوستئ او د هغه سره نژدې په دوو رسيو تړلى آس وو پر هغه آس د وريځي په ډول يو شي خپور سو بيا نور هم نژدې سو او آس د هغه په ليدو سره په توپو سو ، كله چي سهار سو نو هغه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي دا پېښه بيان كړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا سكينه (رحمت) وو چي د قرآن كريم د ويلو له كبله نازل سو . بخاري او مسلم .

## د سورة فاتحي فضيلت

(۲۰۱۶): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أُجِبْهُ ثُمَّ اتيته فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي كُنْتُ أُصَلِّي قَالَ أَلَمْ يَقُلْ اللّٰهُ { اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ } ثُمَّ قَالَ الا أُعَلِّمُكَ أَعْظَم سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ أَخَذَ بِيَدِي فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ قُلْتُ يا رسول الله انك قلت لَأُعَلِّمَنَّكَ سُورَةً من القرآن قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي

د حضرت ابو سعيد بن المعلي ﷺ څخه روايت دئ چي ما په مسجد كي لمونځ كوئ چي نبي كريم ﷺ راته آواز وكړ ما جواب نه وركړ : بيا چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او عرض مي وكړ اي دالله رسوله ! ما لمونځ كوئ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ايا الله تعالى دا حكم نه دئ كړئ (استجيبوا......) : هر كله چي تاسو رسول را وبلي نو تاسو د الله او رسول پر بلنه هغه ته جواب وركوئ او د هغه فرمانبرداري كوئ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاته د

أُوتِيتُهُ . رواه البخاري

مسجد څخه د وتلو وړاندي يو داسي سورت ونه ښيم چي د قرآن كريم تر ټولو لوی سورت دئ ، رسول الله ﷺ زه تر لاس ونيولم ، بيا چي ما د مسجد څخه د وتلو اراده وكړه نو عرض مي وكړ اې دالله رسوله ! تاسو فرمايلي وه چي زه به درته د قرآن كريم عظيم سورت درته وښيم ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه الحمدلله رب العالمين، دئ په دې كي اووه آياتونه دي چي (په لمانځه) كي څو څو واره ويل كيږي او دا قرآن عظيم دئ چي ما ته راكړل سوی دئ . بخاري

## د سورة بقره فضيلت

(۲۰۱۷): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل كورونه هديرې مه جوړوئ ځكه چي شيطان د هغه كور څخه وځي په كوم کي چي سورة بقرة ويل كيږي . مسلم

## د قيامت په ورځ د قران كريم شفاعت

(۲۰۱۸): وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ اقْرَءُوا الزَّهْرَاوَيْنِ الْبَقَرَةَ وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ غَيَايَتَانِ أَوْ فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ أَصْحَابِهِمَا اقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا يَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ . رواه مسلم .

د حضرت ابو امامة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي : قرآن وا ياست ځكه چي د قيامت په ورځ به دا شفاعت كوي او دا دوه سورتونه چي ډير ځلانده دي (يعني سورة بقرة او سورة آل عمران) وا ياست ځكه چي دا دوه سورتونه به د قيامت په ورځ د وريځي دوې ټوټې يا دوه سايه كونكي شيان يا د مرغانو دوه صف بسته سيل وي چي د خپل ويونكي د لوري به جګړه كوي او سورة بقرة وا ياست ځكه چي ددې سورت هميشه ويل د بركت باعث دئ او نه ويل يې د حسرت او ندامت باعث دئ ددې د ويلو پوازي هغه خلك توان نه لري چي سست او ناراسته وي . مسلم

(۲۰۱۹): وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَهْلِهِ الَّذِينَ كَانُوا يَعْمَلُونَ بِهِ تَقْدُمُهُ سُورَةُ

د حضرت نواس بن سمعان ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي : د قيامت په ورځ به قرآن كريم او ددې ويونكي او

الْبَقَرَةِ وَآلَ عِمْرَانَ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ ظُلَّتَانِ سَوْدَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا. رواه مسلم .

پر دې عمل کوونکی داسي راوستل سي چي د قرآن کريم دوه سورتونه يعني سورة بقرة او سورة آل عمران به د هغوئ وړاندي وي لکه چي دا دوه سورتونه د وريځي دوې ټوټې دي يا د ورځي توري ټوټې دي چي په هغو کي خلا وي يا د صف بسته مرغانو دوه سيلونه دي چي د خپل ويونکي شفاعت به کوي . مسلم.

## اية الكرسي تر ټولو عظيم ايت دی

(۲۰۲۰): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قُلْتُ اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ قُلْتُ { اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ } قَالَ فَضَرَبَ فِي صَدْرِي وَقَالَ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ . رواه مسلم

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اي ابو المنذره! تا ت خرگنده ده چي د قرآن کريم کوم آيت ستا لپار لوی دئ ما عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اي ابو المنذر ! ايا ته پوهيږې چي د قرآن کريم کوم آيت ستا لپاره لوی دئ ما عرض وکړ : الله ..... الحي القيوم (يعني آية الكرسي) ، رسول الله ﷺ د دې په اوريدو سره زه پر سينه ووهلم او وه يې فرمايل : اي ابو المنذر ستا علم دي مبارک وي . مسلم

(۲۰۲۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وَكَّلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ قَالَ فَخَلَّيْتُ عَنْهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ قَالَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ سَيَعُودُ فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زه د رمضان د زکوة د ساتني لپاره وټاکلم ، ما ته يو سړی راغلئ هغه په دواړو لاسو سره خپل لمن يا لوښی ډکول پيل کړل ، ما هغه ونيوئ او ورته وه مي ويل زه تا نبي کريم ﷺ ته بيا يم، هغه راته وويل : زه اړ يم او زما پر ذمه د اولاد نفقه ده او سخت ضرورتمند يم ، د ابوهريرة ﷺ بيان دئ چي د هغه ددې خبرو په اوريدو سره ما پريښودئ، سهار چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ را څخه پوښتنه وکړه اي ابوهريرة ﷺ ستا د شپې هغه غل څه سو ؟ ما عرض وکړ اي د الله

فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ لَا أَعُودُ فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فقَالَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ فعرفت انه سيعود القول رسول الله صلى الله عليه وسلم انه سيعود فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ وَهَذَا آخِرُ ثَلَاثِ مَرَّاتٍ أَنَّكَ تَزْعُمُ لَا تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ قَالَ دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللّٰهُ بِهَا اذا اَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ { اللّٰهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ } حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللّٰهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ قُلْتُ زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللّٰهُ بِهَا قَالَ أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ قُلْتُ لَا قَالَ ذَاكَ شَيْطَانٌ . رواه البخاري

رسوله! هغه د سختي اړتيا څرګندونه کړه او د کورنۍ شکايت يې وکړ ما هغه پرېښودئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه تا ته دروغ وويل هغه بيا راځي، د رسول الله ﷺ په فرمايلو سره زما يقين سو چې هغه به بيا راځي او زه په کمين کې ناست وم نو هغه راغلئ او بيا يې په دواړو لاسو غله ډکول پيل کړل ما هغه ونيوئ ورته وه مې ويل نن به دې خامخا رسول الله ﷺ ته بيايم، هغه راته وويل: ما پرېږده زه ډېر اړ يم او د کورنۍ ټول خرڅ زما پر ذمه دئ بيا به زه نه راځم، بيا زما رحم پر راغلئ او ما هغه پرېښودئ، سهار چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم نو رسول الله ﷺ راڅخه پوښتنه وکړه اې ابوهريرة! تا د خپل بندي (غله) سره څه وکړل، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! هغه د سختي اړتيا څرګندونه وکړه او د کورنۍ د خرڅ شکايت يې وکړ زما زړه پر وسوځېدئ او هغه مې پرېښودئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه دروغ درته وويل هغه به بيا راځي، نو زما يقين سو چې هغه به بيا راځي ځکه چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې هغه به بيا راځي، نو دهغه لپاره په کمين کې کښېنستم هغه بيا راغلئ او په دواړو لاسو سره يې غله ډکول پيل کړل، ما هغه ونيوئ او ورته وه مې ويل: او دا په درو ځلو کې آخري وار دئ تا ويلي وه چې زه به بيا نه راځم او بيا راغلې، هغه وويل ما پرېږده زه درته يو څو داسي کلمې ښيم چې په هغه سره به الله تعالى درته ګټه ورسوي، هر کله چې ته د خوب لپاره بسترې ته ولاړسې نو آية الكرسي ووايه، نو دالله تعالى د لورې به پر تا هميشه يو ساتونکی و ټاکل سي (يعني ملائکه) او شيطان به تر سهار پوري نژدې درته رانه سي، د دې په اورېدو سره ما هغه پرېښودئ، سهار چې کله د رسول الله ﷺ په خدمت کې

حاضر سوم نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تا خپل بندي (غل) سره څه چلن وکړ، ما عرض وکړ: هغه ما ته دا وويل چي زه تا ته دا سي يو څو کلمې ښيم چي تا ته به الله تعالى گټه درکړي له دې کبله هغه ما پرېښودئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه دا رښتيا وويل که څه هم هغه درواغجن دئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تا ته څرگنده ده چي د درو ورځوراهسي ستا سره خبري کونکی دا څوک دئ؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله! ما ته نه ده څرگنده، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه شيطان وو. بخاري

## د سورة فاتحه او سورة بقره د اخيري اياتو فضيلت

(۲۱۲۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَيْنَمَا جِبْرِيلُ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ فَقَالَ هَذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ فَسَلَّمَ فَقَالَ أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ. رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي يو وار حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي لوړ يې د دروازې د خلاصېدو په ډول آواز واورېدئ، هغه خپل سر پورته کړ او وه يې ويل: دا د آسمان يوه دروازه خلاصه سوې ده چي تر دې ورځې هيڅکله نه ده خلاصه سوې او نن خلاصه سوې ده بيا ددې دروازې څخه يوه ملائکه راکښته سول او جبرائيل عليه السلام وويل چي دا ملائکه نن مخکي ته راکښته سوې ده، ددې ورځې نه ده راکښته سوې، هغې ملائکي (د رسول الله ﷺ په خدمت کي په حاضرېدو سره) سلام وکړ او وه يې ويل: تاسو ته دې زيرى وي چي تاسو ته دوه داسي نورونه درکړل سوي دي چي ستاسو څخه وړاندي هيڅ يو نبي ته نه دي ورکړل سوي يعني فاتحة الکتاب (سورة فاتحه) او د سورة بقرې آخري برخه، په دې کي چي کوم حرف تاسو واياست د هغو ثواب به درکړل سي. مسلم.

(۲۱۲۳): وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَهُمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ. متفق عليه

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د سورة بقرې په پای کي دوه آياتونه دي څوک چي يې د شپې ووايي نو هغه ورته بس دي يعني د هر ډول آفت او شر څخه به يې وساتي. بخاري او مسلم.

## د سورة کهف اخري لس اياتونه په يادول

(۲۱۲۴): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ . رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې د سورة كهف د پيل لس آياتونه ياد كړي نو هغه به ددجال د فتنې څخه وساتل سي. مسلم

**د سورة اخلاص فضيلت**

(۲۰۲۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ فِي لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالُوا وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ قَالَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ. رواه مسلم و رواه البخاري عن ابي سعيد .

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا په تاسو كې څوك د شپې دريمه برخه قرآن نه سي ويلاى؟ صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله! دريمه برخه قرآن څنګه ووايي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: قل هو الله احد (سورة اخلاص) د دريمي برخي قرآن سره سم دئ، مسلم او بخاري.

(۲۰۲۶): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلَى سَرِيَّةٍ وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهِ فِي صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَلَمَّا رَجَعُوا ذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَلُوهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذَلِكَ فَسَأَلُوهُ فَقَالَ لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمَنِ وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرُوهُ أَنَّ اللّٰهَ يُحِبُّهُ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ يو سړى د لښكر سردار و ټاكئ او هغه به د خپلو ملګرو امامت هم كوئ هغه به په لمانځه كې قرائت په قل هو الله احد ختموئ. كله چې خلك را ستانه سول نو رسول الله ﷺ ته يې ددې يادونه وكړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دده څخه پوښتنه وكړئ چې داسي يې ولې كول، د هغه څخه پوښتنه وسول نو هغه وويل: په قل هو الله احد كې د الله صفت دئ نو غواړم چې زه يې ووايم، په دې خبره سره رسول الله ﷺ وفرمايل دې سړي ته ووايا ست چې الله هم دى خوښوي. بخاري او مسلم.

(۲۰۲۷): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ اِنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُحِبُّ هذه السورة قل هوالله احد قَالَ إِنَّ حُبَّكَ اياها أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ . رواه الترمذي و روي البخاري معناه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وكړ چې اې دالله رسوله! زما دا سورت (قل هو الله احد) ډير خوښ دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ددې خوښول به تا جنت ته بوزي. ترمذي او بخاري

### د معوذتین فضیلت

(۲۰۲۸): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ للّه صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَمْ تَرَ آيَات أُنْزِلَتْ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ . رواه مسلم

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: نن شپه عجیبه آیاتونه نازل سوي دي چي تر ننه پوري ددې په ډول نه دي لیدل سوي ، هغه قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس دي. مسلم

### رسول الله ﷺ قل هو الله احد او معوذیتن د شپې پر ځان چوف کول

(۲۰۲۹): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِه كُلَّ لَيْلَة جَمَعَ كَفَّيْه ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ هُوَ اللّهُ أَحَدٌ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِه يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِه وَوَجْهِه وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِه يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ متفق عليه و سنذكر حديث ابن مسعود لما اسرى برسول الله صلى الله عليه وسلم في باب المعراج ان شاء الله تعالى .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د شپې بسترې ته تلئ نو دواړه لاسونه به یې یو ځای کړل بیا به یې هغه دم کول بیا به یې پر هغو قل هوالله احد ، قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس چف کول، بیا به یې دواړه لاسونه پر ټول بدن تر کومه ځایه چي به یې لاسونه رسیدل گرځول او د سر او مخ څخه به یې لاس گرځول پیل کول او د بدن د مخکي برخي گرځولو سره به یې پر ټول بدن گرځول او درې واره به یې داسي کول. بخاري او مسلم

او ډیر ژر به د ابن مسعود حدیث کوم وخت چي رسول الله ﷺ شب معراج ته تللی وو په باب معراج کي بیان کړل سي انشاء الله.

## دویم فصل

### د قیامت په ورځ تر عرش لاندي درې شیان

(۲۰۳۰): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْف عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَلْقُرْآنُ يُحَاجُّ الْعِبَادَ لَهُ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَالْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ تُنَادِيْ أَلَا مَنْ وَصَلَنِيْ وَصَلَهُ اللّهُ وَمَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللّهُ. رواه في شرح السنة

د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به تر عرش لاندي درې شیان وي: یو خو به قرآن د بندگانو د لوري جگړه کوي ، د قرآن یو ظاهر دئ او یو باطن، دویم امانت، او دریم قرابت دا

دواړه شیان یا یوازې قرابت به په لوړ آواز خلکو ته وایي چا چې زه یو ځای کړم الله به هغه د خپل رحمت سره یو ځای کړي او چا چې زه پرېکړم الله به هغه پرېکړي. شرح السنة

**قران کريم په ترتيل سره د ويلو فضيلت**

(۲۰۳۱): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْقَ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا . رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: (په آخرت کې به قرآن ویونکي بنده ته وویل سي: قرآن وایه او د جنت درجو ته خېژه داسي په کراره کراره یې وایه لکه څنګه چې تا په دنیا کې په کراره کراره وایه، او ستا آخري درجه به (په جنت کې) د قرآن اخري آیت وي. احمد، ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

**د قران کريم څخه خالي زړه د وران کور په مثال دی**

(۲۰۳۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ . رواه الترمذي و الدارمي وقال الترمذي هذا حديث صحيح .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا په زړه کې چې د قرآن هیڅ هم نه وي هغه د وران کور په دول دئ. ترمذي، دارمي، او ترمذي ویلي دي دا حدیث صحیح دئ.

**د قران کريم د مشغوليت اثر**

(۲۰۳۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ وَذِكْرِي عَنْ مَسْأَلَتِي أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعْطِي السَّائِلِينَ وَفَضْلُ كَلَامِ اللّٰهِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللّٰهِ عَلَى خَلْقِهِ . رواه الترمذي والدارمي و البيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی فرمایي: څوک چې د قرآن ویلو بوختیا د دعاء او ذکر څخه غافل کړي زه به هغه ته تر غوښتونکي زیات ورکړم او د کلام الله بزرګي پر نورو کلامو داسي ده لکه زما بزرګي چې پر ټول مخلوقات ده. ترمذي، دارمي، بیهقي

**د قران کريم پر هر حرف باندې لس نيکي**

(۲۰۳۴): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُولُ الم

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د الله د کتاب څخه یو حرف ووایي هغه ته به د یوه حرف په

حَرْفٌ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ. رواه الترمذي والدارمي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب اسنادا .

بدله كي يوه نيكي وركول كيږي او هره نيكي به د لسو نيكيو سره سمه وي، زه (الم) ته يو حرف نه وايم بلك الف يو حرف دئ، لام بل حرف دئ او ميم بل حرف دئ. ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دئ .

**قران كريم د هدايت چينه ده**

(٢٠٣٥): وَعَنِ الْحَارِثِ الْاَعْوَرِ قَالَ مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الْأَحَادِيثِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَلِيٍّ فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ اَوَقَدْ فَعَلُوهَا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ اما إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ فَقُلْتُ مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ كِتَابُ اللّٰهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللّٰهُ وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللّٰهُ وَهُوَ حَبْلُ اللّٰهِ الْمَتِينُ وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيمُ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ وَلَا يَخْلَقُ عَنْ كَثْرَةِ الرَّدِّ وَلَا تَنْقَضِي عَجَائِبُهُ هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتَّى قَالُوا { إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ} مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث اسناده مجهول و في الحارث مقال .

د حضرت حارث اعور ﷺ څخه روايت دئ چي زه د كوفي يو مسجد ته ورغلم نووينم چي خلك په بېكاره خبرو كي بوخت دي ، ددې وروسته حضرت علي ﷺ ته ورغلم او هغه ته مي دا پېښه بيان كړل، حضرت علي ﷺ وويل ايا هغوئ داسي وكړل ؟ ما عرض وكړ :هو، حضرت علي ﷺ وويل : خبردار! ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي خبردار! فتنه واقع كېدونكي ده ، ما عرض وكړ اي دالله رسوله! ددې څخه به خلاصون څنگه تر لاسه كيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله په كتاب باندي په عمل كولو سره چي په هغه كي تر تاسو وړاندي پېښې دي او ستاسو څخه وروسته خبرونه ، او ستاسو په منځ كي (د حلال، حرام وغيره) حكم دئ او (حق و باطل) كي پريكړه كونكى قول دئ. او هغه شيان پالتو نه دي ، كوم متكبر چي قرآن پرېښودئ نو هغه به الله هلاك كړي او چا چي د قرآن كريم څخه پرته په بل شي كي هدايت ولټوئ الله به هغه گمراه كړي ، قرآن كريم د الله تعالى ټېنگه او سيده رسۍ ده ، قرآن كريم دحكمت څخه ډك ذكر او بيان دئ او قرآن كريم يوه داسي سيده لار ده چي په هغه كي كوږوالى نشته او ددې په پيروي سره په خواهشاتو كي كوږوالي نه پېښيږي او د قرآن په ژبه كي د يو بلي ژبي اقتباس نشته ، ددې فصاحت ته هيڅ كلام

نه سي رسيدلای او علماء ددې په ويلو نه مړيږي او قرآن په (تل ويلو) سره نه زړيږي ، او ددې عجائب نه ختميږي ، او قرآن کريم يو داسي کلام دئ چي کله پيريانانو واوريدئ نو د يوې لمحې د درېدو څخه پرته يې وويل موږ عجيب او غريب قرآن واوريدئ چي د هدايت لاره ښيي له دې کبله موږ ايمان راوړ او چا چي د قرآن سره سم وويل نو رښتيا يې وويل او چا چي عمل په وکړ نو هغه ته به ثواب ورکړل سي او چا چي ددې سره سم پريکړه وکړه هغه انصاف وکړ او چا چي د قرآن په لور خلك راوبلل هغه ته سيده لار وښودل سوه . ترمذي، او دارمي، ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد مجهول دي او په حارث اعور کي خبري سته .

**د قران کريم د حافظ مور او پلار ته تاج**

(۲۰۳۶): وَعَنْ مُعَاذِ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهٰذَا. رواه احمد وابوداؤد .

د حضرت معاذ جهني ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي قرآن وايي او څه چي په دې کي دي په هغه عمل کوي ، نو د قيامت په ورځ به د هغه مور او پلار ته تاج ور پر سر سي او د هغه تاج رڼا به يې د دنيا د لمر د رڼا څخه غوره وي، که هغه رڼا په دنيا کي ستاسو کورو ته راسي بيا تاسو پوهيدای سي چي هر کله د مور او پلار دا مرتبه ده نو د هغه کس به څومره درجې وي چي په قرآن يې عمل کړی وي . احمد او ابوداؤد .

**د قران کريم يو معجزه**

(۲۰۳۷): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِي إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ . رواه الدارمي

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي : که قرآن کريم په پوست کي بند کړل سي او بيا په اور کي واچول سي نو هغه نه سوځي . (مطلب دا چي څوك يې ووايي او عمل په وکړي پر هغه اور اثر نه کوي د پوست څخه مراد دانسان بدن دئ ) دارمي .

**د حافظ قران شفاعت**

(۲۰۳۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَاسْتَظْهَرَهُ فَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِي

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي قرآن ووايه او هغه يې ياد کړ بيا يې دهغه حلال حلال او حرام يې حرام وګڼل نو الله تعالى به يې په جنت کي داخل کړي

عَشْرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِه كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة والدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب و حفص بن سليمان الراوي ليس هوبالقوي يضعف في الحديث .

او د هغه د کورنۍ څخه د لسو کسانو په حق کې د هغه شفاعت قبلیږي کوم چې قطعي دوږخیان وي . احمد ، ترمذي، ابن ماجة، دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ حضرت حفص بن سلیمان کمزوری راوي دئ .

## سورة فاتحه بې مثاله سورت دی

(۲۰۳۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ كَيْفَ تَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ فَقَرَأَ أُمَّ الْقُرْآنِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيلِ وَلَا فِي الزَّبُورِ وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُعْطِيتُهُ. رواه الترمذي و روي الدارمي من قوله ما انزلت و لم يذكر ابي ابن كعب وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ ابی بن کعب ته وفرمایل : ته په لمانځه کې څنګه وایې ؟ ابی بن کعب سورة فاتحه وویل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په هغه ذات دې مې قسم وي د چا په واك کې چې زما ساه ده چې داسې هیڅ سورت نه په تورات کې نازل سوی دئ، نه په انجیل کې . نه په زبور کې او نه په قرآن کې، په دې سورت کې اووه ایاتونه دي او دا سورة عظیم دئ چې ما ته راکړل سوئ دئ . ترمذي او دارمي د ابی بن کعب څخه نه دئ ذکر کړئ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ .

## د قران کریم زده کولو، ویلو او پر هغه د عمل کولو حکم

(۲۰۴۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرَءُوهُ فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَرَأَهُ وَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا تَفُوحُ رِيحُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَيَرْقُدُ وَهُوَ فِي جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ وُكِئَ عَلَى مِسْكٍ. رواه الترمذي و النسائي وابن ماجة .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې، رسول الله ﷺ وفرمایل : قرآن کریم زده کړئ او بیا یې وایاست ځکه چې څوك قرآن کریم زده کړي بیا یې وایي او د شپې عبادت کوي د هغه مثال د هغه کڅوړي په ډول دئ چې په هغه کې مشك بند وي چې د هغه خوشبویي هر لوري ته خپریږي او د هغه چا حال چې قرآن یې زده کړ او په زړه کې یې پاته سو یعني نه یې وایي او نه عمل په کوي د مشکو د هغه کڅوړي په ډول دئ چې د هغه خوله بنده کړي وي او مهر ور باندي لګېدلی وي . ترمذي، نسائي او ابن ماجه .

**سهار او ماښام د اية الكرسي او سورة مومن لومړنيو اياتو وبلو بركت**

(۲۰۴۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حم الْمُؤْمِنَ إِلَى { إِلَيْهِ الْمَصِيرُ } وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُمْسِيَ وَمَنْ قَرَأَهُمَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ بِهِمَا حَتَّى يُصْبِحَ . رواه الترمذي و الدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي (حم المؤمن تر اليه المصير) پوري او آية الكرسي د سهار په وخت كي وويل نو هغه تر ماښام پوري په ساتنه كي وي او چا چي دا دواړه ماښام وويل نو هغه تر سهاره پوري خوندي وي . ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ ،

**قران كريم په لوح محفوظ كي كله وليكل سو؟**

(۲۰۴۲): وَ عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ أَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَلَا يُقْرَأَانِ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا شَيْطَانٌ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د آسمانو او مځكي پيدا كولو څخه دوه زره كاله وړاندي كتاب وليكئ بيا ددغه كتاب څخه الله تعالى دوه آياتونه نازل كړل په دي دوو آياتو سورة بقرة ختميږي په كوم كور . كي چي دا آياتونه دري شپې پرله پسې وويل سي شيطان هغه كور ته نژدې نه راځي، ترمذي، دارمي ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ

**د سورة كهف د لومړنيو درو اياتو ويلو فضيلت**

(۲۰۴۳): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د سورة كهف اول دري آياتونه ووايي هغه به د دجال د فتنې څخه خوندي سي . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**سورة ياسين د قران كريم زړه دئ**

(۲۰۴۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر شي زړه وي او د قرآن كريم زړه سورة يس دئ نو څوك چي سورة ياسين

عَشْرَ مَرَّاتٍ . رواه الترمذي والدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريبٌ .

وایي د هغه لپاره د لسو قرآنو ویلو ثواب لیکل کیږي . ترمذي ،دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ .

## د سورة طه او سورة یاسین فضیلت

﴿۲۰۴۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى قَرَأَ ( طٰهٰ ) وَ ( يس ) قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوٰاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفِ عَامٍ فَلَمَّا سَمِعَتِ الْمَلَائِكَةُ الْقُرْآنَ قَالَتْ طُوْبٰى لِأُمَّةٍ يُنْزَلُ هٰذَا عَلَيْهَا وَطُوْبٰى لِأَجْوَافٍ تَحْمِلُ هٰذَا وَطُوْبٰى لِأَلْسِنَةٍ تَتَكَلَّمُ بِهٰذَا . رواه الدارميّ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی د آسمانو او مځکو د پیدائښت څخه زر کاله وړاندي سورة طه او سورة یاسین ولوستل ، ملائکو چي دا سورتونه واوریدل نو وه یې ویل هغه امت مبارك دئ چي پر هغوئ به دا قرآن نازلیږي او هغه زړو ته دي زیری وي چي دا سورتونه یا قرآن کریم پورته کوي یعني یادوي یې او هغه ژبو ته دي خوشحالي وي چي دا قرآن یا دا سورتونه وایي .

## د سورة حم الدخان برکت

﴿۲۰۴۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ فِي لَيْلَةٍ أَصْبَحَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و عمربن ابى خثعم الراوي يضعف وقال محمد يعني البخاري هو منكر الحديث .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي سورة حم دخان د شپې ووایي نو هغه به په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره به اویا زره ملائکي د بخښني دعاء غواړي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ ، عمروبن ابی خثعم ددې حدیث راوي ضعیف دئ ، امام بخاري ویلي دي هغه منکر الحدیث دئ .

﴿۲۰۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ حم الدُّخَانَ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و هشام ابو المقدام الراوي يضعف .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي حم الدخان د جمعې په شپه ووایي نو د هغه بخښنه کیږي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ هشام ابو المقدام راوي ضعیف دئ .

## د مسبحات فضیلت

﴿۲۰۴۸﴾: وَعَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت عرباض بن ساریة ﷺ څخه روایت دئ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ أَنْ يَرْقُدَ وَيَقُولُ إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد و رواه الدارمي عن خالد بن معدان مرسلا و قال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

چي رسول الله ﷺ به د بېدېدو څخه وړاندي مسبحات ويـل (دغـه اووه سـورتونه: سبحان الذي اسرى بعبده، سورة حديد، سورة حشر، سورة صف، سورة جمعة، سورة تغابن، سورة اعلى) او فرمايل يې په دې سورتو کي يو آيت دئ چي تر زرو آياتو غوره دئ. ترمذي، ابوداؤد او دارمي، دا حديث د خالد بن معدان څخه مرسلا روايت کړئ دئ ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**د سورة ملک فضيلت او برکت**

(۲۰۴۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ وَهِيَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ . رواه احمد و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په قرآن کريم کي يو سورت د ديرشو آياتو دئ، دې سورت د يو سړي شفاعت وکړ تر هغه و بخښل سو او هغه سورت تبارك الذي بيده الملك .. دئ. احمد. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه

(۲۰۵۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ وَهُوَ لَا يَحْسَبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي د نبي کريم ﷺ په اصحابو کي يو سړي پر يو قبر خيمه ودروله او د هغه فکر نه وو چي دا قبر دئ، ناڅاپه هغه وليدل چي هغه سړی تبارك الذي بيده الملك وايي تر څو چي هغه سورة ختم کړ، هغه صحابي د رسول الله ﷺ په خدمت کي دا پېښه بيان کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا سورة (د ګناهو څخه) منع کونکی دئ، خلاصون ورکونکی دئ او ويونکي ته د الله د عذاب څخه خلاصون ورکوي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**د خوب څخه مخکي د رسول الله ﷺ معمول**

(۲۰۵۱): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله

وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ الم تَنْزِيلُ وَتَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ . رواه احمد والترمذي والدارمي و قال الترمذي هذا حديث صحيح وكذا في شرح السنة و في المصابيح غريب .

ﷺ به تر هغه وخته پوري نه بېدېدئ تر څو پوري چي سورة الم تنزيل او تبارك الذي بيده الملك به يې نه وويل، احمد، ترمذي، دارمي، او ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح دئ .

## د سورة زلزال، اخلاص او كافرون فضيلت

(٢٠٥٢): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَنَسِ بن مالك قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زُلْزِلَتْ تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ وَقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ . رواه الترمذي

د حضرت ابن عباس او انس (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سورة اذا زلزلت الارض د نيم قرآن سره سم دئ او قل هو الله احمد د دريمي برخي قرآن سره سم دئ . او قل يا ايها الكافرون د څلورمي برخي قرآن سره سم دئ . ترمذي

## د سورة حشر د اخري درو اياتو فضيلت

(٢٠٥٣): وَعَنْ مُعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ وَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ وَكَّلَ اللّٰهُ بِهِ سَبْعِينَ أَلْفَ مَلَكٍ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنْ مَاتَ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ مَاتَ شَهِيدًا وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي كَانَ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ. رواه الترمذي و الدارمي و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت معقل بن يسار ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي په سهار كي درې واره (أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ) وويل او درې آياتونه يې د سورة حشر د پاى څخه ولوستل نو الله تعالى پر هغه اويا زره ملائكي ټاكي چي تر ماښام پوري پر هغه رحمت ليږي او د هغه لپاره دعا كوي او كه هغه په دغه ورځ مړ سي نو شهيد به مړ سي او څوك چي دا كلمات او آياتونه د ماښام په وخت كي ووايي نو د هغه هم دغه مرتبه ده . ترمذي، دارمي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

## هره ورځ سل واره د قل هو الله احد ويلو تاثير

(٢٠٥٤): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَتَيْ مَرَّةٍ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ مُحِيَ عَنْهُ ذُنُوبُ خَمْسِينَ سَنَةً إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ . رواه الترمذي والدارمي و في روايته

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي هره ورځ دوه سوه واره قل هو الله احد ... ووايي نو د هغه د پنځوسو كالو ګناهونه ليري كيږي مګر د پور ګناه يې نه

خمسين مرة و لم يذكر الا ان يكون عليه دين .

بخښل کېږي . ترمذي، دارمي، او په يوه روايت کې ددوو سوو پر ځای د پنځوسو الفاظ دي او په دې روايت کې د پور لفظ نسته .

**د خوب ځخه مخکې قل هو الله احد ويل**

(٢٠٥٥): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنَامَ عَلَى فِرَاشِهِ فَنَامَ عَلَى يَمِينِهِ ثُمَّ قَرَأَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَقُولُ لَهُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا عَبْدِيَ ادْخُلْ عَلَى يَمِينِكَ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت انس ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي پر خپله بستره د بېده کېدو اراده وکړي نو پکار ده چي پر راسته اړخ پريوځي او بيا سل واره قل هو الله احد.... ووايي کله چي د قيامت ورځ راسي نو الله تعالى به ده ته فرمايي اې زما بنده! ته په جنت کي د راسته اړخ ځخه داخل سه. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

**د سورة اخلاص فضيلت**

(٢٠٥٦): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ فَقَالَ وَجَبَتْ قُلْتُ وَمَا وَجَبَتْ قَالَ الْجَنَّةُ . رواه مالك والترمذي والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي ځخه قل هوالله احد ويل واورېدل ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : واجب سو، ما پوښتنه وکړه ځه شي واجب سو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې سړي لپاره جنت واجب سو ، مالك، ترمذي، نسائي.

**د سورة كافرون فضيلت**

(٢٠٥٧): وَعَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَقُولُهُ إِذَا أَوَيْتُ إِلَى فِرَاشِي فَقَالَ اقْرَأْ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ . رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي .

حضرت فروة بن نوفل د خپل پلار ځخه روايت کوي چي هغه وويل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله! ما ته يو داسي شی راوښيه چي د شپې بسترې ته د تللو په وخت کي يې ووايم، رسول الله ﷺ وفرمايل : قل يا ايها الكافرون وايه ځکه چي دا سورت د شرك ځخه بيزاري ځرګندوي .، ترمذي ، ابوداؤد او دارمي.

**د سورة فلق او سورة الناس وظيفه**

(٢٠٥٨): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْجُحْفَةِ

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ ځخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ د جحفة او ابواء په منځ کي

وَالْأَبْوَاءِ إِذْ غَشِيَتْنَا رِيحٌ وَظُلْمَةٌ شَدِيدَةٌ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ بِأَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَأَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ وَيَقُولُ يَا عُقْبَةُ تَعَوَّذْ بِهِمَا فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا . رواه ابوداؤد .

سفر كوئ چي تيزي هواء او تاريكى موږ ايسار كړو ، رسول الله ﷺ قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس ويلو سره دعاء كول پيل كړل او ما ته يې وويل اې عقبة ! ته هم ددې دوو سورتو په ذريعه پناه غواړه ځكه چي په دې اړه دا دواړه سورتونه تر ټولو غوره دي. ابوداؤد

﴿٢٠٥٩﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ خُبَيْبٍ قَالَ خَرَجْنَا فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ وَظُلْمَةٍ شَدِيدَةٍ نَطْلُبُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَأَدْرَكْتُهُ فَقَالَ قل قلت ما اقول قال قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي .

د حضرت عبد الله بن خبيب ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د باران په يوه شپه كي چي ډيره تاريكي وه د رسول الله ﷺ په لټه كي ووتلو، نو موږ رسول الله ﷺ پيدا كړ ، رسول الله ﷺ چي موږ وليدلو نو وه يې فرمايل: وايه، ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! څه ووايم ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : قل هو الله احد ، قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس . سهار او مابنام درې درې واره وايه، ستا لپاره د هر شي بس دي . ترمذي، ابوداؤد، نسائي .

﴿٢٠٦٠﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اقْرَأْ سُورَةَ هُودٍ أَوْ سُورَةَ يُوسُفَ قَالَ لَنْ تَقْرَأَ شَيْئًا أَبْلَغَ عِنْدَ اللهِ مِنْ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ . رواه احمد والنسائي والدارمي .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا (د پناه تر لاسه كولو لپاره) زه سورة هود يا سورة يوسف وايم ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : په دې اړه د الله ﷻ په نزد د قل اعوذبرب الفلق څخه بل غوره شی نسته . احمد، نسائي او دارمي .

## دريم فصل

### د قران كريم د پيروي كولو حكم

﴿٢٠٦١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرِبُوا الْقُرْآنَ وَاتَّبِعُوا غَرَائِبَهُ وَغَرَائِبُهُ فَرَائِضُهُ وَحُدُودُهُ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قرآن معاني بيان كړئ او د غرائبو يې پيروي وكړئ او د قرآن غرائب د هغه فرضونه او حدود دي يعني امرونه او منعي . بيهقي

## د قرانکریم ویلو فضیلت

| | |
|---|---|
| (۲۰۶۲): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلَاةِ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنَ التَّسْبِيْحِ وَالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْبِيْحُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ وَالصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِّنَ النَّارِ . | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په لمانځه کي قرآن ویل غوره دئ تر پرته د لمانځه ویلو څخه، او پرته تر لمانځه ویلو د تسبیح او تکبیر څخه غوره دئ، او تسبیح تر صدقي غوره دئ او صدقه تر روژې غوره ده او روژه دوږخ ته سپر ده . بیهقي |

## قران کریم ته په کتلو سره ویل تر یاد ویلو غوره دی

| | |
|---|---|
| (۲۰۶۳): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْآنَ فِيْ غَيْرِ الْمُصْحَفِ أَلْفُ دَرَجَةٍ وَقِرَاءَتُهٗ فِي الْمُصْحَفِ تُضَعَّفُ عَلَى ذٰلِكَ إِلَى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ . | حضرت عثمان بن عبد الله بن اوس الثقفي (رض) د خپل نیکه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قرآن په یاد ویل زر درجې ثواب لري او قرآن کریم ته په کتلو سره ویل دوه زره درجې ثواب لري . |

## د زړه زنګ لیري کول

| | |
|---|---|
| (۲۰۶۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ إِذَا أَصَابَهُ الْمَاءُ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا جِلَاؤُنَا ؟ قَالَ كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةُ الْقُرْآنِ . روى لبيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه زړونه زنګ نیسي لکه څنګه چي اوسپنه په اوبو سره زنګ نیسي، پوښتنه وسول: اي دالله رسوله ! کوم شی زړونه څلانده کوي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: مرګ ډیر |

یادوئ او قرآن کریم وایاست. بیهقي دا څلور سره حدیثونه په شعب الایمان کي روایت کړي دي .

## تر ټولو ستر سورت

| | |
|---|---|
| (۲۰۶۵): وَعَنْ أَيْفَعَ بْنِ عَبْدِ الْكَلَاعِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ سُوْرَةِ الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) قَالَ فَأَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ آيَةُ الْكُرْسِيِّ (اَللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) قَالَ فَأَيُّ آيَةٍ يَا نَبِيَّ اللهِ تُحِبُّ أَنْ تُصِيْبَكَ وَأُمَّتَكَ ؟ | د حضرت ایفع بن عبد الکلاعي ﷺ څخه روایت دئ چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په قرآن کریم کي کوم سورت تر ټولو لوی دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: قل هو الله احد ..بیا هغه پوښتنه وکړه بل کوم آیت عظیم |

قَالَ خَاتِمَةُ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فَإِنَّهَا مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى مِنْ تَحْتِ عَرْشِهِ أَعْطَاهَا هٰذِهِ الْأُمَّةَ لَمْ تَتْرُكْ خَيْرًا مِّنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلاَّ اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ. رواه الدارمي.

دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : آية الكرسي ، بيا يې پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! تاسو د خپل ځان او امت لپاره کوم آيت خوښوئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د سورة بقرې آخرې آياتونه ځکه دغه د الله ﷻ د رحمت د خزانې څخه او د الله ﷻ تر عرش لاندې نازل سوي دي او دا آياتونه هغه زما امت ته داسې ورکړي دي چې په دې کې ددين او دنيا دواړو ښېګنې پرتې دي . دارمي

## سورة فاتحه شفاء ده

(۲۰۶۶): وَعَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِّنْ كُلِّ دَاءٍ . رواه الدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبد الملك بن عمير ﷺ څخه مرسلا روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : سورة فاتحه د هرې ناروغۍ لپاره شفاء ده . دارمي، بيهقي په شعب الايمان کې

## د سورة ال عمران فضيلت

(۲۰۶۷): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ مَنْ قَرَأَ آخِرَ آلِ عِمْرَانَ فِيْ لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ . رواه الدارمي

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روايت دئ چې څوك چې د سورة آل عمران آخرې برخه د شپې تلاوت کړي نو دهغه لپاره د شپې د قيام (تهجد) ثواب ليکل کيږي . دارمي

## سورة ال عمران د جمعې په ورځ ويل

(۲۰۶۸): وَعَنْ مَكْحُوْلٍ قَالَ مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ آلِ عِمْرَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِلَى اللَّيْلِ . رواهما الدارمي

د حضرت مکحول ﷺ څخه روايت دئ څوك چې د جمعې په ورځ سورة آل عمران ووايي نو د هغه لپاره تر شپې پورې ملائکې دعاء او استغفار کوي .دارمي

## د سورة بقره اخري درې اياتونه ښځو ته ښوول

(۲۰۶۹): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ خَتَمَ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ بِآيَتَيْنِ أُعْطِيْتُهُمَا مِنْ كَنْزِهِ الَّذِيْ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَعَلَّمُوْهُنَّ وَعَلِّمُوْهُنَّ نِسَاءَكُمْ فَإِنَّهَا صَلَاةٌ وَّقُرْبَانٌ وَّدُعَاءٌ " . رواه الدرامي مرسلا

د حضرت جبير بن نفير ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى سورة بقرة پر دوو آياتو ختم کړې ده دا دواړه آياتونه ما ته د هغه خزانې څخه راکړل سوي دي چې تر عرش لاندې ده دا آياتونه خپله زده کړئ او خپلو ازواجو ته يې وښياست ځکه چې دا آياتونه رحمت دي د الله تعالى د نږديوالي ذريعه دي او دعاوې دي . دارمي مرسلا.

**د جمعې په ورځ د سورة هود ويلو حکم**

(۲۰۷۰): وَعَنْ كَعْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْرَؤُوْا سُوْرَةَ هُوْدٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه الدرامي مرسلا

د حضرت کعب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې په ورځ سورة هود واياست. دارمي مرسلا

**د جمعې په ورځ د سورة کهف ويلو حکم**

(۲۰۷۱): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ النُّوْرُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د جمعې په ورځ سورة کهف تلاوت کړي نو د هغه لپاره د دوو جمعو په منځ کي د ايمان نور ځلانده کيږي. بيهقي

**د سورة الم تنزيل ويلو برکت**

(۲۰۷۲): وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ قَالَ اقْرَؤُوْا الْمُنْجِيَةَ وَهِيَ ( آلم تنزيل) فَإِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَقْرَؤُهَا مَا يَقْرَأُ شَيْئًا غَيْرَهَا وَكَانَ كَثِيْرَ الْخَطَايَا فَنَشَرَتْ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ قَالَتْ رَبِّ اغْفِرْ لَهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ قِرَاءَتِيْ فَشَفَّعَهَا الرَّبُّ تَعَالٰى فِيْهِ وَقَالَ اكْتُبُوْا لَهُ بِكُلِّ خَطِيْئَةٍ حَسَنَةً وَّارْفَعُوْا لَهُ دَرَجَةً وَقَالَ أَيْضًا إِنَّهَا تُجَادِلُ عَنْ صَاحِبِهَا فِي الْقَبْرِ تَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ مِنْ كِتَابِكَ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَإِنْ لَّمْ أَكُنْ مِنْ كِتَابِكَ فَامْحُنِيْ عَنْهُ وَإِنَّهَا تَكُوْنُ كَالطَّيْرِ تَجْعَلُ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ فَتَشْفَعُ لَهُ فَتَمْنَعُهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَقَالَ فِيْ ( تَبَارَكَ ) مِثْلَهُ وَكَانَ خَالِدٌ لَا يَبِيْتُ حَتّٰى يَقْرَأَهُمَا وَقَالَ طَاوُوْسٌ فُضِّلَتَا عَلٰى كُلِّ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْآنِ بِسِتِّيْنَ حَسَنَةً . رواه الدارمي

د حضرت خالد بن معدان ﷺ څخه روايت دئ چي خلاصون ورکونکی سورت واياست او هغه الم تنزيل دئ ځکه چي ما ته دا خبره ځرګنده سوې ده چي يو سړی به دا سورت وايه او ددې پرته به يې هيڅ شی نه وايه او هغه سړی ډير ګناهکار وو، دې سورت پر هغه بازوګان خپاره کړل او ويل يې اې پروردګاره ! دی وبخښې ځکه چي ده به زه ډير ويلم، نو الله تعالی يې شفاعت قبول کړ، او وه يې فرمايل: دده د هري ګناه په بدله کي مي يوه نيکي وليکئ او دده درجه پورته کړئ او خالد هم وويل چي دا سورت د خپل ويونکي د لوري جګړه کوي او وايي اې الله ! که زه ستا د کتاب څخه يم نو زما شفاعت دده په حق کي قبول کړې او که ستا په کتاب کي نه يم نو ما د خپل کتاب څخه ليري کړې ، حضرت خالد وويل: دا سورت به په قبر کي د يو مرغه په دول وي چي خپل وزر به پر خپل ويونکي کښيږدي او د هغه شفاعت به کوي او دی به د قبر د عذاب څخه ژغوري او خالد وويل د سورة تبارك الذي بيده الملك په اره هم داسي خبره ده . او

خالد چي به تر خو پوري دا دوه سورتونه ونه ويل د شپې به نه بيده کېدئ ، او طاؤس راوي وويل چي دې دوو سورتو ته د قرآن پر نورو سورتو په اندازه د شپېتو نيکيو عظمت ورکړل سوی دی . دارمي

**د سورة ياسين په ويلو سره حاجتونه پوره کيږي**

(۲۰۷۳): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِيْ رَبَاحٍ قَالَ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ (يس) فِيْ صَدْرِ النَّهَارِ قُضِيَتْ حَوَائِجُهُ. رواه الدارمي مرسلا

د حضرت عطاء بن ابی رباح ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته خرګنده سوې ده چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي چي څوك د ورځي په پيل کي سورة ياسين ووايي د هغه حاجتونه پوره کيږي . دارمي مرسلا .

**د زګندن په وخت کي د سورة ياسين ويلو حکم**

(۲۰۷۴): وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارِ الْمُزَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ (يس) ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالَى غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَاقْرَؤُوْهَا عِنْدَ مَوْتَاكُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت معقل بن يسار المزني ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي يوازي د الله د رضا لپاره سورة ياسين ووايه د هغه مخکني ګناه معاف کيږي نو دا سورت تاسو د خپلو مړو په وراندي واياست . بيهقي

**سورة بقرة د قران کريم عظمت دی**

(۲۰۷۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَإِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابًا وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ . رواه الدارمي

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي د هر شي لوړتيا وي او د قرآن لوړتيا سورة بقرة ده او د هر شي خلاصه وي او د قرآن خلاصه مفصل دئ يعني سورة حجرات څخه د قرآن کريم تر پايه پوري . دارمي .

**د قران کريم ښکلا سورة رحمان دی**

(۲۰۷۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لِكُلِّ شَيْءٍ عَرُوْسٌ وَعَرُوْسُ الْقُرْآنِ الرَّحْمٰنُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي : د هر شی ښکلا وي او د قرآن ښکلا سورة رحمان دئ . بيهقي

**د سورة واقعه تاثير**

(۲۰۷۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ أَبَدًا وَكَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ يَأْمُرُ بَنَاتِهِ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي هره شپه سورة واقعه وايي هغه به په فاقه (لوږه) کي هيڅ کله

يَقْرَأَنَ بِهَا فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

اخته نه سي او ابن مسعود به خپلو زامنو ته ويل چي دا سورت هره شپه وايياست . دا دواړه حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي نقل کړي دي .

**د سورة اعلی فضیلت**

(۲۰۷۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ هٰذِهِ السُّوْرَةَ ( سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ) رواه أحمد .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به سورة سبح اسم ربك الاعلى ډير خوښوئ ، احمد

**جامع سورت**

(۲۰۷۹): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ أَتَى رَجُلٌ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَقْرِئْنِي يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ اقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ الر فَقَالَ كَبُرَتْ سِنِّي وَاشْتَدَّ قَلْبِي وَغَلُظَ لِسَانِي قَالَ فَاقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ حاميم فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِه فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَقْرِئْنِي سُورَةً جَامِعَةً فَأَقْرَأَهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهَا أَبَدًا ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ مَرَّتَيْنِ . رواه احمد وابوداؤد .

د حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! ما ته (د ويلو لپاره) يو شی راوښيه ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته دغه درې سورتونه وايه چي د هغه په پيل کي (الر) دي ، هغه وويل زما عمر زيات سوئ دئ زما زړه سخت دئ او ژبه مي غټه ده يعني ددې کبله دا سورتونه نه سم يادولای ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته په دې سورتو کي درې سورتونه وايه چي د هغه په پيل کي (حم) دئ ، هغه هم هغه وويل کوم چي يې مخکي ويلي وه ، او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! ما ته يو داسي سورت پکار دئ چي جامع وي يعني په هغه کي ډيري خبري يو ځای سوي وي ، رسول الله ﷺ ورته ا ذا زلزلت الارض ووايه، تر څو چي د هغه څخه فارغ سو يعني ټول سورت يې ووايه، بيا هغه سړي وويل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو يې په حق راليږلي ياست زه به تر دې هيڅکله زيات نه کړم ، بيا چي هغه سړی ستون سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سړی کامياب سو ، دا الفاظ رسول الله ﷺ دوه واره وفرمايل . احمد او ابوداؤد .

**د سورة التكاثر فضيلت**

(۲۰۸۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا يَسْتَطِيعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا په تاسو کي څوك

فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟ قَالُوْا وَمَنْ يَّسْتَطِيْعُ اَنْ يَّقْرَاَ اَلْفَ آيَةٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟ قَالَ اَمَا يَسْتَطِيْعُ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّقْرَاَ ( اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ) . رواه البيهقي في شعب الإيمان

هره ورځ د زرو آياتو توان لري ؟ صحابه كرامو عرض وكړ څوك ددې توان لري چي هره ورځ زر آياتونه ووايي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا په تاسو كي څوك ددې توان لري چي هره ورځ الهاكم التكاثر ووايي . بيهقي په شعب الايمان كي .

## د قل هو الله احد ويلو تاثير او بركت

﴿٢٠٨١﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلاً عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَاَ ( قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ) عَشَرَ مَرَّاتٍ بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ قَرَاَ عِشْرِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ قَرَأَهَا ثَلَاثِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا ثَلَاثَةُ قُصُوْرٍ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِذًا لَنُكَثِّرَنَّ قُصُوْرَنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُ اَوْسَعُ مِنْ ذٰلِكَ . رواه الدارمي

د حضرت سعيد بن المسيب ﷺ څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي لس واره قل هو الله احد ... ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي يوه ماڼۍ جوړه سي او څوك چي يې شل واره ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي دوې ماڼۍ جوړي سي او څوك چي يې ديرش واره ووايي نو د هغه لپاره به په جنت كي درې ماڼۍ جوړي سي . (د دې په اورېدو سره) حضرت عمر بن خطاب ﷺ وويل په الله ﷻ دې مي قسم وي اې دالله رسوله ! داسي خو به موږ په جنت كي ډير محلونه جوړ كړو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تر دې هم زيات اوسع دئ ، يعني د هغه فضل ډيرپراخ دئ . دارمي.

## د شپې د قران كريم ويلو اثر

﴿٢٠٨٢﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَاَ فِيْ لَيْلَةٍ مِائَةَ آيَةٍ لَمْ يُحَاجَّهُ الْقُرْآنُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَمَنْ قَرَاَ فِيْ لَيْلَةٍ مِائَتَيْ آيَةٍ كُتِبَ لَهُ قُنُوْتُ لَيْلَةٍ وَمَنْ قَرَاَ فِيْ لَيْلَةٍ خَمْسَمِائَةٍ إِلَى الْاَلْفِ اَصْبَحَ وَلَهُ قِنْطَارٌ مِّنَ الْاَجْرِ قَالُوْا وَمَا الْقِنْطَارُ ؟ قَالَ اثْنَا عَشَرَ اَلْفًا . رواه الدرامي

د حضرت حسن ﷺ څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د شپې سل آياتونه ووايي نو د هغه سره به په هغه شپه كي قرآن جګړه نه كوي او څوك چي د شپې دوه سوه آياتونه تلاوت كړي د هغه لپاره د شپې د قيام (تهجد) ثواب ليكل كيږي او څوك چي د شپې د پنځو سوو څخه تر زرو پوري آياتونه ووايي نو هغه به په داسي حال كي سهار كوي چي د هغه لپاره به د قنطار په اندازه ثواب وي ، صحابه كرامو پوښتنه وكړه : قنطار څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دوولس زره (درهم يا دينار) . دارمي.

# بَابُ اٰدَابِ التِّلَاوَةِ (د تلاوت ادبونه)

## لومړی فصل

### د قران ساتنه کول

| | |
|---|---|
| (۲۰۸۳): عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا . متفق علیه | د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قرآن خبر گیري کوئ زما دي په هغه ذات قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده څرنگه چي اوښ د رسی |

څخه وزي تر دې ژر قرآن د سینې څخه وزي. بخاري او مسلم.

### د قران کریم یو ادب

| | |
|---|---|
| (۲۰۸۴): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُولَ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ . متفق علیه و زاد مسلم بعقلها . | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د یو سړي دا ویل چي د قرآن کریم فلانی او فلانی آیات مي هیر کړه، بد دئ بلکه داسي دي وایي چي زما څخه هیر کړل سو، تاسو قرآن کریم یادوئ څکه چي هغه د |

انسانانو د سینو څخه ژر وځي تر حیوانانو. بخاري، او مسلم دا الفاظ زیات نقل کړي دي چي اوښ په رسی سره تړلی وي.

### د صاحب قران یو مثال

| | |
|---|---|
| (۲۰۸۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ . متفق علیه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قرآن د یا دونکی مثال په مثل د خاوند د اوښانو تړل سوو دی که خبر یې اخلي نو وه به یې ساتي او که ایله یې کړي نو ولاړ به سي. بخاري او مسلم. |

### تر څو چي مو زړه وي قران وایاست

| | |
|---|---|
| (۲۰۸۶): وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ | د حضرت جندب بن عبد الله ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قرآن کریم تر هغو |

عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ . متفق عليه .

واياست تر څو چي زړونه مو ورسره لګېدلي وي هر کله چي طبعيت مو موړ سي نو څيني ولاړيږئ. بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ قرائت

(٢٠٨٧): وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَتْ مَدًّا ثُمَّ قَرَأَ { بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ } يَمُدُّ بِبِسْمِ اللّٰهِ وَيَمُدُّ بِالرَّحْمٰنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ . رواه البخاري .

د حضرت قتادة ﷺ څخه روايت دئ چي د حضرت انس ﷺ څخه پوښتنه وسول چي نبي کريم ﷺ به څنګه قرائت وايه ، هغه وويل : رسول الله ﷺ به حروف په اوږدولو سره ويل بيا هغه بسم الله الرحمن الرحيم ويلو ورروسته وښودل چي اوږدوالی به يې کوی پر (بسم الله) او اوږدوالی يې کوی د (رحيم) پر لفظ باندي. بخاري.

## د خدای ﷺ په نزد تر ټولو غوره اواز

(٢٠٨٨): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِلنَّبِيِّ أَنْ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى هيڅ شى داسي نه اوري لکه څرنګه چي د نبي آواز اوري هر کله چي هغه په خوش آوازي سره قرآن وايي . بخاري او مسلم .

(٢٠٨٩): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى هيڅ شى په دومره توجه سره نه اوري لکه څرنګه چي د نبي خوش آوازي اوري هر کله چي هغه په لوړ آواز سره قرآن وايي . بخاري او مسلم .

## قران کريم او خوش اوازي

(٢٠٩٠): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ .متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوك زموږ څخه نه دئ څوك چي په خوش آوازي سره قرآن نه وايي . بخاري

## د قران کريم اورېدل

(٢٠٩١): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ لِي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ اقْرَأْ عَلَيَّ قُلْتُ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ

د حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر منبر ناست وو ما ته يې وفرمايل : زما په وړاندي قرآن ووايه، ما

أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ فَقَرَأْتُ سُوْرَةَ النِّسَاءِ حَتّٰى أَتَيْتُ إِلٰى هٰذِهِ الْآيَةِ { فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا } قَالَ حَسْبُكَ الْآنَ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ . متفق عليه

عرض وكړ اې دالله رسوله! زه ستاسو په وړاندې قرآن ووايم حال دا چې قرآن خو پر تاسو نازل سوى دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د بل چا څخه اوريدل زيات خوښوم، ابن مسعود وايي: ما د رسول الله ﷺ په وړاندې سورة نساء وويل او كله چې زه دې آيت ته راورسيدم: (فكيف ....) يعني دا يهود وغيره به څه كوي هر كله چې موږ د هر يو قوم څخه يو شاهد وړاندې كړو يعني د هغوئ نبي چې هغه به د هغوئ پر اعمالو او افعالو شاهدي وركوي او تا هم موږ پر دې امت شاهد وګرځوو، د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: بس كړه ، ددې وروسته ما نبي كريم ﷺ ته وكتل نو ما ته څرګنده سوه چې د رسول الله ﷺ د دواړو سترګو څخه اوښكي رواني وې . بخاري او مسلم .

### د حضرت ابى بن كعب ؓ سعادت

(۲۰۹۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِيْ أَنْ اقرا عليك الْقُرْآنَ قَالَ أَللّٰهُ سَمَّانِيْ لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَقَدْ ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ قَالَ نَعَمْ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ أَنَّ اللّٰهَ أَمَرَنِيْ أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالَ وَ سَمَّانِيْ قَالَ نَعَمْ فَبَكٰى .متفق عليه .

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ابى بن كعب ته وفرمايل: الله تعالى ما ته حكم راكړئ دئ چې زه ستا په وړاندې قرآن كريم ووايم، ابى بن كعب عرض وكړ: الله تعالى ستا سو په وړاندې زما نوم اخيستئ دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:هو، ابى وويل (سبحان الله) د دواړو جهانو پروردګار زما ذكر كړئ دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، د دې په اوريدو سره د ابى بن كعب ؓ د سترګو څخه اوښكي رواني سوې ، او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ما ته حكم راكړئ دئ چې ستا په وړاندې لم يكن الذين كفروا ، ووايم، ابى عرض وكړ : ايا الله تعالى زما په نوم اخيستو سره فرمايلي دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو ، ددې په اوريدو سره ابى بن كعب ؓ په ژړا سو . بخاري او مسلم

### دار الحرب ته د قران كريم وړلو څخه منع

(۲۰۹۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلٰى أَرْضِ الْعَدُوِّ . متفق عليه و فِيْ رواية لمسلم لَا تُسَافِرُوْا

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چې قرآن كريم دې د دښمنانو هيواد ته يوړل سي ، د مسلم په

بِالْقُرْآنِ فَإِنِّيْ لَا آمَنُ أَنْ يَّنَالَهُ الْعَدُوُّ .

يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په سفر کي د ځان سره قرآن کريم مه وړئ ځکه چي زه د دې اطمينان نه لرم چي د دښمن لاس ته به ورسي. مسلم.

## دويم فصل

**غريبو مهاجرينو ته زيرې**

(۲۰۹۴): عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِينَ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عَلَيْنَا فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكَتَ الْقَارِئُ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ قُلْنَا كُنَّا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللّٰهِ فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ قَالَ فَجَلَسَ وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هٰكَذَا فَتَحَلَّقُوا وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ فَقَالَ أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ. رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي زه د غريبو مهاجرو د يو ډلي سره ناست (يعني اصحابه صفه) ، او دا حال دا چي د لوڅېدو له کبله به ځينو خلکو د يو بل پرده کول او زموږ په منځ کي يو ويونکي قرآن کريم وايه، ناڅاپه رسول الله ﷺ تشريف راوړ او زموږ په خوا کي ودريدئ قرآن ويونکي پټه خوله سو، رسول الله ﷺ سلام وکړ او بيا يې پوښتنه وکړه تاسو څه کول ؟ موږ عرض وکړ د الله تعالى کتاب مو اوريدئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه الله لره هر ډول تعريف دئ چي هغه زما په امت کي داسي خلك پيدا کړي دي چي زه په مستقله توگه په هغو کي شتون لرم، د راوي بيان دئ ددې وروسته رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي کښېنستئ چي خپل عظيم شخصيت زموږ د خلکو په منځ کي مساوي جوړ کړي ، بيا رسول الله ﷺ د گوتي کړۍ جوړه کړه او وه يې فرمايل :داسي کښينئ نو موږ د رسول الله ﷺ په وړاندي هم هغسي کړۍ جوړه کړه چي زموږ مخونه رسول الله ﷺ ته متوجه وه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د مفلس مهاجرينو ډلي تاسو ته دي زيرې وي چي تاسو به د قيامت په ورځ جنت ته د شتمنو څخه نيمه ورځ وړاندي داخل سئ او دا نيمه ورځ به پنځه سوه کاله وي . ابوداؤد.

**په تجويد او ترتيل سره د قران کريم ويلو حکم**

(۲۰۹۵): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چي

| | |
|---|---|
| اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ . رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة والدارمي . | رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو قرآن ته په خپلو آوازو (ترتيل او تجويد) سره ښكلا وركړئ. احمد، ابوداؤد، ابن ماجة او دارمي. |

**د قران كريم پر هېرولو باندي وعيد**

| | |
|---|---|
| (٢٠٩٦): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ . رواه ابوداؤد والدارمي . | د حضرت سعد بن عبادة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي قرآن ووايي او بيا يې هير كړي نو د قيامت په ورځ به د الله په وړاندي په داسي حال كي ملاقات كوي چي |

د هغه لاس به پرې سوی وي. ابوداؤد او دارمي.

**تر درو ورځو كم د قران كريم ختمولو مسئله**

| | |
|---|---|
| (٢٠٩٧): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ .رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي . | د حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي تر درو شپو په كم وخت كي قرآن كريم ختم كړ هغه په قرآن پوه نه سو . ترمذي، ابوداؤد او دارمي. |

**قران كريم په لوړ اواز ويل غوره دی كه په كښته ؟**

| | |
|---|---|
| (٢٠٩٨): وَعَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب . | د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په لوړ آواز سره قرآن ويونكی د هغه چا په ډول دئ چي صدقه په ښكاره وركړي او په كراره قرآن ويونكی د هغه چا په ډول دئ چي په پټه صدقه وركړي |

. ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

**د قران كريم د پوره پيروی تاكيد**

| | |
|---|---|
| (٢٠٩٩): وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنْ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ . رواه الترمذي وقال هذا حديث ليس اسناده بالقوي . | د حضرت صهيب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د قرآن كريم حرام كړي شيان حلال وګڼل هغه په قرآن ايمان نه راوړئ، ترمذي، وويل ددې حديث اسناد قوي نه دي. |

د رسول الله ﷺ قرائت

(۲۱۰۰): وَعَنِ اللَّيْثِ ابْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

حضرت لیث بن سعد د حضرت ابو ملیکه او هغه د یعلي بن مملك (رض) څخه روایت کوي چي هغه د بي بي ام سلمة (رض) څخه د رسول الله ﷺ د قرآن په اره پوښتنه وکړه ، هغې د رسول الله ﷺ د قرآئت صفت دا بیان کړ چي د رسول الله ﷺ به یو یو حرف واضح وو ، ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

(۲۱۰۱): وَعَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ يَقُولُ{ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ }ثُمَّ يَقِفُ ثُمَّ يَقُولُ{ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ}ثُمَّ يَقِفُ . رواه الترمذي و قال ليس اسناده بمتصل لان الليث روى هذا الحديث عن ابن ابي مليكة من يعلي بن مملك عن ام سلمة و حديث الليث اصح .

حضرت ابن جریج د ابن ابي ملیکة څخه او هغه د بي بي ام سلمة څخه روایت کوي چي هغې وویل د رسول الله ﷺ قرائت کي به یو یو حرف بیل بیل او واضح وو ، یعني رسول الله ﷺ به الحمدلله رب العلمین وویل او دریدئ به ، بیا به یې الرحمن الرحیم ، وویل او دریدئ به ، ترمذي وویل ددې حدیث سند متصل نه دئ ځکه چي لیث دا حدیث د ابن ابي ملیکة څخه هغه د یعلي بن مملك څخه او هغه د بي بي ام سلمة څخه روایت کړئ دئ د لیث حدیث زیات صحیح دي .

## دریم فصل

قرائت یوازي د خوش اوازۍ نوم دی

(۲۱۰۲): عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَفِينَا الْأَعْرَابِيُّ وَالْأَعْجَمِيُّ قَالَ اقْرَءُوا فَكُلٌّ حَسَنٌ وَسَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يُقِيمُونَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ يَتَعَجَّلُونَهُ وَلَا يَتَأَجَّلُونَهُ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشریف راوړ او موږ هغه وخت قرآن کریم وایه، او په موږ کي صحرایي خلك هم وه او عجمي (یعني غیر عرب) خلك هم وه، رسول الله ﷺ وفرمایل : وه یې وایاست ټول صحیح دئ او ډیر ژر داسي قومونه به راسي چي قرآن به داسي سیده کړي لکه څنګه چي غشی سیده کیږي او د قرآن کریم الفاظ به په ښه ښکلا سره وایي تلوار به کوي په هغه کي به د وخت

انتظار نه کوي يعني په دنيا کي به د هغه ګټه تر لاسه کړي او په آخرت کي به هيڅ نه وي . ابوداؤد او بيهقي.

(۲۱۰۳): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَؤُوا الْقُرْآنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا وَإِيَّاكُمْ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْعِشْقِ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْكِتَابَيْنِ وَسَيَجِيْءُ بَعْدِيْ قَوْمٌ يُرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيْعَ الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ الَّذِيْنَ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وزرين في كتابه .

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قرآن کريم د عربو په لهجه او آواز سره واياست او خپل ځان د مينه ناکو غزلو او د اهل کتابو د لحن څخه ساتئ ، زما وروسته به يو قوم راسي چي قرآن کريم به په ښکلا سره وايي (يعني په غزلو کي) او د سندرو په ډول به يې وايي او حالت به يې دا وي چي قرآن کريم به د حلق څخه کښته نه ځي يعني پر زړه به يې هيڅ اثر نه کوي ددې خلکو زړونه به په فتنه کي پريوتلي وي او د هغه خلکو زړونه هم چي هغوئ ته د سندرو په ډول ددې ويل ښه ځرګنديږي . بيهقي او زرين .

## قران کريم په ترتيل سره د ويلو حکم

(۲۱۰۴): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ حَسِّنُوْا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيْدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا . رواه الدارمي

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي قرآن کريم په خپلو آوازو سره په ښه ډول واياست څکه چي په خوش آوازۍ سره د قرآن ښکلا زياتيږي . دارمي

## د حسن قرائت معيار

(۲۱۰۵): وَعَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلًا قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا لِلْقُرْآنِ ؟ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ؟ قَالَ مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ أُرِيْتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللّٰهَ قَالَ طَاوُسٌ وَكَانَ طَلْقٌ كَذٰلِكَ . رواه الدارمي

د حضرت طاؤس څخه مرسلا روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول: څوک په قرآن ويلو کي ښه آواز لري ؟ او څوک د قرائت په اره ښه دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک چي ته د هغه قرائت واورې نو دا حس کړې چي هغه د الله څخه بيريږي ، طاؤس وايي حضرت طلق ﷺ همداسي لوستل کول . دارمي.

**د قران کریم په اړه يو څو احکامات**

(۲۱۰۶): وَعَنْ عُبَيْدَةَ الْمُلَيْكِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ وَاتْلُوهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ مِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَفْشُوهُ وَتَغَنَّوْهُ وَتَدَبَّرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ وَلَا تُعَجِّلُوا ثَوَابَهُ فَإِنَّ لَهُ ثَوَابًا. رواه البيهقي في شعب الإيمان

حضرت عبيدة ا لمليكي ﷺ څخه چي د رسول الله ﷺ د نژدې خلکو څخه دئ روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې اهل قرآن! تاسو د قرآن څخه ډډه مه کوئ او په شپه او ورځ کي قرآن واياست لکه څرنګه چي لوستل يې پکار دي او قرآن خپور کړئ او قرآن په ښکلې آواز سره واياست او څه چي په قرآن کي دي په هغه کي فکر وکړئ چي خلاصون او بريالیتوب مو په برخه سي او ددې په ثواب کي تلوار مه کوئ ځکه چي ددې لوی ثواب (په اخرت) کي دئ. بيهقي.

# بَابُ اخْتِلَافِ الْقِرَائَتِ وَجَمْعِ الْقُرْآنِ

## (د قرائت اختلاف او د قران يو ځای کولو بيان)

## لومړی فصل

**د قرائت اختلاف**

(۲۱۰۷): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَأَنِيهَا فَكِدْتُ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتَّى انْصَرَفَ ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ فَجِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي سَمِعْتُ هَذَا يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْهُ اقْرَأْ فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَكَذَا أُنْزِلَتْ ثُمَّ قَالَ لِي اقْرَأْ فَقَرَأْتُ فَقَالَ هَكَذَا أُنْزِلَتْ إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دئ چي ما د هشام بن حکيم بن حزام څخه سورة فرقان واوريدئ چي د هغه طريقې څخه خلاف وو په کومه طريقه چي ما وايه، او دا سورت خپله رسول الله ﷺ ما ته ښودلی وو، نژدې وو چي زه په دې اړه د هشام سره په جګړه اخته سم، مګر ما د آرامتيا څخه کار واخيستئ او هغه ته مي وخت ورکړ تر څو چي هغه سورت ختم کړ بيا ما د هغه په غاړه کي د هغه څادر واچوئ او په راکشولو مي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ او رسول الله ﷺ ته مي عرض وکړ اې دالله رسوله! دا (هشام) سورة فرقان د هغه

عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ . متفق عليه و اللفظ لمسلم

طريقې څخه خلاف وايي په كومه طريقه چې تا ما ته ښودلې دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عمر ! دى پرېږده ، بيا يې هشام ته وفرمايل : ته يې ووايه، (يعني سورة فرقان) نو هشام په هغه طريقه ووايه په كومه طريقه چې ما څيني اوريدلی وو، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سورت داسي نازل سوی دئ بيا رسول الله ﷺ ما ته د ويلو لپاره وفرمايل : ما په خپله طريقه ووايه ، رسول الله ﷺ چي واوريدئ نو وه يې فرمايل : دا سورة داسي نازل سوئ دئ بيا يې وفرمايل : دا قرآن په اوو حروفو (يعني اوو طريقو) نازل سوی دئ . بخاري او مسلم .

**هر قرائت صحيح دی**

(۲۱۰۸):وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ آيَةً وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ خِلَافَهَا فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ فَقَالَ كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَلَا تَخْتَلِفُوا فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا . رواه البخاري

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي ما د يو سړي څخه قرآن ويل واوريدل چي د هغه طريقې خلاف وو په كومه طريقه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی وو ، هغه سړی ما رسول الله ﷺ ته راوستئ او پېښه مي ورته بيان كړه ، ما وليدل چي د پېښي په اوريدو سره د رسول الله ﷺ پر مخ مبارك باندي د ناخوښۍ اثر څرګند سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو دواړه سم او ښه واياست په خپل منځ كي اختلاف مه كوئ ځكه چي كوم خلك ستاسو څخه وړاندي تير سوي دي هغوئ په خپل منځ كي د اختلاف په كبله هلاك سوي دي . بخاري.

(۲۱۰۹): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ يُصَلِّي فَقَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ ثُمَّ دَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ قِرَاءَةً سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَلَمَّا قَضَيْنَا الصَّلَاةَ دَخَلْنَا جَمِيعًا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ إِنَّ هٰذَا قَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ وَدَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ سِوَى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَأَمَرَهُمَا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَا فَحَسَّنَ شَأْنَهُمَا فَسَقَطَ فِي نَفْسِي مِنَ التَّكْذِيبِ وَلَا إِذْ كُنْتُ

د حضرت ابی بن كعب ﷺ څخه روايت دئ چي زه په مسجد كي وم چي يو سړی راغلئ او لمونځ يې وكړ هغه قرآن په داسي طريقه ووايه چي ما د هغې طريقې څخه انكار وكړ ، يو بل سړی راغلئ او هغه د بل سړي خلاف قرائت ووايه ، كله چي موږ د لمانځه څخه فارغ سو نو د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو ما عرض وكړ دغه سړي په داسي ډول قرآن وايه چي زما غوږونو قبول نه كړ ، دا دويم سړی چي راغلئ

فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَدْ غَشِيَنِي ضَرَبَ فِي صَدْرِي فَفِضْتُ عَرَقًا وَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَرَقًا فَقَالَ لِي يَا أُبَيُّ أُرْسِلَ إِلَيَّ أَنْ اقْرَأِ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّانِيَةَ اقْرَأْهُ عَلَى حَرْفَيْنِ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلَى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّالِثَةَ اقْرَأْهُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ وَلَكَ بِكُلِّ رَدَّةٍ رَدَدْتُكَهَا مَسْأَلَةٌ تَسْأَلُنِيهَا فَقُلْتُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتَّى إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. رواه مسلم

نو ده د هغه سري خلاف قرآيت وايه ، رسول الله ﷺ هغو دواړو ته د ويلو حكم وركړ ، هغوئ وويل ، او نبي كريم ﷺ د هغو دواړو خلكو د ويلو تعريف وكړ ، په دې سره زما په زړه كي سخته شبه او شك پيدا سو ، لكه چي ما هغه درواغ وګڼئ او دا شبه او شك د جاهليت د شبهې او شك څخه هم زيات وو ، كله چي رسول الله ﷺ زما حالت وليدئ نو زما پر سينه يې خپل لاس مبارك را تير كړ او زه خوله خوله سوم ، او زما دا حالت سو لكه چي زه د بيري څخه الله تعالى په لور ګورم ، بيا رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل : اوس ما ته ملائكه راوليږل سوه او حكم راكړل سو چي ته قرآن كريم په يوه طريقه وايه ، ما الله ته عرض وكړ چي زما پر امت اساني وكړې ، بيا ما عرض وكړ ، الله تعالى ما ته بيا په دوو طريقو د قرآن ويلو حكم وكړ ، ما بيا غوښتنه وكړه او عرض مي وكړ چي زما پر امت اساني وكړي ، نو په دريم وار په اوو طريقو د قرآن ويلو حكم وسو ، او الله تعالى وفرمايل : څومره واره چي موږ تا ته حكم دركړئ دئ هغومره واره ته زموږ څخه سوال وكړه (يعني دري ځله) تا زموږ څخه سوال كړئ دئ نو دري واره زموږ څخه دعاء وغواړه چي موږ هغه قبوله كړو ، ما (نبي كريم ﷺ) وويل : اللهم اغفر لامتي اللهم اغفر لامتي (اې الله زما امت و بخښې ، اې الله زما امت و بخښې) ، او د دريم وار دعاء مي د هغه ورځي لپاره وساتل چي زما څخه به ټول مخلوق شفاعت وغواړي تر دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام به هم زما څخه غوښتنه وكړي . مسلم.

## د قرائت په اختلاف سره پر ديني احكامو تاثير نه لوېږي

(۲۱۱۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ وَيَزِيدُنِي حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ . قال ابن شهاب بلغني ان تلك السبعة الاحرف انما هي في الامر تكون واحدا لا تختلف في حلال و لا حرام . متفق عليه .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته جبرائيل عليه السلام (قرآن) په يوه طريقه و ښودئ ، ما الله تعالى ته د (اساني) لپاره رجوع وكړه او هميشه به مي په اساني كي زياتي غوښتني كولې تر څو چي اوو طريقو ته راورسيدو . د ابن شهاب

راوي بيان دئ چي هغه اووه طريقې په دين کي متفق او يو برابر دي او په حرام او حلال کي هيڅ اختلاف نسته . بخاري او مسلم

## دويم فصل

### د قران کريم په قرائت کي د اسانۍ لپاره د رسول الله ﷺ خواهش

(۲۱۱۱): عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ لَقِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلَ فَقَالَ يَا جِبْرِيلُ إِنِّي بُعِثْتُ إِلَى أُمَّةٍ أُمِّيِّينَ مِنْهُمُ الْعَجُوزُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ وَالْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ وَالرَّجُلُ الَّذِي لَمْ يَقْرَأْ كِتَابًا قَطُّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ . رواه الترمذي و في رواية لاحمد و ابي داؤد قال ليس منها الا شاف كاف و في رواية للنسائي إِنَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ عَلَيْهِمَا السَّلَام أَتَيَانِي فَقَعَدَ جِبْرِيلُ عَنْ يَمِينِي وَمِيكَائِيلُ عَنْ يَسَارِي فَقَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام اقْرَأِ الْقُرْآنَ عَلَى حَرْفٍ قَالَ مِيكَائِيلُ اسْتَزِدْهُ حَتَّى بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ فَكُلُّ حَرْفٍ شَافٍ كَافٍ .

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ د جبرائيل عليه السلام سره ملاقات وکړ او وه يې فرمايل : اې جبرائيل ! زه يو بې علمه قوم ته راليږل سوی يم او په دې قوم کښې سپين سري ښځي او سپين ږيري خلك دي ، هلکان پکښې دي او انجوني دي، او داسې خلك هم سته چي هغو هيڅکله کتاب نه دی ويلی ، جبرائيل عليه السلام وويل : اې محمد ﷺ ! قرآن کريم په اوو طريقو باندي را استول سوی دی . ترمذي او د احمد او ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي جبرائيل عليه السلام وويل : او په دې اوو طريقو کي هره طريقه د کفر او شرك د ناروغۍ لپاره شفاء ده او ددين اسلام په حق کيدو کي کافي ده او د نسائي په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته جبرائيل او ميکائيل عليهما السلام راغلل ، جبرائيل عليه السلام زما راسته لوري ته کښېنستئ او ميکائيل عليه السلام زما چپه لوري ته کښېنستئ ، او جبرائيل عليه السلام وويل : قرآن کريم په يوه طرز وايه او ميکائيل عليه السلام نبي کريم ﷺ ته وويل نور زيات کړه ، تر دې چي د قرآن کريم قرائت اووه طريقو ته ورسيدئ او په هغو کي هره طريقه شافي او کافي ده .

### قران کريم د سوال کولو ذريعه مه جوړوئ

(۲۱۱۲): وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّهُ مَرَّ عَلَى قَاصٍّ يَقْرَأُ ثُمَّ سَأَلَ فَاسْتَرْجَعَ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ

د حضرت عمران بن حصين رضی الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د يو قصه ويونکي سړي سره تير سو چي په قرآن ويلو سره يې خيرات غوښتئ ، د دې

فَلْيَسْأَلِ اللّٰهَ بِهِ فَإِنَّهُ سَيَجِيءُ أَقْوَامٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُونَ بِهِ النَّاسَ. رواه احمد والترمذي .

په ليدو سره هغه وويل انا لله وانا اليه راجعون، بيا يې وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چې قرآن ووايي نو پكار دي چې د هغه په ذريعه د الله څخه سوال وكړي او هغه وخت نژدې دئ چې داسې خلك به پيدا سي چې په قرآن ويلو باندې د خلكو څخه خيرات غواړي . احمد او ترمذي .

## دريم فصل

### قران كريم د دنياوي گټې لپاره پر وسيله گرځولو باندې تنبيه

(۲۱۱۳): عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ عَظْمٌ لَيْسَ عَلَيْهِ لَحْمٌ. رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې قرآن كريم وايي او ددې له كبله د خلكو څخه خوري (يعني د دنيا تر لاسه كولو ذريعه يې جوړه كړي) نو هغه به د قيامت په ورځ په داسې صورت كې راوستل سي چې د هغه پر مخ به غوښه نه وي يوازې هډوكي به وي . بيهقي .

### بسم الله د قران كريم يو ايت دی

(۲۱۱۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّورَةِ حَتَّى تَنَزَّلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ. رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د يوه سورت څخه د بل سورت فرق نه سو كولای تر څو چې د دوو سورتو په منځ كې د فرق كولو لپاره بسم الله الرحمن الرحيم نازل سوه . ابوداؤد .

### د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ سره يو واقعه

(۲۱۱۵): وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنَّا بِحِمْصَ فَقَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ سُورَةَ يُوسُفَ فَقَالَ رَجُلٌ مَا هٰكَذَا أُنْزِلَتْ فَقَالَ عَبْدُاللّٰهِ وَاللّٰهِ لَقَرَأْتُهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحْسَنْتَ فَبَيْنَمَاهُوَيُكَلِّمُهُ اِذْ وَجَدَ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ فَقَالَ أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ وَ تُكَذِّبُ بِكِتَابِ اللّٰهِ فَضَرَبَهُ الْحَدَّ . متفق عليه

د حضرت عقلمة ﷺ څخه روايت دئ چې موږ په حمص (شام) كې وو چې يوه ورځ ابن مسعود ﷺ سورة يوسف تلاوت وكړ ، يوه سړي وويل : دا سورت داسې نه دئ نازل سوئ ، عبدالله ابن مسعود ﷺ وويل : په الله دې مې قسم وي ما دا سورت د رسول الله ﷺ په زمانه كې ويلي وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : تا ښه ووايه، همدا خبري

رواني وي چې د هغه سرې د خولې څخه د شرابو بوی راغلئ ، ابن مسعود ﷺ وویل ته شراب چیښې او (قرائت د) کتاب الله درواغجن گنې ، بیا پر هغه شرعي حد جاري سو . بخاري او مسلم.

**د قران کريم جمع کولو شروع**

(۲۱۱۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ فَإِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِنَّ عُمَرَ أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدْ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ وَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقَالَ عُمَرُ هَذَا وَاللَّهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ صَدْرِي لِذَلِكَ وَرَأَيْتُ فِي ذَلِكَ الَّذِي رَأَى عُمَرُ قَالَ زَيْدٌ قَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ لَا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَتَبَّعْ الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللَّهِ لَوْ كَلَّفُونِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجبلِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ مِمَّا أَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ قال قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلُونَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هُوَ وَاللَّهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ أَبُو بَكْرٍ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللَّهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَصُدُورِ الرِّجَالِ حَتَّى وَجَدْتُ آخِرَ سُورَةِ التَّوْبَةِ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ لَمْ أَجِدْهَا مَعَ أَحَدٍ غَيْرِهِ { لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ } حَتَّى خَاتِمَةِ بَرَاءَةَ

د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دئ چې ابوبکر ﷺ د اهل يمامه د وژلو په ورځو کې زه راوغوښتلم زه د هغوئ په خدمت کې حاضر سوم ، وه مې ليدل چې حضرت عمر ﷺ ناست دئ ، حضرت ابوبکر ﷺ ما ته وويل چې عمر بن خطاب ﷺ ما ته راغلئ او وه يې ويل : د يمامه په جگړه کې ډېر قاريان شهيدان سوي دي زما سره بيره ده که په داسې مختلفو ځايو کې قاريان شهيدان کېږي نو د قرآن لويه برخه به ضائع سي، زما په خيال مناسب دادي چې تاسو د قرآن د يو ځای کولو حکم ورکړئ ، د عمر ﷺ د دې خبرې په اورېدو سره ما عمر ﷺ ته وويل : ته هغه کار څنگه کوې چې رسول الله ﷺ نه دئ کړئ ، عمر ﷺ وويل په الله دې مې قسم وي دا کار غوره دئ نو عمر ﷺ زما سره په دې اړه خبرې اترې کولې تر څو چې الله تعالی زما سينه هم ددې کار لپاره خلاصه کړل او کوم مصلحت چې عمر ﷺ په دې کې ليدلی وو ما ته هم د هغه علم تر لاسه سو، زيد بن ثابت ﷺ وايي ددې وروسته ابوبکر ﷺ وويل اې زيده ! ته يو زلمی سړی يې ، عقلمند يې، پر تا هيڅ تهمت نسته ، او ته د رسول الله ﷺ د وحي ليکوال وې نو ته د قرآن کريم اياتونه و لټوه او يو ځای يې کړه ، زيد بن ثابت ﷺ وايي په الله دې مې قسم وي که حضرت

فَكَانَتْ الصُّحُفُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَيَاتَهُ ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ. رواه البخاري

ابوبکر ﷺ ما ته د غره پورته کولو خدمت سپارلی وای نو هغه خدمت به زما لپاره اسانه وای تر دغه خدمت چي د قرآن یو ځای کول یې زما پر ذمه کړل، د زید بن ثابت ﷺ بیان دئ د ابوبکر ﷺ د حکم اوریدو سره ما عرض وکړ تاسو هغه کار څنګه کوئ کوم چي رسول الله ﷺ نه دئ کړئ ؟ ابوبکر ﷺ وویل په الله دي مي قسم وي دا کار غوره دئ ، نو ابوبکر ﷺ زما سره په همدې اړه خبري اتري کولې چي الله تعالی زما سینه هم ددې لپاره خلاصه کړل د کوم کار لپاره چي د ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ سینه خلاصه کړل سوې وه ، نو ما د قرآن کریم لټول داسي وکړه چي ما به د خرما د پانو یا بناخونو او سپینو ډبرو څخه یا د خلکو یعني قاریانو او حافظانو د سینو څخه جمع کوئ تر دې چي د سورة توبة آخري برخه ما د ابوخزیمة انصاري ﷺ سره تر لاسه کړه او د هغه څخه پرته دا برخه مي د بل هیچا سره تر لاسه نه کړل او هغه آیت (لقد جاءکم رسول من انفسکم) تر پایه پوري، نو دا ترتیب سوې صحیفې د حضرت ابوبکر ﷺ سره وې تر څو چي هغه ژوندی وو بیا الله تعالی هغه وفات کړئ نو تر ژوند پوري د حضرت عمر ﷺ سره وې او د هغه وروسته د هغه د لور بي بي حفصې (رض) سره وې . بخاري .

## د حضرت عثمان ﷺ په ذریعه د قران کریم ترتیب او جمع

(۲۱۱۷):وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قَدِمَ عَلَى عُثْمَانَ وَكَانَ يُغَازِي أَهْلَ الشَّامِ فِي فَتْحِ إِرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَأَفْزَعَ حُذَيْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَدْرِكْ هَذِهِ الْأُمَّةَ قَبْلَ أَنْ يَخْتَلِفُوا فِي الْكِتَابِ اخْتِلَافَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى فَأَرْسَلَ عُثْمَانُ إِلَى حَفْصَةَ أَنْ أَرْسِلِي إِلَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِي الْمَصَاحِفِ ثُمَّ نَرُدُّهَا إِلَيْكِ فَأَرْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ إِلَى عُثْمَانَ فَأَمَرَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَسَخُوهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ الثَّلَاثَةِ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ أَنْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت دئ چي حذیفة ﷺ د حضرت عثمان ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، او دا وخت حضرت عثمان ﷺ د شام او عراق د مجاهدینو لپاره چي د ارمینیه او اذربایجان د جګړې لپاره تیاریدل د جهاد سامان په برابرولو کي بوخت وو، د خلکو هغه اختلاف چي هغوئ قرآن مجید د قرائت سره سم کوئ حذیفة یې په شك او بیره کي اخته کړی وو ، حذیفة د حضرت عثمان ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وه یې ویل: اې امیر المؤمنین ! د امت د مسئلې تدارك (بندوبست) وکړئ تر دې وړاندي چي هغوئ په کتاب الله کي اختلاف وکړي لکه څرنګه چي یهود او نصارا اختلاف

شَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ فَاكْتُبُوهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَإِنَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا حَتَّى إِذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ رَدَّ عُثْمَانُ الصُّحُفَ إِلَى حَفْصَةَ وَأَرْسَلَ إِلَى كُلِّ أُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوا وَأَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْآنِ فِي كُلِّ صَحِيفَةٍ أَوْ مُصْحَفٍ أَنْ يُحْرَقَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ انه سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ فَقَدْتُ آيَةً مِنَ الْأَحْزَابِ حِينَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ { مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ} فَأَلْحَقْنَاهَا فِي سُورَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ . رواه البخاري

کړئ وو، (د دې په اورېدو سره) حضرت عثمان ﷜ بي بي حفصې ته سړی ولیږئ او ورته وه یې ویل: کومې صحیفې چې حضرت ابوبکر صدیق ﷜ ترتیب کړې وې هغه موږ ته راولیږه موږ به هغه د نقل اخیستو وروسته بیرته درکړو، نو بي بي حفصې هغه صحیفې حضرت عثمان ﷜ ته راولیږلې، حضرت عثمان ﷜ زید بن ثابت، عبدالله بن زبیر، سعید بن عاص او عبدالله بن حارث بن هشام ته حکم وکړ چې هغوئ دغه صحیفې نقل کړې نو هغوئ هغه صحیفې نقل کړې، حضرت عثمان ﷜ د زید بن ثابت ﷜ څخه پرته چې هغه د انصارو څخه نه وو پاته درو قریشو ته دا حکم وکړ که په قرآن کریم کې یو ځای په یو لغت کې ستاسو او د زید بن ثابت په منځ کې اختلاف راسي نو د لغت قریش د ژبې سره سم یې ولیکئ ځکه چې قرآن د قریشو په ژبه کې نازل سوی دئ، نو هغوئ همداسې وکړل او کله چې هغه صحیفې نقل سوې او د هغو زیات نقلونه وایستل سول نو حضرت عثمان ﷜ د بي بي حفصې صحیفې بیرته ورکړې او خپل ترتیب سوې صحیفې یې توله شاوخوا ته ولیږلې او حکم یې جاري کړ چې ددې صحیفو څخه پرته کوم مصحف یا صحیفه چې تر لاسه سي هغه دې په اور کې وسوځول سي، ابن شهاب ﷜ وایي خارجه بن زید بن ثابت ماته بیان وکړ چې ما د زید بن ثابت ﷜ څخه دا اورېدلي دي چې کله موږ صحیفو نقل کولو ته ناست وو نو ما د سورة احزاب یو آیت تر لاسه نه کړ چې ما درسول الله ﷺ څخه اورېدلی وو، هغه آیت مو و لټوئ نو موږ هغه د خزیمة بن ثابت انصاري ﷜ څخه تر لاسه کړ او هغه آیت دادئ چې: (من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه) نو موږ دا آیت هم د دې سورة سره په صحیفو کې ګډ کړ. بخاري.

**د سورة برائت په شروع کي د بسم الله نه ویلو وجه**

(۲۱۱۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قُلْتُ لِعُثْمَانَ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى أَنْ عَمَدْتُمْ إِلَى الْأَنْفَالِ وَهِيَ مِنَ الْمَثَانِي وَإِلَى بَرَاءَةَ وَهِيَ مِنَ الْمِئِينَ فَقَرَنْتُمْ بَيْنَهُمَا

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت دئ چې ما حضرت عثمان ﷜ ته وویل: تا سورة انفال چې د مثاني څخه دئ او سورة براءة چې له مئین څخه

وَلَمْ تَكْتُبُوا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وَوَضَعْتُمُوهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ قَالَ عُثْمَانُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يَأْتِي عَلَيْهِ الزَّمَانُ وَهُوَ تَنْزِلُ عَلَيْهِ السُّوَرُ ذَوَاتُ الْعَدَدِ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الشَّيْءُ دَعَا بَعْضَ مَنْ كَانَ يَكْتُبُ فَيَقُولُ ضَعُوا هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا وَإِذَا نَزَلَتْ عَلَيْهِ الْآيَةُ فَيَقُولُ ضَعُوا هَذِهِ الْآيَةَ فِي السُّورَةِ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا كَذَا وَكَذَا وَكَانَتْ الْأَنْفَالُ مِنْ أَوَائِلِ مَا أُنْزِلَتْ بِالْمَدِينَةِ وَكَانَتْ بَرَاءَةٌ مِنْ آخِرِ الْقُرْآنِ نزولا وَكَانَتْ قِصَّتُهَا شَبِيهَةً بِقِصَّتِهَا فَقُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُبَيِّنْ لَنَا أَنَّهَا مِنْهَا فَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ قَرَنْتُ بَيْنَهُمَا وَلَمْ أَكْتُبْ بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ فَوَضَعْتُهَا فِي السَّبْعِ الطُّوَلِ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد .

دئ ولي يو د بل سره يو ځاى كړل. يعني تا دواړه سورتونه يو د بل سره يو ځاى كړل او د فرق لپاره دي په منځ كي بسم الله الرحمن الرحيم نه وليكل، او بيا دا چي تا سورة انفال د اوو اوږدو سورتو سره يو ځاى كړ حال دا چي هغه د هغه سورتو سره يو ځاى كول پكار دي چي تر سلو آياتو زيات اياتونه نه ولري ددې وجه څه ده ؟ حضرت عثمان ﷺ وفرمايل: د رسول الله ﷺ په زمانه كي څو آياتونو والا سورتونه نازل سوي وه او د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چي كله به يو شى نازليدئ نو رسول الله ﷺ به د وحي ليكونكو څخه يو څوك راغوښتئ او حكم به يې وركړ چي دا آياتونه په هغه سورت كي وليكئ، چي په هغه كي داسي د اسي بيان دئ، او سورة انفال د هغه سورتو څخه دئ چي په مدينه كي وراندي نازل سوئ دئ ، او سورة براءة د قرآن كريم د هغه برخي څخه دئ چي په پاى كي نازل سوى دئ او د سورة انفال مضمون د هغه مضمون مشابه دئ كوم چي په سورة براءة كي تر لاسه كيږي ، رسول الله ﷺ وفات سو او موږ ته يې دا بيان نه وفرمايې چي براءة د سورة انفال څخه دئ (يا نه) نو د نبي كريم ﷺ د نه بيانولو له كبله او ددواړو سورتونو د مشابهت له كبله موږ دواړه يو ځاى كړل او ددواړو په منځ كي مو د بسم الله الرحمن الرحيم فاصله نه وركړل، او بيا موږ دواړه سورتونه په طوال كي ګډ كړل او دواړه مو له دې كبله بيل بيل كړل چي د دواړو په يو كېدو كي هم شبه وه او په دوو كېدو كي هم. احمد، ترمذي، ابوداؤد.

## د قرآن مجید سورتونه په دې ډول ویشل سوي دي :

**طوال** : د سورة بقرة څخه تر سورة توبة پوري طوال یعني اوږده سورتونه بلل کیږي .

**مئين** : د سورة يونس څخه تر سورة فرقان پوري سورتو ته مئتين یعني سل سل آیاتو والا سورتونه ویل کیږي .

**مثاني** : د شورة شعراء څخه تر سورة فتح پوري سورتو ته مثاني وایي، په دې سورتو کي تر سل سل کم آیاتونه دي او قصې پکښي تکرار دي له دې کبله ددې نوم مثاني یعني څو څو واره ویلو والا سورتونه سو .

**مفصل** : د سورة حجرات څخه د قرآن کریم تر پایه پوري سورتو ته مفصل وایي څکه چي ددې سورتو په منځ کي د بسم الله الرحمن الرحیم فاصله نژدې نژدې ده .

: مفصل درې ډوله دي :

**طوال مفصل** : د سورة حجرات څخه تر سورة انشقاق پوري طوال مفصل بلل کیږي .

**اوسط مفصل** : د سورة والسماء ذات البروج څخه تر سورة لم یکن الذین پوري اوسط مفصل بلل کیږي .

**قصار مفصل** : د سورة زلزال څخه تر سورة الناس پوري قصار مفصل بلل کیږي .

مترجم

# كِتَابُ الدَّعَوَاتِ

## (د دعاوو بيان)

### لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ شفقت**

(۲۱۱۹): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي الى يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا. رواه مسلم و للبخاري اقصر منه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر نبي يوه دعاء قبليږي ، هر نبي په خپل دعاء غوښتلو كي تلوار وكړ خو ما هغه دعاء د قيامت په ورځ د خپل امت د شفاعت لپاره پټه ساتلې ده ، زما دا دعاء انشاء الله زما په امت كي هغه چا ته رسيدونكې ده چي په داسي حال كي مړ سوی وي چي د الله تعالی سره يې هيڅوك نه وي شريك كړی . مسلم او بخاري لږ لنډ حديث بيان كړئ دئ .

(۲۱۲۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَتَّخِذُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ شَتَمْتُهُ لَعَنْتُهُ جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْهَا لَهُ صَلَاةً وَزَكَاةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اي الله ! ما ستا څخه يو عهد اخيستئ دئ چي ته د هغه خلاف نه كوي زه هم يو بشر يم كوم مؤمن ته چي ما تكليف وركړی وي كوم مؤمن ته چي ما بد ويلي وي كوم مؤمن چي ما وهلی وي نو دا ټول شيان ته د هغه په حق كي رحمت وگرځوې او د هغه لپاره يې د گناهو د پاكی سبب وگرځوې او د خپل نژدېوالي ذريعه يې جوړه كړې چي د هغه په ذريعه د قيامت په ورځ تا ته نژدې سي . بخاري او مسلم

**دعاء په يقين سره غواړئ**

(۲۱۲۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَعَا اَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ ارْزُقْنِي إِنْ شِئْتَ وَلْيَعْزِمْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك دعاء غواړي نو داسي دي نه

مَسْأَلَتَهُ إِنَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ لَا مُكْرِهُ لَهُ . رواه البخاري

وايي چي الله ! ما و بخښې که ته وغواړې، پر ما رحم وکړې که ته و غواړې، ما ته رزق راکړې که ته وغواړې، بلکه په دعاء کې پخه اراده وکړي ځکه چي الله تعالی څه غواړي هغه کوي پر هغه څوك زور کونکی نسته . بخاري

**دعاء غوښتل مه پرېږدئ**

(۲۱۲۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ وَلَكِنْ لِيَعْزِمْ وَلْيُعَظِّمْ الرَّغْبَةَ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي څوك دعاء غواړي نو داسي دي نه وايي چي الله ما و بخښې که ته وغواړې، بلکه دعاء دي په پوره يقين او شوق سره غواړي ځکه چي الله کوم شی ورکوي نو دهغه ورکول ورته گران نه وي . مسلم

(۲۱۲۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الِاسْتِعْجَالُ قَالَ يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يستجاب لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنده دعاء قبليږي تر څو پوري چي هغه د گناه کولو يا د قرابت د پرې کولو دعاء ونه غواړي او تر څو پوري چي هغه تلوار نه کوي ، پوښتنه وسول چي اې د الله رسوله ! تلوار څنگه ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تلوار دا چي دعاء غوښتونکي دا ووايي ما دعاء وغوښتل يعني په څو واره مي دعاء وغوښتل مگر هغه قبوله نه سول او ددې وروسته هغه ناامیده کښيني او دعاء پرېږدي . مسلم

**د خپل مسلمان ورور لپاره دعاء قبلیږي**

(۲۱۲۴): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ . رواه مسلم

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان دعاء د خپل مسلمان ورور لپاره د هغه په نه شتون کي قبليږي ، د دعاء غوښتونکي سر ته نژدې يو ملائکه ټاکل کيږي او هر کله چي هغه د خپل ورور لپاره دعاء کوي نو ملائکه پر هغه آمين وايي او بيا ملائکه دعاء غوښتونکي ته وايي او ستا لپاره دي هم دده په ډول وي . مسلم

### د ښېرا کولو څخه منع

(٢١٢٥): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللّٰهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيبُ لَكُمْ . رواه مسلم و ذكر حديث ابن عباس اتق دعوة المظلوم في كتاب الزكوة

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د خپل ځان لپاره ښیراوي مه کوئ او مه خپل اولاد ته ښیراوي کوئ ځکه چي کیدای سي د ښیراو ساعت د هغه ساعت سره سم سي کوم چي د دعاء قبلېدو ساعت وي او ستاسو ښیرا هم قبوله سي مسلم ، د ابن عباس حدیث چي د مظلوم د (بد) دعاوو څخه وبیرېږئ په کتاب الزکوة کي بیان سوی دئ .

## دویم فصل

### دعاء عبادت ده

(٢١٢٦): عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ ثُمَّ قَرَأَ { وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ }. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دعاء عبادت دئ ، بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: وقال ربکم ..... : او ستاسو پروردګار ویلي دي چي زما څخه دعاء غواړئ زه به يې قبلوم، احمد ، ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه .

### دعاء د عبادت خلاصه ده

(٢١٢٧): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ . رواه الترمذي

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دعاء د عبادت مغز دئ . ترمذي

### د دعاء فضیلت

(٢١٢٨): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللّٰهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ . رواه الترمذي و ابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله په نزد ددعاء څخه هیڅ شی زیات ستر نه دئ . ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ویلي دا حدیث حسن غریب دئ.

### دعاء تقدیر بدلوي

(٢١٢٩): وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ قَالَ

د حضرت سلمان فارسي ﷺ څخه روایت دئ چي

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ . رواه الترمذي

رسول الله ﷺ وفرمايل : تقدير د دعاء پرته بل هيڅ شی نه سي بدلولای او په عمر کي د نيکۍ څخه پرته بل هيڅ شی زياتوالی نه سي کولای . ترمذي

**دعاء د بلاوو دفع ده**

(٢١٣٠): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الدُّعَاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللّٰهِ بِالدُّعَاءِ . رواه الترمذي و رواه احمد عن معاذبن جبل وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دعاء هغه شی ته ګټه رسوي چي نازل سي (يعني بلا او ستونزي) او د هغه شی څخه چي تر اوسه نه وي نازل سوی له دې کبله اې دالله بندګانو ! دعاء پر خپل ځانْ لازمه کړئ . ترمذي، احمد، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

(٢١٣١): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللّٰهُ مَا سَأَلَ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ. رواه الترمذي

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د الله تعالى څخه يو شی غواړي يا خو الله تعالى د هغه سوال او غوښتنه پوره کوي يا دهغه څخه بدي چي د دعاء برابر وي ليري کوي تر څو پوري چي هغه د يوې ګناه يا د قرابت پرې کولو دعاء و نه غواړي . ترمذي

**د الله ﷻ څخه فضل غواړئ**

(٢١٣٢): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ انْتِظَارُ الْفَرَجِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى څخه د هغه فضل غواړئ ځکه چي الله تعالى غوښتل ډير خوښوي او غوره عبادت د پراختيا انتظار دئ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

**د الله ﷻ څخه نه غوښتل د الله ﷻ د ناراضګۍ سبب دی**

(٢١٣٣): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ . رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د الله تعالى څخه سوال نه کوي الله تعالى د هغه څخه ناراضه کيږي . ترمذي.

### عافيت غوښتل

(٢١٣٤): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ وَمَا سُئِلَ اللّٰهُ شَيْئًا يَعْنِي أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ . رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي د چا لپاره د دعاء دروازه خلاصه سي نو د هغه لپاره د رحمت دروازي هم خلاصي سي او د الله تعالى څخه چي کوم شی وغوښتل سي په هغه کي د الله تعالى په نزد تر ټولو غوره شی عافيت دئ. ترمذي

### په خوشحالي او پراخي کي ډيري دعاوي غواړئ

(٢١٣٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللّٰهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي دا خوښوي چي د سختئ په وخت کي الله تعالى د هغه دعاء قبوله کړي نو هغه ته پکار دي چي د پراختيا او خوښي په وخت کي ډيري دعاء وغواړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

### د دعاء کولو پر وخت د قبلېدو يقين کوئ

(٢١٣٦): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُوا اللّٰهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى څخه دعاء غواړئ په دې يقين سره چي هغه ضرور قبلونکی دئ او په دې خبره پوه سئ چي الله تعالى د غافل زړه دعاء نه قبلوي. ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ.

### د دعاء پر وخت لاسونه

(٢١٣٧): وَعَنْ مَالِكِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوهُ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا، و في رواية ابن عباس قال سَلُوا اللّٰهَ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوا بِهَا وُجُوهَكُمْ . رواه ابوداؤد .

د حضرت مالك بن يسار ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي تاسو د الله څخه دعاء غواړئ نو د لاسو په دننه خوا يې غواړئ (يعني ورغوي خپل لوري ته کړئ) او هغه د شا د لوري څخه مه غواړئ، او د ابن عباس په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى څخه د لاسو دننه خوا څخه غواړئ او د هغه د شا د خوا څخه يې مه غواړئ

او هر کله چي تاسو د دعاء څخه فارغ سئ نو لاسونه پر مخ راتیر کړئ. ابوداؤد

**د دعاء پر وخت پورته سوي لاسونه**

| | |
|---|---|
| (۲۱۳۸): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا. رواه الترمذي و ابوداؤد والبيهقي في الدعوات الكبير. | د حضرت سلمان ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو پروردگار ډیر حیاناکه دئ، بې غوښتني ورکونکی دئ او هغه ددې څخه حیاء کوي چي بنده د هغه په لور لاس پورته کړي او هغه د هغه لاسونه خالي راستانه کړي. ترمذي، ابوداؤد او بیهقي |

**د دعاء وروسته لاسونه پر مخ راتیرول**

| | |
|---|---|
| (۲۱۳۹): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ. رواه الترمذي | د حضرت عمر ؓ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د دعاء لپاره لاسونه پورته کول نو تر هغو به یې نه کښته کول تر څو پوري چي پر مخ به یې راتیر نه کړل. ترمذي |

**رسول الله ﷺ جامع دعاوي خوښولې**

| | |
|---|---|
| (۲۱۴۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ وَيَدَعُ مَا سِوَى ذٰلِكَ. رواه ابوداؤد | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسو ل الله ﷺ به هغه دعاوي خوښولې کومي چي به جامع وې او کومي چي به داسي نه وې نو هغه به یې پرېښودلې. ابوداؤد. |

**غائبانه دعاء قبلیږي**

| | |
|---|---|
| (۲۱۴۱): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ. رواه الترمذي و ابوداؤد. | د حضرت عبدالله ابن عمرو ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډیر ژر قبلېدونکې دعاء هغه ده چي غائب یې د غائب لپاره وکړي. ترمذي، ابوداؤد. |

**د ښه خلکو څخه د دعاء غوښتنه**

| | |
|---|---|
| (۲۱۴۲): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُمْرَةِ فَأَذِنَ لِي وَقَالَ أَشْرِكْنَا يَا أُخَيَّ فِي دُعَائِكَ وَلَا تَنْسَنَا فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الدُّنْيَا. رواه ابوداؤد | د حضرت عمر بن الخطاب ؓ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د عمرې کولو اجازه و غوښتل، رسول الله ﷺ اجازه راکړه او وه یې فرمایل: زما کشره وروره! په خپلو دعاوو کي |

والترمذي و انتهت روايته عند قوله ولا تنسنا.

ما هم ګډ لره چي هير دي نه سي ، رسول الله ﷺ دا يو داسي خبره وفرمايل چي زما د ټولي دنيا په مقابله کي خوښه ده. ابوداؤد ، ترمذي،

**هغه خوشبخته چي دعاء يې نه رد کيږي**

(٢١٤٣): وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ الصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرَ وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ يَرْفَعُهَا اللّٰهُ فَوْقَ الْغَمَامِ وَيَفْتَحُ لَهَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ وَيَقُولُ الرَّبُّ وَعِزَّتِي لَأَنْصُرَنَّكِ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ. رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د درو کسانو دعاء نه رد کيږي يو د روژه دار دعاء هغه وخت چي هغه روژه ماتوي، دويم د عادل حاکم دعاء ، دريم د مظلوم دعاء چي د هغه دعاء الله تعالى د وريځي پورته وړي او د مظلوم ددعاء لپاره د آسمان دروازې خلاصي سي او الله تعالى فرمايي: زما دي په خپل عزت قسم وي خامخا به ستا مرسته کوم که څه لږ وخت وروسته وي . ترمذي

(٢١٤٤): وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْوَالِدِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې دوله دعاوي قبليږي او دهغو په قبلېدو کي هيڅ شك نسته : د پلار دعاء ، دويم د مسافر دعاء، او دريمه د مظلوم دعاء . ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجة.

## دريم فصل

**خپل ادنا حاجت هم د الله ﷺ څخه غواړئ**

(٢١٤٥): عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كلها حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِه إِذَا انْقَطَعَ ، زاد في رواية عن ثابت البناني مرسلا حتى يساله الملح و حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِه إِذَا انْقَطَعَ . رواه الترمذي

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پکار ده چي تاسو خپل حاجتونه يوازي د الله څخه وغواړئ تر دې چي د څپليو تسمه مو وشکيږي نو هغه هم د الله څخه غواړئ ، او د ثابت بناني په روايت کي دا الفاظ دي چي مالګه دي هم غواړي او تر دي چي د څپليو تسمه وشکيږي نو هغه دي هم د الله څخه غواړي. ترمذي.

**په دعاء کي لاسونه پورته کول**

(٢١٤٦): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به

| | |
|---|---|
| صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ . | په دعاء کي لاسونه دومره پورته کول چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والى به ځرګند سو . بيهقي |
| (٢١٤٧): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ يَجْعَلُ اِصْبَعَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَيَدْعُوْا. | د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ بـه ددوارو لاسـو د ګوتـو سـرونه د دوارو اوږو برابر ساتل او بيا به يې دعاء غوښتل . بيهقي |

**د دعاء وروسته لاسونه پر مخ تېرول**

| | |
|---|---|
| (٢١٤٨): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا دَعَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في " الدعوات الكبير " | حضرت سائب بـن زيـد ﷺ د خپـل څخـه روايـت کوي چي رسول الله ﷺ به دعاء غوښتل نو دواړه لاسونه بـه يې پورتـه کړل او بيـا بـه يې دواړه لاسونه ددعاء وروسته پر مخ راتير کړل . دري |

سره حديثونه بيهقي په دعوات کبير کي نقل کړي دي .

**د دعاء ادب**

| | |
|---|---|
| (٢١٤٩): وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ الْمَسْأَلَةُ أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا وَالاسْتِغْفَارُ أَنْ تُشِيرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ وَالابْتِهَالُ أَنْ تَمُدَّ يَدَيْكَ جَمِيعًا، و في رواية قال وَالابْتِهَالُ هٰكَذَا وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَجَعَلَ ظُهُوْرَهُمَا مِمَّا يَلِي وَجْهَهُ . رواه ابوداؤد . | حضـرت عکـرمـة ﷺ د حضـرت ابـن عبـاس ﷺ څخـه روايـت کـوي چـي هغـه وويـل : د دعـاء غوښتلو طريقه داده چي دواړه لاسونه تـر اوږو پوري يـا هغـه تـه نژدې پورتـه کـړل سي او د استغفار طريقه داده چي ته په خپلې يوې ګوتي |

سره اشاره وکړې او په دعاء کي د عاجزۍ طريقه داده چي ته خپل دواړه لاسونه خپاره کړې او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابن عباس ﷺ وويـل : د عـاجزۍ طريقه داده د دې ويلو سره ابن عباس خپل دواړه لاسونه پورته کړل او د لاسو شا يې خپل مخ ته نژدې کړل . ابوداؤد

**د لاسو ډېر پورته کول بدعت دی**

| | |
|---|---|
| (٢١٥٠): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ يَقُوْلُ إِنَّ رَفْعَكُمْ أَيْدِيَكُمْ بِدْعَةٌ مَا زَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى هٰذَا يَعْنِي إِلَى الصَّدْرِ . رواه احمد | د حضـرت ابـن عمـر ﷺ څخـه روايـت دئ چـي پـه دعـاء کـي لاسـونه ډيـر پورتـه کـول بـدعـت دئ، رسـول الله ﷺ تـر دې زيـات لاسـونه نـه دي پورتـه کړي ، يعني تر سينې پوري . احمد |

د دعاء پر وخت خپل ځان اول کړئ

(۲۱۵۱): وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب صحيح.

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د یو چا یادونه کول او بیا به یې د هغه لپاره د دعاء کولو اراده کول نو لومړی به یې د ځان لپاره دعاء پیل کول. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب صحیح دئ.

د دعاء په نتیجه کي د درو شیانو څخه یو شی خامخا حاصلیږي

(۲۱۵۲): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُوْ بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ بِهَا إِحْدَى ثَلَاثٍ إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوْءِ مِثْلَهَا قَالُوا إِذًا نُكْثِرُ قَالَ اللّٰهُ أَكْثَرُ. رواه احمد

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم مسلمان چي دعاء غواړي او په هغه کي د یو داسي شی دعاء نه وي چي په هغه کي د ګناه کولو یا د خپلوۍ پرې کولو ذکر وي نو الله تعالی دعاء غوښتونکي ته د درو شیانو څخه یو شی خامخا ورکوي: یا خو دهغه مقصد ژر ور پوره کړي، یا د هغه دعاء د آخرت لپاره ذخیره جوړه کړي، یا د دعاء غوښتونکي هغومره بدي لیري کړي څومره چي هغه په دعاء کي د خپل ګټي یا غوښتي کړي وي، صحابه کرامو عرض وکړ اوس به نو موږ ډیري دعاوي کوو، رسو ل الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی فضل ډیر زیات دئ. احمد

هغه پنځه دعاوي چي نه رد کیږي

(۲۱۵۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسُ دَعَوَاتٍ يُسْتَجَابُ لَهُنَّ دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ حَتَّى يَنْتَصِرَ وَدَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتَّى يَصْدُرَ وَدَعْوَةُ الْمُجَاهِدِ حَتَّى يَقْعُدَ وَدَعْوَةُ الْمَرِيْضِ حَتَّى يَبْرَأَ وَدَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ ثُمَّ قَالَ وَأَسْرَعُ هٰذِهِ الدَّعَوَاتِ إِجَابَةً دَعْوَةُ الْأَخِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ. رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د پنځو کسانو دعاوي دي چي هغه خامخا قبلیږي: یو د مظلوم دعاء تر څو چي هغه د (ظالم څخه) بدله واخلي، دویم د حاجي دعاء تر څو پوري چي کور ته راستون نه سي، دریم د جهاد کونکي دعاء تر څو پوري چي هغه د جهاد څخه فارغ نه سي، څلورم د ناروغ دعاء تر څو پوري چي هغه روغ نه سي (یا وفات سي)، پنځم د یو مسلمان د خپل مسلمان ورور لپاره په غیاب کي دعاء تر ټولو ژر قبلیږي. بیهقي.

# بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ اِلَيْهِ

## (د الله ﷻ ذکر او د الله ﷻ د قرب بيان)

## لومړی فصل

### د ذکر کونکو فضيلت

(۲۱۵۴): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيد قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ . رواه مسلم

د حضرت ابو هريرة او ابو سعيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي خلك د الله د ذکر لپاره کښيني نو ملائکي چاپيره سي او پر هغوئ رحمت خپور سي سکينه پر نازله سي او الله تعالی هغه مقربو ملائکو ته چي د هغه نژدې دي ددې خلکو ذکر کوي. مسلم.

(۲۱۵۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلَى جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ جُمْدَانُ فَقَالَ سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ قَالُوا وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې پر لاره روان وو چي په لاره کي يوه غونډۍ راغلل چي جمدان نوميده د دې په لېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: راځئ دا جمدان غونډۍ ده مفردونو وړاندي والي تر لاسه کړ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! مفردون کوم خلك دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د الله ډېر ذکر کونکي خلك او ښځي. مسلم

### د ذکر کونکو او نه ذکر کونکو مثال

(۲۱۵۶): وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ . متفق عليه

د حضرت ابو موسی ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله ذکر کوي او څوك چي د الله ذکر نه کوي هغوئ د مړه او ژوندي په ډول دي. بخاري او مسلم

### ذکر د الله ﷻ د تقرب باعث دی

(۲۱۵۷): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَنَا عِنْدَ ظَنِّ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی فرمايي: زما بنده

عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ . متفق عليه .

چي زما په اړه كوم گمان كوي زه د هغه لپاره هم هغسي يم (يعني د هغه د گمان سره سم معامله ورسره كوم) او هر كله چي زما بنده ذكر كوي نو زه د هغه سره موجود يم كه هغه ما په زړه كي يادوي نو زه يې هم په زړه كي يادوم ، كه په مسجد كي زما ذكر كوي نو زه يې هم ذكر په داسي ډله كي كوم چي د هغه څخه غوره دئ . بخاري او مسلم

**الله ﷻ ته لړ توجه كول.....**

(۲۱۵۸): وَ عَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَأَزِيدُ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَاؤُهُ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا أَوْ أَغْفِرُ وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَمَنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً وَمَنْ لَقِيَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطِيئَةً لَا يُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَقِيتُهُ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً. رواه مسلم .

د حضرت ابوذر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: څوك چي يوه نيكي كوي هغه ته د لسو نيكيو ثواب رسيږي بلكه تر دې هم زيات، او څوك چي يوه بدي كوي هغه ته د يوې بدۍ سزا او يا معافوم يې ، او څوك چي زما په لور يوه لوېشت راسي (زما په اطاعت كي) نو زه د هغه په لور يو گز وراندي كيږم او څوك چي زما په لور كرار كرار راځي زه هغه ته منډه ورځم او څوك چي ما ته د مځكي د اندازې برابر گناه سره راسي او زما سره يې څوك نه وي شريك كړئ زه به ورسره د هغومره بخښني سره يو ځای سم . مسلم

**د تقرب الهي ثمره**

(۲۱۵۹): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى احبيته فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ فَكُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنْ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: څوك چي زما يو دوست ته تكليف وركړي زه د هغه سره د جنگ اعلان كوم ، يو مؤمن بنده د فرضونو په غوره شكل كي د ادا كولو په ذريعه نژدې كيږي او هميشه داسي وي چي هر كله زما بنده ما ته د نفلو په ذريعه نژدېوالى تر لاسه كوي حتى چي زه د هغه سره مينه كوم او هر كله چي زه هغه دوست كړم نو زه د هغه سماعت جوړ سم چي په هغه سره

شَيْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِي عَنْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ ولا بد له منه . رواه البخاري

اوري او د هغه سترګي جوړي سم چي په هغو سره ويني او د هغه لاسونه جوړ سم چي په هغه سره نيول کوي او د هغه پښي جوړي سم چي په هغه سره ګرځي او هر کله چي هغه زما څخه يو شی و غواړي نو زه يې ورکوم، او هر کله چي زما په ذريعه پناه و غواړي زه پناه ورکوم، او کوم کار چي زه کوم په هغه کي شك او توقف نه کوي مګر د هغه مؤمن بنده روح قبض کولو کي ما ته تردد او تامل وي چي مرګ بد ګڼي حال دا چي واقعه داده چي کوم شی هغه بد ګڼي زه هغه نه خوښوم مګر د مرګ څخه په هيڅ حالت کي خلاصون نسته .بخاري

## ملائکي په اهل ذکر پسي ګرځي

(۲۱۶۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللّٰهَ تَنَادَوْا هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ قَالَ فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا يَقُولُ عِبَادِي قَالُوا يَقُولُونَ يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ قَالَ فَيَقُولُ هَلْ رَأَوْنِي قَالَ فَيَقُولُونَ لَا وَاللّٰهِ مَا رَأَوْكَ قَالَ فَيَقُولُ وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيدًا وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا قَالَ يَقُولُ فَمَا يَسْأَلُونِي قَالَ يَسْأَلُونَكَ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً قَالَ فَمِمَّ يَتَعَوَّذُونَ قَالَ يَقُولُونَ مِنَ النَّارِ قَالَ يَقُولُ فَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا قَالَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله د ملائکو يوه ډله ده چي په لارو کي هغه لټوي کوم چي د الله ذکر کوي هر کله چي هغوئ په يو ځای کي د الله ذکر تر لاسه کړي نو خپلو ملګرو ته آواز وکړي چي خپل مقصد ته راسئ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه ملائکي راسي او په خپلو وزرو سره د الله ذکر کونکي پټ کړي او د دنيا تر آسمان پوري خپرې سي، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: هر کله چي هغه ملائکي ستنې سي نو د هغوئ پروردګار د هغوئ څخه پوښتنه کوي حال دا چي هغه په خپلو بندګانو تر دوئ زيات خبردار دئ، الله ﷻ ملائکو ته وايي چي زما بندګان څه وايي؟ ملائکي ورته وايي: ستا حمد او ستا د بزرګۍ او عظمت ذکر يې کوئ، بيا الله تعالی د ملائکو څخه پوښتنه کوي ايا زه هغوئ ليدلی يم؟ ملائکي ورته وايي قسم په خدای هغوئ ته نه يې ليدلې، الله تعالی وايي که هغوئ زه ليدلی وای نو د هغوئ به څه حال وای؟

يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً قَالَ فَيَقُولُ فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ قَالَ يَقُولُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ فِيهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ قَالَ هُمُ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقَى جَلِيسُهُمْ. و في رواية البخاري قَالَ إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّارَةً فُضُلًا يَتَتَبَّعُونَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا مَجْلِسًا فِيهِ ذِكْرٌ قَعَدُوا مَعَهُمْ وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِأَجْنِحَتِهِمْ حَتَّى يَمْلَئُوا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَإِذَا تَفَرَّقُوا عَرَجُوا وَصَعِدُوا إِلَى السَّمَاءِ قَالَ فَيَسْأَلُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ أَعْلَمُ مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ فَيَقُولُونَ جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادٍ لَكَ فِي الْأَرْضِ يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ وَيُهَلِّلُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ وَيَسْأَلُونَكَ قَالَ وَمَاذَا يَسْأَلُونِي قَالُوا يَسْأَلُونَكَ جَنَّتَكَ قَالَ وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِي قَالُوا لَا أَيْ رَبِّ قَالَ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا جَنَّتِي قَالُوا وَيَسْتَجِيرُونَكَ قَالَ وَمِمَّ يَسْتَجِيرُونَنِي قَالُوا مِنْ نَارِكَ يَا رَبِّ قَالَ وَهَلْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا لَا قَالَ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا نَارِي قَالُوا وَيَسْتَغْفِرُونَكَ قَالَ فَيَقُولُ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَأَعْطَيْتُهُمْ مَا سَأَلُوا وَأَجَرْتُهُمْ مِمَّا اسْتَجَارُوا قَالَ فَيَقُولُونَ رَبِّ فِيهِمْ فُلَانٌ عَبْدٌ خَطَّاءٌ إِنَّمَا مَرَّ فَجَلَسَ مَعَهُمْ قَالَ فَيَقُولُ وَلَهُ غَفَرْتُ هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ.

ملائکي ورته وايي که هغوئ ته ليدلی وای نو ستا ډير زيات عبادت به يې کولای او ستا ډيره زياته بزرگي به يې بيانولای او ستا ډيره پاکي به يې بيانولای ، بيا الله تعالی پوښتنه کوي هغوئ زما څخه څه غواړي ؟ ملايکي ورته وايي هغوئ جنت در څخه غواړي، الله تعالی پوښتنه کوي ايا هغوئ جنت ليدلی دئ ؟ ملائکي ورته وايي : يا ، په الله دي مو قسم واي هغوئ جنت نه دئ ليدلی ، الله تعالی ورته وايي که هغوئ جنت ليدلی وای ؟ ملائکي ورته وايي که هغوئ ليدلی وای نو د جنت غوښتنه، خواهش او شوق به يې نور هم زيات سوی وای ، بيا الله تعالی پوښتنه کوي هغوئ د څه شي څخه پناه غواړي ؟ ملائکي ورته وايي د دوزخ د اور څخه ، الله تعالی پوښتنه کوي ايا هغوئ دوزخ ليدلی دئ ؟ ملائکي وايي : يا ، په الله دي مو قسم وي اې پروردګاره هغوئ دوزخ نه دی ليدلئ، الله تعالی فرمايي که هغوئ دوزخ ليدلی وای نو څه حال به يې وای ؟ ملائکي به وايي که هغوئ دوزخ ليدلی وای نو د هغه څخه به ډير ليري تښتېدلای او بيريدای به ، الله تعالی فرمايي : زه تاسو شاهدان جوړوم چي ما هغوئ و بخښل ، (د دې په اورېدو سره ) په هغو ملائکو کي يوه ملائکه وايي په هغو خلکو کي خو يو داسي کس هم وو چي په هغوئ کي يې ګډون نه درلودئ د يو کار لپاره راغلئ وو هلته کښېنستئ ، الله تعالی فرمايي هغوئ (ذکر کونکي) داسي خلك دي چي د هغوئ سره ناست کس هم محروم کيدلای نه سي . بخاري ، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : د الله تعالی د

ملائکو یو ه ډله ده چي زیات ګرځي او ګښت کوي دا ډله د الله د ذکر مجلسونه لټوي هر کله چي دا ملائکي یو داسي مجلس تر لاسه کړي چي په هغه کي د الله ذکر کیږي نو هغوئ هم هلته کښیني خپل وزرونه پر خپاره کړي په هغه توله فضاء کي چي د آسمان او ددې مجلس په منځ کي ده ، هر کله چي د ذکر الهي کوونکو دا مجلس پای ته ورسیږي نو دا ملائکي آسمان ته خیژي او اووم آسمان ته ورسیږي نو الله تعالی پوښتنه کوي حال دا چي الله تعالی تر هغوئ زیات د ذکر کونکو په حال خبر دئ ، چي تاسو د کوم ځای څخه راغلي یاست ؟ ملائکي وایي موږ ستا د هغه بندګانو څخه راغلو چي په ځمکه کي یې ستا پاکي او ستا عظمت بیانوئ، ستا کلمه وایي او تا په بزرګي سره یادوي او ستا څخه سوال کوي ، الله تعالی پوښتنه کوي هغوئ زما څخه څه غواړي ؟ ملائکي وایي هغوئ ستا څخه جنت غواړي ، الله تعالی پوښتنه کوي ایا هغوئ زما جنت لیدلی دئ ؟ ملائکي به وایي : یا ، اې پروردګاره ، الله تعالی به وایي که هغوئ زما جنت لیدلی وای نو څه حال به یې وای ؟ ملائکي وایي هغوئ ستا څخه پناه غواړي ، الله تعالی به فرمایي چي هغوئ زما پناه د څه شي څخه غواړي ؟ ملائکي به وایي ستا د اور څخه ، نو الله تعالی به فرمایي چي ایا هغوئ زما اور لیدلی دی ؟ ملائکي وایي :یا ، الله تعالی به وفرمایي که هغوئ زما د دوزخ اور لیدلی وای نو څه حال به یې وای ! ملائکي بیا وایي هغوئ ستا څخه بخښنه غواړي ، الله تعالی به فرمایي هغوئ ما و بخښل او د هغه شی څخه مي پناه هم ورکړه چي د هغه څخه یې پناه غوښتل ، ملائکي وایي اې پروردګاره ! په هغوئ کي فلانی بنده هم وو چي ډیر ګناه کار دئ هغه یو ځای تلئ چي په لاره کي ددغه خلکو سره کښینستئ، الله تعالی به فرمایي : ما هغه هم و بخښئ دا یو داسي ډله ده چي د هغوئ سره کښینستونکی هم محروم کیدلای نه سي .

د ذکر څخه غفلت

(۲۱۶۱): وَ عَنْ حَنْظَلَةَ ابْنِ الرَّبِيْعِ الْأُسَيْدِيِّ قَالَ لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ كَيْفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ قُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا تَقُولُ قُلْتُ نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا قَالَ أَبُو بَكْرٍ فَوَاللّٰهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هَذَا فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى

د حضرت حنظلة بن ربیع اسیدي ﷛ څخه روایت دئ چي زما سره حضرت ابوبکر صدیق ﷛ ملاقات وکړ او وه یې فرمایل : اې حنظلة ! ستا څه حال دئ ؟ ما ورته وویل حنظله منافق سو ، ابوبکر ﷛ وویل : پاکي ده الله لره دا څه وایې ؟ ما ورته وویل کله چي موږ د نبي کریم ﷺ سره یو او هغه موږ ته نصیحت کوي او ددوزخ او جنت یادونه راته کوي نو موږ ته داسي محسوس

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا ذَاكَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيرًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنْ لَوْ تَدُومُونَ عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه مسلم

كيږي لكه دوږخ او جنت چي موږ په خپلو سترګو سره وينو خو كله چي موږ د رسول الله ﷺ څخه ولاړ سو او د اولاد، ښځو، مځكو او باغو په كارونو بوخت سو نو په دغه خبرو كي موږ ډيري هيري كړو ، ابوبكر ؓ وويل : په الله دي قسم وي زموږ هم دغه حال دئ ، نو زه او ابوبكر ؓ دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! حنظلة منافق سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څه سبب دئ ؟ ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! كله چي موږ ستا په خدمت كي يو او تاسو موږ ته نصيحت كوئ او زموږ په وړاندي د دوږخ او جنت ذكر كوئ نو موږ داسي محسوس كوو چي لكه جنت او دوږخ چي موږ په خپلو سترګو سره وينو مګر كله چي ستاسو څخه ولاړ سو او ښځي، اولاد، مځكو او باغو په جګړو كي بوخت سو نو موږ ډيري خبري هيري كړو ، (د دې په اورېدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس كي زما روح دی كه تاسو هميشه په هغه حال كي ياست په كوم حال كي چي زما سره په ناسته كي ياست او د الله په ياد كي بوخت ياست نو د الله ملائكو به ستاسو په بسترو او ستاسو په لارو كي ستاسو سره مصافحه كولای ، مګر حنظله دا يو ساعت وي ، رسول الله ﷺ دا الفاظ درې واره وفرمايل : (يعني يو ساعت د حضور قلب لپاره وي او يو ساعت د دنيا د غفلت او بوختيا وي او دا حالت د منافق والي نه دئ .) مسلم

## دويم فصل

### د الله ﷻ د ذكر فضيلت او اهميت

(٢١٦٢): عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ انْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ستاسو د هغه اعمالو څخه خبر نه كړم چي ستاسو د پاچا په خيال كي غوره اعمال دي او ډير پاك اعمال دي او ستاسو په درجو كي ډير لوړ اعمال دي او ستاسو لپاره تر سرو زرو او سپينو زرو د خرڅ

قَالُوا بَلَى قَالَ ذِكْرُ اللّٰهِ تَعَالَى . رواه مالك و احمد والترمذي و ابن ماجة الا ان مالكا وقفه على ابي الدرداء

کولو څخه غوره دي او ستاسو لپاره تر دې غوره دي چې تاسو (په جګړه کې) د خپلو دښمنانو سره يو ځاى سئ تاسو د هغوئ غاړې وهئ او هغوئ ستا غاړې وهي؟ صحابه کرامو عرض وکړ: هو، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه د الله تعالى ذکر دئ. مالك، احمد، ترمذي، ابن ماجة. مگر امام مالك دا موقف ذکر کړي دئ پر ابودرداء باندي.

**غوره عمل**

(۲۱۶۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ فَقَالَ طُوْبٰى لِمَنْ طَالَ عُمْرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ أَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ .رواه أحمد والترمذي

د حضرت عبدالله بن بسر ﷺ څخه روايت دئ چې يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کې عرض وکړ چې څوك غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زيرى دئ د هغه چا لپاره چې اوږد عمر يې وي او غوره اعمال يې پکښې وکړل، بيا هغه پوښتنه وکړل: اې ذالله رسوله کوم عمل تر ټولو غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا چې ته ددنيا څخه بيليږې نو ستا ژبه د الله په ذکر کې لنده وي، احمد او ترمذي.

**د ذکر حلقې د جنت باغونه دي**

(۲۱۶۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا قَالُوا وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ قَالَ حِلَقُ الذِّكْرِ . رواه الترمذي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې تاسو د جنت په باغو کې تيريږئ نو ميوه خوري کوئ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه د جنت باغونه کوم دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله د ذکر حلقې. ترمذي.

**د ذکر څخه خالي وخت ...**

(۲۱۶۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تِرَةٌ وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا يَذْكُرُ اللّٰهَ فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تِرَةٌ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې په يو مجلس کې کښېنستئ او هلته يې د الله ذکر ونه کړ د الله تعالى د لوري به هلته ناسته پر هغه د افسوس او تاوان وي، څوك چې په خپله بستره کې پريوتئ او د الله ذکر يې ونه کړ نو پر هغه به د الله د لوري افسوس او تاوان وي. ابوداؤد.

په کوم مجلس کي چي د الله ﷻ ذکر نه وي.

(۲۱۶۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللّٰهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً . رواه احمد و ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي خلك په يو ځای کي کښيني او ولاړيږي او په هغه ناسته کي د الله ذکر ونه کړي نو د هغه د هغه ځای څخه ولاړېدل د مردار خره په ډول دئ او پر هغه به حسرت وي. احمد او بوداؤد.

(۲۱۶۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللّٰهَ فِيهِ وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم خلك چي يو ځای کښيني او په هغه مجلس کي د الله ذکر ونه کړي او نه پر خپل نبي ﷺ درود ولیږي نو هغه مجلس به پر هغوئ د حسرت وي که الله و غواړي نو عذاب به ورکړي او که وغواړي نو وه به يې بخښي. ترمذي.

ګټوري خبري

(۲۱۶۸): وَعَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ إِلَّا أَمْرٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ أَوْ ذِكْرُ اللّٰهِ . رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ام حبيبة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان هره خبره پر هغه وبال دئ هغه ته ګټه نه ورکوي پرته د هغه خبري څخه چي په هغه کي د نیکی کولو لارښوونه وکړي يا د بدی څخه منع وکړي يا د الله ﷻ ذکر وکړي. ترمذي، ابن مامجه، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ.

د ذکر څخه بغير ډيري خبري د زړه د سختی سبب دي

(۲۱۶۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللّٰهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله د ذکر پرته ډيري خبري مه کوئ ځکه چي د الله د ذکر څخه پرته ډيري خبري کول زړه سختوي او کوم خلك چي د الله څخه ډير ليري دي د سخت زړو خلك دي. ترمذي

غوره سرمايه

(۲۱۷۰): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ { وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ } كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ثعبان ﷺ څخه روايت دئ چي کله دغه آيت نازل سو (والذين يكنزون....) کوم خلك چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِه فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِه نَزَلَتْ فِي الذَّهَبِ وَالْفِضَّة لَوْ عَلِمْنَا أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ فَنَتَّخِذَهُ فَقَالَ أَفْضَلُهُ لِسَانٌ ذَاكِرٌ وَقَلْبٌ شَاكِرٌ وَزَوْجَةٌ مُؤْمِنَةٌ تُعِينُهُ عَلَى إِيْمَانِهِ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

سره او سپین یو ځای کوي، نو هغه وخت موږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کي وو ، ځینو صحابه کرامو وویل : دا آیت یوازي د سرو او سپینو زرو په اړه نازل سوی دئ کاش چي موږ ته څرګنده سوې وای چي کوم مال غوره دئ . نو موږ به هغه یو ځای کړو، رسول الله ﷺ چي دا واوریدل نو وه یې فرمایل: غوره مال د الله ذکر کونکې ژبه ده او د الله شکر کونکی زړه دئ او هغه مؤمنه ښځه ده چي د خاوند ددین او ایمان مرستیاله وي . احمد . ترمذي او ابن ماجه .

## دريم فصل

### الله ﷻ د ملائکو په مخکي پر ذاکرینو فخر کوي

(۲۱۷۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ مُعَاوِيَةُ عَلَى حَلْقَة فِي الْمَسْجِد فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللّٰهَ قَالَ آللّٰه مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ قَالُوا وَاللّٰه مَا أَجْلَسَنَا غيره قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيثًا مِنِّي وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَة مِنْ أَصْحَابِه فَقَالَ مَا أَجْلَسَكُمْ ههنا قَالُوا جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللّٰهَ وَنَحْمَدُهُ عَلَى مَا هَدَانَا لِلْإِسْلَامِ وَمَنَّ بِه عَلَيْنَا قَالَ آللّٰه مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ قَالُوا اللّٰه مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ قَالَ أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَلٰكِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ . رواه مسلم

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي یوه ورځ حضرت معاویة ﷺ یو مسجد ته ورسیدئ چیري چي حلقه جوړه سوې وه ، هغه پوښتنه وکړه تاسو دلته څنګه ناست یاست ؟ هغوئ وویل : موږ دلته د الله د ذکر لپاره ناست یو ، معاویة وویل : ستاسو دي قسم په خدای وي چي تاسو ددې څخه پرته د بل شي لپاره نه یاست ناست ؟ هغوئ وویل : قسم په خدای موږ پرته ددې څخه د بل هیڅ شي لپاره نه یو ناست ، حضرت معاویة وویل : خبردار اوسئ چي ما پر تاسو باندي د تهمت لګولو لپاره قسم نه دئ درکړئ او د رسول الله ﷺ څخه د کم حدیث نقل کولو کي زما تر مرتبې کم هیڅوك نسته .(یعني زه احتیاط کونکی راوي یم) یوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو یوې حلقې ته تشریف یوورړ او د هغوئ څخه یې پوښتنه وکړه تاسو دلته څنګه ناست یاست ؟ صحابه کرامو عرض وکړ موږ دلته د الله د ذکر کولو لپاره ناست یو ، او موږ

د هغه تعریف کوو چي هغه موږ ته د اسلام لار راوښودل او په موږ یې دا احسان وکړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ستاسو دي قسم په خدای وي چي تاسو ددې لپاره ناست یاست؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو، قسم په خدای موږ یوازي ددغه لپاره ناست یو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: خبردار اوسئ ما پر تاسو د تهمت لګولو لپاره تاسو ته قسم نه دئ درکړئ بلکه ما ته جبرائیل علیه السلام راغلئ او ما ته یې وویل چي الله تعالی په خپلو ملائکو کي پر تاسو فخر کوي. مسلم

**د الله ﷻ ذکر کول**

(۲۱۷۲): وَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ بُسْرٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ شَرَائِعَ الْإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ قَالَ لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ . رواه الترمذي و ابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت عبد الله ابن بسر ؓ څخه روایت دئ چي یو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ اې د الله رسوله! د اسلام احکام (یعني نفلونه) پر ما ډیر غالب سوي دي ما ته یو داسي شی راوښیه چي زه پر وموښلم، (یعني زما لپاره بس وي) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ستا ژبه دي همیشه د الله په ذکر لنده وي. ترمذي، ابن ماجه، او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ.

**د ذکر کونکي فضیلت**

(۲۱۷۳): وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ وَ أَرْفَعُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ الذَّاكِرُونَ اللّٰهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ قِيْلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمِنْ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِي الْكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِينَ حَتّٰى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا فان الذَّاكِرُونَ اللّٰهَ أَفْضَلَ مِنْهُ دَرَجَةً . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابو سعید ؓ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د قیامت په ورځ به د الله په نزد کوم بنده افضل او د لوړي درجې خاوند وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د الله ډیر یادونکي خلك او ښځي، بیا پوښتنه وسول اې د الله رسوله! ایا د الله ذکر کونکی د الله په لار کي تر جهاد کونکي هم غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: که هغه (مجاهد) خپله توره پر کافراو او مشرکانو وچلوي تر څو چي د هغه توره ماته سي او هغه خپله په وینو رنګ سي (یعني شهید سي) بیا هم د الله ذکر کونکی تر هغه په مرتبه کي غوره دئ. احمد، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

**د الله ﷻ په ذکر سره د شیطان څخه حفاظت**

(۲۱۷۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ فَ ذَا ذَكَرَ اللّٰهَ خَنَسَ وَإِذَا غَفَلَ وَسْوَسَ . رواه البخا ي تعليقا

رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان د انسان په زړو كي گونډې لګوي هر كله چي انسان د الله ذكر په زړه سره كوي نو شيطان ځيني شا ته سي او ه كله چي د الله د ذكر څخه غافل سي نو وسوسې په زړه كي ور اچوي . بخاري.

**د ذكر مثال او د هغه فضيلت**

﴿٢١٧٥﴾: وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ ذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِيْنَ كَالْمُقَاتِلِ خَلْفَ الْفَارِّيْنَ وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِيْنَ كَغُصْنٍ أَخْضَرَ فِيْ شَجَرٍ يَابِسٍ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: مَثَلُ الشَّجَرَةِ الْخَضْرَاءِ فِيْ وَسَطِ الشَّجَرِ وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِيْنَ مِثْلُ مِصْبَاحٍ فِيْ بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِيْنَ يُرِيْهِ اللّٰهُ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ حَيٌّ وَذَاكِرُ اللّٰهِ فِي الْغَافِلِيْنَ يُغْفَرُ لَهُ بِعَدَدِ كُلِّ فَصِيْحٍ وَأَعْجَمَ وَالْفَصِيْحُ بَنُوْ آدَمَ وَالْأَعْجَمُ : اَلْبَهَائِمُ . رواه رزين

د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته دا خرگنده سوې ده چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په غافلو خلكو كي د الله ذكر كونكى د هغه كس په ډول دئ چي د تښتېدونكو دښمنانو سره جنګيږي او په غافلو خلكو كي د الله ذكر كونكى د شنه ښاخ په ډول دئ چي په وچه درخته كي وي . او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي هغه د هغه شنې درختي په ډول دئ چي د درختو په منځ كي وي او په غافلو انسانانو كي د الله ذكر كونكى په تاريكو كورو كي د څراغ په ډول دئ ، او د الله ﷻ ذكر كونكى په غافلانو كي داسي دئ چي الله هغه ته په ژوند كي جنت د هغه ځايه ورښيي ، او په غافلو انسانانو كي د الله ذكر كونكي ته به د هغه د ګناهو په شمير د هر فصيح او عجمي بخښنه كيږي ، د فصيح څخه مراد انسانان دي او د عجم څخه مراد حيوانان دي . رزين.

**د الله ﷻ ذكر تر ټولو زيات خلاصون وركونكى عمل دى**

﴿٢١٧٦﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلاً أَنْجٰى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ . رواه مالك والترمذي وابن ماجه

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ بنده چي كوم عمل كوي په هغو كي د الله د ذكر څخه پرته بل هيڅ عمل د الله ﷻ عذاب څخه نجات وركونكى نسته . مالك، ترمذي او ابن ماجه.

**د ذكر كونكي سعادت**

﴿٢١٧٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَقُوْلُ أَنَا مَعَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي : زه د خپل بنده

عَبْدِيْ إِذَا ذَكَرَنِيْ وَتَحَرَّكَتْ بِيْ شَفَتَاهُ. رواه البخاري

سره یم تر څو پورې چي هغه ما یادوي او د هغه دواړي شونډي زما په ذکر سره ښوري . بخاري

**د الله ﷻ ذکر د زړه د صفائي باعث دی**

﴿٢١٧٨﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ لِكُلِّ شَيْءٍ صَقَالَةٌ وَصَقَالَةُ الْقُلُوْبِ ذِكْرُ اللهِ وَمَا مِنْ شَيْءٍ أَنْجٰى مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ قَالُوْا وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ وَلَا أَنْ يَضْرِبَ بِسَيْفِهِ حَتّٰى يَنْقَطِعَ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمایل : د هر شي پاکي سته او د زړه پاکي د الله ذکر دئ ، او هیڅ شی د الله د عذاب څخه ساتونکی د الله د ذکر څخه پرته نسته ، صحابه کرامو عرض وکړ ایا د الله په لاره کي جهاد هم نه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا هم نه دی که څه هم د جهاد کونکي توره په جګړه کي ماته سي . بیهقي په الدعوات الکبیر کي روایت کړی دی .

# كِتَابُ اَسْمَآءِ اللّٰهِ تَعَالٰی

## (دَالله تعالی دَنومانَو بیان)

## لومړی فصل

**د الله ﷻ نومونه یادول**

(۲۱۷۹): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ . و في رواية و هو وتر يحب الوتر . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی نهه نیوي نومونه یعني یو کم سل نومونه دي څوك چي یې یاد کړي هغه به په جنت کي داخلیږئ او په یوه روایت کي دا هم دي چي الله تعالی طاق دئ او طاق خوښوي . بخاري او مسلم

## دویم فصل

**د الله تعالی (۹۹) نومونه او د هغو تفصیل**

(۲۱۸۰): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ هُوَ اللّٰهُ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ الْغَفَّارُ الْقَهَّارُ الْوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ الْغَفُورُ الشَّكُورُ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ الْحَفِيظُ الْمُقِيتُ الْحَسِيبُ الْجَلِيلُ الْكَرِيمُ الرَّقِيبُ الْمُجِيبُ الْوَاسِعُ الْحَكِيمُ الْوَدُودُ الْمَجِيدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی نهه نیوي نومونه دي څوك چي دا په یاد کړي هغه به جنت ته داخلیږي (او هغه نومونه دادي): هغه الله دئ د هغه څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته هغه ډیر مهربان دئ ، هغه ډیر رحم کونکی دئ ، حقیقي پاچا دئ ډیر پاك دئ بې عیبه او د سلامتۍ خاوند دئ امن ورکولو والا دئ ساتونکی او نگهبان دئ غالب او بې مثل دئ د ورانو کارو سمونکی دئ تکبر کونکی دئ پیدا کونکی دئ ، پیدا کونکی دئ صورت جوړونکی دئ ډیر بخښونکی ، زبردست د غلبې خاوند دئ ، پرته د معاوضې ډیر څه ورکونکی

اَلْحَقُّ اَلْوَكِيلُ اَلْقَوِيُّ اَلْمَتِينُ اَلْوَلِيُّ اَلْحَمِيدُ اَلْمُحْصِي اَلْمُبْدِئُ اَلْمُعِيدُ اَلْمُحْيِي اَلْمُمِيتُ اَلْحَيُّ اَلْقَيُّومُ اَلْوَاجِدُ اَلْمَاجِدُ اَلْوَاحِدُ اَلْاَحَدُ اَلصَّمَدُ اَلْقَادِرُ اَلْمُقْتَدِرُ اَلْمُقَدِّمُ اَلْمُؤَخِّرُ اَلْاَوَّلُ اَلْآخِرُ اَلظَّاهِرُ اَلْبَاطِنُ اَلْوَالِيَ اَلْمُتَعَالِي اَلْبَرُّ اَلتَّوَّابُ اَلْمُنْتَقِمُ اَلْعَفُوُّ اَلرَّءُوفُ مَالِكُ اَلْمُلْكِ ذُو اَلْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ اَلْمُقْسِطُ اَلْجَامِعُ اَلْغَنِيُّ اَلْمُغْنِي اَلْمَانِعُ اَلضَّارُّ اَلنَّافِعُ اَلنُّورُ اَلْهَادِي اَلْبَدِيعُ اَلْبَاقِي اَلْوَارِثُ اَلرَّشِيدُ اَلصَّبُورُ . رواه الترمذي و البيهقي في الدعوات الكبير وقال الترمذي هذا حديث غريب .

دئ ، رزق پيدا كولو او رسولو والا دئ ، خلاصونكي او حكم وركونكى دئ د ظاهر او باطن علم لرونكى روزي او د بندگانو زړه تنگونكى دئ روح قبض كونكى دئ د بندگانو زړه او رزق پراخونكى دئ د كافرانو پست كونكى دئ د مؤمنانو لوړونكى دئ يا خپل درگاه ته نژدې كونكى، عزت وركونكى ، ذلت وركونكى ، ليدونكي، حكم كونكي داسي چي څوك د هغه حكم نه سي رد كولاى، انصاف كونكى ، باريك ليدونكى ، پر خپلو بندگانو لطف او مهرباني كونكى ، د زړه خبري پيژندونكى، بردبار، بنديانو ته عذاب وركولو كي تلوار نه كونكى ، بزرگ او برتر چي په ذات او صفات كي يې هيڅوك سيال نسته ، ډير بخښونكى په ډيره اندازه شناس لږ عمل باندي ډير ثواب وركونكى ، ډير د لوړې مرتبې والا ، دا سي لوى چي هيڅوك تر هغه لوى نسته ، عالم د آفتو څخه ساتونكى، بدنو او روحو ته توان وركونكى، حساب اخيستونكي او كفايت كونكى ، لوړې مرتبې والا، ډير سخي، ډير وركونكى د هر شي ساتونكي او د بندگانو حال پيژندونكي، وسيع العلم او وسعت وركونكى ، د كارو سمونكى ، د پوه او فرمانبردارو سره دوستي كونكي ، په ذات او افعالو كي شريف او بزرگ د مرگ څخه وروسته ژوندى كونكى ، مړي د قبرو څخه پورته كونكى ، د غافلانو زړونه د غفلت څخه بيداره كونكى ، حاضر او ظاهر پرغائب باندي خبر لرونكى ، د پاچاهۍ او خدايي وړ ، د خلكو كارونه سمونكى د لوى زور او توان خاوند ، ټول كارونه سمونكى د مؤمنانو دوست او مرستيال، په خپل ذات او صفاتو كي تعريف كونكى يا تعريف كړل سوى، د هر شي په علم سره احاطه كونكى ، په لومړى وار پيدا كونكى، دويم وار پيدا كونكى، ژوندى كونكى، زړونه د ايمان په نور سره ژوندي كونكي، د بدنو او زړو وژونكى، هميشه ژوندى، خپله قائم او مخلوقات قائمونكي، غني چي هيڅ شي ته اړ نه وي، بزرگ او برتر، په خپل ذات، صفاتو او افعالو كي بې مثله او بې مثاله، په ذات او صفاتو كي يوازې، بې پرواه، بې نيازه، د لوى قدرت خاوند ، قدرت څرگندونكى، دوستان په خپل بارگاه كي عزت ته وړاندي كونكي، د ښمنان د خپلي مهرباني څخه ليري كونكي، تر هر چا لومړى، د ټولو موجوداتو

وروسته، څرګند او ښکاره، هغه ذات چې د خپل وجود د څرګندو نښو څخه څرګندوي، هغه ذات چې د وهم او خیال څخه مخفي دئ، لوی کار ساز، لوړه مرتبه، نیکی کونکی، توبه قبلونکی، بدله اخیستونکی، ګناهونه اوغلطی معافونکی، ډیرمهربان، د تولي دنیا د نظم خاوند، د بزرګی او بخښني خاوند، عدل او انصاف کونکی، د قیامت په ورځ تول مخلوق یو ځای کونکی، د هر شي څخه بې پرواه، بې پروا کونکی، بندګان د هلاکت او تاوان څخه خلاصونکی، نافرمانو ته تاوان رسونکی، ډیر ګټه رسونکی، آسمان په ستورو سره ځلانده کونکی او مځکي په انبیاؤ، صالحانو او عالمانو سره ځلانده کونکی، لارښوونکی او هدایت کونکی، پرته د مثال څخه د عالم پیداکونکی، همیشه باقي پاته کېدونکی، همیشه اوسیدونکی، په موجوداتو کي د فنا وروسته باقي پاته کېدونکی، لارښوونکی، د دنیا راهنما، بردبار چې په عذاب ورکولو کي تلوار نه کوي، ډیر صبرناك. ترمذي، بیهقي، ترمذي ویلي دا حدیث غریب دئ.

## اسم اعظم

(۲۱۸۱): وَعَنْ بُرَيْدَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي اَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللّٰهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ فَقَالَ دَعَا اللّٰهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَاِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د یو سړي څخه دا دعا کول واوریدل: (اې الله زه ستا څخه غوارم په دې وسیلې سره چې ته اې الله! ستا څخه پرته بل د عبادت ور نسته او ته یوازي او بې پروا یې نه ته د چا څخه پیدا یې او نه تا څوك زیږولي دي، او نه څوك د هغه سیال سته) د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه سړي په اسم اعظم سره دعاء غوښتې ده هغه اسم اعظم دی چې د هغه په ذریعه څه وغوښتل سي او کله دعاء وکړل سي نو هغه قبلیږي. ترمذي او ابوداؤد.

(۲۱۸۲): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَرَجُلٌ يُصَلِّي فَقَالَ اللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ بِاَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ اَسْئَلُكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا اللّٰهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې زه د رسول الله ﷺ سره په مسجد کي ناست وم او یو سړي لمونځ کوی او دلمانځه وروسته یې دا دعاء وغوښتل: اې الله زه ستا څخه سوال کوم په دې وسیلې سره چې هر ډول تعریف تا لره دئ، ستا څخه پرته هیڅوك د عبادت ور نسته ته ډیر مهرباني او احسان کونکی یې او د آسمانو او

أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

محکي پیداکونکی یې ، اې د بخښنې او بزرګۍ خاونده، اې ژوندیه اې خبر اخیستونکې ، زه ستا څخه غوارم، د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: دې سړي د الله څخه په اسم اعظم سره دعاء غوښتې ده هغه اسم اعظم چې د هغه په ذریعه دعاء وکړل سي نو قبوله سي او که څه وغوښتل سي نو هغه ورکړل سي. ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجة.

(۲۱۸۳): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْمُ اللَّهِ الْأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ { وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ } وَفَاتِحَةِ آلِ عِمْرَانَ { الم اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ } . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة والدارمي .

د حضرت اسماء بنت یزید (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اسم اعظم په دغه دوو آیاتو کې دئ: { وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ } ، او د سورة آل عمران په پیل کې یعني: دغه آیت: { الم اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ } ، ترمذي ، ابوداؤد ابن ماجه او دارمي.

**د یونس علیه السلام د دعاء برکت او تاثیر**

(۲۱۸۴): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْوَةُ ذِي النُّونِ إِذْ دَعَا ربه وَهُوَ فِي بَطْنِ الْحُوتِ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ إِلَّا اسْتَجَابَ لَهُ . رواه احمد والترمذي

د حضرت سعد ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د حضرت یونس علیه السلام هغه دعاء چې د ماهي په نس کې یې د خپل پروردګار څخه غوښتې وه داده: لااله....من الظالمین، هیڅ د عبادت وړ نسته پرته ستا څخه پاك یې ته او زه د ظالمانو څخه وم ، کوم مسلمان چې د یو مطلب لپاره دغه دعاء وغواړي الله هغه قبلوي . احمد او ترمذي.

## دریم فصل

**د اسم اعظم تحقیق**

(۲۱۸۵): عن بريدة قال دخلت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم المسجد عشاء فإذا رجل يقرأ ويرفع صوته فقلت : يا رسول الله أتقول هذا مراء قال بل مؤمن منيب قال وأبو موسى الأشعري يقرأ

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دئ چې زه د ماخستن په وخت کې د نبي کریم ﷺ سره مسجد ته ولاړم . (او وه مې لیدل چې) یو سړی په لوړ آواز سره قرآن مجید وایي ، ما عرض وکړ اې

يرفع صوته فجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم يسمع لقراءته ثم جلس أبو موسى يدعو فقال: اللهم إني أشهدك أنك أنت الله لا إله إلا أنت أحدا صمدا لم يلد و لم يولد و لم يكن له كفوا أحد فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لقد سأل الله باسمه الذي إذا سئل به أعطى وإذا دعي به أجاب قلت يا رسول الله أخبره بما سمعت منك؟ قال نعم فأخبرته بقول رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لي: أنت اليوم لي أخ صديق حدثتني بحديث رسول الله صلى الله عليه وسلم. رواه رزين

دالله رسوله! ايا دا سړی تاسو ريا کار يا منافق ګڼئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: يا، بلکه مؤمن او د غفلت څخه د ذکر الهي په لور رجوع کونکی دئ، بريدة ﷺ وايي چي هغه سړی ابو موسى اشعري ﷺ وو چي په لوړ آواز سره يې تلاوت کاوه، رسول الله ﷺ د هغه قرائت واوريدئ بيا ابو موسى د دعاء لپاره کښېنستئ او دا دعاء يې پيل کړه: اللهم اني ... کفوا احد، اې الله! زه تا شاهد کوم يعني ددې عقيده لرم چي ته الله يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته نه د چا څخه پيدا سوی يې او نه دي څوک زېږولی دئ او نه دي څوک سيال سته، رسول الله ﷺ وفرمايل: ده د الله په هغه نامه سره سوال وکړ چي په هغه سره څه وغوښتل نو ورکول کيږي او هر کله چي ددې په ذريعه دعاء وغوښتل سي نو قبليږي، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! دا کومه خبره چي ما ستاسو څخه واوريدل ايا زه په دې ابو موسى خبر کړم، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، نو ما ابو موسى د رسول الله ﷺ په خبره باندې خبر کړ ابو موسى ﷺ راته وويل: نن ته زما رښتونی ورور يې چي تا زه د رسول الله ﷺ د حديث څخه خبر کړم، رزين.

# بَابُ ثَوَابِ التَّسْبِيْحِ وَالتَّحْمِيْدِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ

## (د تسبيح، تحميد، تهليل او تکبيرويلو ثواب)

## لومړی فصل

### تر ټولو غوره کلام

(۲۱۸۶): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افضل الْكَلَامِ اَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَ فِي رواية اَحَبُّ الْكَلَامِ اِلَى اللّٰهِ اَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللّٰهِ

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان غوره خبري څلور دي: (يعني): سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ، او په يوه روايت کي دا الفاظ

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ. رواه مسلم

دي چي د الله په نزد غوره خبري څلور دي: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ

، په دغه خبرو کي چي د کوم يوه څخه پيل کوئ نو پروا نسته. مسلم

**د تسبيح، تهليل او تحميد فضيلت**

(۲۱۸۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ أَقُولَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، ويل زما په نزد د دنيا او د دنيا د تولو شيانو څخه غوره دي. مسلم

**د تسبيح او تحميد فضيلت او برکت**

(۲۱۸۸): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي سبحان الله وبحمده په ورځ کي سل واره ووايي د هغه گناهونه رژيږي که څه هم د درياب د ځگ په اندازه وي. بخاري او مسلم

(۲۱۸۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي سهار او مانبام سل سل واره سبحان الله وبحمده ووايي نو د قيامت په ورځ به د هغه تر عمل هيڅ يو غوره عمل نه وي مگر هغه څوک چي هغه دده په ډول يا تر ده زيات دا کلمات ويلي وي. بخاري او مسلم

(۲۱۹۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوې داسي کلمې دي چي په ژبه ويلو سره اسانه دي مگر د اعمالو په تله کي درنې او د خدای په نزد ډيري خوښي دي او هغه دادي: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ. بخاري او مسلم

(۲۱۹۱): وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَيَعْجِزُ اَحَدُكُمْ اَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ اَلْفَ حَسَنَةٍ فَسَاَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ كَيْفَ يَكْسِبُ اَحَدُنَا اَلْفَ حَسَنَةٍ قَالَ يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ فَيُكْتَبُ لَهُ اَلْفُ حَسَنَةٍ اَوْ يُحَطُّ عَنْهُ اَلْفُ خَطِيْئَةٍ . رواه مسلم و في كتابه في جمع الروايات عن موسى الجهني او يحط قال ابوبكر البرقاني و رواه شعبة و ابوعوانة و يحيى بن سعيد القطان عن موسى فقالوا و يحط بغير الف هكذا في كتاب الحميدي .

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا په تاسو کي څوك دا توان لري چي هره ورځ زر نیکۍ تر لاسه کړي ، کوم خلك چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ناست وه په هغو کي یو کس پوښتنه وکړه چي په موږ یو څوك هره ورځ زر نیکۍ څنګه تر لاسه کولای سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: سل واره دي سبحان الله وایي نو دده لپاره به زر نیکۍ ولیکل سي یا زر گناهونه به یې څیني لیري سي ، مسلم، د مسلم په ټولو روایاتو کي د موسی جهني څخه (او یحط) لفظ راغلي دئ او برقاني ویلي دي چي شعبه ابو عوانة ، یحیی بن سعید قطان د موسی جهني څخه پرته (الف) روایت کړئ دئ یعني په هغه کي (و یحط) لفظ دئ د حمیدي په کتاب کي هم داسي دي .

**غوره کلام تسبیح او تحمید...**

(۲۱۹۲): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ الْكَلَامِ اَفْضَلُ قَالَ مَا اصْطَفَى اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ . رواه مسلم

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم کلام غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه کلام چي الله تعالی د خپلو ملائکو لپاره ټاکلی دئ یعني (سبحان الله وبحمده) مسلم.

**په ذکر کي د کیفیت اعتبار ....**

(۲۱۹۳): وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِيْنَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِيْ مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ اَنْ اَضْحٰى وَهِيَ جَالِسَةٌ قَالَ مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ اَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ

د حضرت جویریة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د سهار د لمانځه په وخت کي زما څخه ولاړئ او هغه (بي بي جویریة) پر خپله مصلا ناسته وه ، بیا رسول الله ﷺ د څاښت په وخت کي بیرته راغلئ او هغه بي بي لا پر خپله مصلی ناسته وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا په کوم حال کي چي زه در څخه تللی وم د هغه

مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِه وَرِضَا نَفْسِه وَزِنَةَ عَرْشِه وَمِدَادَ كَلِمَاتِه . رواه مسلم

وخت څخه ته ناسته يې ؟ هغې وويل هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما ستا د تلو وروسته درې واره څلور داسې کلمې ويلې دي که هغه ستا د هغه شي سره چې د وخت د پيل څخه تر اوسه پورې ويل سوي دي وزن کړل سي نو دا څلور کلمې به زياتې درنې سي، (يعني ددې ثواب به ستا د ټوله وخت تر ثواب زيات وي) هغه څلور کلمې دادي: سبحان الله .. ومداد کلماته، زه د الله پاکي بيانوم ، د هغه تعريف کوم د هغه د مخلوقات د شمېر په اندازه د هغه د مرضي سره سم او د عرش د وزن سره سم او د هغه د کلماتو د رنګ په شان. مسلم.

**د شيطان څخه د پناه طريقه**

(۲۱۹۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهٗ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَكُتِبَتْ لَهٗ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَكَانَتْ لَهٗ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهٗ ذٰلِكَ حَتّٰى يُمْسِيَ وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهٖ إِلَّا رجل عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې دا کلمې په ورځ کې سل واره ووايي هغه ته به د لسو غلامانو د آزادولو ثواب تر لاسه کيږي او سل نيکۍ به د هغه په اعمال نامه کې ليکل کيږي او د هغه سل ګناهونه به ليرې سي او هغه به په هغه ورځ تر ماښام پورې د شيطان څخه خوندي وي او (د قيامت په ورځ) به هيڅوک تر هغه د غوره عمل سره نه راځي پرته د هغه سړي څخه چې هغه هم دا کلمات تر ده زيات ويلي وي. او هغه کلمات دادي: لااله الاالله.... وهو على كل شيئ قدير، د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه يوازې دئ هيڅوک دهغه شريک نسته ، ملک او پاچاهي د هغه ده او هر ډول تعريف هغه لره دئ او هغه په هره خبره خبردار دئ. بخاري او مسلم.

**لاحول ولاقوة الا باالله د جنت خزانه ده**

(۲۱۹۵): وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَجْهَرُونَ بِالتَّكْبِيرِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلٰى أَنْفُسِكُمْ إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا وَهُوَ مَعَكُمْ وَالَّذِي تَدْعُونَ أَقْرَبُ إِلٰى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِه

د حضرت ابو موسى اشعري ﷺ څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کې وو چې خلکو په لوړ آواز سره الله اکبر ويل پيل کړل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل خلکو پر ځان رحم وکړئ تاسو يو کوڼ او غائب نه رابولئ، بلکه هغه ذات يادوئ چې سميع او بصير دئ يعني هر

قَالَ أَبُوْ مُوْسَى وَأَنَا خَلْفَهُ أَقُوْلُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ فِيْ نَفْسِيْ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ فَقُلْتُ بَلَى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ . متفق عليه .

شي او خبره اوريدونكى او ليدونكى دئ او هغه هر وخت ستاسو سره دئ او تاسو چي څوك يادوئ هغه د سپرلۍ تر غاړي هم نژدې دئ ، ابو موسى وايي: زه د رسول الله ﷺ په سپرلۍ

پسي روان وم او په زړه كي مي ويل: لاحول ولاقوة الا بالله ، چي رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اي ابوموسى! زه تا ته د جنت د خزانو څخه يوه خزانه ونه ښيم؟ ما عرض وكړ هو، اې دالله رسوله! خامخا يې راوښيه ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: هغه خزانه: لاحول ولاقوة الا بالله . ده . بخاري او مسلم

## دويم فصل

### د تسبيح او تحميد ثمره

(٢١٩٦): عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهِ غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي سبحان الله و بحمده وويل د هغه لپاره په جنت كي د خرما يوه درخته لگول كيږي . ترمذي

### هر سهار د ملائكو له خوا د تسبيح اواز

(٢١٩٧): وَ عَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ صَبَاحٍ يُصْبِحُ العباد فِيهِ إِلَّا وَمُنَادٍ يُنَادِي سبحو الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ . رواه الترمذي

د حضرت زبير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هره ورځ سهار وختي يو اعلان كونكى اعلان كوي چي د پاچا او پاك ذات پاكي بيان كړئ . ترمذي

### غوره ذكر لااله الاالله

(٢١٩٨): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ذكر: لااله الاالله ، دئ او غوره دعاء الحمدلله ده . ترمذي او ابن ماجه

### د الله ﷻ تعريف د الله ﷻ شكر دى

(٢١٩٩): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَمْدُ رَأْسُ الشُّكْرِ مَا شَكَرَ اللّٰهَ عَبْدٌ لَا يَحْمَدُهُ .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى تعريف د شكر بنسټ دئ او كوم بنده چي د الله تعالى

تعریف ونه کړي هغه شکر ادا نه کړي ۔ بیهقي.

**په خوشحالي او مصیبت دواړو وختو کي د الله ﷻ تعریف**

﴿۲۲۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ مَنْ يُدْعٰى إِلَى الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ . رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي به کوم خلك تر ټولو وړاندې د جنت په لور و بلل سي هغه به هغه خلك وي چي هغوئ په خوشحالي راحت او تکلیف و غم دواړو حالاتو کي د الله تعالی تعریف کړی وي ۔ بیهقي.

**د لا اله الاالله عظمت**

﴿۲۲۰۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ يَا رَبِّ عَلِّمْنِيْ شَيْئًا أَذْكُرُكَ بِهِ وَأَدْعُوْكَ بِهِ فَقَالَ يَا مُوْسٰى قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَقَالَ يَا رَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُوْلُ هٰذَا إِنَّمَا أُرِيْدُ شَيْئًا تَخُصُّنِيْ بِهِ قَالَ يَا مُوْسٰى لَوْ أَنَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعَ وَعَامِرَهُنَّ غَيْرِيْ وَالْأَرَضِيْنَ السَّبْعَ وُضِعْنَ فِيْ كِفَّةٍ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فِيْ كِفَّةٍ لَمَالَتْ بِهِنَّ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. رواه في شرح السنة

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حضرت موسی علیه السلام الله تعالی ته عرض وکړ: اې زما پروردګاره! ما ته یو داسي شی وښیه چي زه د هغه په ذریعه تا یا دوم، یا د هغه په ذریعه ستا څخه دعاء غواړم، الله تعالی ورته وفرمایل: ته دا وایه: لااله الاالله، حضرت موسی علیه السلام عرض وکړ اې پروردګاره! دا خو ستا هر بنده وایي زه خو یو خاص شی غواړم چي زما لپاره خاص وي، الله تعالی ورته وفرمایل: اې موسی! که اووه آسمانونه او د هغو ټوله ابادي پرته زما څخه، او اووه مځکه په یوه پله کي کښېښودل سي او په بله پله کي لااله الاالله کښېښودل سي نو د لااله الاالله پله به تر دي ټولو شیانو درنه سي ۔ شرح السنة.

﴿۲۲۰۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ صَدَّقَهُ رَبُّهُ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا أَكْبَرُ وَإِذَا قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ يَقُوْلُ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِيْ لَا شَرِيْكَ لِيْ وَإِذَا قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ قَالَ

د حضرت ابو سعید او ابو هریرة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي لااله الاالله والله اکبر، ووایي نو د هغه پروردګار ددي الفاظو تصدیق کوي، الله ﷻ فرمایي: لااله الاانا وانا اکبر، او هر کله چي هغه ووایي: لااله الاالله وحده لا شریك له، نو الله تعالی فرمایي: لااله الا انا وحدي لاشریك لي، او هر کله چي هغه وایي:

اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا لِيَ الْمُلْكُ وَلِيَ الْحَمْدُ وَإِذَا قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِي وَكَانَ يَقُولُ مَنْ قَالَهَا فِي مَرَضِهِ ثُمَّ مَاتَ لَمْ تَطْعَمْهُ النَّارُ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

لااله الاالله له الملك وله الحمد، نو الله تعالى فرمايي: لااله الا انا لي الملك ولي الحمد، او هر كله چي بنده وايي لااله الاالله ولاحول ولاقوة الا بالله، نو الله تعالى فرمايي: لااله الاانا لاحول ولاقوة الا بي، رسول الله ﷺ فرمايي: څوك چي دا كلمات په خپله ناروغي كي وايي او بيا مړ سي نو اور هغه نه سي سوځلاى. ترمذي او ابن ماجه.

## د تسبيح او تحميد فضيلت

(۲۲۰۳): وَعَنْ سَعْدِابْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ اَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى أَوْ حَصًى تُسَبِّحُ بِهِ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هَذَا أَوْ أَفْضَلُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ وَاللَّهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذَلِكَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ . رواه الترمذي و ابوداؤد و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت سعد ابن ابي وقاص ؓ څخه روايت دئ چي هغه د نبي كريم ﷺ سره يوې ښځي ته ورغلئ چي د هغې په وړاندي د خرماوو هډوكي پراته وه، او هغې به شميرل او سبحان الله به يې ويل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا زه تاته هغه شى ونښيم چي تر دې اسان وي او غوره هم وي، او هغه دادي چي سبحان الله عدد ما خلق...هوخالق. زه پاكي بيانوم د الله د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي په آسمان كي دي او زه پاكي بيانوم د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي په مځكه كي دي او زه پاكي بيانوم د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي د آسمانو او مځكو په منځ كي دي او زه پاكي بيانوم د هغه د مخلوق د شمير سره سم چي تر ابده پوري پيدا كيدونكي دي او الله اكبر هم داسي او الحمدلله هم داسي او لااله الاالله هم داسي او لاحول ولاقوة الا بالله هم داسي. ترمذي، ابوداؤد، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ.

## د تسبيح، تحميد، تهليل او تكبير ثواب

(۲۲۰۴): عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّحَ اللَّهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَجَّ مِائَةَ مَرَّةٍ وَمَنْ حَمِدَ اللَّهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي سبحان الله سل واره د سهار په وخت كي او سل واره د ماښام په وخت كي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب وركول

بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَمَلَ عَلَى مِائَةِ فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَمَنْ هَلَّلَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ لَمْ يَأْتِ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ أَحَدٌ بِأَكْثَرَ مِمَّا أَتٰى بِهِ إِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ ذالك أَوْ زَادَ عَلٰى مَا قَالَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

کیږي چي سل حجونه یې کړي وي او څوك چي د سهار په وخت کي الحمدلله سل واره او سل واره د ماښام په وخت کي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب ورکول کیږي چي هغه سل خلك د الله په لار کي پر اسانو سپاره کړي وي او څوك چي سل واره لااله الاالله د سهار په وخت کي او سل واره د ماښام په وخت کي ووايي هغه ته د هغه چا په اندازه ثواب ورکول کیږي چي هغه سل غلامان د حضرت اسماعیل علیه السلام د اولاد څخه ازاد کړي وي او څوك چي سل واره الله اکبر د سهار په وخت کي او سل واره د ماښام په وخت کي ووايي نو د قيامت په ورځ به د هغه څخه زيات ثواب هيڅوك نه راوړي مگر هغه څوك چي هغه هم دا کلمات دومره واره يا ددې څخه زيات ويلي وي . ترمذي ويلي دا حديث حسن غريب دئ .

(۲۲۰۵): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ لَيْسَ لَهَا حِجَابٌ دُونَ اللّٰهِ حَتّٰى تَخْلُصَ إِلَيْهِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و ليس اسناده بالقوي .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: سبحان الله ويل د ترازو نيمه پله ډکوي او الحمدلله ويل ټوله پله ډکوي او لااله الاالله ويل د هغه لپاره الله تعالى ته په رسيدو کي څه پرده نه ده او سيده الله تعالى ته رسيږي ، ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ او ددې اسناد قوي نه دي .

(۲۲۰۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَالَ عَبْدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصًا قَطُّ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتّٰى تُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي په رښتوني زړه سره لااله الاالله ووايي نو دهغه لپاره د آسمان دروازې خلاصي سي او د هغه کلمه تر عرش پوري رسيږي تر څو پوري چي هغه د لويو گناهو څخه ځان وساتي . ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ .

### تسبیحات د جنت درختي دي

(۲۲۰۷): وَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب اسنادا .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د معراج په شپه ما د ابراهیم علیه السلام سره (په اووم آسمان) کي ملاقات وکړ هغه وفرمایل : اې محمد ﷺ ! ته خپل امت ته زما سلام ورسوه او ورته ووایه چي د جنت خاوره پاکه ده او د جنت اوبه خوږې دي او ددې میدان د درختو څخه خالي دي او ددې درختي سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر دي . ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن د اسناد په اعتبار ضعیف دئ .

### اذکار او اوراد پر ګوتو باندي ویل غوره دي

(۲۲۰۸): وَعَنْ يُسَيْرَةَ وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

د حضرت یسیرة (رض) څخه روایت دئ چي موږ ته رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو سبحان الله او لااله الاالله ، سبحان الله الملك القدوس یا سبوح قدوس ربنا و رب الملائکة ویل پر ځان لازم کړئ او پر خپلو ګوتو یې شمیرئ ځکه چي د ګوتو څخه به پوښتنه کیږي او دا به جواب ورکوي او په دې کي غفلت مه کوئ کنه نو د الله رحمت به تاسو هیر کړي . ترمذي او ابوداؤد.

## دریم فصل

### غوره ورد او غوره دعاء

(۲۲۰۹): عَنْ سَعْدِ ابْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلِّمْنِي كَلَامًا أَقُولُهُ قَالَ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ فَقَالَ فَهَؤُلَاءِ لِرَبِّي فَمَا لِي قَالَ قُلْ اللّٰهُمَّ

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روایت دئ چي یو صحرایي د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي ما ته یو داسي کلمه وښیه چي زه یې وایم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا کلمه وایه : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا

اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِيْ وَ شَكَّ الرَّاوِيْ فِيْ عَافِنِيْ . رواه مسلم

حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ،هغه وویل: دا خو د الله لپاره سو اوس زما لپاره زاوښیه:

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا کلمات وایه: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِيْ، ددې حدیث راوي په عافني کې شك کړی دئ. مسلم

**په تسبیح سره د ګناهو سقوط**

﴿۲۲۱۰﴾: وَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مر على بِشَجَرَةٍ يَابِسَةِ الْوَرَقِ فَضَرَبَهَا بِعَصَاهُ فَتَنَاثَرَ الْوَرَقُ فَقَالَ إِنَّ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَلَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ لَتُسَاقِطُ مِنْ ذُنُوبِ الْعَبْدِ كَمَا تَسَاقَطَ وَرَقُ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د یوې درختې سره تیر سو چې د هغې پاڼې وچې وې ، رسول الله ﷺ د هغه ښاخ په لکړه ووهئ نو پاڼې ځینې شوه سوې پر مځکه ولوېدې، رسول الله ﷺ وفرمایل: الحمد لله، سبحان الله او لااله الاالله او الله اکبر ویلو سره د بنده ګناهونه داسې رژیږي لکه څرنګه چې ددې درختې پاڼې ورژېدلې. ترمذي ویلي دا حدیث غریب دئ.

**د لاحول ولاقوة فضیلت**

﴿۲۲۱۱﴾: وَعَنْ مَكْحُولٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثِرْ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ قَالَ مَكْحُولٌ فَمَنْ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا مَنْجَأَ مِنَ اللّٰهِ إِلَّا إِلَيْهِ كَشَفَ اللّٰهُ عَنْهُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ أَدْنَاهُنَّ الْفَقْرُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث ليس اسناده بمتصل ومكحول لم يسمع عن ابي هريرة .

حضرت محکول د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت کوي چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: لاحول ولاقوة الا بالله ډیر وایه ځکه چې دا د جنت یوه خزانه ده ، محکول وایي څوك چې لاحول ولاقوة الا بالله و لامنجا من الله الا الیه ، ووایي نو الله تعالی د هغه څخه د تاوان اویا دولونه لیرې کوي او مفلسي ددې دولو څخه یو کم دول دئ ، ترمذي ویلي دي ددې سند متصل نه دئ او د محکول اوریدل د ابوهریرة څخه ثابت نه دي.

﴿۲۲۱۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ دَوَاءٌ مِنْ تِسْعَةٍ وَتِسْعِينَ دَاءً أَيْسَرُهَا الْهَمُّ "

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: لاحول ولاقوة الا بالله، د یو کم سلو ناروغیو دوا ده چې په هغه کې معمولي ناروغي غم دئ. بیهقي

(۲۲۱۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلاَ اَدُلُّكَ عَلٰى كَلِمَةٍ مِّنْ تَحْتِ الْعَرْشِ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَسْلَمَ عَبْدِيْ وَاسْتَسْلَمَ . رواهما البيهقي في الدعوات الكبير

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاته يوه کلمه ونه ښيم چي د عرش د لاندي څخه او د جنت د خزانو څخه نازله سوې ده او هغه: لاحول ولاقوة الا بالله، ده هر کله چي بنده دا ووايي نو الله تعالی فرمايي: زما بنده فرمانبردار سو يا زما بنده خلاصون تر لاسه کړ او فرمانبردار سو، يا هغه ټول کارونه الله ته وسپارل، بيهقي.

(۲۲۱۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهُ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ هِيَ صَلاَةُ الْخَلاَئِقِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَلِمَةُ الشُّكْرِ وَلاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ كَلِمَةُ الْاِخْلاَصِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَاِذَا قَالَ الْعَبْدُ لاَحَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَسْلَمَ وَاسْتَسْلَمَ . رواه رزين

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي سبحان الله د مخلوقاتو عبادت دئ او الحمدلله د شکر کلمه ده او لااله الاالله د اخلاص کلمه ده او الله اکبر د آسمان او ځمکي منځ ډکوي او هر کله چي بنده لاحول ولاقوة الا بالله ووايي نو الله تعالی دهغه په جواب کي وايي زما بنده فرمانبردار سو او ډير فرمانبردار سو . رزين.

## بَابُ الْاِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ (د استغفار او توبې بيان)

### لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ توبه او استغفار**

(۲۲۱۵): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ اَكْثَرَ مِنْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً . رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په الله دي مي قسم وي زه په ورځ کي تر اويا واره زيات استغفار وايم او الله ته توبه کاږم . بخاري

(۲۲۱۶): وَعَنِ الْاَغَرِّ الْمُزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهُ لَيُغَانُ عَلٰى قَلْبِيْ وَاِنِّيْ لَاَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ . رواه مسلم

د حضرت اغر مزني ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په زړه کي يو دول راځي او زه په ورځ کي سل واره استغفار کوم . مسلم

(۲۲۱۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ فَإِنِّي أَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ . رواه مسلم

د حضرت اغر مزني ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو ! الله ته توبه کاږئ زه هم الله ته د ورځي سل واره توبه کاږم . مسلم

## د رجوع الى الله حکم

(۲۲۱۸): وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا رَوَى عَنْ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا عليكم ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا فَمَنْ

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هغه حدیثونو لړۍ چي رسول الله ﷺ به د لوی الله تعالی څخه روایې کول چي الله تعالی فرمایي: اې زما بندګانو! ما پر خپل ځان ظلم حرام کړئ دئ او ستاسو په منځ کي مي هم ظلم حرام کړئ دئ، نو تاسو په خپل منځ کي ظلم مه کوئ اې زما بندګانو تاسو ټول شاهدان یاست خو هغه سړی پر سیده لاره دئ چي هغه ته ما هدایت وکړ نو تاسو زما څخه هدایت غواړئ زه به هدایت درکوم ، اې زما بندګانو تاسو ټول وږي یاست خو نه هغه څوك چي هغه ته زه خوراك ورکړم ، نو تاسو زما څخه خوراك وغواړئ زه به یې درکړم، اې زما بندګانو تاسو ټول لوڅ یاست خو نه هغه څوك چي هغه ته ما د اغوستلو لپاره ورکړل، نو زما څخه جامې وغواړئ زه به یې درکړم، اې زما بندګانو تاسو په شپه او ورځ کي خطاوي کوئ او زه ستاسو ټول ګناهونه بخښم نو تاسو زما څخه بخښنه وغواړئ نو زه به مو وبخښم، اې زما بندګانو ! که تاسو په ګناه کولو سره ما ته ضرر رسول و غواړئ نو هیڅکله ضرر راته نه سئ رسولای او که په نیکو کارونو سره ګټه رسول راته وغواړئ نو په هیڅ شي راته ګټه

وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدْ اللّٰهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. رواه مسلم

نـه رسـيـږي ، يعنـي ستاسـو گـنـاه کولـو او فرمانبرداري کولو سره ما ته هيڅ گټه او تاوان نه رسيږي، اې زما بندگانو ! که ستاسو مخکني او وروستني ستاسو انسانان او پيريانان ستاسو د يو ډير پرهيزگاره کس په ډول جوړ سي نو زما په ملکيت کي په دې سره هيڅ زياتي نه کيږي ، اې زما بندگانو ! که ستاسو مخکني او وروستني او ستاسو ټول انسانان او پيريانان د يو ډير بدتر او فاجر سړي په ډول سي نو په دې سره زما په ملکيت کي هيڅ کمي نه راځي ، اې زما بندگانو ! که ستاسو مخکني او وروستني او انسانان او پيريانان يو ځای ودريږي بيا زما څخه وغواړي نو زه به هر انسان ته د هغوئ د غوښتلو سره سم ورکړم نوزما دا ورکول به ددې شي څخه چي زما سره دي دومره هم کم نه کړي څومره چي يوه ستن په درياب کي ننه ايستلو سره د هغه اوبه کموي، اې زما بندگانو ! زه ستاسو اعمال په ياد لرم او ليکم يې، او زه به تاسو ته د هغه پوره بدله درکوم، نو څوك چي خير تر لاسه کړي هغه ته د الله تعالی تعريف کول پکار دي او څوك چي د خير څخه پرته بل څه تر لاسه کړي يعني بدي، نو خپل ځان دي ملامت کړي چي دا دهغه کار دئ . مسلم.

**توبه او د الهي رحمت وسعت**

(۲۲۱۹): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ إِنْسَانًا ثُمَّ خَرَجَ يَسْأَلُ فَأَتَى رَاهِبًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ تَوْبَةٌ قَالَ لَا فَقَتَلَهُ فَجَعَلَ يَسْأَلُ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ ائْتِ قَرْيَةَ كَذَا وَكَذَا فَأَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَنَاءَ بِصَدْرِهِ نَحْوَهَا فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَأَوْحَى اللّٰهُ إِلَى هٰذِهِ أَنْ تَقَرَّبِي إِلَى هٰذِهِ أَنْ تَبَاعَدِي فَقَالَ قِيسُوا مَا بَيْنَهُمَا فَوُجِدَ إِلَى هٰذِهِ أَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ . متفق عليه

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په بني اسرائيلو کي يو سړی وو چي هغه يو کم سل وژني کړي وې ، بيا هغه په بني اسرائيلو کي د پوښتني کولو لپاره گرځيدئ چي د هغه توبه قبليدای سي که نه ؟ هغه يو عابد ته ورغلئ د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي ايا زما توبه قبليدای سي ؟ هغه عابد ورته وويل :يا . نو هغه عابد يې هم ووژئ ، او بيا همداسي گرځيدی د خلکو څخه يې پوښتنه کول بيا يو سړي هغه ته وويل تـه فلاني ځای تـه ولاړ سه او نوم او پته يې ورکړه (نو هلته ورغلئ) په لاره کي ورته څرگنده سوه چي مرگ يې نژدې دئ (يعني هغه مرگ ته په نژدې کيدو سره نيمه لاره وهلې وه) نو خپل سينه يې د هغه آبادی په لور ور وړاندي کړه (يعني کله چي هغه مړ سو نو هغه پريوتئ او په څکيدو سره يې خپله سينه د هغه ابادی په لور کړه هغه تر نيمي لاري ډير مصافه

وهلې وه) د مرګ ملائکې چې په هغو کې د رحمت ملائکې او د عذاب ملائکې دواړې وې د هغه د روح قبض کولو لپاره راغلې او د دواړو په منځ کې جګړه سوه چې څوک د هغه روح قبض کړي ، الله تعالی هغه آبادۍ ته حکم ورکړ چې هغه مړی ځان ته نژدې کړي یا مړي ته نژدې سي او د کومې ابادۍ څخه چې هغه تللی وو هغه ته یې حکم ورکړ چې تـه د مړي څخه لیرې سه ، بیا الله تعالی جګړه کونکو ملائکو ته وویل تاسو د دواړو فاصله اندازه کړئ د اندازې څخه څرګنده سوه چې هغه په کوم تلئ د هغه اندازه یوه لوېشت کمه ده یعني دی هغې ته یوه لوېشت زیات نژدې وو نو الله تعالی هغه و بخښی . بخاري او مسلم

(۲۲۲۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللّٰهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللّٰهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما دې پـه هغـه ذات قسم وي چې د هغه په لاس کې زما روح ده که تاسو ګناه نه کوئ نو الله تعالی به ستاسو د ختمولو څخه وروسته ستاسو پر ځای یو داسې قوم راولي چې ګناه به کوي او د الله څخه به بخښنه غواړي بیا به الله تعالی د هغوئ ګناهونه بخښي . مسلم.

(۲۲۲۱): وَعَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا. رواه مسلم

د حضـرت ابـو موسـی ﷺ څخـه روایـت دئ چې رسـول الله ﷺ وفرمایـل : الله تعـالی خپـل لاس د شپې اوږد کـړي چې د ورځـې ګناه کـونکي توبـه وکـاږي او د ورځـې خپـل لاس خپـور کـړي چې د شپې ګناه کونکي توبه وکاږي او هغه یې توبه قبوله کړي او دا لړۍ تر هغه وخته روانه وي تر څو پورې چې لمر د لوېدیځ څخه راوخیژي یعنې قیامت سي . مسلم.

## الله ﷻ توبه قبلوي

(۲۲۲۲): وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې بنده د خپلې ګناه اقرار وکړي او بیا توبه وکاږي نو الله تعالی د هغـه توبـه قبلوي . بخاري او مسلم

(۲۲۲۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د لمر د لوېديځ څخه د راختلو وړاندي توبه وكاږي الله تعالى دهغه توبه قبلوي. مسلم

**الله ﷻ په توبه سره ډېر خوشحاله كيږي**

(۲۲۲۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللّٰهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ . رواه مسلم

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي يو بنده الله تعالى ته توبه وكاږي نو هغه د خپل بنده په توبې سره ډير خوشحاله سي دومره زيات په خوشحاله سي چي هغومره خوشحاله به په تاسو كي هيڅوك هم نه وي چي پر خپله سپرلۍ په يو ميدان كي روان وي بيا هغه سپرلۍ څيني وركه سي او پر هغه د خوراك او څښاك شيان هم وي او هغه د پيدا كېدو څخه نااميده سي د يوې درختي په لور راغلئ او دهغې په سايه كي ناست وي او په هغه نااميدي كي پته خوله او غم زيلی پروت وي چي ناڅاپه هغه سپرلۍ راسي او د هغه سره ودريږي ، هغه يې رسۍ نيولي وي او د زياتي خوشحالۍ په سبب د هغه د خولې څخه (دا غلط الفاظ) وتلي وي چي اې الله ته زما بنده يې او زه ستا پروردگار يم. مسلم

**الله ﷻ په وار وار توبه قبلوي**

(۲۲۲۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عَبْدًا أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ فَاغْفِرْهُ فَقَالَ رَبُّهُ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْهُ فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا قَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ آخَرَ فَاغْفِرْهُ لِي فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو بنده يوه گناه وكړي بيا ووايي اې پروردگاره! ما گناه كړې ده ته يې رامعاف كړې ، ددې په اورېدو سره الله تعالى ملائكو ته وايي زما بنده ته ددې علم دئ چي د هغه يو پروردگار سته چي گناهونه بخښي هم او نيول هم په كوي، نو ما د خپل بنده گناه و بخښل، بيا څو ورځي بنده د گناه څخه منع وي ددې وروسته يې بيا گناه وكړه او وه يې ويل: اې

| | |
|---|---|
| أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي فَلْيَعْمَلْ مَا شَاءَ . متفق علیه | پروردگاره ! ما گناه کړي ده ته يې رامعاف کړې ، الله تعالی ملائکو ته وايي ايا زما بنده پوهيږي |

چي د هغه يو پروردگار دئ چي گناه بخښي هم او په گناه نيول هم کوي، ما هغه و بخښئ، بيا بنده د گناه څخه منع وي تر څو پوري چي الله تعالی غواړي او ددې وروسته بيا بنده گناه کوي او وايي اې ربه ! ما يوه بله گناه کړې ده هغه را وبخښې ، الله تعالی ملائکو ته وايي ايا زما بنده ته دامعلومه ده چي دده يو رب دئ چي گناهونه معاف کوي او په گناهو نيول هم کوي، ما هغه و بخښئ، اوس چي يې څه خوښه وي کوي دي يې . بخاري او مسلم.(څه چي يې خوښه وي ، مطلب په دې کي رغبت ورکول دي توبې او استغفار ته نه د گناه). امام نووي.

**گناه کار ته دوزخي مه واياست**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۲۲۶﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ وَاللَّهِ لَا يَغْفِرُ اللَّهُ لِفُلَانٍ وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ أَوْ كَمَا قَالَ . رواه مسلم | د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو حديث بيان کړ چي يو سړي دا وويل چي په الله دي مي قسم وي فلانی الله نه بخښي، او الله تعالی وفرمايل : څوك دئ چي په ما قسم خوري چي زه به فلانی نه بخښم، نو ما هغه |

فلانی سړی و بخښئ او ستا عمل مي ضائع کړ ، يا داسي نور الفاظ يې ويلي وه . مسلم .

**دعاء او استغفار**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۲۲۷﴾: وَعَنْ شَدَّادِ ابْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُولَ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ قَالَ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ . رواه البخاري | د حضر شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سيد الاستغفار دادئ چي ته په دې الفاظو سره استغفار وکړې : اللهم انت ....، اې الله ! ته زما رب يې ستاسو څخه پرته هيڅوك د عبادت وړ نسته تا زه پيدا کړم او زه ستا بنده يم او ستا په عهد کي يم ، او ستا پر وعده يم د خپل توان سره سم ستا په ذريعه پناه غواړم د هغه بدۍ څخه چي ما کړې ده زه ستا د نعمتونو اقرار کوم چي تا پر ما پيرزو کړي دي او د خپلو گناهو هم اعتراف کوم ته ما و بخښې ځکه چي ستا څخه پرته بل څوك بخښونکی |

نه سته ، رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چي ددې کلماتو په مفهوم یقین ولري د ورځې یې ووایي او په هغه ورځ تر ماښام وړاندې مړ سي نو هغه جنتي دئ او څوک چي دا کلمې د شپې ووایي او ددې پر معنیٰ یقین ولري او تر سهار کېدو وړاندې مړ سي نو هغه جنتي دئ . بخاري.

## دویم فصل

**د الله ﷻ د بخښني هیڅ انتهاء نسته**

(۲۲۲۸): عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلٰی مَا كَانَ فِيكَ وَلَا اُبَالِي يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا اُبَالِي يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ لَقِيتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً . رواه الترمذي و رواه احمد والدارمي عن ابي ذر وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی فرمایي : اې انسانه ! تر څو پوري چي ته زما څخه دعاء غواړې اوزما څخه امید لرې زه به تا بخښم که څه هم تا هر څومره بد کار کړی وي او ما ته ددې پروا نسته ، اې انسانه که ستا ګناه آسمان ته هم ورسیږي او بیا هم ته زما څخه عفوه او بخښنه وغواړې نو زه به تا و بخښم او زما په دې هیڅ پروا نسته ، اې انسانه که ته زما سره په داسي حال کي یو ځای سې چي ستا د ګناهونو څخه مځکه ډکه وي او زما سره دي هیڅ شی نه وي شریك کړی نو زه تاته دډکي مځکي د بخښني سره راځم ، ترمذي او احمد او دارمي ؛ داحدیث د حضرت ابوذر څخه روایت کړئ دئ ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ .

**د مغفرت یقین وساتئ**

(۲۲۲۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی مَنْ عَلِمَ أَنِّي ذُوْ قُدْرَةٍ عَلٰی مَغْفِرَةِ الذُّنُوْبِ غَفَرْتُ لَهٗ وَلَا اُبَالِيْ مَا لَمْ يُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا . رواه في شرح السنة

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی فرمایي : څوك چي په دې خبره پوه سي چي زه په ګناهو بخښلو پوره اختیار لرم نو زه یې بخښم خو په دې شرط چي زما سره هیڅوك شریك نه کړي . شرح السنة

**د استغفار فضیلت او اثر**

(۲۲۳۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَزِمَ الْاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللّٰهُ لَهٗ مِنْ كُلِّ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي استغفار پر

| | |
|---|---|
| ضِيقٍ مُخْرِجًا وَّمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَّرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ. رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه | خان لازم کړي نو الله تعالی د هري تنګی څخه د راوتلو لاره د هغه لپاره جوړه کړي او د هر غم |

او فکر څخه هغه ته خلاصون ورکوي او دداسي ځای څخه هغه ته رزق ورکوي چي د هغه ځای څخه د هغه ګمان هم نه وي . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

| | |
|---|---|
| (۲۲۳۱): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً . رواه الترمذي وأبو داود | د حضرت ابوبکر صدیق ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي په ورځ کي اویا واره په ګناه کولو سره استغفار وکړ ، هغه لکه |

په ګناه کولو چي اصرار ونه کړي (یعني همیشه یې هغ ګناه نه وکړل) ترمذي او ابوداؤد.

**د توبه کونکي فضیلت**

| | |
|---|---|
| (۲۲۳۲): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَنِيْ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي | د حضرت انس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر انسان خطا کونکی دئ او غوره خطا کونکی هغه دئ چي توبه کونکی وي . ترمذي ، ابن ماجه او دارمي |

**د ګناهو په زیاتوب سره پر زړه زنګ لګیږي**

| | |
|---|---|
| (۲۲۳۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ المومن اذا اذنب كانت نكتة سوداء في قلبه فان تاب واستغفر صُقِلَ قلبه وان زادت حتى تعلو قلبه فذلكم الران الذي ذكر الله تعالى كلا بل ران على قلوبهم ماكانوا يكسبون. رواه احمد و الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح . | د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي مؤمن ګناه کوي نو د هغه پر زړه یو تور ټکی پیداسي بیا چي کله هغه توبه وکاږي نو د هغه زړه صاف سي او هر کله چي هغه زیاته ګناه کوي نو هغه ټکی زیاتیږي تر دې چي ټول زړه تور سي نو دا هغه زنګ دئ چي الله تعالی په دې الفاظو سره ذکر کړئ دئ : کلا بل ران علی قلوبهم .... ، هیڅکله نه بلکه |

دا د هغوئ پر زړو د هغه شي زنګ دئ چي هغوئ به کوئ (یعني ګناه) احمد ، ترمذي، او ابن ماجه، ترمذي ویلي دا حدیث حسن صحیح دئ .

**د توبې د قبلېدو اخري وخت**

| | |
|---|---|
| (۲۲۳۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی د بنده توبه تر هغه |

يُغَرْغِرْ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

وخته پورې قبلوي تر څو پورې چي غرغره يې نه وي کړی (يعني مرګ ورته رانه سي) ترمذي.

**د الله ﷻ مغفرت وسعت**

(۲۲۳۵): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَالَ وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ فَقَالَ الرَّبُّ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وارتفاع مكاني لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُونِي .رواه احمد

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شيطان خپل پروردګار ته عرض وکړ چي اې ربه ! ستا په عزت دي مي قسم وي زه به هميشه ستا بندګان ګمراه کوم تر څو پورې چي د هغوئ روحونه د هغوئ په بدنو کي وي ، الله تعالی ورته وفرمايل : او زما دي په خپل عزت او جلال او لوړي مرتبې قسم وي تر څو پورې چي زما بندګاه زما څخه بخښنه غواړي نو زه به يې هميشه بخښم . احمد.

**د توبې دروازه**

(۲۲۳۶): وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ بِالْمَغْرِبِ بَابًا عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ لَا يُغْلَقُ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ مِنْ قِبَلِهِ وَذَلِكَ قَوْلُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ: يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لم تكن امنت من قبل . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت صفوان بن عسال ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی د لويديځ په لور د توبې يوه دروازه خلاصه کړې ده چي د هغې عرض د اويا کاله مسافت دئ او دا دروازه به تر هغه وخته پورې نه بنديږي تر څو پورې چي لمر د لويديځ څخه را ونه خيژي (يعني قيامت نه سي) . ترمذي او ابن ماجه .

**د توبې د قبلېدو انقطاع**

(۲۲۳۷): وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا . رواه احمد و ابوداؤد والدارمي

د حضرت معاوية ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هجرت به بند نه سي (يعني د ګناهو څخه د توبې په لور رجوع کول) تر څو پورې چي توبه بنده نه سي او توبه به تر هغه وخته پورې نه بنديږي تر څو چي لمر د لويديځ څخه راونه خيژي . احمد ، ابوداؤد او دارمي

**ګناه کار د الله ﷻ رحمت څخه مه مايوسه کوئ**

(۲۲۳۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَنِي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په بني اسرائيلو کي دوه کسان

إِسْرَائِيلَ مُتَحَابَّيْنِ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِد فِي الْعِبَادَةِ وَ الْآخَرُ يَقُولُ مُذْنِبٌ فَجَعَلَ يَقُولُ أَقْصِرْ عَمَّا أَنْتَ فِيهِ فَيَقُولُ خَلِّنِي وَرَبِّي حَتَّى وَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ اسْتَعْظَمَهُ فَقَالَ أَقْصِرْ قَالَ خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا فَقَالَ وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَوْ لَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ ادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي وَقَالَ لِلْآخَرِ أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تَخْطُرَ عَلَى عَبْدِيْ رَحْمَتِيْ فَقَالَ لَا يَا رَبِّ قَالَ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ . رواه احمد

وه چي په خپل منځ كي يې ډيره مينه ذرلودل، په هغوئ كي يو دير عبادت كونكى وو او دويم به ويل زه گناه كار او خطاكار يم ، عبادت كونكى ملگري به ورته ويل په كوم شي چي تـه اختـه يې هغه پريږده ، هغه به ددې په جواب كي ويل زما پروردگار پـوه سو او زه، يـوه ورځ عبادت گزاره ملگري هغه گناه كاره ملگري په يو گناه كي اخته وليدئ چي د هغه په نظر لويـه گناه وه او هغـه تـه يې وويـل چي تـه ددې څخه منع سـه، هغـه ورتـه وويل : زما معامله زما پروردگار ته پريږده، ايا ته زما ساتونكى جوړ سوى يې، عابد ملگري ورته وويل : قسم په خداى الله بـه تـا هيڅكله ونه و بخښي او نه به دي جنت ته داخل كړي ، نو الله تعالى د مرگ ملائكه د هغوئ د روحو قبض كولو لپاره راوليږل كله چي د هغوئ روحونه د خداى په حضور كي حاضر كړل سول نو الله تعالى د هغه گناه كار روح ته وويل : ته زما د رحمت په ذريعه جنت كي داخل سه او د عابد روح ته يې وفرمايل: ايا تـه دومره تـوان لـرې چي زما بنده زما د رحمت څخه محروم كړې ؟ هغه عرض وكړ اې زما پروردگاره ! په ما كي دومره توان نسته نو الله تعالى ملائكو ته حكم وركړ چي دى دوږخ ته بوزئ. احمد.

## گناه كار دي د الله ﷻ رحمت څخه نه نااميده كيږي

(٢٢٣٩): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ { يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا }وَلَا يُبَالِي . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

و في شرح السنة يقول بدل يقرا .

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) روايت دئ چي مـا د رسـول الله ﷺ څخـه دغـه آيت واوريـدئ: ياعبادي الذين ..... اې زما هغـه بندگانو چي په گناه كولو سره يې پر خپل ځان زياتي كړي دي تاسو د الله د رحمت څخه مه نا اميده كيږئ ځكه چي الله تعالى ټول گناهونه معاف كونكى دئ ، او رسول الله ﷺ په پاى كي وفرمايل : چي هغـه پـروا نـه لـري . احمد ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ او په شرح السنة تر يقول بدا يقرا پوري راغلي دئ .

(۲۲۴۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى إِلَّا اللَّمَمَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ تَغْفِرِ اللَّهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب .

حضرت ابن عباس ﷺ د الله تعالى د دې قول (الا اللمم) په تفسير كې فرمايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! كه يې ته بخښې نو د بندگانو لوى گناهونه و بخښې ځكه چې ستا كوم بنده دئ چې هغه به كوچني گناهونه نه وي كړي . ترمذي دا حديث حسن صحيح غريب دئ . (الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلاَّ اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلاَ تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى) .

**د بنده په عبادت او معصيت سره د الله ﷻ په خدايي كې هيڅ تاثير نه راځي**

(۲۲۴۱): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَسَلُونِي الْهُدَى أَهْدِكُمْ وَكُلُّكُمْ فَقِيرٌ إِلَّا مَنْ أَغْنَيْتُ فَسَلُونِي أَرْزُقْكُمْ وَكُلُّكُمْ مُذْنِبٌ إِلَّا مَنْ عَافَيْتُ فَمَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى الْمَغْفِرَةِ فَاسْتَغْفَرَنِي غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا زَادَ ذَلِك فِي مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَشْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْكُمْ مَا بَلَغَتْ أُمْنِيَّتُهُ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ سَائِلٍ مِنْكُمْ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي إِلَّا كَمَا لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ مَرَّ بِالْبَحْرِ فَغَمَسَ فِيهِ إِبْرَةً ثُمَّ رَفَعَهَا إِلَيْهِ ذَلِكَ بِأَنِّي جَوَادٌ

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: تاسو ټول گمراه ياست پرته د هغه چا څخه چا ته چې ما هدايت كړى وي نو زما څخه هدايت غواړئ زه به هدايت دركوم ، تاسو ټول فقيران او اړ ياست پرته د هغه چا څخه چې ما شتمن كړ نو تاسو زما څخه رزق غواړئ زه به يې دركوم ، تاسو ټول گناه كار ياست پرته د هغه چا څخه چې ما د گناه څخه وساتئ له دې كبله څوك چې په تاسو كې په دې خبره پوه سي چې زه د معافي وركولو پوره توان لرم او بيا زما څخه د معافي غوښتونكي سي نو زه به هغه و بخښم او زما پر دې هيڅ پروا نسته ، او كه ستاسو ژوندي او ستاسو مړي او ستاسو لانده او ستاسو وچ (يعني ځوانان او سپين ږيري) ټول مخلوقات زما د يو پرهيزگار بنده په ډول سي نو په دې سره زما په ملكيت كې د غوماشي د وزر په اندازه هم څه زياتي نه راځي او كه ستاسو مخكني او وروستني او ستاسو

مَاجِدٌ أَفْعَلُ مَا أُرِيدُ عَطَائِي كَلَامٌ وَعَذَابِي كَلَامٌ إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُهُ أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ . رواه احمد والترمذي و ابن ماجة .

ژوندي او ستاسو مړي او ستاسو لانده او ستاسو وچ يعني ټول مخلوقات زما د يو بدبخت بنده په ډول سي نو زما په ملکيت کي د غوماشي د وزر په اندازه کمي نه راځي ، او که ستاسو مخکني او وروستني ستاسو ژوندي او مړي او ستاسو لانده او وچ ټول يو ځای سي او په تاسو کي هر يو زما څخه و غواړي او زه هر چا ته د هغه د غوښتني سره سم ورکړم نو په دي زما په ملکيت کي دومره هم کمي نه راځي څومره چي ستن په اوبو کي د ډوبېدو سره د درياب څخه اوبه راپورته کوي . ددي سبب دادئ چي زه ډير سخي يم څه چي غواړم هغه کوم ، زما ورکول يوازي حکم کول دي او زما عذاب يوازي زما حکم کول دي کله چي زه د يو شي اراده وکړم نو يوازي دومره وايم چي سه، نو هغه و سي . احمد، ترمذي او ابن ماجه.

**د شرک څخه ساتونکي ته د بخښني زيري**

(۲۲۴۲): وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَرَأَ { هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ } قَالَ قَالَ رَبُّكُمْ أَنَا أَهْلٌ أَنْ أُتَّقَى فَمَنْ اتَّقَانِي فَأَنَا أَهْلٌ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه یې نقل کوي چي رسول الله ﷺ دغه آيت تلاوت کړ : (هو اهل التقوی.....): (دی خاوند د تقوا دي او خاوند د بخښني دی)، وويل رسول الله ﷺ چي ويلي دي رب ستاسو : زه لائق يم چي وبيرېږي خلك زما څخه نو څوك چي وبيرېږي زما څخه نو زه لايق ددي يم چي بخښنه وکړم ده ته . ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

**د رسول الله ﷺ توبه او استغفار**

(۲۲۴۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ يَقُولُ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ مِائَةَ مَرَّةٍ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کوم ځای تشريف فرما وو نو موږ به د رسول الله ﷺ استغفار ويل شميرل ، رسول الله ﷺ به په يوه ناسته کي سل واره دا کلمات فرمايل : رب اغفرلي و تب علي انك انت التواب الغفور ، احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

**د زړه په صدق سره استغفار کول**

(۲۲۴۴): وَعَنْ بِلَالِ بْنِ يَسَارِ بْنِ زَيْدٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَدِّي أَنَّهُ سَمِعَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت بلال بن يسار بن يزيد ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه د رسول الله ﷺ څخه واوريدل څوك چي أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الْعَظِيمَ

وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ قَالَ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ غُفِرَ لَهُ وَإِنْ كَانَ قد فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ . رواه الترمذي و ابوداؤد لكنه عند ابي داؤد هلال بن يسار و قال الترمذي هذا حديث غريب .

الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، وايي د هغه گناهونه بخښل كيږي كه څه هم د جهاد څخه تښتېدلى وي . ترمذي، او ابوداؤد، مگر ابوداؤد وايي چي راوي بلال بن يسار نه دئ بلكه هلال بن يسار دئ ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

## دريم فصل

### د خپل مرو لپاره استغفار كوئ

(۲۲۴۵): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ لِلْعَبْدِ الصَّالِحِ فِي الْجَنَّةِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَنَّى لِي هَذِهِ فَيَقُولُ بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ . رواه احمد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت كي الله تعالى د خپل يو نيك بنده درجه لوړوي نو هغه بنده پوښتنه كوي اې پروردگاره ! ما ته دا درجه څنگه راكړل سول؟ نو الله تعالى ورته فرمايي : ستا د زوى د استغفار په بركت . احمد .

### د مړو لپاره غوره تحفه استغفار دى

(۲۲۴۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما الميت في القبر إلا كالغريق المتغوث ينتظر دعوة تلحقه من أب أو أم أو اخ أو صديق فإذا لحقته كان أحب إليه من الدنيا وما فيها وإن الله تعالى ليدخل على أهل القبور من دعاء أهل الأرض أمثال الجبال وإن هدية الأحياء إلى الأموات الاستغفار لهم . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په قبر كي د مړي حالت داسي وي څرنگه چي د ډوبېدونكي سړي وي ، هغه هر وخت د خپلو قريبانو يعني مور، پلار، وروريا ملگري د لوري د دعاء په انتظار وي او كوم وخت چي هغه دعاء ورته ورسوي نو د هغه په نزد د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه زيات عزيز وي او الله تعالى قبر والا ته د دنيا والا د دعاء دومره لوى ثواب رسوي لكه غر ، او د ژوندو د لوري د مړو لپاره غوره هديه استغفار دئ ، بيهقي

### د استغفار فضيلت

(۲۲۴۷): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ قَالَ رسول

د حضرت عبدالله بن بسر ﷺ څخه روايت دئ چي

اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُوبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِي صَحِيفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيرًا . رواه ابن ماجة و روي النسائي في عمل يوم والليلة .

رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه چا لپاره خوشخبري ده چي د هغه په عمل نامه کي ډير استغفار تر لاسه سي ، ابن ماجه او نسائي په خپل کتاب عمل يوم وليلة کي نقل کړی دئ.

**د رسول الله ﷺ يو دعاء**

(۲۲۴۸): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ الَّذِينَ إِذَا أَحْسَنُوا اسْتَبْشَرُوا وَإِذَا أَسَاءُوا اسْتَغْفَرُوا . رواه ابن ماجة والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دا فرمايل : (اللهم اجعلني.... استغفرو .) اي الله ! ما د هغه خلکو څخه وګرځوې چي کله هغوئ نيکي وکړي نو خوشحاله سي او کله چي بدي وکړي نو معافي وغواړي . ابن ماجة او بيهقي.

**الله ﷻ د خپل بنده په توبه سره خوشحاله کيږي**

(۲۲۴۹): وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ حَدِيْثَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ قَالَ إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرٰى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يُخَافُ أَنْ يَّقَعَ عَلَيْهِ وَإِنَّ الْفَاجِرَ ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلٰى أَنْفِهِ فَقَالَ بِهِ هٰكَذَا أَيْ بِيَدِهِ فَذَبَّهُ عَنْهُ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ نزل فِي أَرْضٍ دَوِّيَّةٍ مَهْلِكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فوضع راسه فَنَامَ نومة فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ راحلته فَطَلَبَهَا حَتّٰى اذا اشتد عليه الحر و العطش او ماشاء الله قَالَ أَرْجِعُ إِلٰى مَكَانِيَ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ فَأَنَامُ حَتّٰى أَمُوتَ فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلٰى سَاعِدِهِ لِيَمُوتَ فَاسْتَيْقَظَ فاذا رَاحِلَتُهُ عِنْدَهُ وَعَلَيْهَا زَادُهُ وَشَرَابُهُ

د حضرت حارث بن سويد ﷺ څخه روايت دئ چي موږ ته عبد الله ابن مسعود ﷺ دوه حديثونه بيان کړل يو د رسول الله ﷺ د لوري څخه او دويم د خپل ځان د لوري څخه، هغه وويل : مؤمن خپل ګناهونه داسي ګڼي لکه هغه چي تر يو غره لاندي ناست وي او په بيره کي وي چي غرور باندي راونه لويږي ، او فاجر او بد کار سړی خپل ګناهونه داسي ګڼي لکه يو مچ چي د هغه پر پزه الوځي نو په لاس سره يې اشاره وکړي او مچ والوزوئ، ددې وروسته عبد الله بن مسعود ﷺ وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي الله تعالى د خپل مؤمن بنده په توبې سره ډير خوشحاله کيږي يعني تر هغه چا هم زيات کوم چي په يو بې اوبو او بې وښو وچ دښت کي روان وي د هغه سره سپرلی هم وي او پر سپرلی باندي اوبه او خوراك هم وي هغه په يو ځای کي،

فَاللّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ مِنْ هٰذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ. روی مسلم المرفوع الی رسول الله صلی الله علیه وسلم منه فحسب و روی البخاري الموقوف علی ابن مسعود ایضا .

پریوزي او بیده سي بیا چي راویښ سي نو ویني چي د هغه سپرلۍ ورکه ده ، هغه د سپرلۍ په لټه کي ووتئ او هر کله چي سختي گرمۍ او تندي کي راګیر سو هغه چي اراده وي د خدای ﷻ نو هغه وویل ، هغه ځای ته بیرته ځم په کوم ځای کي چي مخکي وم او هلته به بیده سم تر څو چي مړ سم ، نو هغه پر خپل لاس سر کښېښودئ او د مرگ په انتظار کي پریوتئ بیا چي سترگي یې ولغړېدلې نو ویني چي خپله سپرلۍ یې ورسره ولاړه ده او خوراك او څښاك هم پر هغه وه هغه سړي ته چي د سپرلۍ، خوراك او څښاك په تر لاسه کولو سره څومره خوشحالي ورسیده الله تعالی تر هغه زیات د مؤمن بنده په توبه خوشحاله کیږي ، مسلم په مرفوع طریقه سره روایت کړئ دئ او بخاري موقوف بیان کړئ دئ .

(۲۲۵۰): وَ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُفَتَّنَ التَّوَّابَ . رواه احمد

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی خپل مؤمن بنده ډیر خوښوي چي په گناهو کي اخته کیږي مگر ډیره توبه کاږي . احمد

**د ایت (لاتقنطوا....) فضیلت**

(۲۲۵۱): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا أُحِبُّ أَنَّ لِي الدُّنْيَا بِهٰذِهِ الْآيَةِ { يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا ... } فَقَالَ رَجُلٌ فَمَنْ أَشْرَكَ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ أَلَا وَ مَنْ أَشْرَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه احمد

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې: زه تر دې دنیا دغه آیت خوښوم{ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا ...}، نویو سړي پوښتنه وکړه چا چي شرك وکړ ؟ (نو ایا هغه به هم ددې آیت سره سم و بخښل سي) رسول الله ﷺ ددې جواب نه ورکړ، بیا لږ وروسته یې وفرمایل :خبر دار اوسه هغه څوك هم چي هغه شرك کړی وي ، درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمایل. احمد.

**شرك د الله ﷻ د رحمت او د بنده په مینځ کي پرده ده**

(۲۲۵۲): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى لَيَغْفِرُ لِعَبْدِهِ مَا لَمْ يَقَعِ الْحِجَابُ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا الْحِجَابُ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی خپل بندگان بخښي تر څو پوري چي د بنده او د حق د رحمت په منځ

؟ قَالَ أَنْ تَمُوْتَ النَّفسُ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ . روى الأحاديث الثلاثة أحمد وروى البيهقي الأخير في كتاب البعث والنشور

کي پرده حائل نه وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! هغه پرده څه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا چې د شرك په حالت کي ځوك مړ سي، دري ذکر سوي حديثونه احمد بيان کړي دي ، او آخري حديث بيهقي.

**د الله ﷻ په دربار کي د شرک څخه پرته هره ګناه د عفو قابل ده**

(۲۲۵۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَقِيَ اللّٰهَ لاَ يَعْدِلُ بِه شَيْئًا فِي الدُّنْيَا ثُمَّ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلَ جِبَالٍ ذُنُوْبٌ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ . رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ځوك چي د الله تعالی سره په داسي حال کي يو ځاى سي چي هيڅوك د هغه شريك نه وګڼي نو که پر هغه د غره په اندازه ګناه هم وي الله به يې و بخښي . بيهقي

**توبه کونکی دګناه نه کونکی په ډول دی**

(۲۲۵۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَّ ذَنْبَ لَهُ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان وقال تفرد به النهراني وهو مجهول . وفي ( شرح السنة ) روي عنه موقوفا قال الندم توبة والتائب کمن لا ذنب له .

د حضـرت عبـد الله ابـن مسـعود ﷺ څخـه روايـت دئ چـي رسـول الله ﷺ وفرمايـل : د ګناه څخه توبه کونکی انسان داسي (پاك دئ) لکه هغه چي ګناه کړې هم نه وي، ابن ماجه او بيهقي

## بَابُ فِيْ سَعَةِ رَحْمَتِه (د الله ﷻ د رحمت پراخوالی)

### لومړی فصل

**د الله ﷻ رحمت د هغه پر غضب غالب دی**

(۲۲۵۵): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَّا قَضَى اللّٰهُ الْخَلْقَ كَتَبَ كتابا فهو عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِه إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي و في رواية غلبت غضبي . متفق عليه

د حضـرت ابـو هريرة ﷺ څخـه روايـت دئ چي رسـول الله ﷺ وفرمايـل : کلـه چي الله تعـالی د خپـل مخلـوق د پيـدا کولـو اراده وکړه نـو يـو کتاب يې وليکئ چي هغه په عرش کي شتون لري په دې کتاب کي دا الفاظ دي (ان رحمتي سبقت غضبي) زما رحمت زما تر غضب وړاندي والی تر لاسه کړ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي زما رحمت زما پر غصه غالب سو. بخاري او مسلم

**د الله ﷻ د رحمت وسعت**

(٢٢٥٦): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلّٰهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ فَبِهَا يَتَعَاطَفُونَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلَى وَلَدِهَا وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه و في رواية لمسلم عن سلمان نحوه وفي اخره قال فاذا كان يوم القيامة اكملها بهذه الرحمة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى سره سل رحمتونه دي په هغو کي يې يو رحمت پر پيريانانو، انسانانو، حيوانانو او زهرجنو حيوانانو باندي نازل کړئ دئ، ددې رحمت په سبب هغوئ په خپل منځ کي رحم کوي، او ددې په سبب وحشي حيوانان پر خپل اولاد رحم کوي، او نهه نيوي رحمتونه الله تعالى د قيامت لپاره ساتلي دي چي په هغو به پر خپلو بندګانو رحم کوي. بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي هر کله چي د قيامت ورځ سي نو الله تعالى به دا نهه نيوي رحمتونه ددغه يوه رحمت سره پوره کړي.

**بنده ته په بين الخوف والرجاء کي اوسيدل پکار دي**

(٢٢٥٧): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که مؤمن بنده ته دا څرګنده سي چي د الله تعالى سره څومره سخت عذابونه دي نو بيا به هيڅوك د جنت آرزو ونه کړي، او که کافر ته دا څرګنده سي چي د الله تعالى سره څومره رحمتونه دي نو بيا به هيڅوك د جنت څخه نا اميده نه سي. بخاري او مسلم.

**جنت او دوزخ هر چا ته نژدې دي**

(٢٢٥٨): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ. رواه البخاري.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت ستاسو د څپلی د تسمې څخه هم زيات نژدې دئ او همداسي دوزخ هم. بخاري

**د الله تعالى د بخښې مثال**

(٢٢٥٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی چي هغه هيڅکله نيك

لِأَهْلِهِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلَى نَفْسِهِ فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ أَوْصَى بَنِيْهِ إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوهُ وَاذْرُوا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ اللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ فَلَمَّا مَاتَ فَعَلُوْا مَا أَمَرَهُمْ فَأَمَرَ اللهُ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيهِ وَأَمَرَ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ فَغَفَرَ لَهُ. متفق عليه

كار نه وو كړئ خپل كورني ته وويل : او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي يو سړي پر خپل ځان ظلم كړی وو (يعني ډير گناه كار وو) كله چي د هغه مرگ رانژدې سو نو خپلو زامنو ته يې وصيت وكړ چي كله مړ سم نو وه دي سوځل سي او نيمه ايره دي په صحراء كي و غورزول سي او نيمه دي په درياب كي واچول سي ، په الله دي مي قسم وي كه الله هغه تر لاسه كړ نو داسي عذاب به وركړي چي په دنيا كي به يې چا ته داسي عذاب نه وي وركړی ، كله چي هغه مړ سو نو د هغه زامنو د هغه وصيت پر ځای كړ ، بيا الله تعالى درياب ته حكم وركړ نو هغه ايرې يو ځای سوې او صحراء ته يې حكم وركړ نو كومه ايره چي په هغه كي گډه وه سوې وه هغه يو ځای سول، بيا الله تعالى د هغه څخه پوښتنه وكړه تا داسي ولي وكړل ؟ هغه عرض وكړ اې پروردگاره ! ستا د بيري څخه مي داسي وكړل او ته ښه پوهيږې ، نو الله پاك هغه و بخښئ . مسلم او بخاري

## د الله ﷻ د رحمت وسعت

(۲۲۶۰): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ قَدْ تَحْلُبُ ثَدْيَهَا تَسْقِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُرَوْنَ هٰذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ قُلْنَا لَا وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا. متفق عليه

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته بنديان راغلل په هغو بنديانو كي يوه ښځه هم وه چي د هغې د تيانو څخه شيدې بهېدلې هغه آخوا دېخوا په بيره كي وه (يعني د خپل كوچني لټه يې كول چي د هغې سره نه وو) هغې چي به يو كوچني د بنديانو سره وليدئ نو هغه به يې په غيږ كي واخيستئ او د خپلي سينې سره به يې وموښلوئ او شيدې به يې وركولې ، نو نبي كريم ﷺ موږ ته وفرمايل : ايا ستاسو په خيال دا ښځه به خپل كوچني په اور كي واچوي؟ موږ عرض وكړ اې د الله رسوله! يا ، په شرط ددې چي هغه په نه غورزولو توان لري نو رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى پر خپلو بندگانو تر دې هم زيات رحم كونكی دئ څومره چي دا ښځه پر خپل كوچني مهربانه ده . بخاري او مسلم

**د ميانه روي اختيارولو حكم**

(٢٢٦١): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يُنَجِّيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ قَالُوا وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللّٰه قَالَ وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللّٰهُ مِنْهُ بِرَحْمَةٍ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَاغْدُوا وَرُوحُوا وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅا ته د هغه عمل نجات نه سي ورکولای ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اي دالله رسوله! تاسو ته هم نه، رسول الله ﷺ وفرمايل هو ، ما ته هم نه، پرته ددې څخه چي د الله رحمت ما په غيږ کي واخلي ، له دې کبله تاسو ته پکار ده چي خپل اعمال سم کړئ او ميانه روي غوره کړئ او سهار ماښام او څه برخه د شپې په تيريدو کي عبادت کوئ او په هر کار کي ميانه روي غوره کړئ نو خپل مقصد به تر لاسه کړئ . بخاري او مسلم.

**د رحمت الهي څخه پرته يوازي عمل د جنت ضامن نه دی**

(٢٢٦٢): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُدْخِلُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ وَلَا يُجِيرُهُ مِنَ النَّارِ وَلَا أَنَا إِلَّا بِرَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي هيڅوك د هغه عمل جنت ته نه سي داخلولای او د الله د رحمت څخه پرته هيڅوك د دوږخ څخه نه سي خلاصيدلای او زه هم مگر د الله په رحمت سره . مسلم

**په جزا او سزا کي د رحمت الهي ظهور**

(٢٢٦٣): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا وَكَانَ بَعْدَ الْقِصَاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ الى اضعاف كثيرة وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللّٰهُ عَنْهَا . رواه البخاري

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي يو بنده اسلام قبول کړي او د هغه اسلام ښه وي نو الله تعالى د هغه وړاندي گناهونه بخښي او د هغه وروسته د هغه د اعمالو بدله ورکړي يعني هغه چي کومه نيکي کوي هغه لس برابر ليکل کيږي بلکه تر اوو سوو پوري او تر دې هم زيات، مگر د بدۍ بدله به د بدۍ سره سم ورکول کيږي مگر دا چي الله يې معاف کړي . بخاري.

(٢٢٦٤): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ملائکو ته د

وَالسَّيِّئَات فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَة فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَات إِلَى سَبْعِ مِائَة ضِعْف إِلَى أَضْعَاف كَثِيرَة وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَة فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً . متفق عليه

نيکو او بدو ليکلو حکم وکړ په داسي ډول چي څوك د نيکی اراده وکړي او پر هغه عمل ونه کړي نو الله تعالى پوره يوه نيکي ورکوي او څوك چي د نيکی اراده وکړي او په هغه عمل وکړي نو د هغه په حساب کي د يوې نيکی په بدله کي لس نيکی بلکه اووه سوه نيکی او تر دې هم زيات ليکل کيږي او څوك چي د بدی اراده وکړي او بدي ونه کړي نو الله تعالى د هغه په حساب کي يوه نيکي ليکي او څوك چي د بدي اراده وکړي او په هغه عمل هم وکړي نو يوازي يوه بدي د هغه په عمل نامه کي ليکل کيږي. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### د بدی پرېښودنکی او د نيکی کونکي مثال

(۲۲۶۵): عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِر قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مَثَلَ الَّذِيْ يَعْمَلُ السَّيِّئَات ثُمَّ يَعْمَلُ الْحَسَنَات كَمَثَلِ رَجُل كَانَتْ عَلَيْهِ دِرْعٌ ضَيِّقَةٌ قَدْ خَنَقَتْهُ ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً فَانْفَكَّتْ حَلْقَةٌ ثُمَّ عَمِلَ أُخْرٰى فَانْفَكَّتْ أُخْرٰى حَتّٰى تَخْرُجَ إِلَى الْأَرْضِ . رواه في شرح السنة

د حضرت عقبة بن عامر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه چا حال چي بدي کوي او بيا نيکي کول پيل کړي د هغه چا په ډول دئ چي د هغه په بدن کي يوه تنگه زغره وي چي د هغو کړيو د هغه بدن تېنگ کړی وي ، بيا هغه نيکي کول پيل کړي او د هغه د زغزي يوه کړی خلاصه سي او بيا دويمه نيکي وکړي او دويمه کړی خلاصه سي تر څو چي د کړيو خلاصېدلو سره زغره په سست کېدو سره پر مځکه ايله سي . شرح السنة.

### د قيامت په ورځ د الله ﷻ څخه د ېرېدونکي مثال

(۲۲۶۶): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ { وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّه جَنَّتَان} قُلْتُ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ الثَّانِيَةَ {وَلِمَنْ

د حضرت ابو درداء ؓ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : (و لمن خاف مقام ربه جنتان) او څوك چي د پروردگاره د پېښي څخه يعني د قيامت د ورځي څخه بيرېږي هغه ته به دوه جنتونه ورکړل سي، ما عرض وکړ اې

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ الثَّانِيَةَ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الثَّالِثَةَ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ . رواه احمد

دالله رسوله ! که څه هم هغه زنا کونکی غل وي ، د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ بیا دا آیت تلاوت کړ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ}. ما بیا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! که څه هم هغه زنا کار او غل وي ، رسول الله ﷺ په درېیم وار بیا دغه آیت تلاوت کړ {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ}، ما په درېیم وار بیا پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! که څه هم زنا کونکی او غل وي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : که څه هم هغه زنا او غلا کړې وي که څه هم د ابودرداء پزه په خاورو ولړل سي . احمد.

## الله تعالی پر بنده باندي تر مور زیات مهربان دی

(٢٢٦٧): وَعَنْ عَامِرٍ الرَّامِ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِيْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ وَفِيْ يَدِهٖ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ فَسَمِعْتُ فِيْهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِيْ كِسَائِيْ فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلٰى رَأْسِيْ فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ مَعَهُنَّ فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِيْ فَهُنَّ أُولَاءِ مَعِيْ قَالَ ضَعْهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُوْمَهُنَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهٖ أَتَعْجَبُوْنَ لِرُحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فِرَاخَهَا فَوَالَّذِيْ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا ارْجِعْ بِهِنَّ حَتّٰى تَضَعَهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ فَرَجَعَ بِهِنَّ. رواه ابوداود .

د حضرت عامر رامي ؓ څخه روایت دئ چي مور د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي یو سړی راغلئ چي کمبل یې اچولې وه او د هغه په لاس کي یو شی وو چي پر هغه یې کمبل را تاو کړې وه ، هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه د درختو د یو ځالګی سره تیریدم په هغه کي ما د مرغانو آواز واورېدئ ما هغه ونیول او په خپل کمبل کي مي کښېښودل، بیا د هغوئ مور راغلل او زما پر سر ګرځېدل ما د هغې په وړاندي د هغې کوچني ان خلاص کړل او هغه پر هغوئ را ولویدل نو ما ټول ونیول چي هغه اوس هم زما سره دي، رسول الله ﷺ وفرمایل : دوئ کښېږده نو ما ټول کښېښودل د بچو مور د څه پروا کولو پرته پر خپلو کوچنیانو را پریوتل ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا ته په دې خبره تعجب کوې چي مور پر خپلو بچیانو رحم کوي په هغه ذات دې مي قسم وي چي هغه زه په حق سره رالیږلی یم ، الله پر خپلو بندګانو باندي تر دې هم زیات مهربان دئ ، اوس ته دا یوسه او د کوم ځای څخه چي دي راوړي دي د هغوئ د مور په وړاندي یې هم هلته کښېږده نو هغه سړي هغه مرغان هلته کښېښودل . ابوداؤد.

## دریم فصل

(۲۲۶۸): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا نَحْنُ الْمُسْلِمُونَ وَامْرَأَةٌ تَحْضِبُ بِقِدْرِهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجُ التَّنُّورِ تَنَحَّتْ بِهِ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ نَعَمْ قَالَتْ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَلَيْسَ اللّٰهُ أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ قَالَ بَلَى قَالَتْ أَلَيْسَ اللّٰهُ أَرْحَمَ بِعِبَادِهِ مِنَ الْأُمِّ بِوَلَدِهَا قَالَ بَلَى قَالَتْ فَإِنَّ الْأُمَّ لَا تُلْقِي وَلَدَهَا فِي النَّارِ فَأَكَبَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِي ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ إِلَّا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِي يَتَمَرَّدُ عَلَى اللّٰهِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چې په یوه غزا کې مونږ د رسول الله ﷺ سره وو، رسول الله ﷺ د یو مسجد سره تیر سو او پوښتنه یې وکړه تاسو کوم خلك یاست؟ هغوئ وویل مونږ مسلمانان یو، په هغه مسجد کې یوې ښځې کتهو پخول او د هغې زوی ورسره وو، د اور لمبه چې به پورته سوه نو هغې ښځې به خپل کوچني ایسته کړئ، بیا هغه ښځه د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ ایا تاسو د الله رسول یاست؟ رسول الله ﷺ وفرمایل:هو، هغې ښځې پوښتنه وکړه زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي ایا الله ډیر مهربان نه دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو دئ، هغې ښځې وویل: ایا الله پر خپلو بندګانو تر دې هم زیات مهربان دئ څومره چې یوه مور پر خپلو کوچنیانو مهربانه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو، هغې ښځې وویل: مور خو خپل کوچني ان په اور کې نه اچوي؟ نو رسول الله ﷺ سر مبارك کښته کړ او په ژړا سو، بیا یې سر مبارك را پورته کړ او وه یې فرمایل: الله تعالی خپلو بندګانو ته عذاب نه ورکوي مګر یوازې هغه خلکو ته عذاب ورکوي چې سرکښ وي (یعني د الله تعالی نافرماني کوي) او د هغه حکم منلو او لااله الاالله ویلو څخه انکار کوي. ابن ماجه.

- پر بنده د الله ﷻ رحمت

(۲۲۶۹): وَعَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَلْتَمِسُ مَرْضَاةَ اللّٰهِ وَلَا يَزَالُ بِذَلِكَ فَيَقُولُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ لِجِبْرِيلَ إِنَّ فُلَانًا عَبْدِي يَلْتَمِسُ أَنْ يُرْضِيَنِي أَلَا وَإِنَّ رَحْمَتِي عَلَيْهِ فَيَقُولُ

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: نیك بنده د الله تعالي د رضا په لټه کې وي او همیشه په دې حال کې وي، الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته فرمایي زما فلانی بنده زما د رضا په لټه کې دئ خبردار سه

جبْرِيلُ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَى فُلَانٍ وَيَقُولُهَا حَمَلَةُ الْعَرْشِ وَيَقُولُهَا مَنْ حَوْلَهُمْ حَتّٰى يَقُولَهَا أَهْلُ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ ثُمَّ تَهْبِطُ لَهُ إِلَى الْأَرْضِ . رواه احمد

چي زما رحمت پر هغه دئ، بيا جبرائيل عليه السلام فرمايي : د الله رحمت پر فلاني سړي دئ بيا دا خبره عرش پورته کونکي ملائکي وايي او هغه ملائکي هم وايي کومي چي هغوئ ته نژدې وي ، تر څو چي د ا ووم آسمان ملائکي هم دا وايي بيا رحمت د هغه سړي لپاره پر ځمکه را نازليږي . احمد.

**مؤمن په هر صورت کي جنتي دی**

(٢٢٧٠): وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ قَالَ كُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ . رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور

د حضرت اسامة بن زيد ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د دې آيت فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ، په تفسير کي فرمايلي دي چي دا ټول جنتيان دي . بيهقي

# بَابُ مَا يَقُوْلُ عِنْدَ الصَّبَاحِ وَالْمَسَاءِ وَالْمَنَامِ

## (د سهار، ماښام او بيده کيدو په وخت کي دعاوي)

## لومړی فصل

**په سهار او ماښام کي د رسول الله ﷺ دعاء**

(٢٢٧١): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ كَانَ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمْسَى قَالَ أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ و لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللهم اني أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ فِي هٰذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا فيها وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وشر ما فيها اللهم إني أعوذ بك من الكسل والهرم وسوء الكبر وفتنة الدنيا وعذاب القبر وإذا أصبح قال ذالك أيضا أصبحنا وأصبح الملك لله. وفي رواية رب

د حضرت عبدالله ؓ څخه روايت دئ چي کله به ماښام سو نو رسول الله ﷺ به دا دعاء کول: (امسينا ..... وعذاب القبر) اې الله ! اوس ماښام سو او پر ټول هيواد باندي ماښام خپور سوی دئ او هغه د الله ملك دئ هر ډول تعريف الله لره دئ د الله څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته هغه يوازي دئ هيڅوك د هغه شريك نسته پاچاهي د هغه ده او هغه لره تعريف دئ هغه په هر شي توانا دئ اې الله ! زه ستا څخه ددې شپې خير غواړم او د هغه شي خير چي په دې شپه کي دئ او ستا په

إني أعوذ بك من عذاب في النار وعذاب في القبر. رواه مسلم

ذريعه ددې شپې د بدی څخه پناه غوارم او د هغه شي د بدی څخه چي په دې شپه کي دئ ، اې الله ا زه ستا په ذريعه د سستی، کهالی، سپین ږيرتوب او د سپین ږيرتوب د بدی څخه پناه غوارم او ددنيا د فتنې او د قبر د عذاب څخه پناه غوارم، او کله چي به سهار سو نو رسول الله ﷺ به داسي فرمايل: (اصبحنا و اصبح الملك لله) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي (رب اعوذبك من عذاب في النار و عذاب في القبر) اې الله ا زه ستا په ذريعه د هغه عذاب څخه چي په دوږخ کي دئ او د هغه عذاب څخه چي په قبر کي دئ ستا پناه غوارم. مسلم.

## د بېده کېدو او کښېنستو دعاء

(۲۲۷۲): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ . رواه البخاري و مسلم عن البراء .

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د شپې بسترې ته تلئ نو تر خپل مرونـد لانـدي بـه يـې لاس مبارك ايښـودئ او فرمايل به يې: (اللهم باسمك اموت واحيى) اې الله ا زه ستا په نامه سره مرم او ستا په نامه ژوندی کيږم، او کله چي به ويښ سو نو فرمايل به يې: (الحمد لله. واليه النشور) تول تعريفونه هغه الله لره دي چي موږ يې زموږ د مرگ څخه وروسته ژوندي کړو او د هغه په لور رجوع ده. بخاري او مسلم

## د بېده کېدو پر وخت د بسترې څنډل

(۲۲۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ، و في رواية ثم ليضطجع على شقه الايمن ثم ليقل باسمك ، متفق عليه و في رواية فلينفضه بصنفه ثوبه ثلث مرات وان امسكت نفسي فاغفرلها .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسو کي يو څوك بسترې ته د تللو اراده وکړي نو هغه ته پکار ده چي لومړی خپله بستره و څنډي ځکه چي هغه ته نه ده څرگنده چي ددې وروسته د هغه په بستره کي يو شی ننوتلی دئ ، بيا چي پرېوځي نو وايي دي: (باسمك ربي .... عبادك الصالحين) اې زما پروردگاره ا ستا په نامه سره زه پرېوتم او ستا په مرسته سره به کښېنم او که ته زما روح قبض کړې نو رحم پر وکړې او که ته زما روح پرېږدې نو ددې روح ساتنه وکړې، د هر شي په ذريعه د کوم په ذريعه چي ته د خپل نيك بندگانو ساتنه کوې

، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي هر کله بستري ته ولاړ سي نو پر راسته بغل دي پریوځي او دا دعاء دي وکړي: (باسمك ....) بخاري او مسلم ، او په یوه روایت کي دي چي خپله بستره دي دري واره په خپله څادر سره وڅنډي او په یوه روایت کي (وان امسکت نفسي فاغفر لها) راغلي دي.

(۲۲۷۴): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِه نَامَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَهُنَّ ثُمَّ مَاتَ تَحْتَ لَيْلَتِه مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ، و في رواية قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ يَا فُلَانُ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَتَوَضَّأْ وَضُوْءَكَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قُلْ اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ وَ قال فَإِنْ مُتَّ فِي لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيْرًا . متفق عليه

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به کله خپل بستري ته تلئ نو پر راسته بغل به پریوتئ او فرمایل به یې (اللهم اسلمت ....) اې الله! ما خپل ځان ستا په لور متوجه کړ او خپل مخ مي ستا په لور متوجه کړ، او ما خپل کار تا ته حواله کړ او ما خپله شا ستا لوري ته ولګول، او ستا څخه د ثواب امید لرم او ستا د عذاب څخه د بیري څخه د پناه غوښتونکی یم ، او ستا د عذاب څخه پرته ستا د رحمت نه څه پناه سته او نه څه خلاصون، ما ستا پر دې کتاب چي تا نازل کړی دي ایمان راوړئ دئ او پر هغه نبي مي ایمان راوړئ دئ چي تا رالیږلئ دئ .. رسول الله ﷺ وفرمایل چا چي دا دعاء وویل او په هغه شپه کي مړ سو نو هغه پر دین اسلام باندي مړ سو ، او په یوه روایت کي داسي دي چي رسول الله ﷺ یو سړي ته وفرمایل : اې فلانی سړیه! هر کله چي ته بستري ته د تلو اراده وکړې نو دلمانځه د اوداسه په ډول اودس وکړه او بیا پر راسته بغل پریوزه بیا دا دعاء ووایه : (اللهم اسلمت ....) او بیا یې وفرمایل : که ته په دغه شپه مړ سوې نو پر اسلام باندي به مړ سې او که تر سهاره ورسیدې نو خیر به تر لاسه کړې . بخاري او مسلم.

(۲۲۷۵): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِه قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ بستري ته تلئ نو فرمایل به یې (الحمد لله ....) ټول تعریفونه الله لره دي چي په

كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ . رواه مسلم

موړ یې وخوړل او وچښل او توللې ارتیاوې یې را پوره کړې او موږ ته یې استوګن ځای راکړ ، په دوئ کې ډیر خلك دي چې ارتیاوې یې پوره نه سوې او نه ورته استوګن ځای تر لاسه سوی دئ . مسلم.

(٢٢٧٦): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهِمَا السَّلَام أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشْكُو إِلَيْهِ مَا تَلْقَى فِي يَدِهَا مِنَ الرَّحَى وَبَلَغَهَا أَنَّهُ جَاءَهُ رَقِيقٌ فَلَمْ تُصَادِفْهُ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِعَائِشَةَ فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ قَالَ فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا فَذَهَبْنَا نَقُومُ فَقَالَ عَلَى مَكَانِكُمَا فَجَاءَ فَقَعَدَ بَيْنِي وَبَيْنَهَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى بَطْنِي فَقَالَ أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَاحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ. متفق عليه

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چې بي بي فاطمة (رض) د رسول الله ﷺ په خدمت کې د میچنې د اوره کولو اود لاسونو د تکلیف د شکایت لپاره حاضره سوه ، څکه چې هغې ته دا څرګنده سوې وه چې رسول الله ﷺ ته غلامان راغلي دي، نو رسول الله ﷺ په کور کې نه وو. نو بي بي فاطمې د خپل ضرورت ذکر بي بي عائشې ته وکړ ، کله چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ نو بي بي عائشې د بي بي فاطمې خبره ورته بیان کړل ، حضرت علي ﷺ وایي رسول الله ﷺ زموږ کور ته تشریف راوړ چې موږ په بستره کې پراته وو کله چې موږ د پورته کېدو اراده وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل : بس بس پراته اوسئ ، بیا رسول الله ﷺ زما او د بي بي فاطمې په منځ کې کښېنستئ تر دې چې ما د رسول الله ﷺ د قدم مبارك یخوالی پر خپل نس حس کړئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل ایا زه تاسو ته دا شی ونه ښیم چې تر هغه شي غوره وي کوم چې تاسو غوښتئ دئ (یعني غلام) او هغه دا چې کله تاسو بسترو ته ځئ نو (٣٣) واره سبحان الله ، (٣٣) واره الحمد لله او (٣٤) واره الله اکبر وایاست نو دا ستاسو لپاره تر خادم غوره دئ. بخاري او مسلم.

(٢٢٧٧): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَقَالَ أَلَا أَدُلُّكِ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكِ مِنْ خَادِمٍ تُسَبِّحِينَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَتَحْمَدِينَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَتُكَبِّرِينَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ وَعِنْدَ مَنَامِكِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې بي بي فاطمة (رض) د رسول الله ﷺ په خدمت د یو خادم غوښتلو لپاره حاضره سوه ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا زه تا ته هغه شی ونه ښیم چې تر خادم غوره وي (او هغه دا چې) د هر لمانځه وروسته او د بیده کېدو په وخت کې (٣٣) واره سبحان الله ، (٣٣) واره الحمد لله او (٣٤) واره الله اکبر وایه . مسلم.

## دویم فصل

### د سهار او مابنام دعاء

(۲۲۷۸): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصْبَحَ قَالَ اللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرِ وَإِذَا أَمْسَى قَالَ اللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ اصبحنا و بك نَحيا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د سهار په وخت کي دغه دعاء فرمايل: (اللهم بك اصبحنا....) اې الله! ستا په قدرت سره پر موږ سهار سو او ستا په قدرت سره پر موږ مابنام سو او ستا په نامه سره ژوندي کيږي او مره کيږي او ستا په لور زموږ رجوع ده، او د مابنام په وخت کي به يې دا ويل: (اللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ) . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

(۲۲۷۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مُرْنِي بِشَيْءٍ أَقُولُهُ إِذَا أَصْبَحْتُ وَإِذَا أَمْسَيْتُ قَالَ قُلْ اللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ قُلْهُ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ . رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د ابوبکر ﷺ بيان دئ چي ما نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله: يو دعاء راته وښيه چي زه يې سهار او مابنام وايم، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا دعاء وايه: (اللهم عالم...) اې الله! په پټ او ښکاره پوهيدونکې، د آسمانو او ځمکي پيدا کونکې، د هر شي پروردگاه او مالکه، زه اقرار کوم چي ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته زه د خپل نفس د بدو څخه اود شيطان د شرارتو څخه اود شرک کولو څخه د شيطان څخه ستا په ذريعه پناه غوارم، دا دعاء سهار او مابنام د بېده کېدو پر وخت وايه. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

(۲۲۸۰): وَعَنْ اَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي

د حضرت ابان بن عثمان ﷺ څخه روايت دئ چي ما د خپل پلار څخه اوريدلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم بنده چي هره ورځ سهار او مابنام دري واره دا دعاء وايي: (بسم

السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ فَكَانَ أَبَانُ قَدْ أَصَابَهُ طَرَفُ فَالِجٍ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ لَهُ أَبَانُ مَا تَنْظُرُ أَمَا إِنَّ الْحَدِيثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ وَلَكِنِّي لَمْ أَقُلْهُ يَوْمَئِذٍ لِيُمْضِيَ اللهُ عَلَيَّ قَدَرَهُ ، رواه الترمذي و ابن ماجة و ابوداؤد و في رواية لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُصْبِحَ وَمَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ حَتَّى يُمْسِيَ .

الله ....) د هغه الله په نامه سره ما سهار کړ چي د هغه په نامه سره د آسمان او مځکي هيڅ شی تاوان نه سي رسولای، او هغه اورېدونکی او پوهېدونکی دئ . نو هيڅ شی به هغه ته تاوان نه سي رسولای ، ويل کيږي چي ابان د فلج په ناروغی اخته وو نو کوم سړی چي دا بان څخه دا روايت بيان کړی دئ هغه په تعجب سره هغه ته وکتل ابان وويل : ته زما په لور ګوري حديث خو همداسي دئ څرنګه چي ما بيان کړ، (يعني صحيح دئ) مګر په دغه ورځ (چي ما ته دا ناروغي پېښه سوه) ما دا دعاء نه وه ويلې چي الله تعالی زما لپاره څه ليکلي وي هغه پوره سي . ترمذي ، ابن ماجه او ابوداؤد ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي څوك چي دا دعاء د ماښام په وخت کي ووايي نو تر سهار پوري او څوك چي يې د سهار په وخت کي ووايي نو تر ماښام پوري هغه ته ناڅاپه آفت نه رسيږي .

﴿۲۲۸۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ إِذَا أَمْسَى أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَمِن سُوءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ و في رواية مِنْ سُوءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذَلِكَ أَيْضًا أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ . رواه ابوداؤد والترمذي و في روايته لم يذكر من سوء الكفر .

د حضرت عبدالله ﷺ څخه روايت دئ چي کله به ماښام سو نو رسول الله ﷺ به دا دعاء ويل: أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي: مِنْ سُوءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، او کله چي به سهار سو نو دا دعاء به يې ويل: أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ.... ، ابوداؤد او د ترمذي په روايت کي تر من سوء الكفر لفظ نه دئ راغلی .

﴿۲۲۸۲﴾: وَعَنْ بَعْضِ بَنَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د رسول الله ﷺ د ځينو لونو مبارکو څخه روايت

وَسَلَّمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهَا فَيَقُولُ قُولِي حِينَ تُصْبِحِينَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مَا شَاءَ اللَّهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ أعلم أن الله على كل شيء قدير وأن الله قد أحاط بكل شيء علما فَإِنَّهُ مَنْ قَالَهَا حِينَ يُصْبِحُ ان الله قد احاط بكل شيء علما قَالَهَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ حَتَّى يُصْبِحَ . رواه ابوداؤد

دئ چي رسول الله ﷺ به هغو ته دا دعاء ښودل چي كله سهار سي نو تاسو دا واياست: (سبحان الله ....) الله لره پاكي ده او هر ډول تعريف هغه لره ښايي د الله د مرستي پرته د حمد او تسبيح قوت نسته څه چي الله وغواړي هغه وسول او څه چي يې نه غوښتل هغه نه وسول زه پوهيږم الله پر هر شي قادر دئ او د الله علم پر هر شي خپور دئ، نو څوك چي دا كلمات سهار ووايي تر ماښام پوري به خوندي وي او څوك چي يې ماښام ووايي نو تر سهاره پوري به خوندي وي . ابوداؤد .

(۲۲۸۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ { فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ إِلَى قوله وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ} أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ وَمَنْ قَالَهُنَّ حِينَ يُمْسِي أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ فِي لَيْلَتِهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي سهار دا دعاء ووايي: فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ... وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ، نو هغه شی به تر لاسه كړي كوم چي په هغه ورځې څيني پاته سوی وي او څوك چي دا دعاء ماښام ووايي نو كوم شی چي په شپه كي څيني پاته سوی وي هغه به تر لاسه كړي . ابوداؤد

(۲۲۸۴): وَعَنْ أَبِي عَيَّاشٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ كَانَ لَهُ عِدْلَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَحُطَّ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَ فِي حِرْزٍ مِنَ الشَّيْطَانِ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنْ قَالَهَا إِذَا أَمْسَى كَانَ لَهُ مِثْلُ ذَلِكَ حَتَّى يُصْبِحَ فَرَأَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو عياش ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي سهار دا دعاء ووايي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، نو هغه ته دومره ثواب وركول كيږي لكه هغه چي د حضرت اسماعيل عليه السلام په اولاد كي يو غلام آزاد كړ او د هغه لپاره لس نيكۍ ليكل كيږي او لس بدۍ څيني ليري كيږي او لس درجې يې لوړيږي او تر ماښامه پوري هغه د

وَسَلَّمَ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا عَيَّاشٍ يُحَدِّثُ عَنْكَ بِكَذَا وَكَذَا قَالَ صَدَقَ أَبُو عَيَّاشٍ ، رواه ابوداؤد وابن ماجة.

شيطان څخه په آمان کي وي، او څوك چي دا دعاء ماښام ووايي نو هغه ته هم دغه ثواب ورکول کيږي ، ددې حديث راوي حماد بن مسلمة بيان کوي چي يو سړي رسول الله ﷺ په خوب کي وليدئ او عرض يې وکړ اې دالله رسوله! ابو عياش ستاسو څخه دا ډول حديث روايت کړئ دئ ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ابوعياش رښتيا وايي. ابوداؤد او ابن ماجه.

## د ماښام او سهار د لمانځه وروسته دعاء

(٢٢٨٥): وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ مُسْلِمِ التَّمِيمِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَسَرَّ إِلَيْهِ فَقَالَ إِذَا انْصَرَفْتَ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْ قبل ان تكلم احد اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذَلِكَ ثُمَّ مِتَّ فِي لَيْلَتِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا وَإِذَا صَلَّيْتَ الصُّبْحَ فَقُلْ كَذَلِكَ فَإِنَّكَ إِنْ مِتَّ فِي يَوْمِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا. رواه ابوداؤد.

حضرت حارث بن مسلم ؓ د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ هغه ته پټ وفرمايل: هر کله چي ته د ماښام د لمانځه څخه فارغ سې نو د چا سره تر خبرو کولو مخکي دا دعاء وايه (اللهم اجرني من النار) اې الله! ما د اور څخه وساتې، که ته دا دعاء اووه واره ووايي او په هغه شپه مړ سې نو ستا لپاره به د دوږخ د اور څخه خلاصون وليکل سي ، او هر کله چي ته د سهار لمونځ ادا کړې او دا دعاء ووايې او په هغه ورځ مړ سې نو ستا لپاره به دا ور څخه نجات وليکل سي .ابوداؤد .

## سهار او ماښام د رسول الله ﷺ دعاء

(٢٢٨٦): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَعُ هَؤُلَاءِ الكلمات حِينَ يُمْسِي وَحِينَ يُصْبِحُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به هره ورځ سهار او ماښام دا دعاء ويل او هيڅکله به يې نه قضا کول: (اللهم اني اسئلك ...) اې الله! زه ستا څخه ددنيا او آخرت عافيت غواړم ، اې الله! زه ستا څخه معافي او ددين او دنيا سلامتي غواړم د خپل کورنۍ او د خپل مال ، اې الله! زما عيب پټ کړې او ما د هر خوف څخه په امن کړې ، اې الله! ته زما ساتنه وکړې د مخکني څخه او د وروستني څخه د راسته لوري څخه او د

يَعْنِي الْخَسْفَ . رواه ابوداؤد .

چپه لوري څخه د لوړه څخه او ستا د عظمت په ذريعه پناه غواړم ددې څخه چې ناڅاپه دلاندې لوري څخه هلاك كړل سم يعني په مځكه كې د ښخېدو څخه . ابوداؤد.

## د سهار او ماښام دعاوي

(۲۲۸۷): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ اللّٰهُمَّ اَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ انك انت اللّٰهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ اللّٰهُ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ إِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا أَصَابَ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ من ذنب وَإِنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا أَصَابَه فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ مِنْ ذَنْب . رواه الترمذي و ابوداؤد و قال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې دا دعاء د سهار په وخت كې ووايې: (اللهم ....) اې الله! موږ په داسې حال كې سهار كړ چې موږ ته او ستا عرش پورته كونكې ملائكې او ستا ټول مخلوقات شاهدان گرځوو ، ته الله يې او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ، ته يوازې يو يې او هيڅوك ستا شريك نسته ، او محمد ستا بنده او رسول دئ،نو الله تعالى د هغه گناهونه ور بخښي كوم چې ده په دغه ورځ كړي وي او كه دا دعاء ماښام ووايي نو الله تعالى يې هغه گناهونه بخښي چې د شپې يې كړي وي . ترمذي، ابوداؤد، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

(۲۲۸۸): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَقُولُ اذَا اَمْسٰى وَ اذَا اَصْبَحَ ثَلْثًا رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا اِلَّاكَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ اَنْ يُرْضِيَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه احمد والترمذي .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم مسلمان چې دا دعاء سهار او ماښام درې واره ووايي نو پر الله تعالى دا لازمه ده چې هغه د قيامت په ورځ دا مسلمان بنده راضي كړي : (او هغه دعاء داده:) رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا.احمد او ترمذي.

(۲۲۸۹): وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِه ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عبادك أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ . رواه الترمذي و رواه احمد عن البراء .

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دئ چې كله به رسول الله ﷺ د بېده كېدو اراده وكړل نو خپل راسته لاس به يې تر سر لاندې كېښېښودئ او بيا به يې ويل : (اللهم قني ...) اې الله ! ته ما د

عذاب څخه وژغورې په هغه ورځ چې ته خپل بندګان یو ځای کړې یا په هغه ورځ چې خپل بندګان به ته د قبرو څخه راپورته کوې . ترمذي او احمد .

(۲۲۹۰): وَعَنْ حَفْصَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْقُدَ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رواه ابوداؤد .

د حضرت حفصة (رض) څخه روایت دئ چې کله به رسول الله ﷺ د خوب اراده وکړه نو خپل راسته لاس به یې تر خپل راسته ورږ لاندې کېښېښودئ او درې واره به یې ویل : (اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ) . ابوداؤد.

(۲۲۹۱): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ مَضْجَعِهِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِوَجْهِكَ الْكَرِيمِ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ اللّٰهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ الْمَغْرَمَ وَالْمَأْثَمَ اللّٰهُمَّ لَا يُهْزَمُ جُنْدُكَ وَلَا يُخْلَفُ وَعْدُكَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به د خوب پر وخت دغه دعاء ویل : (اللهم اني ....) اې الله ! زه ستا د بزرګ او برتر ذات او ستا د پوره کلمو په ذریعه د هغه شي د بدۍ څخه پناه غوارم چې د هغه تندی تا نیولي دي ، اې الله ! پور او ګناهونه ته لیرې کوې اې الله! ستا لښکر ماته نه خوري او ستا وعده خلافه نه وي او هیڅ شتمن د هغه شتمني ستا د عذاب څخه نه سي خلاصولای ته پاك یې او زه ستا پاکي، او ستا تعریف بیانوم . ابوداؤد.

(۲۲۹۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ ذُنُوبَهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ أَوْ عَدَدَ رَمْلِ عَالِجٍ أَوْ عَدَدَ وَرَقِ الشَّجَرِ أَوْ عَدَدَ أَيَّامِ الدُّنْيَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې د بیده کېدو په وخت کې درې واره دغه دعاء ووایي (استغفر الله ...واتوب الیه) نو الله تعالی د هغه ګناهونه بخښي که څه هم د سمندر د ځګ په اندازه وي یا د عالج د شګو په اندازه وي (عالج د یو صحراء نوم دئ هلته شګې ډیرې دي) یا د درختو د پانو په اندازه یا د دنیا د ورځو په اندازه . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ .

## د خوب په وخت کې د قران کریم یو سورت ویلو برکت

(۲۲۹۳): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ

د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روایت دئ چې

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ بِقِرَاءَةِ سُورَةٍ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ إِلَّا وَكَّلَ اللّٰهُ بِهِ مَلَكًا فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيهِ حَتَّى يَهُبَّ مَتَى هَبَّ. رواه الترمذي

رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم مسلمان چي د بېده کېدو په وخت کي د قرآن مجید یو سورت وروايي نو الله تعالی پر هغه یوه ملائکه و ټاکي چي د هغه ساتنه کوي او هیڅ تکلیف ورکونکی شی هغه ته نه پرېږدي تر څو چي هغه راوېښ سي. ترمذي.

## د هر لمانځه وروسته او د بېده کېدو پر وخت د تسبیح، تحمید او تکبیر فضیلت

(۲۲۹۴): وَ عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَّتَانِ لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ أَلَا وَهُمَا يَسِيرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ يُسَبِّحُ اللّٰهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا قَالَ فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ قَالَ فَتِلْكَ خَمْسُونَ وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ يُسَبِّحُهُ وَيُكَبِّرُهُ وَيَحْمَدُهُ مِائَةً فَتِلْكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ فِي الْمِيزَانِ فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَ مِائَةِ سَيِّئَةٍ قَالُوا وَكَيْفَ لَا يُحْصِيهَا قَالَ يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ فَيَقُولُ اذْكُرْ كَذَا اذْكُرْ كَذَا حَتَّى يَنْفَتِلَ فَلَعَلَّهُ ان لَا يَفْعَلَ وَيَأْتِيهِ فِي مَضْجَعِهِ فَلَا يَزَالُ يُنَوِّمُهُ حَتَّى يَنَامَ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و في رواية ابي داؤد قَالَ خَصْلَتَانِ أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ، و كذا في روايته بعد قوله بعد قوله وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ قَالَ وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ. و في

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه عادتونه دي که هغه مسلمان خپل کړي نو جنت ته به ځي خبر دار اوسئ هغه دوه شیان ډېر اسانه دي مګر پر هغه عمل کونکي ډېر لږ دي یعني د هر لمانځه وروسته لس واره سبحان الله وایاست او لس واره الحمدلله وایاست او لس واره الله اکبر وایاست، ابن عمر وایي ما ولیدل چي رسول الله ﷺ دا کلمات پر ګوتو شمیرل بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: دا ټول یو نیم سل دئ مګر د اعمالو په تله کي یو نیم زر اېښودل سوي دي (او دویم شی دادئ) هر کله چي څوك د بېده کېدو اراده وکړي نو تسبیح، تکبیر او تحمید به سل واره وایي نو دا پر ژبه ویل سل واره دي مګر په تله کي زر واره شمیرل کېږي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي څوك سته چي په شپه او ورځ کي دوه نیم زره بدۍ کوي (یعني په دوه نیم زره نیکیو تر لاسه کولو څخه وروسته دومره بدۍ کله پاته کېږي) صحابه کرامو عرض وکړ: موږ به ددې څنګه پاملرنه ونه کړو.، رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو لمونځ کوئ نو

اکثر نسخ المصابیح عن عبدالله ابن عمر . | شیطان تا سو ته راسي او وايي فلانی شی په یاد کړه او فلانی خبره په یاد کړه . تر څو چي هغه دلمانځه څخه وګرځوي او ستون سي نو ډیره ممکنه ده چي هغه دا کارونه کړي وي، او همداسي شیطان د خوب ځای ته راځي او هغه ببده کوي تر څو چي هغه بیده سي . ابوداؤد، نسائي، ترمذي، د ابوداؤد په یوه روایت کي دي چي وه یې فرمایل: خصلتان او خلتان لا یحافظ علیهما عبد مسلم، او نور همداسي تر پایه روایت کي دي مګر د الف وخمس مائة في المیزان لفظ څخه وروسته: و یکبر اربعا و ثلثین اذا اخذ مضجعهم و یحمد ثلثا و ثلثین و یسبح ثلثا وثلثین. الفاظ هم دي . او د مصابیح په اکثره کتابو کي د عبدالله ابن عمر څخه روایت دئ .

**په شپه او ورځ کي د حاصل سوو نعمتو شکر**

(۲۲۹۵): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ غَنَّامٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ اللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِّنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ يَوْمِهِ وَمَنْ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ حِينَ يُمْسِي فَقَدْ أَدَّى شُكْرَ لَيْلَتِهِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن غنام ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي سهار دغه دعاء وویل: «اللهم ما اصبح ...» اې الله! کوم شی چي ما ته د سهار په وخت کي ستا د نعمتونو یا بل چا ته ستا د مخلوقاتو څخه تر لاسه سو نو هغه یوازي ستا د لوري دئ هیڅوك ستا شریك نسته هر ډول تعریف تا لره دئ او تا لره شکر دئ، نو هغه د هغې ورځي شکر ادا کړ او چا چي ماښام دا دعاء وویل هغه د شپې شکر ادا کړ . ابوداؤد

**د خوب دعاء**

(۲۲۹۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى مُنَزِّلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ خپلي بستري ته تلئ نو دغه دعاء به یې ویل: «اللهم رب ....» اې الله! اې د آسمانو او ځمکي پروردګاره! اې د دانې او زړو چونکې، اې د تورات، انجیل او قرآن نازلونکې! ستا په ذریعه د هر هغه شر والا شی څخه چي د هغه د تندي ورېښتان ستا په لاس کي دي پناه غواړم ته تر ټولو لومړی یې، هیڅ شی ستا وړاندي نسته ته تر ټولو اخر یې ستا وروسته هیڅ شی

الْفَقْرِ. رواه ابوداؤد والترمذي و ابن ماجة و رواه مسلم مع اختلاف يسير .

نسته ته څرګند يې، ستا د ظهور سربېره هيڅ نسته ته باطن يې تر تا زيات باطن هيڅ شی نسته ، پر ما چې کوم پور دئ هغه ادا کړې او ما د مفلسۍ څخه بې نيازه او بې فکره کړې . ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه او مسلم هم دا حديث د لږ اختلاف سره نقل کړی دئ .

(٢٢٩٧): وَعَنْ أَبِي الْأَزْهَرِ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ وَضَعْتُ جَنْبِي اللّٰهِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي وَأَخْسِئْ شَيْطَانِي وَفُكَّ رِهَانِي وَاجْعَلْنِي فِي النَّدِيِّ الْأَعْلَى. رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو الازهر انماري ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ بسترې ته تلئ نو دغه دعاء به يې فرمايل : (بسم الله ... في الندى الاعلي) د الله په نامه سره خپل اړخ پر بستره ايږدم .، اې الله زما ګناه و بخښې او زما څخه شيطان ليرې کړې او زما نفس آزاد کړې او په لوړ مجلس کې ما داخل کړې . ابوداؤد .

(٢٢٩٨): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ من الليل قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَفَانِي وَآوَانِي وَأَطْعَمَنِي وَسَقَانِي وَالَّذِي مَنَّ عَلَيَّ فَأَفْضَلَ وَالَّذِي أَعْطَانِي فَأَجْزَلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ اللّٰهُمَّ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ وَإِلٰهَ كُلِّ شَيْءٍ أَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ خپل بسترې ته تلئ نو دغه دعاء به يې ويل : (الحمد لله..... من النار) ټول تعريفونه هغه الله لره دي چې زما بس دئ او چې ما ته يې ځای کړی دئ او چې هغه په وخوړل او وڅښل او هغه خدای چې پر ما يې احسان وکړ او زيات يې راکړل او هغه خدای ﷺ چې هغه ما ته راکړل او ډير يې راکړل ، ټول تعريف په هر حال کې الله لره دئ ، اې الله ! د هر شي پروردګاره د هر شی مالکه او د هر شي معبوده، زه ستا په ذريعه د دوزخ د اور څخه پناه غواړم . ابوداؤد.

## د بدخوابۍ ليرې کولو دعاء

(٢٢٩٩): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ شَكَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَنَامُ اللَّيْلَ مِنَ الْأَرَقِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَقُلِ اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ وَرَبَّ الْأَرَضِينَ وَمَا

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دئ چې خالد بن وليد رسول الله ﷺ ته شکايت وکړ چې اې د الله رسوله! ما ته د شپې خوب نه راځي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چې ته خپلې بسترې ته ځې نو دغه دعاء وايه : (اللهم رب السموات .....

أَقَلَّتْ وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. رواه الترمذي وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ قَدْ تُرِكَ حَدِيثُهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ .

لااله الا انت) اي د اوو آسمانو پروردګاره ! او د هغه شي چي پر اوو آسمانو باندي يې سايه کړې ده او اې د مځکو پروردګاره ! او د هغه شيانو چي مځکه يې پورته کړې ده او اې د شيطانانو پروردګاره ! او د هغه خلکو چي شيطانانو ګمراه کړي دي ته ما د خپل ټول مخلوق د شر څخه پناه راکونکی جوړ سې يعني تهٔ ما د هغه کار څخه وساتې چي ستا په مخلوق کي څوك پر ماظلم وکړي ، ستا پناه غوښتونکی غالب دئ او ستا تعريف د قدر وړ دئ او ستا څخه پرته هيڅوك د عبادت وړ نسته . ترمذي ويلي دي ددې اسناد قوي نه دئ ، د حکيم بن ظهير حديثونه ځينو محدثينو پرې ايښي دي .

# دريم فصل

## د سهار او ماښام دعاوي

(۲۳۰۰): عَنْ أَبِي مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُورَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ ثُمَّ إِذَا أَمْسَى فَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابو مالك ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي سهار سي نو په تاسو کي دي هر څوك د غه دعاء وايي: (اصبحنا .... و شرما بعده) مونږ سهار کړ او هيواد سهار کړ يوازي د الله لپاره چي د دواړو جهانو پروردګار دئ، اې الله ! زه ستا څخه ددې ورځي پناه غواړم يعني ددې ورځي پراخي ددې ورځي مرسته ، ددې ورځي نور، ددې ورځي برکت، او ددې ورځي هدايت غواړم، او ستا په ذريعه د هغه شي د بدی څخه پناه غواړم چي په دې ورځ کي دئ او د هغه شي د بدی څخه چي ددې وروسته دئ او همدا ډول دې ماښام وايي . ابوداؤد.

(۲۳۰۱): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي يَا أَبَتِ أَسْمَعُكَ تَقُولُ كُلَّ غَدَاةٍ اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ تكررها ثَلَاثًا حِينَ

د حضرت عبد الرحمن بن ابي بکرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما خپل پلار ته وويل ما اورېدلي دي چي تاسو هره ورځ دغه دعاء واياست: (اللهم .... الا انت) اې الله ! زما بدن ته عافيت

نه حٌ وَثَلَاثًا حِينَ تُمْسِي فَقَالَ يا بني سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو بِهِنَّ فَأَنَا احبُّ أَنْ أَسْتَنَّ بِسُنَّتِه . رواه ابوداؤد .

راكړي اې الله زما اوربدو ته عافيت راكړې ، اې الله ! زما ليدو ته عافيت راكړې ، ستا څخه پرته هيڅوك د عبادت وړ نه سته، ته دا دعاء درې واره سهار او درې واره ماښام وايه ، حضرت ابوبكر ﷺ وفرمايل: زويه ! ما د رسول الله ﷺ څخه دا دعا كول اوريدلي دي له دې كبله زه دا خوښوم چې د هغوئ پر طريقه عمل وكړم . ابوداؤد.

### د سهار دعاء

(٢٣٠٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصْبَحَ قَالَ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ وَالْخَلْقُ وَالْأَمْرُ وَاللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَمَا سَكَنَ فِيهِمَا لِلّٰهِ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَوَّلَ هٰذَا النَّهَارِ صَلَاحًا وَأَوْسَطَهُ نَجَاحًا وَآخِرَهُ فَلَاحًا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ . ذكره النووي في كتاب الأذكار برواية ابن السني

د حضرت عبد الله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت چې رسول الله ﷺ به د سهار په وخت كې دغه دعاء ويل: (اصبحنا .... ارحم الراحمين) موږ سهار كړ او هيواد سهار كړ د الله لپاره او ټول تعريفونه د الله لره دي او د ذات او صفاتو بزرگي يوازې الله لره ده او خلگ، حكم، شپه، ورځ او كوم شيان چې په شپه او ورځ كې آرام تر لاسه كوي ټول الله لره دي ، اې الله ددې ورځې پيل د نيكۍ سبب كړې او ددې ورځې درميان د برياليتوب ذريعه وگرځوې او ددې ورځې آخر د خلاصون وسيله جوړه كړې اې لوى رحم كونكې . نووي په كتاب الاذكار كې په روايت د ابن سني.

(٢٣٠٣): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ أَبْزٰى قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اذا أَصْبَحَ أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ وَعَلَى كَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ . رواه احمد والدارمي

د حضرت عبد الرحمن ابن ابزى ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به سهار دغه دعاء ويل: (اصبحنا...تر .... المشركين پورې) موږ سهار كړ پر دين اسلام او پر كلمه توحيد ، د نبي كريم ﷺ پر دين او د خپل پلار ابراهيم عليه السلام پر دين چې د باطل څخه بېزاره وو او حق دين ته متوجه او د شرك كونكو څخه نه وو . احمد او دارمي.

# بَابُ الدَّعَوَاتِ فِي الْاَوْقَاتِ (د مختلفو وختو د دعاؤ بیان)

## لومړی فصل

### اولاد د شیطان څخه محفوظ کول

(۲۳۰۴): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَإِنَّهُ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ أَبَدًا. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوك چي د خپلي بي بي سره د صحبت اراده وکړي نو دغه دعاء دي وایي: (بسم الله..... ما رزقتنا) موږ د الله په نامه سره مرسته غواړو، اې الله! زموږ څخه شیطان لیري کړې او شیطان د هغه څه څخه لیري وساتې کوم چي تا موږ ته راکړی دی، که چیري د ښځي او سړي لپاره اولاد و ټاکل سو نو په دې عمل کولو سره هغه ته شیطان هیڅکله تاوان نه سي رسولای. بخاري او مسلم

### د غم او فکر په وخت کي د رسول الله ﷺ دعاء

(۲۳۰۵): وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به د ناآرامۍ او غم په وخت کي دغه دعاء ویل (لااله الاالله..... العرش الكريم) د الله څخه پرته هیڅوك د عبادت وړ نسته چي بزرگ او بردبار دئ، د عرش عظیم پروردگار دئ. د هغه څخه پرته د عبادت وړ نسته د آسمانو، ځمکو او عرش کریم پروردگار دئ. بخاري او مسلم

### د غصې ختمولو ترتیب

(۲۳۰۶): وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ جُلُوسٌ وَأَحَدُهُمَا يَسُبُّ صَاحِبَهُ مُغْضَبًا قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ

د حضرت سلیمان بن صرد ﷺ څخه روایت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوو چي د دو خلکو په منځ کي ښکنځل کول پیل سول، په هغوئ کي یو د غصې څخه ډك بل ته ښکنځل کول، او د هغه مخ سور وو، نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل: ما ته یوه داسي دعاء معلومه

الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَقَالُوا لِلرَّجُلِ أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَسْتُ بِمَجْنُونٍ . متفق عليه

ده كه دى هغه ووايي نو تولـه غصـه بـه يې ولاړه سـي او هغـه داده : (اعوذبـالله مـن الشـيطان الرجيم) د الله ﷻ په ذريعه د شيطان رټل سوي ښخه پناه غواړم، صحابه كرامو هغه سړي ته داسي وويل ايا تا واورېدل چي رسول الله ﷺ څه فرمايي ؟ هغه سړي وويل زه ليونى نه يم .(دا سړي به يو صحرائي ، منافق او يا په دين كي پوخ نه وو .) بخاري او مسلم.

## د چرګ او خره د اواز په وخت كي

(٢٣٠٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيكَةِ فَاسْأَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي د چرګ آذان واورئ نو د الله تعالى څخه د هغه فضل و غواړئ ځكه چي هغه ملائكه ويني نو آذان كوي، او هر كله چي تاسو د خره آواز واورئ نو د الله تعالى په ذريعه د شيطان څخه پناه غواړئ ځكه چي خر شيطان ويني نو آواز كوي . بخاري او مسلم.

## د سفر دعاء

(٢٣٠٨): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجًا إِلَى سَفَرٍ كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ { سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ } اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ اللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د سفر لپاره پر اوښ سپرېدئ نو درې واره به يې الله اكبر وايه او بيا به يې دغه دعاء كول (سبحان الذي .... ) هغه ذات پاك دئ چي دا سپرلى يې زموږ فرمانبرداره كړه او موږ ته پر هغه توان تر لاسه نه وو، او البته موږ خپل پروردګار ته ګرځېدونكي يو ، اې الله موږ ستا څخه په خپل سفر كي نيكي او تقوا غواړو او هغه عمل چي په هغه سره ته راضي كيږې اې الله پر موږ باندي زموږ سفر آسان كړې او ته د هغه اوږدوالى زموږ لپاره لنډ كړې ، اې الله ! ته په دې سفر كي زموږ ساتونكى يې او زموږ د

كورنۍ خبر اخيستونكى يې ، اې الله ا زه ستا په ذريعه د سفر د سختۍ څخه پناه غواړم او د خراب حالت يا خرابو شيانو د ليدو څخه او خپل اهل وعيال كې د بدۍ څخه او كله چې به رسول الله ﷺ د سفر څخه راستون سو نو بيا به يې همدغه دعاء ويل او دغه الفاظ به يې زياتول (آئبون ......) بيا راتلونكي يو توبه كونكي يو او د خپل رب عبادت كونكي يو او تعريف او ثناء كونكي يو . مسلم.

**د سفر په وخت كې د كومو شيانو څخه پناه غوښتل**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٣٠٩﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ وَدَعْوَةِ الْمَظْلُومِ وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ . رواه مسلم | د حضرت عبدالله بن سرجس ﷺ څخه روايت دئ چې كله به رسول الله ﷺ د سفر اراده وكړه نو د سفر د تكليف او ستونزو او په خراب حالت كې د ستنېدو څخه به يې پناه غوښتل او د حالت د بدلېدو څخه او د مظلوم د ښيرا څخه او د |

كورنۍ په خراب حالت لېدو څخه به يې پناه غوښتل . مسلم.

**په يو نوي ځاى كې د تم كېدو دعاء**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٣١٠﴾: وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذٰلِكَ . رواه مسلم | د حضرت خولة بنت حكيم (رض) څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چې په يو ځاى كې تم سي نو دغه دعاء دي وايي : (اعوذبكلمات ....) د الله تعالى د پوره كلمو په ذريعه زه د هغه شي د بدي څخه چې |

پيدا كړي يې دي پناه غواړم، نو هيڅ شى به هغه ته تاوان نه ورسوي تر څو چې د هغه ځاى څخه د سفر اراده وكړي . مسلم

**په شپه كې د ضرر او تاوان څخه د ساتني دعاء**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٣١١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا لَقِيتُ مِنْ عَقْرَبٍ لَدَغَتْنِي الْبَارِحَةَ قَالَ أَمَا لَوْ قُلْتَ حِينَ أَمْسَيْتَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ تَضُرَّكَ . رواه مسلم | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر او عرض يې وكړ اې د الله رسوله ا ما د يو لړم چېچلو څخه چې پرون شپه يې زه و چېچلم ډير تكليف تر لاسه كړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل |

:که تا مابنام دغه دعاء ویلې وای (أَمْسَيْتَ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ) نو لړم به تاته تاوان نه وای رسولی . مسلم.

**په سفر کې د سهار دعاء**

(٢٣١٢): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ وَأَسْحَرَ يَقُولُ سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا رَبَّنَا صَاحِبْنَا وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ په سفر کې وو او د سهار وخت به سو نو دغه دعاء به يې فرمايل: (سمع سامع.... من النار) اوريدونکي زما دا تعريف واوريدئ او د هغه د ازمائښت د ښه والی اقرار دئ اې زموږ پروردګاره ! زموږ ساتنه وکړې او پر موږ احسان وکړې د الله تعالی په ذريعه سره د دوږخ د اور څخه پناه غوښتلو سره موږ دا خبره کوو . مسلم.

**د جهاد، حج او عمرې څخه د ستنېدو پر وخت دعاء**

(٢٣١٣): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الْأَرْضِ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ يَقُولُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې کله به رسول الله ﷺ د يوې غزا، حج يا عمرې څخه راستون سو نو پر هره لوړه ځمکه به يې درې واره الله اکبر وايه بيا به يې دغه دعاء فرمايل: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ. بخاري او مسلم

**په غزوه احزاب کې د رسول الله ﷺ ښېرا**

(٢٣١٤): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اللّٰهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ . متفق عليه

د حضرت عبد الله بن ابي اوفی ﷺ څخه روايت دئ چې د احزاب په جګړه کې رسول الله ﷺ د مشرکينو لپاره دغه ښېرا وکړه: (اللهم منزل الکتاب ..... و زلزلهم) اې الله ! اې د کتاب نازلونکې ! او ژر حساب اخيستونکې اې الله ! د کافرانو ډلې تـه ماتـه ورکـړې اې الله ! دوئ ته ماته ورکړې او د دوئ بيخونه و باسې . بخاري او مسلم.

**د میلمه او کوربه لپاره یو څو سنت خبري**

(۲۳۱۵): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ بُسْرٍ قَالَ نَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي فَقَرَّبْنَا إِلَيْهِ طَعَامًا وَوَطْبَةً فَأَكَلَ مِنْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَأْكُلُهُ وَيُلْقِي النَّوَى بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ وَيَجْمَعُ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى وفي رواية فجعل يلقي النوى على ظهر أصبعيه السبابة والوسطى ثم أتي بشراب فشربه فَقَالَ أَبِي وَأَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهِ ادْعُ اللهَ لَنَا فَقَالَ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ . رواه مسلم

د حضرت عبد الله بن يسر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما د پلار میلمه سو ، نو موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي یو ډول خوراك حاضر کړ ، رسول الله ﷺ هغه وخوړل او بیا وچي خرماوي راوړل سوې ، رسول الله ﷺ به خرماوي خوړلې او منډکي به يې یو ځای کولې او دوو بتو ګوتو په منځ سره به یې غورځولې ، او په یوه روایت کي دي چي منډکي به یې د منځ او مسواکي ګوتي په شا سره غورځولې بیا یې دچښلو راوړل سوی شی وچښښ ، زما پلار په داسي حال کي ویل چي د هغوئ د سپرلۍ واګي یې نیولي وې چي زموږ لپاره د الله تعالی څخه دعاء وغواړه ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اې الله ! د دوئ په رزق کي برکت واچوې دوئ و بخښې او پر دوئ رحم وکړې . مسلم

## دویم فصل

**د میاشتي لیدلو دعاء**

(۲۳۱۶): عَنْ طَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِاللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ اللّٰهُمَّ أَهْلِلْهُ عَلَيْنَا بِالامن وَالْإِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب

د حضرت طلحة بن عبید الله ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ میاشت ولیدل نو دغه دعاء به یې فرمایل : (اللهم اهلـه .....) اې الله ! دا میاشت د امن، ایمان، سلامتی او اسلام سره پر موږ راوخیژوې اې میاشتي زما او ستا پروردګار الله دئ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ.

**د ستونزمن په لیدلو سره دعاء**

(۲۳۱۷): وَعَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ وَ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ رَجُلٍ رَأَى مُبْتَلًى فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا إِلَّا لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ الْبَلَاءُ كَائِنًا مَا كَانَ . رواه الترمذي

د حضرت عمر بن خطاب او ابوهريرة (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي یو ستونزمن سړی ووینې نو هغه دي دغه دعاء ووایي : (الحمد لله..... تفضیلا) ټول تعریفونه الله تعالی لره دي چي زه یې د هغه څخه ساتلی یم په

و رواه ابن ماجة عن ابن عمر وقال الترمذي هذا حديث غريب و عمرو بن دينار الراوي ليس بالقوي

کوم چي يې ته اخته کړی يې او پر خپلو ډيرو مخلوقاتو يې ما ته ښېګڼه راکړې ده ، نو هغه ته به دغه ستونزه هيڅکله نه رسيږي . ترمذي او ابن ماجه ، ترمذي ويلي دي د احديث غريب دئ .

**بازار ته د تللو دعاء او د هغه فضيلت**

(٢٣١٨): وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ دَخَلَ السُّوقَ فَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ .رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي هذا حديث غريب و في شرح السنة من قال في سوق جامع يباع فيه بدل من دخل السوق

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي بازار ته ولاړ سي او دغه دعاء ووايي : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، نو الله پاک د هغه په عمل نامه کي لس لکه نيکي ليکي او د هغه څخه لس لکه بدی ليري کوي او د هغه لس لکه درجي لوړوي او د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوي . ترمذي او ابن ماجة ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او په شرح السنة کي د من دخل السوق پر ځای من قال في السوق جامع يباع فيه ، الفاظ دي .

**د دنيا نعمت پوره نعمت نه دي**

(٢٣١٩): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ فَقَالَ أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ قَالَ دَعْوَةٌ أَرْجُو بِهَا الْخَيْرَ فَقَالَ إِنَّ مِنْ تَمَامِ النِّعْمَةِ دُخُولَ الْجَنَّةِ وَالْفَوْزَ مِنَ النَّارِ وَسَمِعَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ فَقَالَ قَدِ اسْتُجِيبَ لَكَ فَسَلْ وَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ فَقَالَ سَأَلْتَ اللّٰهَ الْبَلَاءَ فَسَلْهُ الْعَافِيَةَ . رواه الترمذي

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړی وليدئ چي داسي دعاء يې کول (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ) اې الله ! زه ستا څخه پوره نعمت غوارم، رسول الله ﷺ د هغه سړي څخه پوښتنه وکړه پوره نعمت څه شي دئ ؟ هغه وويل دا دعاء ده او زه د زيات مال اميد لرم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پوره نعمت په جنت کي داخلېدل او د دوږخ څخه خلاصون تر لاسه کول دي، بيا رسول الله ﷺ د يو سړي څخه داسي واورېدل : يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، اې د بزرګی او بخښني خاوند ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا دعاء قبوله سوه نو ته وغواړه ، او رسول الله ﷺ

د یو بل سړي څخه واورېدل : اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ، اې الله ! زه ستا څخه صبر غواړم ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : تا د الله څخه مصیبت وغوښتئ ته د الله څخه عافیت وغواړه . ترمذي .

**د مجلس کفاره**

(۲۳۲۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ . رواه الترمذي و البيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چې په یو داسي ځای کې کښیني چې هلته بې ګټې خبرې زیاتي وي او هغه د ولاړېدو څخه وړاندې دغه دعاء ووایي : سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، نو هر څه چې په دغه مجلس کې سوي وي هغه ورته بخښل کیږي . ترمذي او بیهقي

**د سپرلۍ دعاء .**

(۲۳۲۱): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ ثُمَّ قَالَ{ سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ}ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثًا وَاللَّهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ثُمَّ ضَحِكَ قُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي يقول يعلم انه لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِيْ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چې هغه د سپرلۍ لپاره یو حیوان راوستلی وو هغه چې کله پر رکاب پښه کښېښودل نو وه یې ویل : بسم الله، او کوم وخت چې پر سپور سو نو وه یې ویل : الحمد لله ، او د هغه وروسته یې دغه دعاء وویل : سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ، بیا یې درې واره الحمد لله وویل ، درې واره الله اکبر او بیا یې دغه دعاء وویل : سبحانك اني ..... الا انت، اې الله ! ته پاك یې ما پر خپل ځان ظلم کړی دی نو ما و بخښې ځکه چې ګناهونه یوازي ته بخښې، ددې وروسته هغه وخندل، د هغه څخه پوښتنه وسول چې اې امیرالمؤمنین ! تاسو ولې وخندل ؟ هغه وویل : ما رسول الله ﷺ په داسي کولو لیدلی دئ څنګه چې ما وکړل او بیا رسول الله ﷺ وخندل، نو ما پوښتنه وکړل اې دالله رسوله !

په څه شي تاسو وخندل ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی د خپل بنده څخه خوشحاله سي هر کله چي هغه دا ووايي اې زما پروردگاره ! زما گناهونه و بخښې او الله تعالی په دې اوربدو سره فرمايي زما بنده پوهيږي چي زما څخه پرته بل څوك گناهونه نه سي بخښلای . احمد، ترمذي او ابوداؤد.

**د مسافر د رخصت کولو دعاء**

(۲۳۲۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَدَّعَ رَجُلًا أَخَذَ بِيَدِهِ فَلَا يَدَعُهَا حَتَّى يَكُونَ الرَّجُلُ هُوَ يَدَعُ يَدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَقُولُ اسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ، و في رواية وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة، وفي رواية و خواتيم عملك.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ يو سړی رخصت کوئ نو دهغه لاس به يې په خپل لاس کي نيوئ او تر هغه وخته پوري به يې نه پرېښوئ تر څو پوري چي هغه به په خپله د رسول الله ﷺ مبارك لاس نه وو پرې ايښی او بيا به يې فرمايل : استودع الله ....عملك، ما الله ته ستا دين او ستا امانت او ستا آخري عمل وسپارئ . ترمذي، د ابوداؤد او ابن ماجه په روايت کي «و آخر عملك» څخه راغلئ دئ .

(۲۳۲۳): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ الْخَطْمِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْتَوْدِعَ الْجَيْشَ قَالَ أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ . رواه أبو داود

د حضرت عبد الله خطمي ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ يو لښکر رخصت کوئ نو دا به يې فرمايل : أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ . ابوداؤد .

(۲۳۲۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُرِيدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِي فَقَالَ زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى قَالَ زِدْنِي قَالَ وَغَفَرَ ذَنْبَكَ قَالَ زِدْنِي بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي قَالَ وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي عرض وکړ اې د الله رسوله ! زه د سفر اراده لرم ما ته يو تحفه راکړئ (يعني زما لپاره دعاء وکړئ) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله دي تا ته د تقوا توښه درکړي ، هغه عرض وکړ څه نور، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : او الله دي ستا گناهونه و بخښي ، هغه وويل : زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي څه نور، رسول الله ﷺ وفرمايل : او الله دي دنيکی توفيق درکړي هر چيري چي يې . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

﴿۲۳۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسَافِرَ فَأَوْصِنِي قَالَ عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ قَالَ فَلَمَّا وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ اللّٰهُمَّ اطْوِ له البعد وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ. رواه الترمذي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وكړ چي زه د سفر اراده لرم ما ته نصيحت وفرماياست ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر خپل ځان د الله بيره لازمه كړه او په سفر كي پر هر لوړ ځاى باندي الله اكبر وايه ، هر كله چي هغه سړى ولاړئ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله ! دده د سفر اوږدوالى را كم كړې او دده سفر آسان كړې . ترمذي.

**په سفر كي د شپې دعاء**

﴿۲۳۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ فَأَقْبَلَ اللَّيْلُ قَالَ يَا أَرْضُ رَبِّي وَرَبُّكِ اللّٰهُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيكِ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيكِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ وَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ شر سَاكِنِ الْبَلَدِ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ . رواه ابوداوٗد .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د سفر اراده كوله او شپه به راغلله نو فرمايل به يې: يا ارض ..... وماولد، اې مځكي ستا او زما پروردګار الله دئ زه د الله په ذريعه ستا د شر څخه او د هغه شي د شر څخه چي په تا كي دي پناه غواړم او د هغه شي د شر څخه چي په تا كي ګرځي راګرځي او زه د الله په ذريعه د زمري څخه د تور مار څخه او د هر ډول نورو مارانو او لړم څخه او د ښار د اوسيدونكو د شر څخه او د پيداكونكو شيانو د شر څخه اود هغه شي د شر څخه چي پيدا كړل سوي دي پناه غواړم . ابوداوٗد.

**د جهاد په وخت كي دعاء**

﴿۲۳۲۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا قَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي بِكَ أَحُولُ وَبِكَ أَصُولُ وَبِكَ أُقَاتِلُ . رواه الترمذي و ابوداوٗد .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ جهاد كوئ نو فرمايل به يې: اې الله زما پر تا تكيه ده ته زما پروردګار يې ستا په توان سره د دښمن مكر (چم) ليري كوم او حلمه كوم او ستا په توان سره جنګيږي. ترمذي او ابوداوٗد.

**د دښمن د ويري په وخت كي دعاء**

﴿۲۳۲۸﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسٰى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَافَ قَوْمًا قَالَ اللّٰهُمَّ

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ ته د يو قوم څخه بيره وه نو دا به يې

إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ . رواه احمد و ابوداؤد .

فرمایل: اللهم .... من شرورهم، اې الله ! موږ ګرځوو تا په مقابله د دوئ (کافرانو) کښې او ستا په ذریعه د هغوئ د بدیو څخه پناه غواړو. احمد او ابو داؤد.

## د کور څخه د وتلو دعاء

(۲۳۲۹): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا. رواه احمد والترمذي والنسائي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح و في رواية ابي داؤد وابن ماجة قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ مَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا رَفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د کور څخه وتئ نو دغه دعاء به یې ویل: بسم الله ... او یجهل علي، د الله په نامه اخیستلوسره د کور څخه وځم ما پر الله باور وکړ موږ ستا په ذریعه پناه غواړو او ددې څخه چي موږ وښوئیږو یا ګمراه سو یا ظلم وکړو یا پر موږ باندي ظلم وسي یا موږ جهالت وکړو او یا زموږ سره جهالت وکړل سي ، احمد، ترمذي او نسائي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ او د ابوداؤد او ابن ماجه په روایت کي دا الفاظ دي چي ام سلمة وایي چي کله به رسول الله ﷺ زما دکور څخه ووتئ نو خامخا به یې د آسمان په لور کتل او دغه دعاء به یې ویل: اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ، اې الله ! زه پناه غواړم په تا سره ددې څخه چي په خپله بې لاري سم یا بل څوك بې لاري کړم یا پر چا ظلم وکړم او یا بل څوك راباندي ظلم وکړي یا ناپوهي و سي او یا راسره د ناپوهۍ معامله و سي.

(۲۳۳۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ يُقَالُ حِينَئِذٍ هُدِيتَ وَكُفِيتَ وَوُقِيتَ فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ فَيَقُولُ لَهُ شَيْطَانٌ آخَرُ كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ . رواه ابوداؤد و روي الترمذي الى قوله له الشيطان .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سړي چي د کور څخه وځي نو دغه دعا دي وایي: بسم الله .... الابالله، کله چي دغه دعاء ووایي نو ملائکه ددې په جواب کي وایي: هدیت و کفیت ووقیت، اې د الله بنده ! تا ته هدایت درکړل سو ، کفایت درکړل سو او خوندي سوې، (د دې په اورېدو سره) شیطان څیني لیري

سي او دويم شيطان هغه ته وايي ته پر دې سړي څنګه توان پيدا کولای سې چي هدايت ورته وسو، کفايت ورته وسو او د بدو څخه خوندي کړل سو . ابوداؤد، او ترمذي تر له الشيطان پوري بيان کړې دئ.

**کور ته د ننوتلو دعاء**

(۲۳۳۱): وَعَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ ولجنا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ . رواه ابوداؤد

د حضرت ابو مالك اشعري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يو څوك خپل کور ته ننوزي نو دغه دعاء دي وايي: اللهم اني .... ربنا توكلنا، اې الله زه ستا څخه د داخلېدو، د خير او د کور څخه د وتلو د خير غوښتنه کوم او موږ په کور کي د الله په نامه سره داخل سو او موږ پر الله ﷻ چي زموږ رب دئ توکل کړی دی، د دې وروسته دي کورنۍ ته سلام وکړي . ابوداؤد.

**د زوم او ناوي لپاره دعاء**

(۲۳۳۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د يو نکاح کونکي لپاره دعاء کول نو داسي به يې فرمايل: بارك الله .... في خير، الله تعالي دي تا ته برکت درکړي او تاسو دواړو ته دي برکت درکړي او تاسو دواړه دي په نيکۍ کي يو ځای کړي . احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه

**د نکاح کونکي دعاء**

(۲۳۳۳): وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمْ امْرَأَةً أَوْ اشْتَرَى خَادِمًا فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيرًا فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهِ وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَالْيَدْعُ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي چي کله يو څوك نکاح کوي يا يو غلام رانيسي نو دغه دعاء دي وايي: اللهم اني .... ماجبلتها عليه، اې الله! زه ستا څخه د هغه خير او د هغه د اخلاقو ښه والی غواړم، او ستا په ذريعه د هغه (ياهغې) د بدۍ څخه او د هغه (ياهغې) د اخلاقو د بدۍ څخه پناه

بِالْبَرَكَةِ . رواه ابوداؤد وابن ماجة .

غوارم ، او هر کله چي اوښ رانيسي نو دهغه قوب دي ونيسي او همدغه دعاء دي ووايي، د ښځي او غلام والا په روايت کي دا الفاظ هم شته چي د ښځي او غلام د تندي وربښتان دي ونيسي او د برکت دعاء دي وکړي . ابوداؤد او ابن ماجة.

## د غم ليري کولو دعاء

(٢٣٣٤): وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَوَاتُ الْمَكْرُوْبِ اللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ اَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوبکرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ستونزمن دعاء داده : (اللهم رحمتك ....) اي الله ! زه ستا د رحمت اميدوار يم ، ما زما نفس ته يو ګړی هم حواله مه کړې او زما ټول کارونه سم کړې ستا څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته . ابوداؤد.

## د پور خلاصولو لپاره دعاء

(٢٣٣٥): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ هُمُومٌ لَزِمَتْنِي وَدُيُونٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا قُلْتَهُ أَذْهَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّكَ وَقَضَى عَنْكَ دَيْنَكَ قَالَ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمِّي وَقَضَى عَنِّي دَيْنِي . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه ډير غمجن انسان يم ، رنځ او غم راګير کړی يم او زه پوروړی يم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا زه داسي دعاء درته وښيم چي هغه ته ووايې نو الله تعالی به ستا غم ليري کړي او ستا پور به ادا کړي ، هغه سړي عرض وکړ: هو ، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته سهار او ماښام دغه دعاء وايه: (اللهم اني .... وقهر الرجال) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د فکر او غم څخه او پناه غوارم د عاجزۍ او سستۍ څخه او پناه غوارم د بخل او نامردۍ څخه او پناه غوارم د پور د غلبې څخه او د خلکو د غلبې څخه. د هغه سړي بيان دئ چي ما په دې عمل وکړ نو الله تعالی زما غم او فکر ليري کړ او ما ته يې د پور څخه خلاصون راکړ. ابوداؤد.

(٢٣٣٦): وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ جَاءَهُ مُكَاتَبٌ فَقَالَ إِنِّي عَجَزْتُ عَنْ كِتَابَتِي فَأَعِنِّي قَالَ أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ

د حضرت علي ؓ څخه روايت دئ چي يو مکاتب (هغه مريی چي يو څه روپۍ پر خان مقرري کړي

عَلَّمَنِيهِنَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ جَبَلٍ كبير دَيْنًا أَدَّاهُ اللّٰهُ عَنْكَ قَالَ قُلْ اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ. رواه الترمذي والبيهقي في الدعوات الكبير و سنذكر حديث جابر اذا سمعتم نباح الكلاب في باب تغطية الاواني ان شاء الله تعالى .

چي وروسته تر ادا کولو د دغه روپو دی ازاد سي) هغه ته راغلئ او وه يې ويل زه د خپل ليکل سوي وعدې څخه عاجز يم تاسو زما مرسته وکړئ ، هغه ورته وويل ايا زه تا ته هغه دعاء ونښيم کوم چي ما ته رسول الله ﷺ ښودلې وه ؟ که پر تا د لوی غره په شان قرض وي نو الله تعالی به هغه ادا کړي ته دغه دعاء وايه : (اللهم اکفني .... عمن سواك) اي الله ! ما د خپل حلال په ذريعه د حرام څخه وساتې ما په خپل فضل او کرم سره د خان څخه پرته د هر چا څخه مستغني کړې . ترمذي او بيهقي .

## دريم فصل

### د مجلس وروسته دعاء

(۲۳۳۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلَّى تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْ الْكَلِمَاتِ فَقَالَ إِنْ تَكَلَّمَ بِخَيْرٍ كَانَ طَابِعًا عَلَيْهِنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنْ تَكَلَّمَ بِشَرٍ ذَلِكَ كَانَ كَفَّارَةً لَهُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَاإِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ . رواه النسائي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ په يو ځای کي کښېنستئ يا لمونځ به يې کوئ نو يو څو کلمې به يې ويلې ، نو ما د رسول الله ﷺ څخه د هغه کلمې په اړه پوښتنه وکړل، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل که ددې کلماتو څخه وړاندي نيکي خبري و سي نو دا کلمې تر قيامته پوري پر هغه مهر سي او که خرابي خبري و سي نو دا کلمې د هغه کفاره سي (او هغه کلمې دادي) : سبحانك ..... اليك، اي الله ! ته پاك يې، او موږ ستا تعريف بيانوو ستا څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته زه ستا څخه د بخښني غوښتونکی يم او تا ته توبه کارم. نسائي .

### د نوي مياشتي ليدلو دعاء

(۲۳۳۸): وَعَنْ قَتَادَةَ بَلَغَهُ أَنَّ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ آمَنْتُ بِالَّذِي خَلَقَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت قتادة ؓ څخه روايت دئ چي ما ته څرگنده سوې ده چي رسول الله ﷺ به مياشت وليدل نو دا به يې فرمايل : (هلال خير و رشد) د خير او هدايت مياشت ده دخير او هدايت

الَّذِي ذَهَبَ بِشَهْرِ كَذَا وَجَاءَ بِشَهْرِ كَذَا . رواه ابوداؤد

مياشت ده د خير او هدايت مياشت ده، ما پرهغه ذات ايمان راوړئ دئ چي ته يې پيدا كړې يې، ددې وروسته به يې فرمايل : الحمدلله ... كذا، ټول تعريفونه الله تعالى لره دي چي فلانئ مياشت يې ختمه كړه او فلانئ مياشت يې پيل كړه . ابوداؤد.

**د غم په وخت كي دعاء**

(٢٣٣٩): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَثُرَ هَمُّهُ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ وَفِيْ قَبْضَتِكَ نَاصِيَتِيْ بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِيْ كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ او الهمت عبادك أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِيْ مَكْنُوْنِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قَلْبِيْ وَجِلَاءَ هَمِّيْ وَغَمِّيْ مَا قَالَهَا عَبْدٌ قَطُّ إِلاَّ أَذْهَبَ اللهُ غَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ فَرَجًا " . رواه رزين

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په غم او فكر كي اخته وي نو دغه دعاء دي وايي : (اللهم اني .... و غمي) اې الله ! زه ستا بنده يم ستا د بنده زوى يم ستا د مينځي زوى يم زه ستا په واك كي يم زما د تندي ورېښتان ستا په لاس كي دي زما په حق كي ستا حكم جاري دئ ستاسو پريكړه زما په حق كي عدل دئ زه ستاسو په نامه سره غواړم د هر هغه نامه په وسيله چي تا خپل د ځان لپاره ټاكلى او غوره كړئ دئ يا دي په خپل كتاب كي نازل كړى دئ يا په خپل مخلوقاتو كي دي يو چا ته ښودلى دئ يا تا خپلو بندګانو ته الهام كړئ دئ يا غوره كړي دي وي خپل ځان په پردو د غيب كي په نزد خپل ، ته قرآن زما د زړه پسرلى جوړ كړې او هغه زما د غم او فكر ليري كونكى كړې ، كوم بنده چي دغه دعاء ووايي نو الله تعالى به يې غم او فكر ليري كړي او د هغه په بدل كي به خوښي وركړي . رزين

**د كښته كېدو او ختلو پر وخت تكبير او تسبيح ويل**

(٢٣٤٠): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا . رواه البخاري

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي كله به موږ پر يو لوړ ځاى ختلو نو الله اكبر به مو وايه او كله چي به كښته كېدلو نو سبحان الله به مو ويل . بخاري.

**د غم ليري كولو دعاء**

(٢٣٤١): وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ يقول يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب و ليس بمحفوظ .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ په يو شي باندي غمجن سو نو ويل به يې (يا حي يا قيوم برحمتك استغيث) اې هميشه ژونديه ! اې هميشه قائم خدايه ! زه ستا د

رحمت په نامه تا ته فریاد کوم. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ او خوندي نه دئ.

(۲۳۴۲): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَوْمَ الْخَنْدَقِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ مِنْ شَيْءٍ نَقُوْلُهُ فَقَدْ بَلَغَتْ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ قَالَ نَعَمْ اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا قَالَ فَضَرَبَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وُجُوْهَ أَعْدَائِهِ بِالرِّيْحِ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِالرِّيْحِ. رواه احمد

د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي د خندق په ورځ موږ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله! ایا یو داسي دعاء سته چي موږ یې ووایو اوس خو زموږ زړونه حلق ته رارسیدلي دي (یعني په سختو ستونزو کي یو) رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه دعاء وایاست: (اللهم استر عوراتنا و آمن روعاتنا) اې الله! زموږ عیبونه پټ کړې او موږ ته د بیرې څخه امن راکړې، د راوي بیان دئ چي الله تعالی په تیزي هواء سره د دښمنانو مخونه وګرځول او الله تعالی په تیزي هواء سره هغوئ ته ماته ورکړه. احمد.

**بازار ته د ننوتلو دعاء**

(۲۳۴۳): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ السُّوْقَ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُصِيْبَ فِيْهَا صَفْقَةً خَاسِرَةً. رواه البيهقي في الدعوات الكبير

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ بازار ته تشریف وړئ نو فرمایل به یې (بسم الله .... صفقة خاسرة) د الله په نامه سره زه بازار ته داخلیږم اې الله! زه ستا څخه ددې بازار او څه چي په دې بازار کي دي ددې خیر غواړم او ستا په ذریعه ددې او کوم څه چي په دې کي دي د هغو د بدۍ څخه پناه غواړم، اې الله! زه ستا په ذریعه ددې څخه پناه غواړم چي زه ددې بازار په معامله کي تاوان پورته کړم. بیهقي.

# بَابُ الْاِسْتِعَاذَةِ (د پناه غوښتلو بیان)

## لومړی فصل

**د خدای ﷻ پناه غوښتل**

(۲۳۴۴): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ وَدَرَكِ الشَّقَاءِ وَسُوْءِ الْقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الْاَعْدَاءِ . متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمایل: د الله په ذریعه پناه غواړئ د ستونزو څخه، د بلا څخه، د بدبختی څخه، د خراب تقدیر څخه او د د ښمنانو د خوشحالی څخه. بخاري او مسلم.

**رسول الله ﷺ د کومو شیانو څخه پناه غوښتل**

(۲۳۴۵): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمایل: (اللهم اني ... وغلبة الرجال) اې الله! زه ستا په ذریعه د غم او فکر څخه، د عجز او سستی څخه، دبزدلی څخه، د بخلڅخه، د پور څخه او د خلکو د غلبې څخه پناه غواړم. بخاري او مسلم.

(۲۳۴۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَاْثَمِ اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنٰى وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ اللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِي كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء کول: (اللهم اني....) اې الله! زه ستا په ذریعه پناه غواړم د سستی څخه، د سپین ږیرتوب څخه، د پور څخه، د گناه څخه، اې الله! زه ستا په ذریعه پناه غواړم د اور د عذاب څخه د اور د فتنې څخه، د قبر د فتنې څخه، د قبر د عذاب څخه، د شتمنی د فتنې څخه، د بدی څخه، د مفلسی څخه او د مسیح د جال د فتنې څخه، اې الله! زما گناهونه د واورې او ژلۍ په اوبو سره پرېولې او زما زړه داسې پاک کړې لکه سپینه جامه چې د خیرو څخه پاکه وي او زما او زما د گناهو په منځ کې دومره لیرې والی پیدا کړې څومره چې د لوېدیځ او ختیځ په منځ کې دئ. بخاري او مسلم.

(۲۳۴۷): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا. رواه مسلم

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء کول: (اللهم اني ....) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د عاجزۍ څخه، د سستۍ څخه، د بزدلۍ څخه، د بخل څخه، د سپين ږيرتوب څخه او د قبر د عذاب څخه. اې الله! زما نفس ته پرهيزګاري ورکړې او پاك يې کړې ته په پاکونکو کي غوره ذات يې، ته زما کارجوړونکی يې او مالك يې، اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د هغه علم څخه چي ګټه نه ورکړي او د هغه زړه څخه چي عاجزي پکښي نه وي، او د هغه نفس څخه چي د حرص د زياتۍ څخه هيڅکله نه مړيږي او د هغه دعاء څخه چي قبوله نه سي. مسلم.

(۲۳۴۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ. رواه مسلم

د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په دعاوو کي يوه دعاء دا هم وه: (اللهم اني ...) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غوارم ستا د نعمت د زوال څخه ستا د عافيت د بدلون څخه ستا د ناڅاپه عذاب څخه او ستا د ټولو غصو څخه. مسلم

(۲۳۴۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ. رواه مسلم

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل: (اللهم اني ..اعمل) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د هغه بدۍ څخه چي ما کړې ده او د هغه بدۍ څخه چي ما نه ده کړې. مسلم.

(۲۳۵۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لِلَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اللَّهُمَّ اِنِّيْ أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ان تضلني انت الحي الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسو الله ﷺ به دغه دعاء ويل: اللهم لك.... يموتون، اې الله! ما ستا فرمانبرداري وکړه او ما ستا په لور رجوع وکړه او ستا په مرسته سره جګړه کوم، اې الله! زه ستا د عزت په

(۲۳۴۷): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللّٰهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا. رواه مسلم

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء كول: (اللهم اني ....) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د عاجزۍ څخه، د سستۍ څخه، د بزدلۍ څخه، د بخل څخه، د سپين ږيرتوب څخه او د قبر د عذاب څخه. اې الله ! زما نفس ته پرهيزګاري وركړې او پاك يې كړې ته په پاكونكو كي غوره ذات يې، ته زما كارجوړونكى يې او مالك يې، اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د هغه علم څخه چي ګټه نه وركړي او د هغه زړه څخه چي عاجزي پكښې نه وي، او د هغه نفس څخه چي د حرص د زياتۍ څخه هيڅكله نه مړيږي او د هغه دعاء څخه چي قبوله نه سي. مسلم.

(۲۳۴۸): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ. رواه مسلم

د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په دعاوو كي يوه دعاء دا هم وه: (اللهم اني ...) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غوارم ستا د نعمت د زوال څخه ستا د عافيت د بدلون څخه ستا د ناڅاپه عذاب څخه او ستا د ټولو غصو څخه. مسلم

(۲۳۴۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل: (اللهم اني ..اعمل) اې الله ! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د هغه بدۍ څخه چي ما كړې ده او د هغه بدۍ څخه چي ما نه ده كړې. مسلم.

(۲۳۵۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ لِلّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ ان تضلني انت الحي الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسو الله ﷺ به دغه دعاء ويل: اللهم لك..... يموتون، اې الله ! ما ستا فرمانبرداري وكړه او ما ستا په لور رجوع وكړه او ستا په مرسته سره جګړه كوم. اې الله ! زه ستا د عزت په

ذريعه پناه غواړم ،ستا څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته، ددې څخه چې ته ما گمراه كړې، ته ژوندى يې داسې ژوندى چې نه مرې ، حال دا چې انسانان او پيريانان ټول مړه كيدونكي دي. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

(۲۳۵۱): عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْاَرْبَعِ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ. رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجة و رواه الترمذي عن عبدالله ابن عمرو والنسائي عنهما .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويل: (اللهم اني ... لا يسمع) اي الله! زه ستا په ذريعه د څلورو شيانو څخه پناه غواړم: دهغه علم څخه چې گټه نه وركوي، د هغه زړه څخه چې عاجزي نه كوي، د هغه نفس څخه چې موړ نه وي، د هغه دعاء څخه چې نه واوريدل سي (يعني قبوله نه سي)، احمد ، ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي دا روايت د عبدالله ابن عمر او نسائي د دواړو څخه روايت كړى دئ.

(۲۳۵۲): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَسُوءِ الْعُمُرِ وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د پنځو شيانو څخه پناه غوښتل: د بزدلۍ څخه، د بخل څخه، د عمر د خرابۍ څخه، د سينې د فتنې څخه ، (يعني د بد اخلاقۍ او بدي عقيدې څخه) او د قبر د عذاب څخه. ابوداؤد او نسائي.

(۲۳۵۳): وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ اَنْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلَمَ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمايل: (اللهم اني ...اظلم) اي الله! زه ستا په ذريعه پناه غواړم د مفلسۍ څخه، د نيكيو د كمۍ څخه يا د شتمنۍ د كمۍ څخه او د ذلت څخه او ددې څخه پناه غواړم چې زه پر چا ظلم وكړم يا څوك پر ما ظلم وكړي. ابوداؤد او نسائي.

(۲۳۵۴): وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء فرمايل: (اللهم .... و سوء الاخلاق) اي

بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

الله ! زه ستا په ذریعه د بدبختی ، نفاق او بد اخلاقی څخه پناه غوارم .. ابوداؤد او نسائي .

(۲۳۵۵): وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمایل : (اللهم اني....البطانة) اي الله ! زه ستا په ذریعه د لوږي او فاقي څخه پناه غوارم چي بدترین ملګری دئ او د خیانت څخه پناه غوارم چي هغه بدترین دننه عادت دئ . ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه .

(۲۳۵۶): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به دا فرمایل : (اللهم اني ... الاسقام) اي الله ! زه ستا په ذریعه د برص (دفیس ناروغي) څخه د جزام څخه ، د لیونتوب څخه د ټولو خرابو ناروغیو څخه پناه غوارم . ابوداؤد او نسائي .

(۲۳۵۷): وَعَنْ قُطْبَةَ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ . رواه الترمذي

د حضرت قطبة بن مالك ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمایل : (اللهم اني ... والاهواء) اي الله ! زه ستا په ذریعه د بدو اخلاقو څخه، د بدو اعمالو څخه او د بدو غوښتنو څخه پناه غوارم . ترمذي .

## د پناه غوښتلو یو جامع دعاء

(۲۳۵۸): وَعَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ اَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَا نبي الله عَلِّمْنِي تعويذا تعوذ به قال قُلْ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي . رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي .

حضرت شتیر بن شکل بن حمید د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ اي د الله رسوله ! ما ته یو داسي دعاء وښیاست چي د هغه په ذریعه زه پناه غوارم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دغه دعاء وایه (اللهم ..... و شر مني) اي الله ! زه ستا په ذریعه د بد اوریدو څخه ، د بد لیدو څخه ، دبد ویلو څخه ، د بد زړه څخه او د شر څخه د مني پناه غوارم . ترمذي، ابوداؤد ، او نسائي .

**رسول الله ﷺ د مهلکو پېښو څخه پناه غوښتل**

(۲۳۵۹): وَعَنْ اَبِيْ الْيَسَرِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو اللّٰهُمَّ إِنِّي اَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ وَاَعُوذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّي وَاَعُوذُ بِكَ مِنَ الْغَرَقِ وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ وَاَعُوذُ بِكَ اَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَاَعُوذُ بِكَ اَنْ اَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا وَاَعُوذُ بِكَ اَنْ اَمُوتَ لَدِيغًا . رواه ابوداؤد والنسائي.و زاد في رواية اخري والغم .

د حضرت ابو اليسر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء فرمايل: (اللهم اني ... لديغا) اې الله! زه ستا په ذريعه پناه غوارم د (سرای يا خوني د) نړېدو څخه او د بام د نړېدو څخه او د غرقېدو څخه او د سوځېدو څخه او د ډېر سپين ږيرتوب څخه او پناه غوارم د مرگ په وخت کي د شيطان د پرېشاني څخه او پناه غوارم ددې څخه چي ستا په لار کي د جگړې څخه و تښتم او ووژل سم، او پناه غوارم ددې څخه چي د مار، لړم، اويا بل شي د وهلو څخه مړ سم. ابوداؤد او نسائي او په يوه روايت کي دا الفاظ هم زيات دي چي زه د غم څخه پناه غوارم.

**د سپوږمۍ د بې نوره کېدو څخه پناه**

(۲۳۶۰): وَعَنْ مُعَاذٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَعِيذُوا بِاللّٰهِ مِنْ طَمَعٍ يَهْدِي إِلَى طَبْعٍ . رواه احمد والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي تاسو د الله تعالی په ذريعه د طمع څخه پناه غوارئ چي د عيب په لور لارښوونه کوي. احمد او بيهقي.

**د طمع څخه پناه**

(۲۳۶۱): وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ اسْتَعِيذِي بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا فَإِنَّ هٰذَا هُوَ الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ . رواه الترمذي

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ مياشتي ته وکتل او ما ته يې وفرمايل: اې عائشې! د الله تعالی په ذريعه ددې د شر څخه پناه غواړه ځکه چي دا تاريکي خپرونکې ده هر کله چي بې نوره سي. ترمذي

**د نفس د بدوالي څخه پناه**

(۲۳۶۲): وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَبِي يَا حُصَيْنُ كَمْ تَعْبُدُ الْيَوْمَ إِلٰهًا قَالَ اَبِي سَبْعَةً سِتَّةً فِي الْاَرْضِ وَوَاحِدًا فِي السَّمَاءِ قَالَ فَاَيُّهُمْ تَعُدُّ لِرَغْبَتِكَ وَرَهْبَتِكَ قَالَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ قَالَ يَا حُصَيْنُ اَمَا إِنَّكَ لَوْ اَسْلَمْتَ

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زما پلار حصين ته (د اسلام راوړلو څخه وړاندي) وفرمايل: اې حصين! ته نن د څومره خدايانو عبادت کوې؟ زما پلار ورته وويل شپږ د مځکي د معبوداتو (بتانو) او

عَلَّمْتُكَ كَلِمَتَيْنِ تَنْفَعَانِكَ قَالَ فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلِّمْنِي الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي فَقَالَ قُلْ اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي ٭ رواه الترمذي

يو د آسمان د معبود، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې حصين! په دې معبودانو کې ته د چا څخه د خير اميد لرې او د چا څخه بيرېږې؟ زما پلار ورته وويل: د هغه چا څخه چې په آسمان کې دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې حصين که ته اسلام قبول کړې نو زه به تا ته دوې کلمې وښيم چې تا ته به گټه ورسوي، د عمران بيان دئ چې کله حصينؓ اسلام قبول کړ نو نبي کريم ﷺ ته يې عرض وکړ اې د الله رسوله! ما ته هغه دوې کلمې وښيه چې تاسو يې وعده کړې وه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته دغه دعاء وايه: (اللهم .... من شر نفسي) اې الله! زما په زړه کې هدايت واچوې او زما د نفس د شر څخه پناه راکړې. ترمذي.

**په خوب کې د بيرې څخه پناه**

(۲۳۶۳): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ ويعلمها مَنْ بَلَغَ مِنْ وَلَدِهِ وَمَنْ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِي صَكٍّ ثُمَّ عَلَّقَهَا فِي عُنُقِهِ . رواه ابوداؤد والترمذي و هذا لفظه .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوك په خوب کې بيرېږي نو هغه ته پکار ده چې دا دعاء ووايي: (اعوذ بكلمات الله .... يحضرون) پناه غواړم د الله د پوره کلماتو په ذريعه د هغه د غضب څخه او عذاب څخه او د هغه د بندگانو د شر څخه او د شيطان د وسوسو. څخه او ددې څخه چې شيطان ما ته راسي، نو هغه ته به شيطان هيڅکله تاوان ونه رسوي، عبدالله بن عمرو ؓ به دغه دعاء خپلو زامنو ته ښودل يعني بالغ هلکانو ته به يې يادول او نابالغو ته به يې ليکئ او په غاړه کې به يې ور اچوئ. ابوداؤد او ترمذي.

**د جنت غوښتنه او د دوزخ څخه پناه**

(۲۳۶۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتْ الْجَنَّةُ اللَّهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَمَنْ اسْتَجَارَ مِنْ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتْ النَّارُ اللَّهُمَّ أَجِرْهُ مِنْ النَّارِ . رواه الترمذي و النسائي .

د حضرت انس ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د الله تعالی څخه درې واره جنت وغواړي نو جنت وايي اې الله! دا کس په جنت کې داخل کړې او څوك چې د دوزخ څخه درې واره پناه وغواړي نو دوزخ وايي اې الله ﷻ دی د اور څخه وساتې. ترمذي او نسائي.

## دريم فصل

### د جادو وغيره څخه د ساتني دعاء

(۲۳۶۵): وَعَنِ الْقَعْقَاعِ أَنَّ كَعْبَ الْأَحْبَارِ قَالَ لَوْلَا كَلِمَاتٌ أَقُولُهُنَّ لَجَعَلَتْنِي يَهُودُ حِمَارًا فَقِيلَ لَهُ وَمَا هُنَّ فَقَالَ أَعُوذُ بِوَجْهِ اللّٰهِ الْعَظِيمِ الَّذِي لَيْسَ شَيْءٌ أَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ وَبِأَسْمَاءِ اللّٰهِ الْحُسْنَى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ. رواه مالك

د حضرت قعقاع ﷺ څخه روايت دئ چي كعب احبار وويل كه ما دا دعاء نه ويلاى نو يهوديانو به زما څخه خر جوړ كړى واى ، پوښتنه وسول هغه كومه دعاء ده ؟ هغه وويل : (اعوذ بوجه .... و ذرا و برا) پناه غواړم د الله تعالى د لوى ذات په ذريعه چي تر هغه هيڅوك لوى ذات نسته او د هغه د پوره كلمو په ذريعه چي د هغه څخه هيڅ نيكي او هيڅ بدي نه تيريږي او د الله تعالى د هغه نومانو په ذريعه كوم چي ما ته معلوم دي او كوم چي ما ته معلوم نه دي د هغه شي د بدى څخه چي پيدا يې كړل او تار په تار يې كړل او برابر يې كړل يعني كوم شيان چي يې متناسب الاعضاء جوړ كړل . مالك .

### د كفر څخه پناه غوښتل

(۲۳۶۶): وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ كَانَ أَبِي يَقُولُ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ فَكُنْتُ أَقُولُهُنَّ فَقَالَ أَبِي أَيْ بُنَيَّ عَمَّنْ أَخَذْتَ هَذَا قُلْتُ عَنْكَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُهُنَّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ . رواه النسائي والترمذي الا انه لم يذكر في دبر الصلوة و روي احمد لفظ الحديث و عنده في دبر كل صلوة .

د حضرت مسلم بن ابي بكرة ﷺ څخه روايت دئ چي زما پلار به د هر لمانځه وروسته دغه دعاء ويل : (اللهم اني ....وعذاب القبر) اي الله ! زه ستا په ذريعه د كفر څخه، د مفلسى څخه او د قبر د عذاب څخه پناه غواړم، نو ما هم دا دعاء ويل پيل كړل زما پلار را څخه پوښتنه وكړه اي زويه ! دغه دعاء تا د چا څخه زده كړې ده ما ورته وويل :ستاسو څخه، نو هغه راته وويل : دغه دعاء به د هر لمانځه وروسته رسول الله ﷺ فرمايل، ددې روايت امام نسائي او ترمذي كړى دئ مگر دا چي د لمانځه وروسته دا الفاظ ذكر نه دي او د امام احمد په روايت كي دا الفاظ هم سته .

(۲۳۶۷): وَعَنْ اَبِي سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتَعْدِلُ الْكُفْرُ بِالدَّيْنِ قَالَ نَعَمْ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ قَالَ رَجُلٌ وَيُعْدَلَانِ قَالَ نَعَمْ . رواه النسائي .

د حضرت ابو سعید ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چي دغه دعاء به یې ویل: (اعوذبالله ....والدین) زه د کفر او پور څخه د الله تعالی پناه غوارم، یو سړي پوښتنه وکړه اي دالله رسوله! ایا تاسو کفر د پور سره سم ګڼئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:هو، او په یوه روایت کي دا الفاظ.دي چي (اللهم اني اعوذبك من الکفر والفقر) نو یو سړي وویل: ایا کفر او فقر سره برابر دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو. نسائي.

## بَابُ جَامِعِ الدُّعَاءِ (جامع دعاوي)

### لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ د بخښني دعاء**

(۲۳۶۸): عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ كَانَ يَدْعُوْ بِهٰذَا الدُّعَاءِ اللهم اغْفِرْ لِيْ خَطِيْئَتِيْ وَجَهْلِيْ وَاِسْرَافِيْ فِيْ اَمْرِيْ وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهِ مِنِّيْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ جِدِّيْ وَهَزْلِيْ و خَطَائِيْ وَعَمَدِيْ وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِيْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ وَمَا اَسْرَرْتُ وَمَا اَعْلَنْتُ اَنْتَ اَعْلَمُ بِهِ مِنِّيْ اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ . متفق عليه

د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به دغه دعاء ویل: (اللهم اغفرلي .... علی کل شئ قدیر) اي الله! زما خطا و بخښې، زما د ناپوهی په کارو کي زما زیاتي او هغه ګناه چي د هغه په اړه زما څخه تاته زیات خبر دئ، اي الله! زما هغه خبره و بخښې چي ما په اراده او پوهه سره کړې ده او هغه خبره چي ما په خندا او شوق سره کړې ده او هغه خبري چي زما څخه په هیره سوي دي او هغه چي ما په قصد سره کړي دي او دا ټولي خبري په ما کښي دي، اي الله! و بخښې زما مخکني او وروستني ګناهونه، پټ ګناهونه او ښکاره ګناهونه او هغه ګناهونه چي د هغو زما څخه تاته زیات خبر دئ، ته وړاندي کونکی او وروسته کونکی یې او ته پر هر شي توانا یې بخاري او مسلم.

**د دین او دنیا لپاره دعاء**

(۲۳۶۹): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ . رواه مسلم

الله ﷺ به ويل: (اللهم اصلح .....من كل شر) اې الله ! زما دين درست کړې چې زما د کارو ساتونکی دئ، او زما دنيا درسته کړې هغه دنيا چې په هغه کې زما معاش دئ او زما آخرت درست کړې چې هغه ته زما تلل دي او زما ژوند زيات کړې چې د نيکۍ سبب سي او مرگ زما لپاره د هري بدۍ څخه د راحت او آرام سبب جوړ کړې. مسلم.

**د هدايت دعاء**

(۲۳۷۰): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به فرمايل (اللهم ...تر ...والغنی پوري) اې الله ! زه ستا څخه هدايت، پرهيزگاري، پاکدامني او غنا غواړم، مسلم.

(۲۳۷۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ. وَسَلَّمَ قُلْ اللّٰهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ وَبِالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ . رواه مسلم

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: ته ووايه: (اللهم اهدني وسددني) اې الله ! ما ته هدايت وکړې او ما سيده کړې، هر کله چې ته هدايت وغواړې نو د لاري سيده تلل په خيال کې ساته او هر کله چې د سيده والي سوال کوې نو د غشي د سم والي خيال کوه. مسلم.

**د نوي مسلمان دعاء**

(۲۳۷۲): وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي . رواه مسلم

حضرت ابو مالك اشجعي ﷺ د خپل پلار څخه روايت کوي چې کله به يو سړي اسلام قبول کړ نو رسول الله ﷺ به هغه ته لمونځ ښودئ او بيا به يې حکم ورکوئ چې په دغه تورو سره دعاء کوه: (اللهم ..... وارزقني) اې الله ! ما و بخښې پر ما رحم وکړې، ما ته هدايت وکړې، ما په عافيت کي ولرې او رزق راکړې. مسلم.

**د دنيا او اخرت د ټولو مقصدو دعاء**

(۲۳۷۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ . متفق عليه

الله ﷺ به ډير وخت دغه دعاء كول: (اللهم ربنا ..... النار) اي الله! موږ ته په دنيا كي هم نيكي راكړه او په آخرت كي هم او موږ د دوږخ د اور څخه خوندي كړې. بخاري او مسلم.

## دويم فصل

### يو جامع دعاء

(۲۳۷۴): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو يَقُولُ رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ وَاهْدِنِي وَيَسِّرْ الْهُدَى لِي وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا لَكَ ذَكَّارًا لَكَ رَهَّابًا لَكَ مِطْوَاعًا لَكَ مُخْبِتًا إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي وَاغْسِلْ حَوْبَتِي وَأَجِبْ دَعْوَتِي وَثَبِّتْ حُجَّتِي وَسَدِّدْ لِسَانِي وَاهْدِ قَلْبِي وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي . رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به داسي دعاء ويل: (رب اعني.... سخيمة صدري) اې زما پروردګاره! زما مرسته وكړې او زما خلاف د چا مرسته مه كوې، ما ته فتح راكړې او زما په مقابل كي بل چا ته فتح مه وركوې، او زما لپاره تدبير وكړې او زما خلاف د چا لپاره تدبير مه كوې او ما ته هدايت وكړې او زما لپاره پر سمه لار تلل آسان كړې د هغه چا خلاف زما مرسته وكړې چا چي پر ما زياتى كړى وي، اې پروردګاره! ما خپل شكر ګزار جوړ كړې، خپل ذكر كونكى مي جوړ كړې، د خپل ذات څخه بيرېدونكى مي جوړ كړې، خپل فرمانبردار مي جوړ كړې خپل په لور عاجزي كونكى، زارى كونكي، او رجوع كونكى مي جوړ كړې، اې پروردګاره! زما توبه قبوله كړې زما ګناهونه ورژوې زما دعاء قبوله كړې زما حجت او دليل باقي وساتې زما توبه رېښتوني جوړه كړې، زما زړه ته هدايت راكړې او زما د سيني توروالى وباسې. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

### د ايمان وروسته تر عافيت لوى دولت نسته

(۲۳۷۵): وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ بَكَى فَقَالَ اسْأَلُوا اللّٰهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ الْيَقِينِ خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب اسنادا .

د حضرت ابو بكر ؓ څخه روايت دئ چي (يو ځل) رسول الله ﷺ پر منبر ودريدئ او بيا يې وژړل، د هغه وروسته يې وفرمايل: د الله تعالى څخه بخښنه او عافيت غواړئ ځكه چي د ايمان راوړلو څخه وروسته تر عافيت غوره شى هيڅ چا

ته نه دئ ورکړل سوی . ترمذي، ابن ماجة، ترمذي ويلي دي دا حديث د اسناد په اعتبار حسن غريب دئ.

**تر ټولو غوره دعاء د عافيت غوښتنه ده**

(۲۳۷۶): وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَيُّ الدُّعَاءِ اَفْضَلُ قَالَ سَلْ رَبَّكَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ثُمَّ اَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَيُّ الدُّعَاءِ اَفْضَلُ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ اَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ قَالَ فَإِذَا اُعْطِيتَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَقَدْ اَفْلَحْتَ . رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب اسنادا .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ اې دالله رسوله ! کومه دعاء غوره ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د خپل پروردګار څخه عافيت او ددين او دنيا معافات غواړه ، په دويمه ورځ هغه سړی بيا راغلئ او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! کومه دعاء غوره ده ؟ رسول الله ﷺ هغه جواب ورکړ کوم چي يې وړاندي ورکړی وو، په دريمه ورځ بيا هغه سړی راغلئ او همدغه پوښتنه يې وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي تاته عافيت او ددين معافات تر لاسه سي نو تا خلاصون تر لاسه کړ . ترمذي، ابن ماجة ، او ترمذي ويلي دي دا حديث د اسناد په اعتبار حسن غريب دئ .

**د الله ﷻ د محبت لپاره دعاء**

(۲۳۷۷): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ اللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِي حُبُّهُ عِنْدَكَ اللّٰهُمَّ مَا رَزَقْتَنِي مِمَّا اُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ اللّٰهُمَّ وَمَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا اُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا لِي فِيمَا تُحِبُّ . رواه الترمذي

د حضرت عبد الله بن يزيد الخطمي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په دعاء کي داسي فرمايل: (اللهم ارزقني...... فيما تحب) اې الله ! ما ته خپل محبت راکړې او د هغه چا مينه راکړې چي د هغه محبت ما ته ګټه ورسوي، اې الله ! څه چي تا ما ته د هغه شي څخه راکړي دي چي هغه زه خوښوم نو زما د قوت ذريعه يې جوړه کړې ، په هغه خبره کي چي ته يې خوښوي ، اې الله څه چي تا د هغه شيانو څخه چي هغه زه خوښوم منع کړي دي نو ته هغه شی زما د فراغت سبب وګرځوې په هغه شي کي چي ته يې خوښوې . ترمذي.

**يو خاص دعاء**

(۲۳۷۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتّٰى

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو د مجلس څخه

يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ لِأَصْحَابِهِ اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

ولاړېدئ نو هغوئ ته به يې داسې دعاء کول: (اللهم اقسم .... يرحمنا) اې الله! موږ ته خپل دومره بېره راکړې چې زموږ او د گناهو په منځ کې حائل سي او موږ ته ستا د طاعت دومره توان راکړې چې موږ ستا جنت ته ورسوي او موږ ته دومره يقين راکړې چې د دنيا ستونزې پر موږ آسانه کړې او موږ ته د خپلو اورېدو، ليدو او توانو څخه د گټې پورته کولو موقع راکړې تر څو پورې چې موږ ژوندي لرې او دا گټه زموږ ورثه وگرځوې او زموږ کينه او غچ اخيستل په هغه چا پورې محدود لرې چې هغه پر موږ ظلم وکړ، او زموږ مرسته وکړې او بريالېتوب راکړې پر هغه چا چې زموږ سره دښمني ساتي او ددين په معامله کې موږ په يو ستونزه مه اخته کوې او نه دنيا زموږ د ټولو فکرو مرکز وگرځوې او نه دا زموږ د علم مبلغ جوړ کړې او نه پر موږ هغه خلک مسلط کړې چې پر موږ رحم کونکي نه وي .. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ .

**د علم او عمل دعاء**

(٢٣٧٩): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي وَزِدْنِي عِلْمًا الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب اسنادا .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به دا فرمايل: (اللهم ... اهل النار) اې الله! کوم شی چې تا ما ته ښودلی دئ د هغه څخه ما ته گټه راکړې، ما ته هغه وښيې چې ما ته گټه راکړې او زما علم زيات کړې، په هر حال کې د الله تعالى تعريف دئ او زه د الله تعالى په ذريعه د دوږخيانو د حال څخه پناه غوارم. ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث د اسناد له کبله غريب دئ.

**د نعمت او عزت دعاء**

(٢٣٨٠): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ سُمِعَ عِنْدَ وَجْهِهِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ يَوْمًا

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دئ چې کله به پر رسول الله ﷺ وحي نازلېدلې نو د رسول الله ﷺ مخ ته نژدې به د مچ د آواز په ډول بنگاری اورېدل سو، يوه ورځ زموږ په وړاندې وحي

فَمَكَثْنَا سَاعَةً فَسُرِّيَ عَنْهُ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللّٰهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا. وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا ثُمَّ قَالَ أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ ثُمَّ قَرَأَ { قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ} حَتّٰى خَتَمَ عَشْرَ آيَاتٍ. رواه احمد والترمذي.

نازله سوه موږ لږ گړى تم سوو كله چي دغه سختي ليري سول نو رسول الله ﷺ خپل مخ مبارك د قبلي په لور كړ او وه يې فرمايل: اللهم زدنا...... وارض عنا، اې الله! زيات كړې (د دنيا او آخرت نعمتونه) او په هغو كي كمي مه كوې، او موږ په عزت ولرې او موږ ذليل مه كړې او موږ ته راكړې (د دنيا او آخرت خير) او موږ محروم مه كړې، او په خپل رحمت او عنايت سره موږ غوره كړې او پر موږ بل غوره مه كړې، موږ راضي كړې او زموږ څخه راضي سې، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: همدا اوس پر ما لس آياتونه نازل سوي دي څوك چي په دې عمل وكړي هغه به په جنت كي داخليږي، ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ: قد افلح المؤمنون... تر لسو آياتو پوري. احمد او ترمذي.

## دريم فصل

### د بنائي لپاره دعاء

(٢٣٨١): عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ قَالَ أَنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يُعَافِيَنِي قَالَ إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قَالَ فَادْعُهُ قَالَ فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوءَهُ وَيَدْعُوَ بِهَذَا الدُّعَاءِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي لِيَقْضِيَ لِي فِي حَاجَتِي هَذِهِ اللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ. رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

د حضرت عثمان بن حنيف ﷺ څخه روايت دئ چي د يو كمزوري ديد والا سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي عرض وكړ چي د الله پاك څخه دعاء وغواړي چي ما ته عافيت راكړې (يعني د سترگو خرابي مي ليري سې) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كه ته دعاء غواړې نو زه ستا لپاره دعاء كوم او كه ته صبر كوې نو صبر ستا لپاره غوره دئ، هغه وويل دعاء راته وكړه، نو رسول الله ﷺ ورته حكم وكړ اودس وكړه او په دې كلماتو سره دعاء وكړه: (اللهم اني...... فشفعه في) اې الله! زه ستا څخه سوال كوم او ستا د نبي په وسيله ستا په لور متوجه كيږم چي د هغه نوم محمد دئ چي د رحمت نبي دئ، اې نبي! زه ستا په وسيله خپل پروردگار ته متوجه كيږم چي زما ددې حاجت پوره هغه حكم وكړي، اې الله! د خپل نبي شفاعت زما په حق كي قبول كړې، ترمذي

ویلي دي دا حدیث صحیح غریب دئ .

**د داؤد علیه السلام دعاء**

(۲۳۸۲): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِنْ دُعَاءِ دَاوُدَ يَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَالْعَمَلَ الَّذِي يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ اللَّهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي ومالي وَأَهْلِي مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَ دَاوُدَ يُحَدِّثُ عَنْهُ يَقُولُ كَانَ أَعْبَدَ الْبَشَرِ. رواه الترمذي وقال هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ .

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د داؤد علیه السلام د دعاؤ څخه یوه دعاء دا هم وه : (اللهم اني.... من الماء البارد) اې الله ! زه ستا څخه سوال کوم د محبت ستا او محبت د هغه چا چي محبت کوي ستا سره او هغه عمل غوارم چي ستا محبت ته ما ورسوي ، اې الله ! ته خپل محبت غوره وګرځوې ما ته تر ځان زما تر کورنۍ زما تر مال زما او تر یخو اوبو (ترو ته) . د راوي بیان دئ چي کله به رسول الله ﷺ د داؤد علیه السلام یادونه کول نو فرمایل به یې چي هغه ډیر عبادت کونکی انسان وو. ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ .

**یو جامع دعاء**

(۲۳۸۳): وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ صَلَّى بِنَا عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ صَلَاةً فَأَوْجَزَ فِيهَا فَقَالَ لَهُ بَعْضُ الْقَوْمِ لَقَدْ خَفَّفْتَ أَوْ أَوْجَزْتَ الصَّلَاةَ فَقَالَ أَمَّا عَلَى ذَلِكَ فَقَدْ دَعَوْتُ فِيهَا بِدَعَوَاتٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَامَ تَبِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ هُوَ أُبَيٌّ غَيْرَ أَنَّهُ كَنَى عَنْ نَفْسِهِ فَسَأَلَهُ عَنِ الدُّعَاءِ ثُمَّ جَاءَ فَأَخْبَرَ بِهِ الْقَوْمَ اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي اللَّهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا

حضرت عطاء بن السائب ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي عمار بن یاسر موږ ته یو لمونځ راکړ نو هغه په لمانځه کي لنډوالی وکړ ، ځیني خلکو هغه ته وویل تا لنډ لمونځ وکړ ، عمار بن یاسر ﷺ ورته وویل : زما لپاره دا لنډوالی ضررناك نه دئ څکه چي ما په دغه لمانځه کي هغه دعاوي وغوښتلې کومي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي، بیا چي هغه ولاړ سو نو یو کس په هغه پسې سو او هغه زما پلار وو، هغه د عمار څخه هغه دعاء و پوښتل ، د هغه څخه چي دعاء وغوښتل سول نو بیرته راغلئ او خلك یې خبردار کړل او هغه دعاء داده (اللهم ...... مهديين) اې الله ! په حق د خپل علم غیب او په حق د خپل قدرت پر مخلوق باندې ما تر هغه

| | |
|---|---|
| يَنْفَدُ وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ وَأَسْأَلُكَ الرِّضَاءَ بَعْدَ الْقَضَاءِ وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ اللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الْإِيمَانِ وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مَهْدِيِّينَ. رواه النسائي . | وختـه پوري ژوندى لري تر څو پوري چي زما ژونـد زما لپـاره غـوره وي او هغـه وخت مـرگ راكړي چي تـه زما لپاره مرگ غوره وگڼې ، اې الله ! زه ستا څخـه پـه ظاهر او بـاطن كـي بيـره غوارم، او زه ستا څخه د حق كلمه ويل په |

خوښۍ او ناخوښۍ كې غوارم، ستا څخه د مفلسۍ او خوشحالۍ په حالت كې ميانه روي غوارم او داسي نعمت در څخه غوارم چي هيڅكله نه ختميږي او زه د سترگو يخوالى در څخه غوارم چي هيڅكله نه ختميږي او زه ستا څخه رضامندي غوارم ، د حكم څخه وروسته او ستا څخه د مرگ وروسته د ژوند يخ والى (يعني هميشه راحت) غوارم، ستا څخه ستا د مخ په لور د ليدو لذت او ستا څخه ستا د ملاقات شوق غوارم، داسي شوق چي تاوان راته ونه رسوي او نه مي د گمراهۍ په فتنه كې واچوي ، اې الله ! موږ د ايمان په ښكلي سره ښكلي كړې او موږ هدايت وركونكي هدايت يافته جوړ كړې . نسائي .

**د علم نافع عمل مقبول او حلال رزق دعاء**

| | |
|---|---|
| (۲۳۸۴): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ الْفَجْرِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا وَرِزْقًا طَيِّبًا . رواه احمد وابن ماجة والبيهقي في الدعوات الكبير . | د حضرت ام سلمة (رض) څخـه روايـت دئ چي رسـول الله ﷺ بـه د سهار د لمانځـه وروسته دغـه دعاء ويل: (اللهم اني ....... طيبا) اې الله ! زه ستا څخـه علـم گټـه رسـونكى ، عمـل قبلېـدونكى او حلال رزق غوارم. احمد ، ابن ماجه او بيهقي. |

**د شكر گزار كېدو دعاء**

| | |
|---|---|
| (۲۳۸۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ دُعَاءٌ حَفِظْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَدَعُهُ اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي أُعَظِّمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتَّبِعُ نَصِيحَتَكَ وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ. رواه الترمذي | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي دا يوه دعاء ده چي ما د رسول الله ﷺ څخه ياد كړې ده او هميشه يې وايم : (اللهم ....... وصيتك) اې الله ! ما داسي جوړ كړې چي ستا ډير شكر او ډير ذكر وكړم او ستا د نصيحت پيروي وكړم او ستا |

د وصيت حفاظت وكړم . ترمذي.

**د روغتيا دعاء**

| | |
|---|---|
| (۲۳۸۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دئ چي |

كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ وَالرِّضٰى بِالْقَدْرِ .

رسول الله ﷺ به فرمایل : (اللهم اني ......... بالقدر) اې الله ! زه ستا څخه روغتیا ، د حرامو څخه ساتنه، امانت، ښه اخلاقو او پر تقدیر رضامندي غوارم. بیهقي.

**د بدو عادتو څخه د ساتنې دعاء**

(۲۳۸۷): وَعَنْ أُمِّ مَعْبَدٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِيْ مِنَ النِّفَاقِ وَعَمَلِيْ مِنَ الرِّيَاءِ وَلِسَانِيْ مِنَ الْكَذِبِ وَعَيْنِيْ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّكَ تَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِيْ الصُّدُوْرُ . رواهما البيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ام معبد (رض) څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي (اللهم طهر ....... الصدور) اې الله ! زما زړه د نفاق څخه، او عمل د ریا کارۍ څخه، ژبه د دروغو څخه او سترګې مې د خیانت څخه پاکې کړې بېشکه ته د سترګو خیانت پیژنې او هغه شی هم پیژنې چې په سینو کې پټ دئ. بیهقي

**د دنیا او اخرت د عافیت دعاء**

(۲۳۸۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ قَدْ خَفَتَ فَصَارَ مِثْلَ الْفَرْخِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كُنْتَ تَدْعُوْ بِشَيْءٍ أَوْ تَسْأَلُهُ إِيَّاهُ قَالَ نَعَمْ كُنْتُ أَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِيْ بِهِ فِي الْآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِيْ فِي الدُّنْيَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللّٰهِ لَا تُطِيْقُهُ أَوْ لَا تَسْتَطِيْعُهُ أَفَلَا قُلْتَ اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالَ فَدَعَا اللّٰهَ بِهِ فَشَفَاهُ اللّٰهُ . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د یو مسلمان (د ناروغۍ) پوښتنه وکړه چې د مرغه د چیچي په ډول کمزوری سوی وو، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ایا تا به د الله تعالی څخه د یو شي دعاء غوښتل؟ هغه وویل : ما به دغه غوښتل : (اللهم ماکنت ......... لي في الدنیا) اې الله ! کومه سزا چې ته ما ته په آخرت کې راکونکی یې هغه ژر په دنیا کې راکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : الله تعالی پاك دئ ته په دنیا کې د الله تعالی د عذاب توان نه لرې او نه به هغه په آخرت کې وزغملای سې تا داسي ولي نه ویل : (اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ)، د راوي بیان دئ بیا هغه سړي د الله تعالی څخه دغه دعاء و غوښتل او الله پاك هغه ته روغتیا ورکړل. مسلم.

**د غیر متحمل شیانو دعاء مه غواړئ**

(۲۳۸۹): وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت حذیفة ﷺ څخه روایت دئ چې رسول

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ قَالُوا وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ قَالَ يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيقُ.
رواه الترمذي و ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ .

الله ﷺ وفرمایل : د مؤمن لپاره نه ده پکار چي هغه خپل ځان ذلیل کړي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه : مؤمن څنګه ځان ذلیل کولای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په هغه بلاګانو کي خپل ځان اخته کړي چي د هغه توان نه لري . ترمذي، ابن ماجة ، بیهقي او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دي.

**د باطن د ظاهر څخه ښوره والی دعاء**

(۲۳۹۰): وَ عَنْ عُمَرَ قَالَ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْ اللَّهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِي صَالِحَةً اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ. رواه الترمذي

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته دغه دعاء وښودل (اللهم اجعل ...... والمضل) اي الله ! زما باطن زما تر ظاهر غوره جوړ کړې او زما ظاهر صالح او ښکلی جوړ کړې ، اي الله ! زه ستا څخه د هغه شي خیر غواړم چي ته يې خلکو ته ورکوې ، یعني ښځه ، شتمني، او اولاد څخه چي نه هغوئ په خپله ګمراه سي او نه بل څوک ګمراه کړي . ترمذي .

# كِتَابُ الْمَنَاسِك

## (دَحج د ارکانو بيَانَ)

## لومړی فصل

### حج په ټول عمر کي يو وار فرض دی

(٢٣٩١): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ الْحَجَّ فَحُجُّوا فَقَالَ رَجُلٌ أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَسَكَتَ حَتّٰى قَالَهَا ثَلَاثًا فَقَالَ لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ ثُمَّ قَالَ ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ . رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته په خطبه کي وفرمايل: اې خلکو! پر تاسو حج فرض سوی دئ نو تاسو حج کوئ، يو سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! ايا هر کال حج کوو؟ د دې په اوريدو سره رسول الله ﷺ پټه خوله سو ترڅو هغه سړي دا پوښتنه درې واره وکړه، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: که ما ويلی وای چي هو، نو پر تاسو به حج کول هر کال فرض سوی وای او تاسو به توان نه درلودای، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ما پريږدئ ترڅو چي زه تاسو پريږدم څکه چي کوم خلك وړاندي وه د ډيرو پوښتنو او د خپلو انبياؤ په اړه د منځني اختلاف له کبله هلاك سوي دي، هر کله چي زه تاسو ته د يو شي حکم درکړم نو د خپل توان سره سم يې ادا کړئ او د کومي خبري څخه چي مو منع کړم نو هغه پريږدئ. مسلم.

### کوم عمل غوره دی

(٢٣٩٢): وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم عمل غوره دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر الله تعالی او د هغه پر رسول ايمان راوړل، بيا پوښتنه وسول چي ددې وروسته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د الله تعالی په لاره کي جهاد کول، بيا پوښتنه وسول چي ددې وروسته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: قبول سوی حج. بخاري او مسلم.

**د حج کونکي سعادت**

(۲۳۹۳): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله تعالى لپاره حج وکړي او په هغه کي پالتو او بې گټي خبري ونه کړي او لويه گناه ونه کړي نو هغه (د گناهو څخه داسي پاك سي) لکه نن چي د مور څخه زيږيدلی وي. بخاري او مسلم.

**د حج ثمره جنت**

(۲۳۹۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه عمره تر بلي عمري پوري د گناهو کفاره ده او د قبول سوي حج بدله يوازي جنت دی. بخاري او مسلم.

**په رمضان کي د عمري ثواب**

(۲۳۹۵):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په روژه کي عمره ادا کول د حج سره سمه ده. بخاري او مسلم.

**نابالغ ته هم د حج ثواب ورکول کيږي**

(۲۳۹۶): وَعَنْهُ قَالَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ فَقَالَ مَنِ الْقَوْمُ قَالُوا الْمُسْلِمُونَ فَقَالُوا مَنْ أَنْتَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا فَقَالَتْ أَلِهٰذَا حَجٌّ قَالَ نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ. رواه مسلم

د حضرت بن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په روحاء نامي ځای کي د يو قافلې سره مخامخ سو، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه: تاسو کوم خلك ياست؟ هغوئ ورويل: موږ مسلمانان يو، بيا د قافلې خلکو پوښتنه وکړه تاسو څوك ياست؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د الله رسول ﷺ، بيا د قافلې يوې ښځي خپل کوچنی راځرگند کړ او د رسول الله ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه چي ايا پر دغه کوچني حج سته؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو، او تا لره هم ثواب دئ. بخاري او مسلم.

**د بل چا لپاره د حج کولو مسئله**

(۲۳۹۷):وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د قبيله

قالت يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللّٰهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ وَذٰلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ . متفق عليه

خثعم يوې ښځي پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! الله تعالى پر خپلو بندګانو حج فرض کړئ دئ او زما پلار ډير سپين ږيرى سو او پر سپرلى نه سي تللاى ايا زه د هغه د لوري حج وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو، او دا د رسول الله ﷺ د آخري حج پېښه ده . بخاري او مسلم.

(۲۳۹۸): وَعَنْهُ قَالَ أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ وَإِنَّهَا مَاتَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاقْضِ اللّٰهَ فَهُوَ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت کي عرض وکړ چي زما خور د حج نذر اېښى وو او مړه سوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا كه پر هغې پور واى نو تا به ادا کړى واى ؟ هغه عرض وکړ هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : نو بيا د الله تعالى پور هم ادا کړه او ددې ادا كول ضروري او مناسب دي . بخاري او مسلم .

## ښځه د خاوند يا محرم بغير حج ته نه سي تللاى

(۲۳۹۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا وَخَرَجَتْ امْرَأَتِي حَاجَّةً قَالَ اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نه دي سړى د ښځي سره يو ځاى کيږي، او نه دي ښځي پرته د محرم څخه سفر کوي، يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله ! زما نوم په فلاني او فلاني غزا کي ليکل سوي دي او زما ښځه حج ته تلونکې ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته د خپلي ښځي سره حج وکړه . بخاري او مسلم

## د ښځي جهاد حج دئ

(۲۴۰۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په جهاد کي د تللو اجازه وغوښتل نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ستاسو جهاد حج دئ . بخاري او مسلم .

**د خاوند یا محرم بغیر د ښځي د سفر حد**

(۲۲۰۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُسَافِرُ امْرَأَةٌ مَسِيْرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُوْ مَحْرَمٍ. متفق علیه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ښځي دي د یوې شپې او ورځي د مسافت سفر نه کوي تر څو پوري چي د هغې سره محرم (قریب) نه وي. بخاري او مسلم.

**مواقیت حج**

(۲۲۰۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةَ وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ الْمَنَازِلِ وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ فَهُنَّ لَهُنَّ وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَمَنْ كَانَ دُوْنَهُنَّ فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّوْنَ مِنْهَا. متفق علیه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام تړلو ځای (میقات) د مدینې اوسیدونکو لپاره ذوالحلیفة، د شام اوسیدونکو لپاره جحفة، د نجد اوسیدونکو لپاره قرن منازل او د یمن اوسیدونکو لپاره یلملم وټاکی، دا ټول ځایونه د احرام تړلو لپاره دي او څوك چي ددغه ښارو څخه وي او په دغه ځایو کي پر یو ځای تیر سي نو هغه دي د هغه ځای څخه احرام وتړي او دا احرام د هغه خلکو لپاره دئ چي د حج او عمرې په اراده پر دغه ځایو تیر سي او کوم خلك چي په دې ځایو کي اوسیږي هغوئ دي په خپل کور کي احرام وتړي همداسي د مکې اوسیدونکي دي د مکې څخه احرام وتړي. بخاري او مسلم.

(۲۲۰۳): وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ وَالطَّرِيْقُ الْآخَرُ الْجُحْفَةُ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْعِرَاقِ مِنْ ذَاتِ عِرْقٍ وَمُهَلُّ أَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ. رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مدینې اوسیدونکي دي د ذوالحلیفة څخه احرام وتړي او دویم ځای د احرام تړلو (د مدینې د اوسیدونکو لپاره) جحفه ده او د عراق اوسیدونکي دي د ذات عرق څخه احرام وتړي او د نجد اوسیدونکي دي د قرن څخه او د یمن اوسیدونکي دي د یلملم څخه. مسلم.

**د رسول الله ﷺ عمرې.**

(۲۲۰۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلُّهُنَّ فِي ذِي الْقَعْدَةِ إِلاَّ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ څلور عمرې وکړې او څلور سره یې د ذیقعده

الَّتِي كَانَتْ مَعَ حَجَّتِه عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَة فِي ذِي الْقِعْدَة وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِيْ ذِيْ الْقِعْدَة وَعُمْرَةً مِنَ الجعْرَانَة حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقِعْدَة وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِه. متفق عليه

په مياشت كي ادا كړي مګر كومه عمره چي رسول الله ﷺ د حج سره ادا كړه هغه يې په ذي الحجې مياشت كي كړې وه او هغه درې سره عمرې چې په ذيقعده كي يې كړې وې دادي: يوه عمره رسول الله ﷺ د حديبيې څخه په ذيقعده مياشت كي وكړه، دويمه عمره يې راتلونكى كال وكړه او هغه هم ذيقعده مياشت وه، او دريمه عمره يې د جعرانه څخه وكړه په كوم ځاى كي چي يې د غزوه حنين د غنيمت مال وويشي او هغه هم ذيقعده مياشت وه، او څلورمه عمره يې د حج سره ادا كړه او هغه يې په ذي الحجة مياشت كي ادا كړې وه، بخاري او مسلم.

**د حج څخه مخكي رسول الله ﷺ دوې عمرې كړې وې**

(٢٤٠٥): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ اعْتَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَة قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د حج څخه وړاندي دوې عمرې وكړې او هغه دواړې يې د ذي القعدة په مياشت كي ادا كړې . بخاري .

## دويم فصل

**حج په ټول عمر كي يو وار فرض دی**

(٢٤٠٦): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ان الله كَتَبَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ فَقَامَ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ أَ فِي كُلِّ عَامٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ لَوْ قُلْتُهَا نعم لَوَجَبَتْ وَلَوْ وَجَبَتْ لَمْ تَعْمَلُوا بِهَا أَوْ لَمْ تَسْتَطِيعُوا والحج مرة فَمَنْ زَادَ فَتَطَوُّعٌ . رواه احمد والنسائي والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلكو! الله پر تاسو حج فرض كړی دئ . اقرع بن حابس پوښتنه وكړه اې دالله رسوله! ايا هر كال؟ رسول الله ﷺ وفرمايل كه چيري ما هو كړې واى نو هر كال به حج واجب سوى واى او كه هر كال واجب سوى واى نو تاسو به نه سواى ادا كولاى ، او نه به مو دادا كولو توان درلودئ، حج په ټول عمر كي يوازې يو وار فرض دئ او څوك چي تر دې زيات وكړي هغه نفل دئ . احمد ، نسائي او دارمي.

**د توان سربيره د حج نه كونكي وعيد**

(٢٤٠٧): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللّٰهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذٰلِكَ أَنَّ اللّٰهَ تبارك وتعالى يَقُولُ فِي كِتَابِهِ { وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا } .رواه الترمذي و قَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ وَهِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَجْهُولٌ وَالْحَارِثُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ .

وفرمايل: څوك چي د لاري د مصرف او د سپرلی خاوند وي او هغه حج ادا نه كړي نو د هغه په يهودي او نصراني مړ كېدو كي هيڅ فرق نسته او دا ځكه چي الله تعالى فرمايلي دي: (و لله ....سبيلا) الله تعالى لپاره د بيت الله حج كول پر خلكو فرض دئ هر كله چي هغوئ د لاري مصرف او نورو خرڅو توان ولري، ترمذي، دا حديث غريب دئ.

(۲۴۰۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَرُورَةَ فِي الْإِسْلَامِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: صرورة (يعني حج او نكاح پرېښودل) په اسلام كي نسته. ابوداؤد.

## حج على الفور فرض دی که على التراخي

(۲۴۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ . رواه ابوداؤد والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د حج اراده وكړي نو بيا دي يې ژر پوره كړي. ابوداؤد او دارمي.

## د حج او عمري يو ځاى كولو حكم

(۲۴۱۰): وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ .وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ . رواه الترمذي و النسائي و رواه احمد وابن ماجة عن عمر الى قوله خبث الحديد.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حج او عمره يو په بل پسې ادا كوئ ځكه چي دا دواړه مفلسي او گناهونه داسي ليري كوي لكه څرنگه چي اور د اوسپني او سرو سپينو زرو څخه خيري ليري كوي، او د قبول سوي حج بدله يوازي جنت ده، ترمذي، نسائي، احمد، او ابن ماجة د حضرت عمر ﷺ څخه تر خبث الحديد پوري نقل كړئ دئ.

## د حج شرطونه

(۲۴۱۱): وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا يُوجِبُ الْحَجَّ قَالَ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ . رواه الترمذي وابن ماجه .

رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پوښتنه يې وکړه اې د الله رسوله ! کوم شی حج واجب کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : خرڅ او سپرلی . ترمذي .

**د حاجي صفت او کيفيت**

(٢٤١٢): وَعَنْهُ قَالَ سَئَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَالْحَاجُّ قَالَ الشَّعِثُ التَّفِلُ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَيُّ الْحَجِّ اَفْضَلُ قَالَ الْعَجُّ وَالثَّجُّ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا السَّبِيْلُ قَالَ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ. رواه في شرح السنة و روي ابن ماجة في سننه الا انه لم يذكر الفصل الاخير .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د حاجي صفت څه شي دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : گډوډ سر خالي د خوشبويي څخه، يو بل سړي پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! کوم حج ښه (غوره) دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : په لبيك سره آواز پورته کول او د قرباني د ويني بيول، دريم سړي پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! د سبيل څخه مراد څه دئ ؟ (کوم چي په قرآن کريم کي راغلئ دئ) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د سفر لپاره د خوراك سامان او سپرلی. شرح السنة او ابن ماجه په خپل سنن کي آخري جمله نه ده ذکر کړې .

**د پلار پر ځای حج کول**

(٢٤١٣): وَعَنْ أَبِي رَزِيْنِ الْعُقَيْلِيِّ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَلَا الظَّعْنَ قَالَ حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ . رواه الترمذي و ابوداؤد . والنسائي و قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت ابو رزين العقيلي ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! زما سپين ږيری پلار ډير کمزوری دئ چي د حج او عمرې توان نه لري او نه پر سپرلی د سفر کولو توان لري، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته د خپل پلار پر ځای حج او عمره وکړه . ترمذي، ابوداؤد او نسائي ، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

**لومړی خپل حج کول ضروري دی**

(٢٤١٤): وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انَّ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ قَالَ مَنْ شُبْرُمَةَ قَالَ أَخٌ لِي أَوْ قَرِيبٌ لِي قَالَ حَجَجْتَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سړي څخه دا واورېدل چي ويل يې د شبرمة د لوري څخه لبيك، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه شبرمه څوك دئ ؟ هغه ورته

عَنْ نَفْسِكَ قَالَ لَا قَالَ حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ. رواه الشافعي وابوداؤد وابن ماجة .

وويل: زما ورور دئ يا يې دا ويلي دي چي زما قريب دئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا تا خپل د ځان لپاره حج کړئ دئ ؟ هغه وويل :يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل لومړی د خپل لوري حج وکړي بيا د شبرمة د لوري څخه . شافعي، ابوداؤد او ابن ماجة .

### د مشرق والاوو ميقات

(٢٤١٥): وَعَنْهُ قَالَ وَقَّتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيقَ . رواه الترمذي و ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ختيځ د اوسيدونکو لپاره د احرام تړلو ځاى عقيق ټاکلى دئ. ترمذي او ابوداؤد.

(٢٤١٦): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ . رواه ابوداؤد والنسائي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عراقيانو لپاره د احرام تړلو ځاى ذات عرق ټاکلى دئ. ابوداؤد او نسائي.

### د ميقات څخه مخکي احرام تړل افضل دي

(٢٤١٧): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. رواه ابوداؤد وابن ماجة .

د حضرت إم سلمة (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوك چي د حج او عمرې احرام د مسجد اقصى څخه تر مسجد حرام پوري وتړي د هغه ټول مخکني او وروستني ګناهونه معافيږي او د هغه لپاره جنت واجب کيږي. ابوداؤد او ابن ماجة.

## دريم فصل

### په حج کي د سوال کولو څخه پرهيز وکړئ

(٢٤١٨): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَحُجُّوْنَ وَلَا يَتَزَوَّدُوْنَ وَيَقُوْلُوْنَ نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ فَإِذَا قَدِمُوا مَكَّةَ سَأَلُوا النَّاسَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى. رواه البخاري

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د يمن خلكو به د خوراك او څښاك سامان نه اخيستئ او حج ته به تلل او دا به يې ويل موږ خو متوكل خلك يو ، بيا چي به مكې ته راغلل

نو د خلكو څخه به يې سوال كوئ ، له دې كبله الله تعالى دا ايت نازل كړ : (و تزودوا..... التقوى) د خوراك او چښناك سامان د ځان سره اخلئ او غوره توښه تقوا ده . بخاري .

**د ښځو جهاد حج او عمره دي**

(٢٤١٩): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ قَالَ نَعَمْ عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ . رواه ابن ماجة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا پر ښځو باندې جهاد فرض دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :هو پر هغوئ داسې جهاد فرض دئ چې په هغه كې جګړه نسته او هغه حج او عمره ده . ابن ماجة .

**بېله عذره پر فرض حج نه كولو باندې وعيد**

(٢٤٢٠): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا . رواه الدارمي

د حضرت ابو امامة ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې ښكاره حاجت، ظالم پاچا يا خطرناك ناروغي د حج څخه منع نه كړي او هغه مړ سي او حج يې ونه كړ نو هغه ته اختيار دئ چې يهودي مړ سي يا نصراني . دارمي.

**حج او عمره كونكي د الله ﷻ ميلمانه وي**

(٢٤٢١): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ الْحَاجُّ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنْ اسْتَغْفَرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ . رواه ابن ماجه

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : حج او عمره كونكي د الله تعالى ميلمانه دي كه د الله تعالى څخه هغوئ دعاء وغواړي نو هغه يې قبلوي او كه بخښنه وغواړي نو بخښي يې . ابن ماجة .

(٢٤٢٢): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَفْدُ اللَّهِ ثَلَاثَةٌ الْغَازِي وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ. رواه النسائي و البيهقي في شعب الايمان .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې : درې ډوله خلك د الله تعالى ميلمانه دي : جهاد كونكى، حج كونكي او عمرة كونكى . نسائي او بيهقي .

**د حاجي په راتلو سره د هغه سره سلام او مصافحه كوئ**

(٢٤٢٣): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَصَافِحْهُ وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چې ته د يو حاجي سره يو ځاى سې نو هغه ته سلام وكړه او د هغه سره

فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ . رواه احمد

مصافحه وکړه او د هغه څخه غوښتنه وکړه چي هغه خپل کور ته د داخلېدو وړاندي د بخښني دعاء وکړي تاته ځکه چي هغه بخښل سوی دئ . احمد.

**د حج او عمره کونکي په لاره کي وفات کېدل**

(۲۴۲۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ حَاجًا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِيْ طَرِيْقِهِ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِيْ وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرَ . رواه البیهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د حج، عمرې او يا جهاد په اراده ووتئ او بيا په لاره کي مړ سو نو الله تعالی د هغه لپاره د مجاهد، حاجي او عمره کونکي ثواب ليکي . بيهقي.

# بَابُ الْاِحْرَامِ وَالتَّلْبِيْهِ (د احرام او تلبيه بيان)

## لومړی فصل

**په احرام کي د خوشبويي لګولو مسئله**

(۲۴۲۵): عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاِحْرَامِهِ قَبْلَ اَنْ يُحْرِمَ وَ لِحِلِّهِ قَبْلَ اَنْ يَّطُوْفَ بِالْبَيْتِ بِطِيْبٍ فِيْهِ مِسْكٌ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيْبِ فِيْ مَفَارِقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي ما به رسول الله ﷺ ته د احرام تړلو څخه وړاندي خوشبويي وهل او د احرام تړلو څخه وړاندي چي رسول الله ﷺ به د بيت الله طواف ته تلئ نو هغه وخت به مي هم خوشبويي ورته وهل او په هغه کي به مشك هم وه لکه زه چي اوس هم د رسول الله ﷺ د سر په کرښه کي د خوشبويي ځلا وينم په داسي حال کي چي هغه محرم دئ . بخاري او مسلم.

**تلبيد او تلبيه**

(۲۴۲۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا يَقُوْلُ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَا يَزِيْدُ عَلَى هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په لوړ آواز دا تلبيه اورېدلي ده: (لبيك .... لاشريك لك) اې الله ! زه حاضر يم ستا په خدمت کي هيڅوك شريك نسته ستا په خدمت کي حاضر يم او ټول تعريفونه او نعمت تا لره دئ او پاچاهي هم، ستا هيڅوك شريك نسته، رسول الله ﷺ به ددي کلمات څخه زيات نه ويل . بخاري او مسلم.

**تلبيه كله ويل كيږي**

| | |
|---|---|
| (۲۴۲۷): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدْخَلَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ . متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ پښې مباركي پر سپرلۍ باندي كښېښودلې او اوښه به ودريدل نو رسول الله ﷺ به ذوالحليفة مسجد ته نژدې تم سو او په هغه ځای كي به يې احرام وتړئ. بخاري او مسلم. |

**د تلبيه ذكر او د حج قسمونه**

| | |
|---|---|
| (۲۴۲۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا . رواه مسلم | د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره په داسې حال كي (حج ته) ولاړو چي موږ به په لوړ آواز سره تلبيه ويل. مسلم. |
| (۲۴۲۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ أَبِي طَلْحَةَ وَإِنَّهُمْ لَيَصْرُخُونَ بِهِمَا جَمِيعًا الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ . رواه البخاري . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي زه به د ابوطلحه سره (پر سپرلۍ) سپور وم او صحابه كرامو به د حج او عمرې دواړو لپاره په لوړ آواز تلبيه ويل. بخاري: |
| (۲۴۳۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ وَأَهَلَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ . متفق عليه | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي موږ په حجة الوداع كي د رسول الله ﷺ سره ولاړو په موږ كي ځينو خلكو د عمرې احرام وتړئ او ځينو د حج او عمرې دواړو احرام وتړئ، او ځينو خلكو يوازې د حج احرام وتړئ او رسول الله ﷺ د حج احرام تړلی وو بيا چي موږ يوازې د عمرې |

احرام تړلی وو هغه خو حلال سول او چا چي يوازې د حج يا د حج او عمرې دواړو احرام تړلی وو هغوئ حلال نه سول تر څو چي د قربانۍ ورځ راغلل. بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ حج**

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ بَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ . متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع كي تمتع وكړه يعني د عمرې احرام تړلو سره يې د حج احرام هم وتړئ |

وړاندي رسول الله ﷺ د عمري احرام تړلی وو ، بیا یې د حج احرام وتړئ . بخاري او مسلم .

## دویم فصل

### د احرام جامې

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۲): عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ . رواه الترمذي والدارمي | د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دئ چي هغه وليدل رسول الله ﷺ د احرام تړلو لپاره جامې ليري کړې او غسل يې وکړ او بيا يې احرام و تړئ ، ترمذي او دارمي . |

### د تلبيد ذكر

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبَّدَ رَأْسَهُ بِالْغِسْلِ . رواه ابو داود | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د خپل سر وربښتان په هغه شي سره يوځای کړل په کوم چي يې وربښتان پريولل . ابوداؤد . |

### په تلبيه کي لوړ اواز

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۴): وَعَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ وَالتَّلْبِيَةِ . رواه مالك والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي . | حضرت خلاد بن السائب د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جبرائيل عليه السلام ما ته راغلئ او حکم يې راکړ چي زه خپلو صحابه کرامو ته دا امر وركړم چي هغوئ د احرام تړلو يا لبيك ويلو په وخت کي خپل |

آوازونه لوړ کړي . مالك، ترمذي، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه، او دارمي .

### د لبيک ويونکي فضيلت

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۵): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ أَوْ شَجَرٍ أَوْ مَدَرٍ حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا . رواه الترمذي وابن ماجة . | د حضرت سهل به سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي مسلمان لبيك وايي نو د هغه راسته لوري ته دبري، درختي او خاوري تول لبيك وايي تر دې چي آخوا دېخوا توله مځکه لبيك وايي . ترمذي او ابن ماجة . |

### د احرام لپاره دوه رکعته لمونځ

| | |
|---|---|
| (۲۴۳۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول |

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ النَّاقَةُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ أَهَلَّ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُولُ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ . متفق عليه ولفظه لمسلم.

الله ﷺ به په ذوالحليفة كي دوه ركعته لمونځ كوئ بيا چي ذوالحليفة ته نژدې ورسيدئ نو په دې كلماتو ويلو سره يې تلبيه كول (لبيك ..... والعمل) اې الله ! زه ستا په خدمت كي حاضر يم ، ستا په خدمت كي حاضر يم ، ستا په خدمت كي حاضر يم او ستا په خدمت كي نيك بختي تر لاسه كوم او خير ستا په لاس كي دئ ستا په خدمت كي حاضر يم او شوق او توجه ستا په لور ده او عمل تا لره دئ . بخاري او مسلم .

### د تلبيه وروسته درود او دعاء

(۲۴۳۷): وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا فَرَغَ مِنْ تَلْبِيَتِهِ سَأَلَ اللّٰهَ رِضْوَانَهُ وَالْجَنَّةَ وَاسْتَعْفَاهُ بِرَحْمَتِهِ مِنَ النَّارِ . رواه الشافعي

حضرت عمار بن خزيمة بن ثابت ؓ د خپل پلار څخه روايت كوي چي كله به رسول الله ﷺ د لبيك څخه فارغ سو نو الله تعالى څخه به يې دهغه رضا او جنت غوښتئ او د هغه د رحمت په ذريعه به يې د هغه د دوزخ د اور څخه امان غوښتئ . شافعي .

## دريم فصل

### د حجة الوداع پر موقع باندي عام اعلان

(۲۴۳۸): عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ الْحَجَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فَاجْتَمَعُوا فَلَمَّا أَتَى الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ . رواه البخاري

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ د حج اراده وكړه نو اعلان يې وكړ ، خلك يو ځاى سول بيا د بيداء ميدان ته ورسيدل نو احرام يې وتړئ . بخاري .

### د مشركانو تلبيه

(۲۴۳۹): وَعَنِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الْمُشْرِكُونَ يَقُولُونَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ قَالَ فَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ يَقُولُونَ هٰذَا وَهُمْ يَطُوفُونَ بِالْبَيْتِ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي مشركانو به تلبيه ويل نو داسي به يې ويل : (لبيك لا شريك لك) ، رسول الله ﷺ به دې اوريدو سره وفرمايل : پر تاسو دي افسوس وي بس همدومره واياست تر دې زيات مه واياست ، مګر ددې

وروسته به هغوئ ویل (الا شریکا .... و ماملك) ستا په خدمت کي حاضر یم ستا هیڅوك شریك نسته خو هغه شریك چي ستا په ملك کي دئ ته د هغومالك يې او هغه ستا شريك ستا مالك نه دئ ، دا دمشرکانو تلبيه وه مشرکانو به دغه کلمات ويل او د بيت الله طواف به يې کوئ . مسلم .

## بَابُ قِصةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ (د حجة الوداع قصه)

## لومړی فصل

**د حجة الوداع تفصيل د حضرت جابر ﷺ په ژبه**

(۲۴۴۰): عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ بِالْمَدِيْنَةِ تِسْعَ سِنِينَ لَمْ يَحُجَّ ثُمَّ اَذَّنَ فِي النَّاسِ بالحج فِي الْعَاشِرَةِ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجٌّ فَقَدِمَ الْمَدِيْنَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتّٰى أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ فَوَلَدَتْ اَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ اَبِي بَكْرٍ فَاَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَصْنَعُ قَالَ اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِي فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتّٰى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالتَّوْحِيدِ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ قَالَ جَابِرٌ لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ حَتّٰى إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَطَافَ سَبْعًا فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَ مَشٰى اَرْبَعًا ثُمَّ تَقَدَّمَ اِلٰى مَقَامِ اِبْرَاهِيْمَ فَقَرَأَ وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْبَيْتِ، و فِي روايةٍ اَنَّهُ قَرَأَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قُلْ هُوَ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ (تر هجرت وروسته) نهه کاله په مدينه کي وو او په دغه وخت کي يې حج ونه کړ ، په لسم کال چي رسول الله ﷺ په دې الفاظو کي د حج عام اعلان وکړ چي رسول الله ﷺ د حج اراده لري ، د دې اعلان په اورېدو سره ډير خلك يو ځای سول نو د مسلمانانو يو ډله د رسول الله ﷺ سره روان سول ، کله چي موږ ذوالحليفة ته ورسيدو نو د بي بي اسماء بنت عميس څخه محمد بن ابو بکر پيدا سو ، بي بي اسماء د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو سړی وليږئ چي په دې حالت کي اوس زه څه وکړم، رسول الله ﷺ حکم ورکړ چي غسل وکړه يو جامه وتړه بيا احرام وتړه . بيا نبي کريم ﷺ په مسجد ذوالحليفة کي لمونځ وکړ بيا پر خپله اوښه سپور سو تر څو چي اوښه د بيداء ميدان ته ورسيده نو رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره لبيكووايه په توحيد ويلو سره حاضر يم: (لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ) د حضرت جابر ﷺ بيان

اللّٰهُ أَحَدٌ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الصَّفَا فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ { إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ} أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتّٰى رَأَى الْبَيْتَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَوَحَّدَ اللّٰهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذَلِكَ قَالَ مِثْلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ نَزَلَ ومشى إِلَى الْمَرْوَةِ حَتّٰى إِذَا انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ فِي بَطْنِ الْوَادِي ثُمَّ سَعَى حَتّٰى إِذَا صَعِدَتَا مَشَى حَتّٰى أَتَى الْمَرْوَةَ فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا حَتّٰى إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافِهِ عَلَى الْمَرْوَةِ فَقَالَ وهو على المروة والناس تحته لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقْ الْهَدْيَ وَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحِلَّ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِأَبَدٍ فَشَبَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَهُ وَاحِدَةً فِي الْأُخْرَى وَقَالَ دَخَلَتْ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ لَا بَلْ لِأَبَدِ أَبَدٍ وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَه مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ قَالَ قُلْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُكَ قَالَ فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلُّ قَالَ فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ

دئ چي د اوس ځخه وراندي به مونږ يوازي د حج نيت کوئ او عمره مو نه پيژندل، بيا چي مونږ د نبي کريم ﷺ سره مکې ته ورسيدو نو حجر اسود يې مچ کړ او اووه واره يې د بيت الله شريفي طواف وکړ ، درې واره په ځغاسته او ځلورم وار په مناسب تګ سره، بيا مقام ابراهيم ته ولاړئ او نبي کريم ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى) او تاسو د ابراهيم عليه السلام ځاى د لمانځه ځاى جوړ کړئ، نو د مقام ابراهيم او بيت الله په منځ کي يې دوه رکعته وکړل او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په دغه دوو رکعتو کي يې قل هو الله احد او قل يا ايها الکافرون وويل، بيا د حجر اسود لور ته وګرځيدئ او مچ يې کړل، بيا د مسجد د دروازې ځخه د الصفا په لور ووتئ او کله چي صفا ته نږدې ورسيدئ نو دا آيت يې تلاوت (ان الصفا والمروة من شعائر الله) صفا او مروه دوې غونډۍ د الله تعالى د نښو ځخه دي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د غونډۍ ځخه زه پيل کوم چي د هغې ځخه الله تعالى خپل کلام پيل کړ، نو د صفا ځخه يې پيل وکړ او پر هغه وختئ تر څو چي کعبه شريفه يې وليدل او بيا بيت الله ته مخامخ ودريدئ د الله تعالى وحدانيت يې بيان کړ او د الله تعالى لويي يې بيان کړل ، لااله الاالله ، او الله اکبر يې وواية بيا يې وفرمايل : لااله الاالله ...... الاحزاب وحده، د الله ځخه پرته بل څوك د عبادت وړ نسته هغه يوازي دئ هغه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِائَةً قَالَ فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ تَوَجَّهُوا إِلَى مِنًى فَأَهَلُّوا بِالْحَجِّ وَرَكِبَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِهَا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ مَكَثَ قَلِيلًا حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَأَمَرَ بِقُبَّةٍ مِنْ شَعَرٍ تُضْرَبُ لَهُ بِنَمِرَةَ فَسَارَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَشُكُّ قُرَيْشٌ إِلَّا أَنَّهُ وَاقِفٌ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ كَمَا كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصْنَعُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَجَازَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتَّى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِي فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوعٌ وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعَةٌ وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَكَانَ مُسْتَرْضِعًا فِي بَنِي سَعْدٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ وَأَوَّلُ رِبًا أَضَعُ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ فَاتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللّٰهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللّٰهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ

واحد او يوازي دئ هغه خپله وعده پوره کړه او د خپلو بندگانو مرسته يې وکړه او د کافرانو ډلې ته يې ماته ورکړه، بيا ددې په منځ کې يې دعاء وکړه او درې واره يې همداسې وکړل او په ميدان کې يې دعاء وکړل بيا رسول الله ﷺ راکښته سو او د مروة په لورې روان سو تر څو چې رسول الله ﷺ د دواړو غونډيو په منځ کې نشيب ته ورسيدئ نو د هغه ځای څخه يې څغستل پيل کړه او هرکله چې مروة ته وختئ نو کرار تلئ تر څو چې مروة ته وختئ او هلته يې هم هغه وکړل کوم چې يې په صفا باندې کړي وه هر کله چې رسول الله ﷺ په آخري وار مروې ته ورسيدئ نو رسول الله ﷺ خلکو ته په لوړ آواز سره وويل که وړاندې ما ته هغه خبره څرگنده وای کومه چې وروسته راته څرگنده سوه نو هدي «د قربانۍ حيوان» به مې د ځان سره راوستلی وای او خپل حج به مې عمرې ته نقل کړی وای په تاسو کې چې چا د ځان سره د قربانۍ حيوان نه دئ راوستلئ هغه دې ځان حلال کړي او حج دې عمره کړي ، د دې په اوريدو سره سراقة بن مالك بن جعشم ودريدئ او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! ايا سږ کال زموږ لپاره دا حکم دئ يا د هميشه لپاره ؟ رسول الله ﷺ د خپل يوه لاس گوتې په بل لاس کې ورکړې او وه يې فرمايل : اوس عمره په حج کې داخله کړل سوې ده ، دا الفاظ يې دوه واره وفرمايل ، دا حکم يوازې سږ کال لپاره نه دئ بلکه د هميشه لپاره دئ،

تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنْ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابُ اللّٰهِ وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ قَالُوا نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ فَقَالَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ بَيْنَ يَدَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتِ الصُّفْرَةُ قَلِيلًا حَتَّى غَابَ الْقُرْصُ وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَدَفَعَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلَّى بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ وَصَلَّى الْفَجْرَ حِينَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ حَتَّى أَتَى بَطْنَ مُحَسِّرٍ فَحَرَّكَ قَلِيلًا ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطَى الَّتِي تَخْرُجُ عَلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى حَتَّى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِي عِنْدَ الشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا مِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ رَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِي ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ ثَلَاثًا وَسِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ أَعْطَى عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَأَشْرَكَهُ فِي هَدْيِهِ ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ فَأَكَلَا مِنْ

حضرت علي ؓ د يمن څخه د رسول الله ﷺ لپاره د قرباني حيوان راوستې نبي كريم ﷺ د حضرت علي ؓ څخه پوښتنه وكړه تا چي احرام تړلى وو نو څه نيت دي كړى وو ؟ هغه وويل : ما داسي نيت كړى وو «اللهم اني اهل بما اهل رسولك» اي الله زه د هغه شي نيت كوم د كوم چي ستا رسول كړى دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل زما سره خو د قرباني حيوان دئ له دې كبله ته هم حلال نه يې او تر څو پوري چي د حج څخه فارغ نه يې احرام تړلى لره ، د راوي بيان دئ چي د رسول الله ﷺ لپاره چي كوم حيوان حضرت علي ؓ د يمن څخه راوستلى وو او هغه حيوان چي خپله رسول الله ﷺ د ځان سره راوستلى وو د ټولو شمير سل وو ، حضرت جابر ؓ وايي ټول خلك د احرام څخه ووتل او د خپل سرو وريښتان يې وخريل ، مگر نبي كريم ﷺ او هغو خلكو چي د هغو سره د قرباني حيوانان وه د احرام څخه حلال سول بيا چي د ترويې ورځ راغلل نو د منى په لور يې د تلو بندوبست وكړ او صحابه كرامو د حج احرام وتړئ او نبي كريم ﷺ سپور سو او هلته يې په مسجد خيف كي د ماپښين ، مازديگر ، ماښام ، ماخستن او سهار لمنځونه ادا كړل بيا لږ گړى تم سول تر څو چي لمر راوختئ او رسول الله ﷺ حكم وركړ چي د رسول الله ﷺ لپاره په نمره شيله كي خيمه ولگول سي ، دا خيمه د وريښتانو څخه جوړه سوې وه او بيا رسول الله ﷺ د منى څخه روان سو ، د قريشو

لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَفَاضَ إِلَى الْبَيْتِ فَصَلَّى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ فَأَتَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَسْقُونَ عَلَى زَمْزَمَ فَقَالَ انْزِعُوا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلَى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ فَنَاوَلُوهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ . رواه مسلم

خيال وو چي نبي كريم ﷺ به مشعر حرام (مزدلفه) ته نږدې د حج لپاره ودرېږي لکه څرنگه چي د جاهليت په زمانه کي قريشو کول، مگر رسول الله ﷺ د مزدلفې څخه وړاندي ولاړئ او د عرفات ميدان ته ورسيدئ ، په نمره شېله کي د رسول الله ﷺ خيمه ولاړه وه ، رسول الله ﷺ خيمې ته ولاړئ او لږ گړئ يې قيام وکړ ، کله چي د لمر زوال سو نو رسول الله ﷺ د خپلي اوښې قصواء د راوستلو حکم ورکړ ، د رسول الله ﷺ لپاره پر قصواء ځين واچول سو او رسول الله ﷺ پر هغه سپور سو او وادي نمره ته يې تشريف يوړ، او د خلکو په وړاندي يې خطبه وفرمايل : رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو وينه او ستاسو مال پر تاسو داسي حرام دئ لکه څرنگه چي تاسو په دې ورځي ، دې مياشت او په دې ښار کي قتل، غلا وغيره حرام گڼئ يعني څرنگه چي ستاسو په نزد د عرفات په ورځ د ذوالحجة مياشت او په مکه کي قتل او غلا حرام دي همداسي د هميشه لپاره په خپلو کي هر ځای وژل او مال اخيستل حرام دي، خبر دار اوسئ د جاهليت د ورخو هر شی زما تر قدمو لاندي پروت دئ او د جاهليت وژنه معاف کړل سوې ده او لومړنی وژنه چي زه يې د خپلو وژنو څخه معافوم ؤ د ابن ربيعه بن حارث وژنه ده، دا شېدې رودونکی کوچنی وو چي په قبيله بني سعد کي يې شيدې چېښلې چي هغه هذيل ووژئ ، او د جاهليت سود معاف کړل سو او زه د خپل واجب الاصول سودو څخه تر ټولو وړاندي چي کوم سود معافوم هغه د ابن عباس بن عبدالمطلب سود دئ هغه معاف کړل سوی د او (اې خلکو!) د ښځو په اړه دالله څخه وبيرېږئ تاسو هغوئ د الله په امان سره اخيستي دي او تاسو د ځان لپاره د هغوئ شرمگاوي د الله تعالی په حکم سره حلال کړئ او پر ښځو ستاسو حق دادئ چي هغوئ ستاسو په بسترو کي څوك نه پرېږدي چي د هغه راتلل تاسو بد گڼئ بيا كه په دې اړه هغوئ ستاسو خبره ونه مني نو تاسو هغه ښځي ووهئ مگر زياتي يې مه وهئ او پر تاسو د ښځو حق دادئ چي هغوئ ته خوراك ورکړئ او د توان سره سم جامې ورکړئ او (اې خلکو!) ما تاسو ته داسي شی پرې ايښی دئ كه هغه تاسو ټينگ ونيسئ نو زما وروسته به هيڅكله گمراه نه سئ او هغه د الله كتاب دئ، او (اې خلکو!) ستاسو څخه به زما په اړه پوښتنه کيږي (چي ما د دين احكام تاسو ته رسولي دي كه يا) نو تاسو به څه جواب ورکوئ ؟ حاضرينو عرض وکړ موږ به ددې امر شاهدي ورکوو چي تاسو موږ ته ددين احكام راورسول او خپل فرض مو ادا كړ او زموږ خير خواهي مو وكړل ، ددې

وروسته رسول الله ﷺ د شهادت گوته د آسمان په لور پورته کړل او بیا یې خلکو ته راکښته کړل او وه یې فرمایل : اې الله ! ته شاهد یې ، اې الله ته شاهد یې دا الفاظ رسول الله ﷺ درې واره وفرمایل، ددې وروسته بلال آذان وکړ بیا یې تکبیر ووایه، او د ماپښین لمونځ پیل سو بیا دویم تکبیو وسو او د مازدیگر لمونځ وسو او ددې دواړو لمنځو په منځ کي هیڅ لمونځ ونه کړ ، بیا رسول الله ﷺ سپور سو او د عرفات میدان ته داخل سو ، رسول الله ﷺ د خپلي اوښي قصواء نس د ډبرو په لور کړ او حبل مشاة یې مخ ته وساتئ او د قبلې لورې ته یې مخ کړ کښېنستئ او همداسې ناست وو ، تر څو چي لمر ډوب سو او په ژړوالی کي څه کمي وسول او د لمر وړانګې ورکي سوې ، بیا رسول الله ﷺ اسامه خپل شاته کښېنوئ او په تیزۍ سره روان سو تر څو چي مزدلفې ته داخل سو ، دلته رسول الله ﷺ د ماښام او ماخستن لمنځونه په یوه اذان او دوو تکبیرو سره ادا کړل او ددواړو لمنځو په منځ کي یې هیڅ ډول تسبیح ،نفل وغیره ونه کړل، بیا رسول الله ﷺ پرېوتئ تر څو چي سهار سو ، رسول الله ﷺ د سهار لمونځ هغه وخت وکړ چي ښه رڼا سول او یو آذان او یو تکبیر وسو ، بیا رسول الله ﷺ پر اوښه سپور سو او مشعر حرام ته ورسیدئ ، دلته رسول الله ﷺ مخ پر قبله ورېدئ دعاء یې وغوښتل الله اکبر یې ووایه او لااله الاالله یې وویل او د الله وحدانیت یې بیان کړ ، یعني وحده لاشریك له له الملك وله الحمد یې وویل، تر څو چي د سهار رڼا ښه خپره سول رسول الله ﷺ په همدې شغل کي بوخت وو، بیا د لمر ختلو څخه وړاندي ددې ځای څخه روان سو او فضل بن عباس ﷺ یې د ځان سره پر سپرلۍ سپور کړ او وادی محسر ته داخل سو خپل سپرلۍ یې دلته لږ په تیزۍ سره وچلول او په هغه درمیاني لاره کي تم سو کومه چي جمره کبری ته ځي ،هغه جمرې ته ورسیدئ چي د هغه سره درخته وه، اووه ډبرې یې وویشتل او د هر ویشتلو سره یې تکبیر ووایه او دا ډبرې د کرخو ددانې په اندازه وې او د نشیب څخه ویشتل سوی وو، بیا د قربانۍ په لور وړاندي سو او رسول الله ﷺ درو شپېته حیوانان په خپل مبارك لاس سره حلال کړل بیا یې چاړه یا نیزه حضرت علي ﷺ ته ورکړل او پاته حیوانان چي اووه دیرش وه هغه یې حلال کړل، او رسول الله ﷺ د خپل قربانۍ په حیوانانو کي حضرت علي ﷺ هم ګډ کړ ، بیا رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د هر حیوان څخه دې لږ غوښه واخیستل سي نو هغه غوښه راوړل سول او په کټو کي پخه کړل سول، دواړو (نبي کریم ﷺ او حضرت علي ﷺ) هغه وخوړل او ښوروا یې وڅښل، ددې وروسته رسول الله ﷺ سپور سو او د کعبې شریفي په لور روان سو او په مکه معظمه کي داخل سو ، د ماپښین لمونځ یې وکړ بیایې د عبدالمطلب کورنۍ (یعني خپل اکا حضرت عباس او د هغه اولاد) ته تشریف یووړ چي خلکو ته یې د زمزم اوبه ورکولې ، رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمایل : اې د عبدالمطلب کورنۍ [1]

اوبه راوكاږئ او په خلكو يې وچېښئ كه زما سره دا انديښنه نه واى چي خلك به پر تاسبو رامات سي نو ما به ستاسو سره اوبه راكښلي واى، بيا د عبدالمطلب كورنۍ د اوبو يوه سلواغه رسول الله ﷺ ته وركړل او د هغه څخه رسول الله ﷺ اوبه وچېښلي . مسلم .

**د احرام طريقې او د حج قسمونه**

(٢٢٢١): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ فَلْيَحْلِلْ وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهْدَى فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لاَ يَحِلُّ حتى يحل مِنْهُمَا، وَفِي رِوَايَةٍ فَلاَ يَحِلُّ حَتَّى يَحِلَّ بِنَحْرِ هَدْيِهِ وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ قَالَتْ فَحِضْتُ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلاَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتَّى كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَلَمْ أُهْلِلْ إِلاَّ بِعُمْرَةٍ فَأَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَنْقُضَ رَأْسِي وَأَمْتَشِطَ وَأُهِلَّ بِالْحَجِّ وَأَتْرُكَ الْعُمْرَةَ فَفَعَلْتُ حَتَّى قَضَيْتُ حَجِّي بَعَثَ مَعِي عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِي مِنَ التَّنْعِيمِ قَالَتْ فَطَافَ الَّذِينَ كَانُوا أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوا ثُمَّ طَافُوا طَوَافًا بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى وَأَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا .

متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي موږ په حجة الوداع كي د رسول الله ﷺ سره ولاړو، په موږ كي ځينو د عمرې او ځينو د حج احرام وتړئ ، كله چي موږ مكې ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د عمرې احرام تړلی دئ او د قرباني حيوان يې نه دي راوستلئ نو هغه ته پكار ده چي ځان حلال كړي او چا چي د عمرې احرام تړلی دئ او د قرباني حيوان يې راوستلی دئ نو هغه دي د حج او عمرې دواړو احرام وتړي او تر هغه وخته پوري چي د عمرې او حج دواړو څخه فارغ نه سي حلال دي نه سي، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي تر څو پوري چي هغه خپل قرباني حلاله نه كړي نه دي حلاليږي او چا چي يوازي د حج احرام تړلی وي هغه دي خپل حج پوره كړي، بي بي عائشة (رض) وايي پر ما حيض راغلئ او تر اوسه مي نه د بيت الله طواف كړی وو او نه مي د صفا او مروه په منځ كي سعي كړې وه ، تر عرفات پوري زما وينه راتلل او ما يوازي د عمرې احرام تړلی وو، نبي كريم ﷺ ما ته حكم راكړ چي زه خپل سر پرېولم او ږمنځ يې كړم او عمره پرېږدم يوازي د حج احرام وتړم، نو ما همداسي وكړل او خپل حج مي پوره كړ، بيا رسول الله ﷺ (زما ورور) عبدالرحمن بن ابوبكر ﷺ زما سره وليږئ او ما ته يې حكم راكړ چي زه د خپلي عمرې پر ځاى د مقام تنعيم څخه عمره وكړم ،

د بي بي عائشې بيان دئ چې کومو خلکو د عمرې احرام وتړئ هغوئ د بيت الله طواف وکړ او د صفا او مروة په منځ کې يې سعي وکړه او بيا حلال سو ، بيا چې غعوئ د منی څخه راستانه سول هغوئ يو طواف بل وکړ او کومو خلکو چې د حج او عمرې دواړو احرام تړلی وو هغوئ يوازې يو طواف وکړ . بخاري او مسلم .

(٢٤٤٢): وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْيَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَبَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ من شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ فَطَافَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ وَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشَى أَرْبَعًا فَرَكَعَ حِينَ قَضَى طَوَافَهُ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَانْصَرَفَ فَأَتَى الصَّفَا فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ ثُمَّ لَمْ يَحْلِلْ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى قَضَى حَجَّهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ يَوْمَ النَّحْرِ وَأَفَاضَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ وَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې د عمرې څخه د حج په لور گټه پورته کړل ، يعني لومړی يې د عمرې احرام وتړئ او بيا يې د حج ، نو رسول الله ﷺ د ذوالحليفة څخه د ځان سره د قرباني حيوانان بوتلل او پيل يې داسي وکړ چې لومړی يې د عمرې او بيا يې د حج احرام وتړئ نو خلکو د نبي کريم ﷺ سره د حج او عمرې يوځای کولو گټه پورته کړل ، په خلکو کې داسي هم وه چې د قرباني حيوانان يې د ځان سره راوستلي وه او ځيني داسي هم وه چې حيوانان يې د ځان سره نه وه راوستلي، کله چې رسول الله ﷺ مکې معظمي ته ورسيدئ نو خلکو ته يې وفرمايل : په تاسو کې چې چا د قرباني حيوان راوستلی وي نو دی دې ځان نه حلالوي هغه شی چې پر حرام دی پر ده تر څو پورې چې هغه خپل حج پوره نه کړي او چا چې د قرباني حيوان نه وي راوستلي هغه دې د بيت الله طواف وکړي، د صفا او مروة په منځ کې دې سعي وکړي د سر ورېښتان دې وخريي او ځان دې حلال کړي ، بيا دويم وار دې د حج احرام وتړي او د قرباني حيوان دې حلال کړي او چا ته چې د قرباني حيوان نه وي تر لاسه هغه دې درې ورځې د حج په ورځو کې او اووه ورځې

په کور کي روژې ونيسي، مکې ته په ننوتلو سره نبي کريم ﷺ طواف وکړ او تر ټولو وړاندي يې حجر اسود مچ کړ، او د طواف درې واره گرځېدل يې په منډه وکړل، او څلور واره يې په معمولي تگ سره وکړل، بيا يې د مقام ابراهيم سره دوه رکعته لمونځ وکړ او سلام يې وگرځوئ، د صفا په لور ولاړئ او د صفا او مروه په منځ کي اووه واره سعي وکړه، بيا په هيڅ شي سره حلال نه سو چي احرام پر حرام کړی وو، تر دې چي حج يې پوره کړ او د قرباني په ورځ يې خپل حيوان حلال کړ، بيا يې د بيت الله طواف وکړ او ددې وروسته د هر هغه شي څخه حلال سو چي پر رسول الله ﷺ باندي حرام وو او کومو خلکو چي د ځان سره د قرباني حيوان راوستلی وو هغوئ هغه وکړل کوم چي رسول الله ﷺ کړي وو. بخاري او مسلم.

**د حج په مياشتو کي عمره کول جائز ده**

(۲۴۴۳): وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ عُمْرَةٌ اسْتَمْتَعْنَا بِهَا فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ الْهَدْيُ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ فَإِنَّ الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم
و هذا الباب خال عن الفصل الثاني.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په حجة الوداع کي) دا عمره ده موږ ددې څخه گټه تر لاسه کړل څکه چي د چا سره د قرباني حيوان نه وي هغه دي د هر شي څخه حلال سي څکه چي اوس عمره کول تر قيامته پوري د حج په ورځو کي داخل سول. مسلم. دا باب د دويم فصل څخه خالي دئ.

## دريم فصل

**د احرام د تبديلي پر حکم د صحابه کرامو تردد**

(۲۴۴۴): وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي نَاسٍ مَعِي قَالَ أَهْلَلْنَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صُبْحَ رَابِعَةٍ مَضَتْ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَأَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ حِلُّوا وَأَصِيبُوا النِّسَاءَ قَالَ عَطَاءٌ وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ وَلَكِنْ أَحَلَّهُنَّ لَهُمْ فَقُلْنَا لَمَّا لَمْ يَكُنْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا خَمْسٌ أَمَرَنَا أَنْ

د حضرت عطاء ﷺ څخه روايت دئ چي د خلکو يوه ډله چي زما سره وه ما د جابر بن عبد الله ﷺ څخه واوريدل چي موږ يعني صحابه کرامو يوازي د حج احرام وتړئ، د عطاء بيان دئ چي جابر ﷺ موږ ته وويل: د ذي الحجة په څلورمه نېټه د سهار رسول الله ﷺ تشريف راوړ او موږ ته يې حکم راکړ چي موږ حلال سو، عطاء وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: حلال سئ او ښځو ته ورسئ د عطاء خيال دئ چي رسول الله ﷺ ښځو

نُفْضِيَ إِلَى نِسَائِنَا فَنَأْتِي عَرَفَةَ تَقْطُرُ مَذَاكِيرُنَا الْمَنِيَّ قَالَ يَقُولُ جَابِرٌ بِيَدِهِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى قَوْلِهِ بِيَدِهِ يُحَرِّكُهَا قَالَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا فَقَالَ قَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي أَتْقَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَصْدَقُكُمْ وَأَبَرُّكُمْ وَلَوْلَا هَدْيِي لَحَلَلْتُ كَمَا تَحِلُّونَ وَلَوْ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقْ الْهَدْيَ فَحِلُّوا فَحَلَلْنَا وَسَمِعْنَا وَأَطَعْنَا قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهِ فَقَالَ بِمَ أَهْلَلْتَ قَالَ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا قَالَ وَأَهْدَى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا فَقَالَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلِعَامِنَا هٰذَا أَمْ لِأَبَدٍ قَالَ لِأَبَدٍ . رواه مسلم

ته د ورتلو حکم د وجوب په طور نه وو ورکړئ يعني ښځو ته ورتلل يې واجب کړي نه وو بلکه د روا کېدو اجازه وو، د دې حکم په اورېدو سره موږ په تعجب يو بل ته وويل : هر کله چي زموږ او عرفات د ورځي په منځ کي يوازي پنځه ورځي پاته دي رسول الله ﷺ موږ ته دا حکم راکړی دئ چي موږ د خپلو ښځو سره کوروالي وکړو، او بيا په داسي حال کي موږ عرفات ته ننوتلو چي زموږ د خاص اندام څخه د مني څاڅکي بهېدل، عطاء وايي چي جابر ﷺ خپل لاس ته په حرکت ورکولو سره د خاص اندام څخه د څاڅکو بهېدلو په لور اشاره وکړه او دا ننداره تر اوسه پوري زما سترګو په وړاندي ده ، جابر ﷺ وويل : کله چي زموږ د تعجب خبر رسول الله ﷺ ته ورسيدئ نو رسول الله ﷺ موږ ته د خطبې ويلو لپاره ولاړ سو او وه يې فرمايل : تاسو ته څرګنده ده چي زه په تاسو خلکو کي د الله څخه زيات بيرېږم په تاسو کي تر ټولو زيات رېښتونی يم او زه ډېر نيک يم ، که زما سره د قرباني حيوان نه وي نو تاسو څنګه حلال سوي ياست همداسي به زه هم حلال سوی وم، او که ما ته ددې خبري علم وای کومه چي ما ته وروسته څرګنده سوه نو ما به د ځان سره د قرباني حيوان نه راوستلای له دې کبله تاسو حلال سئ نو موږ احرام خلاص کړ او حلال سو او موږ د رسول الله ﷺ حکم واورېدئ او فرمانبرداري مو وکړل، عطاء وايي جابر بيان وکړ چي حضرت علي د خپل سپارل سوي کار څخه راغلئ نو نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه تا د څه شي احرام تړلی دئ هغه عرض وکړ : د کوم شي احرام چي نبي ﷺ تړلی دئ ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل نو ته (د قرباني په ورځ) حيوان حلال کړه او تر هغه وخته پوري په احرام کي اوسه ، جابر ﷺ وويل : حضرت علي ﷺ د ځان لپاره يا د نبي کريم ﷺ لپاره د ځان سره د قرباني حيوانان راوستلي وه ، سراقة بن مالك بن جعشم (د احرام څخه) د حلال کېدو په اورېدو سره پوښتنه وکړل اې د الله رسوله ! دا حکم د سږ کال لپاره دئ او که د هميشه لپاره؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د هميشه لپاره . مسلم .

**د صحابه کرامو تردد**

(۲۴۴۵): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ أَوْ خَمْسٍ فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَ غَضْبَانُ فَقُلْتُ مَنْ أَغْضَبَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ قَالَ أَوَمَا شَعَرْتِ أَنِّي أَمَرْتُ النَّاسَ بِأَمْرٍ فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُونَ وَلَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْيَ مَعِي حَتَّى أَشْتَرِيَهُ ثُمَّ أَحِلُّ كَمَا حَلُّوا . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي د ذي الحجې په څلورمه یا پنځمه نېټه رسول الله ﷺ زما په لور تشریف راوړ ، هغه وخت رسول الله ﷺ د سختي غصې په حالت کي وو ، ما چي رسول الله ﷺ په غضب کي ولیدئ نو عرض مي وکړ اې دالله رسوله ! تاسو چا په غصه کي کړي یاست الله دي هغه په دوږخ کي واچوي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا ته ځرګنده نه ده چي ما خلکو ته یو حکم ورکړ (یعني د احرام څخه د حلال کېدو) نو هغوئ په شك کي دي که ما ته وراندي ددې امر حال ځرګند وای نو د ځان سره به مي د قرباني حیوان نه زاویستلای او نه به مي هغه رانیولای، او بیا چي څرنګه نور خلك حلال سول همداسي به زه هم حلال سوی وای . مسلم .

# بَابُ دُخُوْلِ مَكَّةَ وَالطَّوَافِ

## (مکې ته د ننوتلو او طواف بیان)

### لومړی فصل

**د مکې مدخل او مخرج**

(۲۴۴۶): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ اِنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ لَا يَقْدَمُ مَكَّةَ إِلَّا بَاتَ بِذِي طُوًى حَتَّى يُصْبِحَ وَيَغْتَسِلَ ويصلي فَيَدْخُلُ مَكَّةَ نَهَارًا وَاِذَا نَفَرَ مِنْهَا مَرَّ بِذِیْ طُوًى وَّبَاتَ بِهَا حَتّٰى يُصْبِحَ وَيَذْكُرُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَالِكَ . متفق عليه

د حضرت نافع ؓ څخه روایت دئ چي کله به ابن عمر ؓ مکې ته تلئ نو د شپې به په طوی نامي ځای کي تم سو او کله چي به سهار سو نو غسل به یې وکړ او لمونځ به یې ادا کړ او د ورځي به مکې ته داخلیدئ او د مکې څخه چي به راستنبدئ نو بیا به یې هم شپه په ذي طوی کي تیرول او تر سهاره پوري به هلته وو او یادونه به یې کول چي نبي کریم ﷺ به داسي کول . بخاري او مسلم .

(۲۴۴۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا جَاءَ إِلَى مَكَّةَ دَخَلَ مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا . متفق عليه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي كله رسول الله ﷺ مكې تـه تشريف راوړ (پـه حجة الوداع كي) نو مكې ته د لوړي لوري څخه (يعني د ذي طوى څخه) داخل سو او كله چي ستون سو نو د مكې د كښته لوري څخه ووتئ. بخاري او مسلم.

## د طواف لپاره پاكي واجب ده

(۲۴۴۸): وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَدْ حَجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ مكة أَنَّهُ تَوَضَّأَ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً ثُمَّ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ عُثْمَانُ مِثْلَ ذَالِكَ. متفق عليه

د حضرت عروة بن الزبير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ حج وكړ او ما ته بي بي عائشې بيان وكړ چي مكه ته په د اخلېدو سره نبي كريم ﷺ تر ټولـو وړانـدي اودس وكـړ بيا يـې د بيـت الله شريفي طواف وكړ بيا يې عمره ونه كړل يعني رسول الله ﷺ په حج موقوف كولـو سره عمره ونه كړل دواړه يې يـو ځاى وساتل، (د رسول الله ﷺ وروسته) ابوبكر صديق رضي الله عنه حج وكړ او كله چي مكې ته داخل سو نو تر ټولو وړاندي يې طواف وكړ بيا عمره نه وسول، د حضرت ابوبكر رضي الله عنه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه همداسي وكړل بيا حضرت عثمان رضي الله عنه همداسي وكړل. بخاري او مسلم.

## په طواف كي د رمل ذكر

(۲۴۴۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَافَ فِي الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ سَعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَمَشَى أَرْبَعَةً ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د حج يا عمرې طواف كوئ نو لومړي درې واره به يې په تيزقدم اخيستلو سره كول او څلورم به يې په معمولي تګ سره كوئ ، بيا په مقام ابراهيم كي بـه يې دوه ركعتـه لمونځ وكړ او پـه صـفا او مروة كي بـه يې سعي وكړل. بخاري او مسلم.

## د صفا او مروه په مينځ كي سعي واجب ده

(۲۴۵۰):وَعَنْهُ قَالَ رَمَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا كَانَ يَسْعَى بِبَطْنِ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د حجر اسود څخه تـر حجر اسود پـوري (طواف) درې واره په تلوار وكړ او څلورم وار يې په معمولي

وَالْمَرْوَةِ . رواه مسلم

تگ سره وکړ ، او رسول الله ﷺ چي به د صفا او مروه سعي کول نو په وادي مسيل کي به په منډه تلل . مسلم.

**حجر اسود مچول**

﴿۲۴۵۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ مَشَى عَلَى يَمِينِهِ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي کله چي رسول الله ﷺ مکې ته تشريف راوړ نو حجر اسود ته راغلئ هغه يې مچ کړل بيا (د طواف لپاره) راسته لوري ته ولاړئ بيا درې واره په تيز قدم سره ولاړئ او څلورم وار په معمولي تگ سره . مسلم.

﴿۲۴۵۲﴾: وَعَنْ الزُّبَيْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ عَنْ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ فَقَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. رواه البخاري .

د حضرت زبير بن عربي ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د ابن عمر ﷺ څخه د حجر اسود د مچولو په اړه پوښتنه وکړه نو هغه ورته وويل: ما رسول الله ﷺ حجر اسود ته په لاس ور وړلو او مچولو سره ليدلی دئ . بخاري .

**رکن يماني ته لاس ور وړل**

﴿۲۴۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمْ أَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما هميشه رسول الله ﷺ د بيت الله شريفي هغه لوري ته په لاس ور وړلو باندي ليدلئ دئ کوم ځای چي دواړه رکن يماني دي . بخاري او مسلم .

**پر اوښ باندي سپور طواف کول**

﴿۲۴۵۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ . متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي پر اوښ باندي طواف وکړ او حجر اسود يې په لکړه چي د هغې سر کوږ وو مچ کړل . بخاري او مسلم .

**د حجر اسود استلام**

﴿۲۴۵۵﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ فِيْ يَدِهِ وَكَبَّرَ . رواه البخاري

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر اوښ سپور د بيت الله طواف وکړ کله چي حجر اسود ته ورغلئ نو په هغه شي چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارك کي به وه حجر اسود ته اشاره کول او الله اکبر به يې وايه . بخاري.

(۲۴۵۶): وَعَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهُ وَيُقَبِّلُ الْمِحْجَنَ . رواه مسلم

د حضرت ابو طفيل ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ په طواف كولو ليدلى دئ ، رسول الله ﷺ به په يو لرگي سره چي د هغه سر كوږ وو حجر اسود مسه كوى او هغه لرگى به يې مچوئ . مسلم .

**حائضه دي طواف او سعي نه كوي**

(۲۴۵۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ فَلَمَّا كنا بِسَرِفَ طَمِثْتُ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي فَقَالَ لَعَلَّكِ نُفِسْتِ. قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ ذٰلِك شَيْءٌ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي.متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره د حج لپاره ولاړو او موږ يوازي د حج يادونه كول كله چي سرف نامي ځاى ته ورسېدو ما ته حيض راغلئ ، رسول الله ﷺ زما په لور تشريف راوړ او ما ژړل، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا ستا وينه راغلل ؟ ما عرض وكړ هو، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : دا يو داسي شى دئ چي الله تعالى د آدم عليه السلام پر لونو ټاكلى دئ ته هغه افعال ادا كړه كوم چي حاجيان يې كوي مگر د بيت الله شريفي طواف تر هغه وخته پوري مه كوه تر څو پوري چي پاكه نه سې . بخاري او مسلم .

**مشركانو ته د كعبې د طواف منع**

(۲۴۵۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِيْ اَبُوْ بَكْرٍ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ اَمَرَهُ اَنْ يُؤَذِّنَ فِي النَّاسِ اَلَا لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ په كوم حج كي چي نبي كريم ﷺ حضرت ابوبكر صديق ﷺ د حج امير و ټاكئ نو ابوبكر صديق ﷺ زه د قرباني په ورځ د دې اعلان كولو لپاره وليږلم چي ددې كال وروسته دې هيڅ يو مشرك حج نه كوي او نه دې څوك لوڅ پر خانه كعبه طواف كوي . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

### د کعبې شريفې په ليدو سره دعاء کول

(۲۴۵۹): عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ قَالَ سُئِلَ جَابِرٌ عَنِ الرَّجُلِ يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَكُنْ نَفْعَلُهُ . رواه الترمذي وابوداؤد .

د حضرت مهاجر المكي ﷺ څخه روايت دئ چي د هغه چا په اړه چي د بيت الله په ليدو سره دواړه لاسونه پورته کړي د حضرت جابر ﷺ څخه پوښتنه وسول ، حضرت جابر ﷺ وويل : موږ د نبي کريم ﷺ سره حج کړی دئ مگر موږ به داسي نه کول . ترمذي، او ابوداؤد.

### د سعي په دوران کي کعبه شريفه ليدل او دعاء کول

(۲۴۶۰): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ مَكَّةَ فَأَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ ثُمَّ أَتَى الصَّفَا فَعَلَاهُ حَتَّى يَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللّٰهَ مَا شَاءَ وَ يَدْعُوَ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي کله رسول الله ﷺ مکه مکرمه ته داخل سو نو د حجر اسود په لور متوجه سو او هغه يې مچ کړل بيا يې د بيت الله شريفې طواف وکړ ، ددې وروسته صفا او مروه ته وختئ او هلته يې بيت الله شريفې په ليدو سره دواړه لاسونه (ددعاء لپاره) پورته کړل او د الله ذکر يې وکړ څومره چي يې غوښتل دعاوي يې وغوښتلې . ابوداؤد .

### په طواف او لمانځه کي مماثلت

(۲۴۶۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الطَّوَافُ حَوْلَ الْبَيْتِ مِثْلُ الصَّلَاةِ إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيهِ فَلَا يَتَكَلَّمَنَّ إِلَّا بِخَيْرٍ . رواه الترمذي والنسائي و الدارمي وذكر الترمذي جماعة وقفوه على ابن عباس .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بيت الله شاوخوا طواف کول د لمانځه په ډول دئ مگر تاسو د طواف په حالت کي خبري کولای سئ ، نو څوك چي خبري کوي د نيکی خبري دي وکړي . ترمذي، نسائي او دارمي .

### د حجر اسود حقيقت

(۲۴۶۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نزل الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ أَشَدُّ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حجر اسود د جنت څخه راغلي ده هغه تر شېدو زياته سپينه وه د

بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ . رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح .

انسانانو گناهو هغه توره كړل . احمد، ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ.

## حجر اسود د قيامت په ورځ

﴿۲۴۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجَرِ وَاللّٰهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ يَشْهَدُ عَلَى مَنِ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ . رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د حجر اسود په اړه رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به الله تعالی حجر اسود په داسي ډول راپورته کړي چي دوې سترګي به يې وي چي په هغه به ويني او ژبه به يې وي چي په هغه سره به خبري کوي او په رښتيا به پر هغه چا شاهدي ورکوي چا چي مچ کړی وي. ترمذي، ابن ماجة او دارمي.

## حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت ياقوت دي

﴿۲۴۶۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الرُّكْنَ وَالْمَقَامَ يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَاقُوتِ الْجَنَّةِ طَمَسَ اللّٰهُ نُورَهُمَا وَلَوْ لَمْ يَطْمِسْ نُورَهُمَا لَأَضَاءَتَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت د ياقوتو څخه دي ، الله تعالی د دوئ نور پست کړی دئ او که د دوئ رڼا قائمه پاته سوې وای نو د ختيځ او لويديځ ټول شيان به يې څلانده کړي وای . ترمذي .

## د حجر اسود استلام او د طواف فضيلت

﴿۲۴۶۵﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ ابْنِ عُمَيْرٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُزَاحِمُ عَلَيْهِ قَالَ إِنْ أَفْعَلْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ لِلْخَطَايَا وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ مَنْ طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلَّا حَطَّ اللّٰهُ عَنْهُ خَطِيئَةً

د حضرت عبيد ابن عمير ﷺ څخه روايت دئ چي ابن عمر ﷺ به د دواړو رکنو (حجر اسود او رکن يماني) په مچولو کي دومره زور کوئ چي ما د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو کي هيڅوك په دومره زور کولو باندي نه دی ليدلئ ، ابن عمر ﷺ به په خپل دغه کار تعجب کونکو ته ويل: که زه داسي کوم نو تعجب مه کوئ ځکه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي دغه دواړو ته لاس ور وړل د ګناهو کفاره ده او ما داسي هم د

وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً . رواه الترمذي

رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي څوك ددې بيت (بيت الله) اووه واره طواف وکړي او د هغه د واجباتو ، سنتو او وغيره پابندي وکړي نو هغه ته دومره ثواب ورکول کيږي څومره چي د يوه غلام آزادولو ، او د رسول الله ﷺ څخه مي دا هم اوريدلي دي چي کوم قدم په طواف کي کښېښودل سي او کوم قدم چي پورته کړل سي پر هر قدم باندي الله تعالى گناه ليري کوي او نيکي ليکي . ترمذي.

## د حجر اسود او رکن يماني په مينځ کي دعاء

(۲۴۶۶): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ {رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ} . رواه ابوداؤد .

د حضرت عبدالله بن السائب ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د حجر اسود او رکن يماني په منځ کي دا آيت اوريدلی دئ : رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. ابوداؤد .

## د سعي حکم

(۲۴۶۷): وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ أَخْبَرَتْنِي بِنْتُ أَبِي تُجْرَاةَ قَالَتْ دَخَلْتُ مَعَ نِسْوَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ دَارَ آلِ أَبِي حُسَيْنٍ نَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَرَأَيْتُهُ يَسْعَى وَإِنَّ مِئْزَرَهُ لَيَدُورُ مِنْ شِدَّةِ السَّعْيِ وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ اسْعَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ . رواه في شرح السنة ورواه أحمد مع اختلاف

د حضرت صفية بنت شيبة (رض) څخه روايت دئ چي د ابي تجرات لور ما ته بيان وکړ چي زه د قريشو د يو څو ښځو سره د ابو حسين کور ته ددې لپاره ولاړم چي رسول الله ﷺ د صفا او مروه په منځ کي په سعي کولو ووينم ، نو ما رسول الله ﷺ د صفا او مروه په منځ کي په سعي کولو وليدئ ، د رسول الله ﷺ تهبند د منډي له کبله ببچل کېدئ ، بيا ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي سعي کوئ ځکه چي الله تعالى پر تاسو سعي واجب کړي ده ، شرح السنة او احمد .

## سعي پر پښو کول واجب ده

(۲۴۶۸): وَعَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلَى بَعِيرٍ لاَ ضَرْبَ وَلاَ طَرْدَ وَلاَ إِلَيْكَ إِلَيْكَ . رواه في شرح السنة

د حضرت قدامة بن عبدالله بن عمار ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د صفا او مروه په منځ کي پر اوښ باندي په سعي کولو ليدلی دئ ، نه خو رسول الله ﷺ اوښ ووهئ ، نه يې شړئ او نه يې فهم کوئ ووېل . شرح السنة .

**په طواف کي اضطباع**

(۲۴۶۹): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بِالْبَيْتِ مُضْطَبِعًا بِبُرْدٍ أَخْضَرَ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي

د حضرت يعلي بن امية ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بيت الله طواف وکړ او څادر يې اضطباع کړ (يعني څادر يې د راسته بغل لاندي څخه راوکښی او پر چپه وږه يې واچوئ) . ترمذي، ابوداؤد، ابن ما جه او دارمي

**په طواف کي اضطباع سنت ده**

(۲۴۷۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ اعْتَمَرُوْا مِنَ الْجِعِرَّانَةِ فَرَمَلُوْا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا وَجَعَلُوْا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ ثُمَّ قَذَفُوْهَا عَلَى عَوَاتِقِهِمُ الْيُسْرٰى .رواه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ او د هغه اصحابو د جعرانه نامي ځای څخه عمره وکړه او د بيت الله شريفي په طواف کي درې واره په تيز قدم ولاړل او خپل څادرونه يې د خپلو بغلو لاندي وکښتل او پر چپه اوږو يې واچوي . ابوداؤد .

## دريم فصل

**د استلام حجر اسود او رکن يماني فضيلت**

(۲۴۷۱): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَا تَرَكْنَا اسْتِلَامَ هٰذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيِّ وَالْحَجَرِ فِيْ شِدَّةٍ وَلَا رُخَاءٍ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُمَا متفق عليه، وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ نَافِعٌ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهُ وَقَالَ مَا تَرَكْتُهُ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي هر کله ما رسول الله ﷺ په حجر اسود او رکن يماني مچولو ليدلی دئ نو هيڅکله زه د هغو د مچولو څخه نه يم پاته کيدلای که څه هم رش وي يا نه ، بخاري او مسلم. او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د نافع بيان دئ چي ما ابن عمر په لاس ور وړلو او بيا په لاس مچولو ليدلی دئ هغه وويل ما هيڅکله د رکن يماني او حجر اسود مچول نه دي پرې ايښي د څه وخت څخه چي مي رسول الله ﷺ ددې په مچولو ليدلی دئ .

**د عذر په وجه په سپرليا سره طواف کول جائز دي**

(۲۴۷۲): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ شَكَوْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَشْتَكِي فَقَالَ طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ فَطُفْتُ وَرَسُوْلُ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دئ چي (د حج په ورځو کي) ما رسول الله ﷺ ته د خپلي ناروغی شکايت وکړ ، رسول الله ﷺ راته

اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِ الطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ . متفق عليه

وفرمايل: ته د خلكو څخه وروسته ورو سته يا د خلكو څخه ليري ليري طواف وكړه ، نو ما پر سپرلۍ طواف وكړ او وه مي ليدل چي رسول اللّٰه ﷺ د بيت اللّٰه په طرف كي لمونځ كوي او په لمانځه كي والطور وكتاب مسطور ، وايي . بخاري او مسلم

**د حضرت عمر ؓ حجر اسود ته خطاب**

(٢٤٧٣): وَعَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ وَيَقُوْلُ إِنِّي لَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تنفع ولا تَضُرُّ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ . متفق عليه

د حضرت عابس بن ربيعة ؓ څخه روايت دئ چي ما حضرت عمر ؓ په حجر اسود مچولو وليدئ او دا مي څيني واوريدل چي ويل يې: زه پوهيږم چي ته ډبره يې نه چا ته گټه رسولای سې او نه تاوان، كه ما رسول اللّٰه ﷺ ستا په مچولو نه وای ليدلی نو هيڅكله به مي نه وای مچ كړی . بخاري او مسلم .

**پر ركن يماني باندي دعاء**

(٢٤٧٤): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وُكِلَ بِهِ سَبْعُوْنَ مَلَكًا يَعْنِي الرُّكْنَ الْيَمَانِي فَمَنْ قَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ قَالُوا آمِينَ . رواه ابن ماجة .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول اللّٰه ﷺ وفرمايل: پر ركن ايمان اوويا ملائكي تاكل سوي دي نوڅوك چي ووايي: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، نو ملائكي آمين وايي . ابن ماجه.

**په طواف كي د تسبيح، تهليل وغيره فضيلت**

(٢٤٧٥): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ مُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَكُتِبَتْ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشَرَةُ دَرَجَاتٍ وَمَنْ طَافَ فَتَكَلَّمَ وَهُوَ فِي تِلْكَ الْحَالِ خَاضَ فِي الرَّحْمَةِ بِرِجْلَيْهِ

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دئ چي رسول اللّٰه ﷺ وفرمايل: څوك چي اووه واره د بيت اللّٰه شريفي طواف وكړي او بيا په دغه طوافو كي پرته د بِسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، بل څه و نه وايي نو د هغه لس گناهونه رژيږي ، لس نيكی ليكل كيږي او لس درجې يې

كَخَائِضِ الْمَاءِ بِرِجْلَيْهِ . رواه ابن ماجة .

لوړېږي او څوك چې طواف وكړي او خبرې يې وكړې او دى په دغه حال كې وي نو هغه د رحمت په درياب كې داسې داخلېږي لكه څرنگه چې تاسو په درياب كې په خپلو پښو سره داخلېږئ . ابن ماجه .

## بَابُ الْوُقُوف بِعَرَفَةَ (په عرفات كې د درېدو بيان)

### لومړی فصل

#### د عرفات په ورځ د تكبير او تلبيه مسئله

(۲۴۷۶): عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ اَبِيْ بَكْرِ الثَّقَفِيِّ اَنَّهُ سَاَلَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَهُمَا غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ فَكَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلاَ يُنْكَرُ عَلَيْهِ وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ . متفق عليه

د حضرت محمد بن ابي بكر الثقفي ﷺ څخه روايت دئ چې كله زه او انس بن مالك ﷺ د منى څخه د عرفات په لوز سهار تللو نو هغه زما څخه پوښتنه وكړه چې په نن ورځ كې به تا د رسول الله ﷺ سره څه څه كول؟ انس وويل : په موږ كې به ليبك ويونكو لبيك وايه او هغه ددې څخه نه منع كېدل او الله اكبر ويونكو به الله اكبر وايه او نه به منع كېدل . بخاري او مسلم .

#### په منى كې قرباني

(۲۴۷۷): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحَرْتُ هَاهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ما په دې ځاى كې قرباني كړې ده او ټوله منا د قربانۍ ځاى دئ نو تاسو په خپلو خيمو كې قرباني وكړئ او زه دلته ولاړ يم ، او د عرفات ټول ميدان د درېدو ځاى دئ او ما په دې ځاى كې (مزدلفه) قيام وكړ او د مزدلفې ټول ځاى د قيام دئ. مسلم.

#### د عرفات د ورځې فضيلت

(۲۴۷۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ يَوْمٍ اَكْثَرَ مِنْ اَنْ يُعْتِقَ اللّٰهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُو ثُمَّ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د عرفات تر ورځې زيات په هيڅ يو ورځ خپل بندگان د دوزخ د اور څخه نه آزادوي او په دې ورځ الله تعالى په

يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُولُ مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ . رواه مسلم

خپل رحمت او مغفرت سره بندګانو ته نژدې کيږي او د ملائکو په وړاندي په حج کونکو فخر کوي او فرمايي: دا خلك څه غواړي؟ . مسلم.

## دويم فصل

### د امام د موقف څخه ليري کېدل

﴿۲۴۷۹﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَفْوَانَ عَنْ خَالٍ لَهُ يُقَالُ لَهُ يَزِيْدُ بْنُ شَيْبَانَ قَالَ كُنَّا فِي مَوْقِفٍ لَنَا بِعَرَفَةَ يُبَاعِدُهُ عَمْرٌو مِنْ مَوْقِفِ الْإِمَامِ جِدًّا فَأَتَانَا ابْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ إِنِّيْ رَسُوْلُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكُمْ يَقُوْلُ لَكُمْ قِفُوْا عَلَى مَشَاعِرِكُمْ فَإِنَّكُمْ عَلَى إِرْثٍ مِنْ إِرْثِ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه

حضرت عمرو بن عبدالله بن صفوان ﷺ د خپل ماما يزيد بن شيبان څخه روايت کوي چي موږ په عرفات کي پر خپل ځای تم سوي وو امام د تم ځای څخه ډير ليري وو د مربع انصاري زوی موږ ته راغلئ او وه يې ويل: زه د رسول الله ﷺ پيغام راوړونکی يم او دا پيغام مي راوړی دئ چي تاسو په عرفات کي په کوم ځای کي تم ياست هلته تم اوسئ تاسو د خپل پلار ابراهيم عليه السلام پر ميراث ياست ، په عربو کي دا رواج وو چي د هري قبيلې په عرفات کي يو ځای ټاکلی وو، د يزيد بن شيبان ځای د رسول الله ﷺ د تم کېدو د ځای څخه د هغه د رواج سره سم ډير ليري وو نو هغه غوښتنه وکړه چي د رسول الله ﷺ نژدې ځای ورته تر لاسه سي ، رسول الله ﷺ له دې کبله چي ددې څخه جګړه رامنځته نه سي د هغه غوښتنه قبول نه کړل او پيغام يې ور وليږئ چي تاسو په خپل ځای کي تم اوسئ د امام سره نژدېوالی د فوقيت موجب نه دئ بيا د هغوئ د تسلي لپاره يې دا پيغام راوليږئ چي تاسو د خپل پلار ابراهيم عليه السلام د ځای وارثان ياست د خپل پلار اطاعت وکړئ. ترمذي، ابوداؤد او نسائي.

### د حرم په حدود کي هر ځای قرباني کېدای سي

﴿۲۴۸۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ عَرَفَةَ مَوْقِفٌ وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ وَكُلُّ الْمُزْدَلِفَةِ مَوْقِفٌ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيْقٌ وَمَنْحَرٌ . رواه ابوداؤد والدارمي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د عرفات ټول ميدان د تم کېدو ځای دئ او ټوله منا د قربانۍ ځای دئ او ټول مزدلفه د تم کېدو ځای دئ او د مکې هره لار او هره کوڅه د قربانۍ ځای دئ. ابوداؤد او دارمي.

### د رسول الله ﷺ خطبه

﴿۲۴۸۱﴾: وَعَنْ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ

د حضرت خالد بن هوذة ﷺ څخه روايت دئ چي

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ عَرَفَةَ عَلَى بَعِيرٍ قَائِمٌ فِي الرِّكَابَيْنِ . رواه ابوداؤد .

ما د عرفات په ورځ رسول الله ﷺ پر اوښ سپور د خلكو په منځ كي په خطبه ويلو وليدئ په داسي حال كي چي رسول الله ﷺ په ركابو كي پښي مباركي اچولي ولاړ وو . ابوداؤد .

**د عرفات د ورځي دعاء**

(۲۴۸۲): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . رواه الترمذي و روى مالك عن طلحة ابن عبيدالله الى قوله لا شريك له .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : د عرفات د ورځي دعاء د غوره دعاگانو څخه ده او د شيانو څخه غوره شی چي زما او زما څخه وړاندي انبياؤ ته ويل سوی دئ (هغه دادئ) : لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . ترمذي او مالك د حضرت طلحه بن عبيد الله څخه روايت تر لاشريك له ، پوري روايت كړئ دئ .

**د شيطان د ذلت ورځ**

(۲۴۸۳): عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ كَرِيزٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيهِ أَصْغَرُ وَلَا أَدْحَرُ وَلَا أَحْقَرُ وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا رَأَى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ وَتَجَاوُزِ اللّٰهِ عَنِ الذُّنُوبِ الْعِظَامِ إِلَّا مَا أُرِيَ يَوْمَ بَدْرٍ فَقِيلَ وَمَا رَأَى يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيلَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ . رواه مالك مرسلا و في شرح السنة بلفظ المصابيح .

د حضرت طلحة بن عبيد الله بن كريز ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان د عرفات تر ورځي زيات ذليل، زيات رټل سوی ، زيات سپك او زيات غضبناك په بل هيڅ ورځ نه دی ليدل سوی، او دا څكه چي په دې ورځ كي شيطان د الله تعالى رحمتونه نازليدونكيويني او ويني چي الله تعالى په دې ورځ لوی لوی گناهونه بخښي د بدر په ورځ هم شيطان وليدل چي جبرائيل عليه السلام (د كفارو سره د جگړې لپاره) د ملائكي صفو ته ترتيب وركوئ لـه دې كبله په دې ورځ هم شيطان ډير ذليل او خوار سو . مالك مرسلا او شرح السنة .

**د عرفات د ورځي فضيلت**

(۲۴۸۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ إِنَّ اللّٰهَ يَنْزِلُ إِلَى

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د عرفات په ورځ الله تعالى د دنيا

السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُوْلُ انْظُرُوْا إِلَى عِبَادِي أَتَوْنِي شُعْثًا غُبْرًا ضَاجِّيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَيَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ يَارَبِّ فُلَانٌ كَانَ يُرَهَّقُ وَفُلَانٌ وَفُلَانَةُ قَالَ يَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ عَتِيْقًا مِّنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ. رواه في شرح السنة

آسمان ته نزول فرمايي او د ملائكو په وړاندي په حج كونكو فخر كوي او فرمايي: زما بندګانو ته ګورئ چي پريشانه وربښتان، په ګرد لړلي او په لارو كي ما يادونكي زما په لور راځي زه تاسو شاهدان كوم چي ما دوئ و بخښل، د دې په اورېدو سره ملائكي وايي اې پروردګاره! په دوئ كي خو فلانی سړی هم دئ چي د هغه په اړه ويلي سوي دي چي ګناه كار دئ او فلانی سړی او فلانۍ ښځه هم ده چي ګناه كار دي، الله تعالى فرمائي ما دوئ هم بخښلي دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى خپلو بندګانو ته د عرفات تر ورځي زيات په هيڅ ورځ د اور څخه نجات نه وركوي. شرح السنة.

## دريم فصل

### په عرفات كي د وقوف حكم

(٢٢٨٥): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِيْنَهَا يَقِفُوْنَ بِالْمُزْدَلِفَةِ وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ فَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُوْنَ بِعَرَفَاتٍ فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ أَمَرَ اللهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ فَيَقِفَ بِهَا ثُمَّ يُفِيضَ مِنْهَا فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى { ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ } . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي قريش او د هغوئ هم مذهبه خلكو به (د جاهليت په زمانه كي) په مزدلفه كي قيام كوئ او شجاع او بهادر به ورته وويل سول او د عربو پاته قبيلې به په عرفات كي تم كېدې، بيا د اسلام راتلو وروسته الله تعالى خپل نبي ته حكم وركړ چي (ټول خلك دي) عرفات ته راسي او قيام دي وكړي او بيا د هغه ځای څخه دي ستانه كيږي او د الله تعالى ددې ارشاد مطلب دادئ: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ. بخاري او مسلم.

### په مزدلفه كي د رسول الله ﷺ دعاء

(٢٢٨٦): وَعَنْ عَبَّاسِ بْنِ مِرْدَاسٍ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا لِأُمَّتِهِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ بِالْمَغْفِرَةِ فَأُجِيبَ إِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ مَا خَلَا الظَّالِمَ فَإِنِّي آخُذُ لِلْمَظْلُوْمِ مِنْهُ قَالَ أَيْ رَبِّ إِنْ شِئْتَ

د حضرت عباس بن مرداس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عرفات په ماښام كي د خپل امت د بخښني دعاء وغوښتل، د دعاء په قبلېدو سره الله تعالى ورته وفرمايل: ما ټول و

أَعْطَيْتَ الْمَظْلُومَ مِنَ الْجَنَّةِ وَغَفَرْتَ لِلظَّالِمِ فَلَمْ يُجَبْ عَشِيَّتَهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ بِالْمُزْدَلِفَةِ أَعَادَ الدُّعَاءَ فَأُجِيبَ إِلَى مَا سَأَلَ قَالَ فَضَحِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ تَبَسَّمَ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنَّ هٰذِهِ لَسَاعَةٌ مَا كُنْتَ تَضْحَكُ فِيهَا فَمَا الَّذِي أَضْحَكَكَ أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ قَالَ إِنَّ عَدُوَّ اللّٰهِ إِبْلِيسَ لَمَّا عَلِمَ أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدِ اسْتَجَابَ دُعَائِي وَغَفَرَ لِأُمَّتِي أَخَذَ التُّرَابَ فَجَعَلَ يَحْثُوهُ عَلَى رَأْسِهِ وَيَدْعُو بِالْوَيْلِ وَالثُّبُورِ فَأَضْحَكَنِي مَا رَأَيْتُ مِنْ جَزَعِهِ . رواه ابن ماجة وروى البيهقي في كتاب البعث والنشور نحوه .

بخښل مګر ظالم نه بخښم او د مظلوم حق به خامخا د هغه څخه اخلم، د رب العزت په دربار کي رسول الله ﷺ عرض وکړ اې پروردګاره ! که ته و غواړې نو مظلوم ته به جنت ورکړې او ظالم به و بخښې مګر دا خواست د عرفات په ماښام قبول نه سو بیا چي په مزدلفه کي سهار سو نو رسول الله ﷺ بیا دغه دعاء وغوښتل او د رسول الله ﷺ د غوښتني سره سم د رسول الله ﷺ دعاء قبوله سوه ، د راوي بیان دئ چي (د دعاء قبلېدو وروسته) رسول الله ﷺ وخندل یا مسکی سو، حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رض) عرض وکړ زموږ مور او پلار دي پر تاسو قربان وي دا وخت خو د خندا نه دئ تاسو ولي وخندل ؟ الله تعالی دي همیشه تاسو خندېدونکي لري، رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی دښمن ابلیس ته چي څرګنده سوه چي الله تعالی زما دعاء قبوله کړه او زما امت یې و بخښئ نو هغه پر سر خاوري اچولې په افسوس کولو سره و تښتېدئ ما چي هغه پریشانه او بد حاله ولیدئ نو ما ته خندا راغلل . ابن ماجه او بیهقي .

# بَابُ الدَّفْعِ مِنْ عَرَفَةَ وَالْمُزْدَلِفَةَ

## (د عرفات او مزدلفې څخه ستنېدل)

## لومړی فصل

**د عرفات څخه د رسول الله ﷺ تگ**

﴿۲۴۸۷﴾: عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سُئِلَ اُسَامَةُ بن زيد كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيْرُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِيْنَ دَفَعَ قَالَ كَانَ يَسِيْرُ الْعَنَقَ فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ. متفق عليه

حضرت هشام بن عروة د خپل پلار څخه روایت کوي چي د اسامه بن زید ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د حجة الوداع څخه عرفات ته د ستنېدو په وخت کي رسول الله ﷺ څنگه تلئ ؟ هغه وویل: رسول الله ﷺ په تیز تگ ولاړئ او کوم ځای چي یې پراخه لاره تر لاسه کړه نو رسول الله ﷺ خپل سپرلی ځغلول . بخاري او مسلم .

﴿۲۴۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيْدًا وَضَرْبًا لِلْإِبِلِ فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ وَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالْإِيْضَاعِ . رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي د عرفات په ورځ هغه د رسول الله ﷺ سره ستون سو ، رسول الله ﷺ تر خپل شا د حیوان په سختۍ سره وهلو او د تیز شړلو شور واورېدئ نو رسول الله ﷺ خپل غمچینه ته په حرکت ورکولو سره اشاره وکړه خلك یې مخاطب کړل او ورته وه یې فرمایل : اي خلکو ! په آرامه سره ځئ ځغلول کومه نیکي نه ده . بخاري .

**پرله پسې لبیک ویل**

﴿۲۴۸۹﴾: وَعَنْهُ اَنَّ اُسَامَةَ بن زيد كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ إِلَى مِنًى فَكِلَاهُمَا قَالَ لَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي اسامه بن زید ﷺ د عرفات څخه تر مزدلفې پوري د رسول الله ﷺ سره پر سپرلۍ تر شا ناست وو، بیا د مزدلفې څخه تر منا پوري فضل بن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ تر شا ناست وو د دواړو بیان

دئ چي رسول الله ﷺ په دې سفر کي پرله پسې لبيك وايه تر څو چي رسول الله ﷺ په جمره عقبه کي رمي وکړه (جمره عقبه يې وويشتل). بخاري او مسلم.

**په مزدلفه کي جمع بين الصلوتين**

(۲۴۹۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ جَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بِإِقَامَةٍ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا وَلَا عَلَى إِثْرِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا. رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمنځونه يو ځای وکړل او د هر يوه لپاره يې بيل بيل تکبير وکړ او د هغو په منځ کي يې سنت نه وکړل او نه يې نفل او نه يې د هغه وروسته څه ولوستل. بخاري.

(۲۴۹۱): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا لِمِيقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ صَلٰوةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيقَاتِهَا. متفق عليه

د حضرت عبد الله بن مسعود ؓ څخه روايت دئ چي ما هيڅکله رسول الله ﷺ په ناوخته لمونځ کولو نه دئ ليدلئ مګر دوه لمنځونه يعني د ماښام او ماخستن لمنځونه رسول الله ﷺ په مزدلفه کي يو ځای وکړل او په دې ورځ يې د سهار لمونځ د عام وخت څخه وړاندي وکړ. بخاري او مسلم

**د مزدلفه څخه د ښځو او کوچنيانو مخکي روانول**

(۲۴۹۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي زه د هغه خلکو څخه وم چي هغوئ په کمزور ګڼلو سره رسول الله ﷺ د مزدلفې په شپه تر ټولو وړاندي روان کړي وه. بخاري او مسلم.

**د رمي لپاره ډبري**

(۲۴۹۳): وَعَنْهُ عَنِ الْفَضْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَكَانَ رَدِيفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي عَشِيَّةِ عَرَفَةَ وَغَدَاةِ جَمْعٍ لِلنَّاسِ حِينَ دَفَعُوا عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ وَهُوَ كَافٌّ نَاقَتَهُ حَتَّى دَخَلَ مُحَسِّرًا وَهُوَ مِنْ مِنًى قَالَ عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِي يُرْمَى بِهِ الْجَمْرَةُ وَقَالَ لَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي فضل بن عباس ؓ چي د رسول الله ﷺ تر شا پر سپرلۍ سپور وو بيان وکړ چي د عرفات په ماښام او د مزدلفې په سهار چي خلکو سپرلۍ په تيزي سره شړلې او وهلې، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل. ورو نو کرار کرار ځئ، رسول الله ﷺ دغه وخت اوښه تم کړه بيا چي رسول الله ﷺ په

وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى الْجَمْرَةَ. رواه مسلم

وراندي ولاړ او په وادي محسر کي داخل سو چي په منا کي داخل ده نو رسول الله ﷺ وفرمايل ددې ځای څخه تاسو ټول کوچني کوچني ډبري پورته کړئ چي جمره په ولو ، د فضل بن عباس ﷺ بيان دئ چي د جمرې تر وېشتلو پوري رسول الله ﷺ پر له پسې لبيك وايه . مسلم.

**د رسول الله ﷺ د وصال اطلاع**

(۲۴۹۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَفَاضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَمْعٍ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ وَأَمَرَهُمْ بِالسَّكِينَةِ وَأَوْضَعَ فِيْ وَادِيْ مُحَسِّرٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُوْا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ وَقَالَ لَعَلِّيْ لاَ أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا، لَمْ أَجِدْ هٰذَا الْحَدِيْثَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ إِلاَّ فِيْ جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ مَعَ تَقْدِيْمٍ وَتَأْخِيْرٍ .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مزدلفې څخه روان سو نو په آرامه سره تلئ او خلکو ته يې حکم وکړ چي هغوئ هم په آرام او اطمينان سره ولاړ سي او په وادي محسر کي رسول الله ﷺ په تيز تگ سره ولاړئ او خلکو ته يې حکم ورکړ چي په کوچني کوچني ډبرو سره جمرې وولئ او پر يوه موقع رسول الله ﷺ وفرمايل : کيدای سي راتلونکی کال زه تاسو ونه وينم ، ما دا حديث د جامع ترمذي څخه پرته په صحيحين (بخاري او مسلم) کي نه وليدئ او هلته هم په څه فرق سره دئ .

## دويم فصل

**د عرفات څخه د ستنېدو او د مزدلفې څخه د روانېدو وخت**

(۲۴۹۵): عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ خَطَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَدْفَعُوْنَ مِنْ عَرَفَةَ حِيْنَ تَكُوْنُ الشَّمْسُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ وَمِنَ الْمُزْدَلِفَةِ بَعْدَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حِيْنَ تَكُوْنُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِيْ وُجُوْهِهِمْ وَإِنَّا لاَ نَدْفَعُ مِنْ عَرَفَةَ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَنَدْفَعُ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ هَدْيُنَا مُخَالِفٌ لِهَدْيِ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ وَالشِّرْكِ . رواه البيهقي في

د حضرت محمد بن قيس بن مخرمة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خطبه وفرمايل چي د جاهليت په زمانه کي خلکو به د عرفات څخه هغه وخت روانيدل چي لمر به د خلکو پر سرو داسي ځرگند سو لکه لنگوټه چي د خلکو پر مخو د دوئ وي يعني د لمر د ډوبيدو څخه وراندي او مزدلفې څخه به هغه وخت روانيدل چي لمر به دومره پورته سوی وو لکه لنگوټې چي د خلکو پر مخونو دي او موږ به تر هغه وخته پوري د عرفات څخه نه روانيدو تر څو

شعب الإيمان وقال فيه خطبنا وساقه نحوه .

پوري چي لمر به ډوب نه سو ، او موږ به د مزدلفې څخه د لمر ختلو وړاندي نه وځو او زموږ طريقه د بت پرستو د طريقې څخه مخالف ده. بيهقي په شعب الايمان كي.

## په شپه کي رمي کول جائز نه دي

﴿۲۴۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدَّمَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَلَى حُمُرَاتٍ فَجَعَلَ يَلْطَخُ أَفْخَاذَنَا وَيَقُولُ أُبَيْنِيَّ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ . رواه ابوداؤد والنسائي وابن ماجة .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د مزدلفې په شپه رسول الله ﷺ موږ د بني عبد المطلب د کورنۍ سره وړاندي ليږلي وو او موږ پر خرو سپاره وه او زموږ د رخصتولو په وخت كي زموږ په ورنو باندي په لاس وهلو سره رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل : زما كوچنيانو بچيانو ! جمره تر هغه وخته پوري په ډبرو مه ولئ تر څو پوري چي لمر را ونه خيژي . ابن ماجه ، ابوداؤد او نسائي .

## د امام شافعي رحمه الله مستدل حديث

﴿۲۴۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُمِّ سَلَمَةَ لَيْلَةَ النَّحْرِ فَرَمَتْ الْجَمْرَةَ قَبْلَ الْفَجْرِ ثُمَّ مَضَتْ فَأَفَاضَتْ وَكَانَ ذَلِكَ الْيَوْمُ الْيَوْمَ الَّذِي يَكُونُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا . رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د لوی اختر په شپه بي بي ام سلمه منا ته ليږلې وه ، هغې د سهار مخکي جمره په ډبرو وويشتل بيا ولاړه طواف يې وكړ او دا هغه ورځ ده چي په هغه كي د رسول الله ﷺ د هغې سره د اوسيدو وار وو . ابوداؤد .

## په عمره کي تلبيه کله موقوف کړل سي

﴿۲۴۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ يُلَبِّي الْمُقِيمُ أَوِ الْمُعْتَمِرُ حَتَّى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ . رواه ابوداؤد و قال و روي موقوفا على ابن عباس .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي مقيم يعني په مكه كي اوسيدونكى او عمره كونكى دي تر هغه وخته پوري لبيك وايي تر څو پوري چي حجر اسود مچ نه كړي . ابوداؤد .

## دريم فصل

### د رسول الله ﷺ د عرفات او مزدلفې په مینځ کي تلل

(۲۴۹۹): عَنْ يَعْقُوْبَ بْنَ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ أَنَّهُ سَمِعَ الشَّرِيْدَ يَقُوْلُ أَفَضْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْأَرْضَ حَتّٰى أَتَى جَمْعًا . رواه أبو داود

د حضرت يعقوب بن عاصم بن عروة ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د شريد ﷺ څخه دا هم اوريدلي دي چي زه (د عرفات څخه) د رسول الله ﷺ سره راغلم ، د رسول الله ﷺ قدم پر مځکه نه وو لګيدلی تر څو چي مزدلفې ته ورسيدو . ابوداؤد .(يعني سپور راغلی وو خو اودس تازه کولو ته کښته سوی وو) .

### په عرفات کي جمع بين الصلوتين

(۲۵۰۰): وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمٌ أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ عَامَ نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِسَأَلَ عَبْدَ اللّٰهِ كَيْفَ تَصْنَعُ فِي الْمَوْقِفِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَقَالَ سَالِمٌ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ صَدَقَ إِنَّهُمْ كَانُوا يَجْمَعُونَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي السُّنَّةِ فَقُلْتُ لِسَالِمٍ أَفَعَلَ ذٰلِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَالِمٌ وَهَلْ يَتبِعُونَ فِي ذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ . رواه البخاري .

د حضرت ابن شهاب ﷺ څخه روايت دئ چي سالم بن عبدالله بن عمر ﷺ ما ته بيان وکړ چي حجاج بن يوسف په کوم کال عبدالله بن زبير قتل کړ په هغه کال يې عبدالله بن عمر څخه پوښتنه وکړه چي په عرفات کي د دريدو په ورځ مونږ څه وکړو ؟ سالم بن عبدالله جواب ورکړ که ته پر سنت عمل کول غواړې نو د عرفات په ورځ د ماپښين او مازديګر لمونځ وختي وکړه ، عبدالله بن عمر وويل : سالم رښتيا وويل ، صحابه کرامو به سنت طريقه ادا کولو لپاره د ماپښين او مازديګر لمنځونه يو ځای کول ، ابن شهاب وايي ما سالم ته وويل ايا رسول الله ﷺ به همداسي کول ؟ سالم وويل : په دې اړه مونږ د رسول الله ﷺ د سنت پيروي کوو . بخاري .

## بَابُ رَمْيِ الْجِمَارِ (په مناکي دويشتلو بيان)

### لومړی فصل

**رمي پر سپرلۍ باندي هم جائز ده**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۰۱﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ وَيَقُولُ لِتَأْخُذُوا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هٰذِهِ . رواه مسلم | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ پر خپل اوښه سپور په رمي کولو وليدئ ، رسول الله ﷺ به رمي کول او فرمايل به يې د حج ارکان او افعال زده کړئ |

څکه چي ما ته نه ده څرگنده کيداى سي ددې حج وروسته زه بل حج ونکړم . مسلم .

**د ډبرو شمېر او د ويشتلو طريقه**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ . رواه مسلم | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي ما رسول الله ﷺ په کوچنۍ کوچنۍ ډبرو ويشتلو ليدلی دئ . مسلم . |

**د رمي جمار وخت**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ رَمَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى وَأَمَّا بَعْدَ ذٰلِكَ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ . متفق عليه | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ د څاښت په وخت کي او تر هغه وروسته په زوال سوي وخت کي رسول الله ﷺ جمره په ډبرو وويشتل . بخاري او مسلم . |

**دِ رمي پر وخت تکبير**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۰۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّهُ انْتَهٰى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى فَجَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِيْنِهِ وَرَمٰى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَمَى الَّذِيْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ . متفق عليه | د حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي هغه جمره عقبه ته ورسيدئ او بيت الله يې چپه لوري ته کړل او منا يې راسته لوري ته او اووه واره يې ويشتل وکړه ، په هر وار سره يې الله اکبر ووايه او بيا خلکو ته يې وويل هغه |

سړی چي سورة بقرة پر نازل سو همداسي ويشتل کړي دي . بخاري او مسلم .

**اووه ډبري ويشتل واجب دي**

(۲۵۰۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الاسْتِجْمَارُ تَوٌّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ تَوٌّ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ وَالطَّوَافُ تَوٌّ وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: استنجاء طاق ده (يعني د استنجاء لپاره لوټي وغيره طاق اخيستل پکار دي) او د جمرو ويشتل هم طاق دي او د صفا او مروه په منځ کي ځغستل هم طاق دي او طواف کول هم طاق دي او کله چي په تاسو کي يو څوك د اګربتي وغيره لوړي اخلي نو طاق دي يې اخلي . مسلم .

## دويم فصل

**پر سپرلۍ باندي رمي**

(۲۵۰۶): عَنْ قُدَامَةَ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمَّارٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ عَلَى نَاقَةٍ صَهْبَاءَ لَيْسَ ضَرْبٌ وَلَا طَرْدٌ وَلَيْسَ قِيلَ إِلَيْكَ إِلَيْكَ. رواه الشافعي والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د حضرت قدامة بن عبدالله بن عمار ﷺ څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ ما رسول الله ﷺ پر صهباء اوښي باندي سپور په ډبرو ويشتلو باندي وليدئ نه څو هلته وهل وه ، نه شړل او نه آخوا سئ ځان وساتئ . شافعي، ترمذي، نسائي ، ابن ماجه او دارمي .

**سعي او رمي د الله ﷻ د ذکر ذريعه ده**

(۲۵۰۷): وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ رَمْيُ الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللّٰهِ . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمرو ويشتل کول او د صفا او مروه په منځ کي ځغستل د الله د ذکر لپاره ټاکل سوي دي . ترمذي او دارمي . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ .

**په منی کي ځای مه ټاکی**

(۲۵۰۸): وَعَنْهَا قَالَتْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلَا نَبْنِي لَكَ بَيْتًا يُظِلُّكَ بِمِنًى قَالَ لَا مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ . رواه الترمذي و ابن ماجة والدارمي .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي موږ رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي اې د الله رسوله ايا ستاسو لپاره په منا کي يو سايه لرونکی ځای جوړ کړو ، رسول الله ﷺ وفرمايل :یا ، منا د هغه چا د ناستي ځای دئ څوك چي لومړی ورسيږي . ترمذي،

## دریم فصل

**پر جمرات باندي وقوف**

(۲۵۰۹): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ انَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ وُقُوفًا طَوِيلًا يُكَبِّرُ اللَّهَ وَيُسَبِّحُهُ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُو اللَّهَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ . رواه مالك .

د حضرت نافع ؓ څخه روایت دئ چي ابن عمر ؓ به په جمره اولی او جمره وسطیٰ باندي تر ډیره وخته پوري دریدی او الله اکبر. سبحان الله او الحمدلله به یې ویل، بیا به یې د الله تعالی څخه دعاء غوښتل او جمره عقبه سره به نه دریدی. مالك.

# بَابُ الْهَدْيِ (د قربانی بیان)

## لومړی فصل

**د اشعار او تقلید مسئله**

(۲۵۱۰): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهِ فَأَشْعَرَهَا فِي صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ وَسَلَتَ الدَّمَ وَقَلَّدَهَا نَعْلَيْنِ ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ . رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په ذوالحلیفة کي لمونځ وکړ بیا یې د خپلي قربانی اوښه راوغوښتل او د هغې قب یې د راسته لوري پر غاړه زخمي کړ د هغې وینه یې وچه کړه او او په غاړه کي یې دوې چپلی ور واچولي بیا د خپل سپرلی پر اوښه چي د هغې نوم قصواء وه سپور سو بیا چي کله اوښه بیداء ته ورسیدل نو رسول الله ﷺ د حج احرام وتړی او لبیك یې ووایه . مسلم.

(۲۵۱۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً إِلَى الْبَيْتِ غَنَمًا فَقَلَّدَهَا. متفق علیه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي یو وار رسول الله ﷺ د قربانی لپاره بیت الله شریفي ته پسونه ولیږل او د هغو په غاړه کي یې امیل واچوئ. بخاري او مسلم.

**د بل چا له خوا قرباني**

(۲۵۱۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً يَوْمَ النَّحْرِ . رواه مسلم

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي د قربانی په ورځ رسول الله ﷺ د بي بي عائشې د لوري یوه غوا قرباني کړه . مسلم.

(۲۵۱۳): وَعَنْهُ قَالَ نَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ بَقَرَةً فِيْ حَجَّتِه . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دیٔ چي رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو له لوري يوه غوا قرباني کړه . مسلم .

**خپله حج ته ولاړ نه سي او د تحفې استولو مسئله**

(۲۵۱۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَتَلْتُ قَلَائِدَ بُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ ثُمَّ قَلَّدَهَا وَأَشْعَرَهَا وَأَهْدَاهَا فَمَا حَرُمَ عَلَيْهِ كَانَ أُحِلَّ لَهُ. متفق عليه .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دیٔ چي د رسول الله ﷺ د قرباني د حیوان د امیلونو رسیٔ ما په خپل لاسو سره و اوبدل ، بیا رسول الله ﷺ امیلونه د هغو په غاړه کي واچول د هغو قبونه يې زخمي کړل او د قرباني حیوانان جوړولو سره يې مکې ته ولیږل او پر رسول الله ﷺ د هغه حیوانانو په لیږلو سره هیڅ حلال شی حرام نه سو . بخاري او مسلم.

(۲۵۱۵): وَعَنْهَا قَالَتْ فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِيْ ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِيْ. متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دیٔ چي ما د امیلونو رسۍ په هغه رنګینه وړۍ سره و اوبدل کومه چي زما سره وه ، بیا رسول الله ﷺ هغه زما پلار ته ولیږل . بخاري او مسلم .

**د قرباني پر حیوان سپرتیا**

(۲۵۱۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلاً يَسُوْقُ بَدَنَةً فَقَالَ ارْكَبْهَا فَقَالَ إِنَّهَا بَدَنَةٌ قَالَ ارْكَبْهَا وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوِ الثَّالِثَةِ. متفق عليه .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دیٔ چي رسول الله ﷺ یو سړی ولیدیٔ چي د خپل قرباني حیوان يې شړیٔ او ورسره روان وو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : پر دې سپور سه هغه عرض وکړ دا د قرباني حیوان دیٔ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : سپور سه ، هغه بیا همداسي وویل د قرباني حیوان دیٔ ، رسول الله ﷺ بیا ورته وفرمایل : سپور سه پر تا افسوس دیٔ دا الفاظ يې دوه یا درې واره وفرمایل . بخاري او مسلم .

(۲۵۱۷): وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ الْهَدْيِ فَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا . رواه مسلم .

د حضرت ابو الزبیر ﷺ څخه روایت دیٔ چي ما د جابر بن عبدالله څخه واورېدل چي د هغه څخه د قرباني پر حیوان د سپرېدو په اړه وپوښتل سوه هغه ورته وویل : ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي په ښه طریقه سره سپور سه کله چي ته په سپرېدو مجبور يې تر څو چي تا ته بله سپرلی تر لاسه سي . مسلم .

**په لاره کې د قريب الموت کېدو والا هديه**

(۲۵۱۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِستَّ عَشْرَةَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ وَأَمَّرَهُ فِيهَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا أُبْدِعَ عَلَيَّ مِنْهَا قَالَ انْحَرْهَا ثُمَّ اصْبُغْ نَعْلَيْهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ اجْعَلْهُ عَلَى صَفْحَتِهَا وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ شپاړلس اوښان د يو سړي سره مکې ته ولېږل او د هغه اوښانو يې ساتونکی و ټاکئ ، هغه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه که په دې اوښانو کې يو اوښ د يو ناروغی يا ستړي کېدو له کبله نه سي تلای نو څه ورسره وکړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه حلال کړه او د هغه په وينه کې هغه څپلی چي د هغه په غاړه کې پرتې دي ډوبې کړه او د هغه پر قوب نښه وکړه او د هغه غوښه مه ته خوره او نه دي ستا ملګري خوري . مسلم .

**د قرباني برخې**

(۲۵۱۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي د حديبيه په کال موږ د رسول الله ﷺ سره د اووه کسانو د لوري د اوښ او د اوو کسانو د لوري د غوا قرباني وکړه . مسلم .

**د اوښ د قرباني طريقه**

(۲۵۲۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَتَى عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا قَالَ ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي هغه يو سړي ته ورغلئ چي خپل اوښ يې کښېنولی حلالوئ هغه ورته وويل : اوښ ودروه پښې يې وتړه او حلال يې کړه چي دا د محمد ﷺ طريقه ده . بخاري او مسلم .

**د هدی په اړه يو څو هدايات**

(۲۵۲۱): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ عَلَى بُدْنِه وَأَنْ أَتَصَدَّقَ بِلَحْمِهَا وَجُلُودِهَا وَأَجِلَّتِهَا وَأَنْ لَا أُعْطِيَ الْجَزَّارَ مِنْهَا قَالَ نَحْنُ نُعْطِيهِ مِنْ عِنْدِنَا . متفق عليه

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته حکم راکړ چي د رسول الله ﷺ پر اوښانو ودرېږمه او د هغو غوښه خيرات کړم او پوست وغيره يې هم صدقه کړم او د قصاب مزدوري (غوښه) مه ورکوه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : مزدوري به موږ د خانه ورکوو . بخاري او مسلم .

### د کوم هدی غوښې مالک ته خوړل جائز دي

﴿۲۵۲۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا لَا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَرَخَّصَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوا وَتَزَوَّدُوا فَأَكَلْنَا وَتَزَوَّدْنَا. متفق عليه

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي موږ به د خپلي قرباني غوښه تر درو ورځو زیاته نه خوړل، بیا رسول الله ﷺ موږ ته اجازه راکړه او وه یې فرمایل: خورئ او پښوئ یې، نو موږ به خوړل او پټول به مو. بخاري او مسلم.

## دویم فصل

### د خدای ﷻ د ښمنانو ته غم رسول مستحب دی

﴿۲۵۲۳﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنَّ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدَى عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي هَدَايَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَلًا كَانَ لِأَبِي جَهْلٍ فِي رَأْسِهِ بُرَةٌ مِنْ فِضَّةٍ ، و في رواية مِنْ ذَهَبٍ يَغِيظُ بِذَلِكَ الْمُشْرِكِينَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د حدیبیه په کال رسول الله ﷺ د خپلي قرباني په حیوانانو کي د ابوجهل اوښ هم بوتلئ (دا اوښ د بدر په غزا کي په غنیمت راوړل سوی وو) چي په پزه کي یې د سپینو زرو پیزوان وو ، او په یوه روایت کي دي چي د سروزرو پیزوان وو او ددې څخه مقصد د مشرکانو په غیظ او غضب کي راوستل وه . ابوداؤد.

### د قرب الموت هدی حکم

﴿۲۵۲۴﴾: وَعَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا عَطِبَ مِنَ الْبُدْنِ قَالَ انْحَرْهَا ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ خَلِّ بَيْنَ النَّاسِ وَبَيْنَهَا فَيَأْكُلُوهَا. رواه مالك و الترمذي وابن ماجة و رواه ابوداؤد والدارمي عن ناجية الاسلمي .

د حضرت ناجیه خزاعي رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله! زه د قرباني د هغه حیوان په اړه چي مرګ ته نژدې وي څه وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه حلال کړه او د هغه په وینه کي هغه څپلې ډوبې کړه چي د هغو په غاړه کي دئ د هغو پر غاړو نښه ولګوه او بیا هغه خلکو ته پرېږده چي هغوئ یې وخوري . مالک، ترمذي، ابن ماجة، ابوداؤد او دارمي د ناجیة الاسلمي څخه روایت کړئ دئ.

### د قرباني د ورځي فضیلت

﴿۲۵۲۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُرْطٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

د حضرت عبدالله بن قرط رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالی

يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ قَالَ ثَوْرٌ وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّانِي وَقَالَ وَقُرِّبَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ فَلَمَّا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا قَالَ فَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ خَفِيَّةٍ لَمْ أَفْهَمْهَا فَقُلْتُ مَا قَالَ قَالَ مَنْ شَاءَ اقْتَطَعَ. رواه ابوداؤد و ذكر حديثا ابن عباس و جابر في باب الاضحية .

په نزد په تولو ورځو کي لويه ورځ د قرباني ورځ ده او بيا د قر ورځ ، د ددې حديث راوي ويلـي دي چـي د قـر ورځ د ذي الحجـې يوولسمه نيټه ده د راوي بيان دئ چي پنځه يا شپږ د قرباني حيوانان رسول الله ﷺ ته نژدې راوستل سول نو دا حيوانان په خپله ورته نژدې کيدل پيل سول په هغو کي چي کوم يې خوښه وي هغه لومړی حلال کړي ، راوي وايي کله چي دا حيوانان پر بغل را پريوتل نو رسول الله ﷺ په کراره څه وفرمايل چي زه په پوه نه سوم ما د نژدې سړي څخه پوښتنه وکړل چي رسول الله ﷺ څه وفرمايل : هغه وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل څوك چي غواړي ددې حيوانانو د غوښو ټوټه دي يوسي ، د ابن عباس او جابر حديث په باب الاضحية کي بيان سوي دئ . ابوداؤد .

## دريم فصل

### د قرباني غوښه

﴿۲۵۲۶﴾: عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ضَحَّى مِنْكُمْ فَلَا يُصْبِحَنَّ بَعْدَ ثَالِثَةٍ وَفِي بَيْتِهِ مِنْهُ شَيْءٌ فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا عَامَ الْمَاضِي قَالَ كُلُوا وَأَطْعِمُوا وَادَّخِرُوا فَإِنَّ ذَلِكَ الْعَامَ كَانَ بِالنَّاسِ جَهْدٌ فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِينُوا فِيهِمْ. متفق عليه

د حضرت سلمه بن الاكوع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پـه تاسو کـي چي څـوك قربـاني وکـړي هغـه دي تـر درو ورځـو وروسته هيڅ شی په کور کي نه ساتي (يعني غوښـه) بيـا چـي دويـم کـال راغلئ نـو خلکـو پوښتنه وکړه اي د الله رسوله ايا سږ کال هم موږ همداسي وکړو څنګه چي تير کال مو کړي وه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خورئ او ذخيره کوئ ، او تير مـال مـا لـه دې کبلـه منع کړې وه چي هغـه کـال د محنت، مشقت او مفلسۍ کـال وو نـو مـا مناسب دا وګڼل چي په دې سره به دغريبانو مرسته وکړل سي : بخاري او مسلم .

﴿۲۵۲۷﴾: وَعَنْ نُبَيْشَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا نَهَيْنَاكُمْ عَنْ لُحُومِهَا أَنْ تَأْكُلُوهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ فَقَدْ جَاءَ اللَّهُ

د حضرت نبيشه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ به تاسو منع کولاست چي د خپلـې قربـانۍ غوښـه تـر درو ورځـو زيـات مـه خـورئ ، ددې وجه داوه چي پراخي وي (يعني د

| | |
|---|---|
| بالسَّعَةِ فَكُلُوا وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا أَلَا وَإِنَّ هٰذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللّٰهِ. رواه ابوداؤد. | غریبانو مرسته وسي) اوس الله تعالى پراخي درکړې ده اوس چي تر څو پوري مو زره وي |

خورئ او پټوئ يې او صدقه کوئ ، خبردار سئ چي دا ورځي د خوراك، څښاك او د الله تعالى د ذکر ورځي دي . ابوداؤد .

# بَابُ الْحَلْقِ ( د سر خريلو بيان )

## لومړی فصل

### سر خريل غوره دي

| | |
|---|---|
| (۲۵۲۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ رَأْسَهُ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَأُنَاسٌ مِّنْ أَصْحَابِهٖ وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ . متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي په حجة الوداع کي رسول الله ﷺ خپل سر مبارك وخرايه او په صحابه کرامو کي ځينو وخرايه او ځينو غچي کړ . بخاري او مسلم . |

### د رسول الله ﷺ ويښتان کوچني کول

| | |
|---|---|
| (۲۵۲۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ لِيْ مُعَاوِيَةُ أَنِّيْ قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْمَرْوَةِ بِمِشْقَصٍ . متفق عليه | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي ما ته معاوية وويل : ما مروة ته نژدې په غتي غچي سره د رسول الله ﷺ د سر ورېښتان غچي کړل . بخاري او مسلم . |

### د سر خريونکو لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

| | |
|---|---|
| (۲۵۳۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ اللّٰهُمَّ ارْحَمْ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اللّٰهُمَّ ارْحَمْ الْمُحَلِّقِيْنَ قَالُوا وَالْمُقَصِّرِيْنَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ وَالْمُقَصِّرِيْنَ. متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي په حجة الوداع کي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! پر سر خريونکو رحم وکړې، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله او پر غچي کونکو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل اې الله ! پر سر خريونکو رحم |

وکړې ، صحابه کرامو بيا پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! او پر غچي کونکو باندي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل او پر غچي کونکو باندي هم . بخاري او مسلم .

﴿۲۵۳۱﴾: وَعَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ عَنْ جَدَّتِهِ أَنَّهَا سَمِعَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِينَ ثَلَاثًا وَلِلْمُقَصِّرِينَ مَرَّةً وَاحِدَةً. رواه مسلم .

حضرت یحی بن الحصین د خپل انا څخه روایت کوي چي هغې په حجة الوداع کي د نبي کریم ﷺ څخه سر خریونکو لپاره درې واره دعا کول واوریدل او د غچي کونکو لپاره یو وار. مسلم.

**په سر خریلو کي د راسته خوا څخه شروع کول سنت دي**

﴿۲۵۳۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مِنًى فَأَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا ثُمَّ أَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى وَنَحَرَ نُسُكَهُ ثُمَّ دَعَا بِالْحَلَّاقِ وَنَاوَلَ الْحَالِقَ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ فَحَلَقَهُ ثُمَّ دَعَا أَبَا طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيَّ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ الشِّقَّ الْأَيْسَرَ فَقَالَ احْلِقْ فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أَبَا طَلْحَةَ فَقَالَ اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ . متفق علیه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ منا ته تشریف راوړ بیا جمره عقبه ته راغلئ او هلته یې رمي وکړل بیا په منا کي خپل تم ځای ته راغلئ او د خپلي قرباني حیوان یې حلال کړ بیا یې یو سرخریونکی راوغوښتئ او د خپل سر مبارك راسته طرف یې د هغه مخته کړ او سر مبارك یې وخرایه، بیا یې ابو طلحه انصاري راوغوښتئ او خریلي ورښتان یې هغه ته ورکړل بیا د خپل سـ ـباکر چپه طرف یې د خریونکي خوا ته کړ او وه یې فرمایل: وخریه ، نو هغه وخریی دا ورښتان هم رسول الله ﷺ ابوطلحه ته ورکړه او ورته وه یې فرمایل: دا په خلکو وویشه. بخاري او مسلم.

**د قرباني په ورځ د خوشبويي لګول**

﴿۲۵۳۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ بِطِيبٍ فِيهِ مِسْكٌ . متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما په رسول الله ﷺ ته د احرام تړلو څخه وړاندي او د قرباني په ورځ د بیت الله د طواف څخه وړاندي هم خوشبويي لګول چي په هغه کي به مشك هم وه. بخاري او مسلم.

**د قرباني په ورځ رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ چيري وکړی؟**

﴿۲۵۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ مکې مکرمې ته تشریف راوړ بیا منا ته ولاړی او هلته یې د ماپښین لمونځ وکړ. مسلم.

## دویم فصل

**د ښځو د سر خریلو څخه منع**

(۲۵۳۵): عَنْ عَلِيٍّ وَّعَائِشَةَ قَالاَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا . رواه الترمذي .

د حضرت علي او عائشي (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د ښځو د سر خریلو څخه منع فرمایلې ده . ترمذي.

**ښځي ته یوازي وېښتان کوچني کول پکار دي**

(۲۵۳۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ حَلْقٌ إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيْرُ. رواه ابوداؤد والدارمي ، و هذا الباب خال عن الفصل الثالث .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ښځو لپاره سر خریل نسته بلکه د ښځو لپاره ورېښتان لنډول دي . (تر حج وروسته) . ابوداؤد او دارمي . په دې باب کي دریم فصل نسته .

# بَابٌ فِي التَّحَلُّلِ وَنَقَلِهِم بَعْضَ الاَعْمَالِ عَلٰى بَعْضٍ

## (په حج کي د تقدیم او تاخیر بیان)

## لومړی فصل

**په حج کي تقدیم او تاخیر**

(۲۵۳۷): عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُوْنَهُ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ فَقَالَ اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ فَقَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ افْعَلْ وَلَا حَرَجَ. متفق عليه و في رواية لمسلم أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ وَأَتَاهُ آخَرُ فَقَالَ إِنِّي أَفَضْتُ إِلَى

د حضرت عبد الله ابن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ په حجة الوداع کي، په منا کي تم سو چي خلك مسائل ځیني و پوښتي نو یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي د ناپوهی له کبله د حلالولو څخه وړاندي ما سر وخرایه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ذبح وکړه هیڅ پروا نسته، دویم سړی راغلئ هغه عرض وکړ د ناپوهی له کبله د جمرو د ویشتلو څخه وړاندي ما قرباني وکړه ، رسول الله ﷺ ورته

الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ .

وفرمايل: اوس د جمرو ويشتل وكړه هيڅ پروا نشته ، لنديز دا چي د تقديم او تاخير له كبله چي كوم مسائل د رسول الله ﷺ څخه و پوښتل سول د ټولو جواب رسول الله ﷺ همدغه وفرمايل چي اوس يې وكړه هيڅ پروا نشته ، بخاري او مسلم ، او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ چي ما د جمرو ويشتلو څخه مخكي سر وخرايه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: جمرې ووله هيڅ گناه نشته او يو بل سړی راغلئ هغه عرض وكړ چي د جمرو ويشتلو څخه مخكي ما طواف كړی دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اوس جمرې ووله هيڅ گناه نشته .

(٢٥٣٨): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى فَيَقُولُ لَا حَرَجَ فَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ رَمَيْتُ بَعْدَ مَا أَمْسَيْتُ فَقَالَ لَا حَرَجَ . رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ په منا كي خلكو د رسول الله ﷺ څخه مسائل پوښتل ، او رسول الله ﷺ به د هري مسئلې په جواب كي دا فرمايل: هيڅ پروا نشته ، يو سړي پوښتنه وكړه چي ما د ماښام كېدو څخه وروسته جمرې وويشتلې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هيڅ گناه نشته . بخاري

## دويم فصل

(٢٥٣٩): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَفَضْتُ قَبْلَ أَنْ أَحْلِقَ قَالَ احْلِقْ أَوْ قَصِّرْ وَلَا حَرَجَ وَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ قَالَ ارْمِ وَلَا حَرَجَ . رواه الترمذي .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ته يو سړی راغلئ او عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! ما د سر خريلو څخه وړاندي فرض طواف وكړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: سر وخريه يا غڅي يې كړه هيڅ پروا نشته ، دويم سړی راغلئ هغه وويل: ما د جمرو ويشتلو څخه مخكي قرباني كړې ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: جمرې ووله هيڅ گناه نشته . ترمذي .

## دريم فصل

(٢٥٤٠): عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجًّا فَكَانَ النَّاسُ

د حضرت اسامه بن شريك ﷺ څخه روايت دئ چي زه د نبي كريم ﷺ سره د حج كولو لپاره ولاړم

يَأْتُونَهُ فَمَنْ قَائِل يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ أَخَّرْتُ شَيْئًا او قدمت شيئا فَكَانَ يَقُولُ لَا حَرَجَ إِلَّا عَلَى رَجُلٍ اقْتَرَضَ عِرْضَ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ فَذٰلِكَ الَّذِي حَرِجَ وَهَلَكَ. رواه ابوداؤد .

، خلك به د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضريدل او مسائل به يې پوښتل، ځينو به دا ويل اې دالله رسوله ! ما د طواف څخه وړاندي د صفا او مروه سعي كړې ده ، ځينو به ويل دا كار ما وروسته كړى دى او ځينو به ويل دا كار ما وړاندي كړى دئ ، رسول الله ﷺ به د ټولو په جواب كي فرمايل : هيڅ گناه نسته ، البته گناه د هغه سړي ده چي ظالم وي او د يو مسلمان بې عزتي وكړي دا سړى هلاك سو . ابوداؤد .

# بَابُ خُطْبَةِ يَوْمِ النَّحْرِ وَ رَمْيِ اَيَّامِ التَّشْرِيْقِ وَالتَّوْدِيْعِ

## ( د قرباني په ورځ خطبه ، رمي او د طواف رخصت بيان )

## لومړى فصل

### د قرباني په ورځ خطبه

﴿۲۵۴۱﴾:عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَ ان الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السموات والارض السنة اثنا عشر شهرا منها اربعة حرم ثلث متواليات ذوالقعدة و ذوالحجة والمحرم ورجب مضر الذي بين جمادي و شعبان وقال أَيُّ شهر هَذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسمه فقَالَ أَلَيْسَ ذالحجة قُلْنَا بَلَى قَالَ أَيُّ بَلَد هَذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسمه قَالَ أَلَيْسَتْ بِالْبَلْدَةِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هَذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسمه قَالَ أَلَيْس يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ

د حضرت ابو بكرة ﷺ څخه روايت دئ چي د قرباني په ورځ رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي دا خطبه وفرمايل : زمانه د خپل هغه وضع سره سم چي په هغې كي وه راوگرځيده وضعي خپلي ته په هغه ورځ چي الله تعالى آسمانونه او مځكي پيدا كړل ( يعني په كومه ورځ چي الله تعالى آسمانونه او مځكي پيدا كړي وه بيا په هغه ورځ راغلل او كال پوره سو، كال دوولس مياشتي وي چي په هغو كي څلور مياشتي د عزت (حرمت) دي ، درې خو پرله پسې دي يعني ذوالقعده، ذوالحجة ، محرم او څلورمه رجب مضر چي د جمادي او شعبان په منځ كي ده ، بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه : دا كومه مياشت ده ؟ موږ عرض وكړ الله تعالى او د هغه رسول ښه

وَاَعْرَاضُكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَ فِي بلدكم هٰذَاَ فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْاَلُكُمْ عَنْ اَعْمَالِكُمْ اَلاَ فَلاَ تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ ضُلاَّلاً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ اَلا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ . متفق عليه

پوهيږي ، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، زموږ خيال سو چي رسول الله ﷺ ددې مياشتي يو بل نوم ايږدي، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ذوالحجة نه ده ؟ موږ عرض وکړ هو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل دا کوم ښار دئ ؟ موږ عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، تر دي چي زموږ دا خيال سو چي نبي ﷺ يو بل نوم پر ايږدي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا دا بلده (مکه) نه ده ؟ موږ عرض وکړ هو، بيا يې پوښتنه وکړه دا کومه ورځ ده ؟ موږ وويل الله اود هغه رسول ښه پوهيږي ، بيا رسول الله ﷺ پټه خوله سو او زموږ گمان سو چي رسول الله ﷺ به ددې بل نوم ايږدي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا دا دقرباني ورځ نه ده ؟ موږ عرض وکړ هو، رسول الله ﷺ وفرمايل : (د نن ورځي څخه) ستاسو وينه، ستاسو مال او ستاسو عزت پر تاسو حرام دئ لکه څرنگه چي په دې ورځ ، په دې ښار او په دې مياشت کي حرام دي ، (اې خلکو !) ډير ژر به تاسو د خپل پروردگار سره يو ځای کيږئ هغه به ستاسو څخه ستاسو د اعمالو په اړه پوښتنه کوي ، خبردارا چي زما وروسته گمراه نه سئ چي د يو بل غاړي وهل پيل کړئ ، خبردار سئ ايا ما خپل فرض ادا کړل ؟ (يعني دالله احکام مي تاسو ته ورسول ؟) موږ عرض وکړ هو، اې دالله رسوله، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله ! ته هم شاهد اوسه ، صحابه کرامو ته يې وفرمايل : په تاسو کي چي کوم خلك دلته شتون لري هغوئ دي هغه خلکو ته دا خبري ورسوي کوم چي دلته شتون نه لري، ځکه چي ځيني هغه خلك چي هغوئ ته پيغام ورسول سي تر پيغام اوريدونکو زيات ياد لرونکي وي . بخاري او مسلم .

**په يوولسمه او دوولسمه د رمي وخت**

(۲۵۴۲): وَعَنْ وَبَرَةَ قَالَ سَاَلْتُ ابْنَ عُمَرَ مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ قَالَ إِذَا رَمَى إِمَامُكَ فَارْمِهْ فَاَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْاَلَةَ فقَالَ كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا . رواه البخاري

د حضرت وبرة ﷺ څخه روايت دئ چي ما د ابن عباس ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زه کله جمرې وولم ؟ هغه راته وويل کله چي ستا امام جمرې ولي هغه وخت ته هم جمرې وله، ما بيا همدا سي وويل : نو هغه وويل موږ به انتظار کوي کله چي به ورځ زوال سوه نو موږ به جمرې وويشتلې . بخاري .

**د رمي ترتيب**

(۲۵۴۳): وَعَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَرْمِي

حضرت سالم ﷺ د ابن عمر ﷺ څخه روايت کي

الْجَمْرَةَ الدُّنْيَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ عَلَى إِثْرِ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يُسْهِلَ فَيَقُومَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ طَوِيلًا وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ ثُمَّ يَرْمِي الْوُسْطَى بسبع حصيات يكبره وكلما رمى بحصاة ثُمَّ يَأْخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَسْتَهِلُ وَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَقُومُ طَوِيلًا ثُمَّ يَرْمِي جَمْرَةَ ذَاتِ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بسبع حصيات يكبر عند كل حصياة وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَيَقُولُ هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ . رواه البخاري

چي ابن عمر ﷺ به نژدې جمره (چي مسجد حنيف ته نژدې ده او د هغې نوم جمره اولى ده) په اوو ډبرو ويشتل او په هر وار ويشتلو به يې الله اكبر وايه، بيا به پر مخ تلئ او نرمي مځكي ته چي به ورسيدئ نو مخ پر قبله به ودريدئ او تر ډيره به ولاړ وو او دعاء به يې غوښتل او خپل دواړه لاسونه به يې پورته كړل بيا به يې جمره وسطى په اوو ډبرو ويشتل او د هر وار ويشتلو سره به يې الله اكبر وايه، بيا به چپه طرف ته تلى او نرمي مځكي ته په رسيدو سره به مخ پر قبله ودريدئ او دعاء به يې كول او لاسونه به يې پورته كړل او تر ډيره وخته پوري به ولاړ وو، بيا په جمره ذات العقبه كي به په شيله كي دريدو سره به يې اووه واره ويشتل كول او په هر وار ويشتلو به يې الله اكبر وايه او ددې سره نژدې به تر ډيره وخته پوري نه دريدئ بيا به روان سو او ويل به يې همداسي ما نبي كريم ﷺ په كولو ليدلى دئ. بخاري.

**په منى كي شپه كول واجب دي كه سنت؟**

(۲۵۴۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ فَأَذِنَ لَهُ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي عباس بن عبد المطلب د رسول الله ﷺ څخه ددې غوښتنه وكړه چي د منا د قيام په شپو كي هغه ته په مكه كي د پاته كېدو اجازه وركړل سي چي خلكو ته د زمزم اوبه وركړي، رسول الله ﷺ اجازه وركړه. بخاري او مسلم.

**رسول الله ﷺ پر زم زم باندي**

(۲۵۴۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ فَاسْتَسْقَى فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا فَضْلُ اذْهَبْ إِلَى أُمِّكَ فَأْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا فَقَالَ اسْقِنِي فقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ أَيْدِيَهُمْ فِيهِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د زمزم اوبو ته تشريف يووړ او اوبه يې و غوښتلې، ابن عباس خپل ورور فضل ته وويل ته خپل مور ته ولاړ سه او د هغې څخه د رسول الله ﷺ لپاره اوبه راوړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ما ته ددغه اوبو څخه راكړه، ابن عباس

قَالَ اسْقِنِي فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ وَهُمْ يَسْقُونَ وَيَعْمَلُونَ فِيهَا فَقَالَ اعْمَلُوا فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ ثُمَّ قَالَ لَوْلَا أَنْ تُغْلَبُوا لَنَزَلْتُ حَتَّى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلَى هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى عَاتِقِهِ . رواه البخاري .

ﷺ ورته وویل اې دالله رسوله ! په دې اوبو کې خلك لاس وهي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل د همدې اوبو څخه یې راکړه، نو رسول الله ﷺ اوبه وڅښلې ، د دې وروسته رسول الله ﷺ د زمزم څاه ته تشریف راوړ او د عبد المطلب اولاد د اوبو په ورکولو کې په پوره هڅه سره کار کوئ ، رسول الله ﷺ د هغوئ په لیدو سره وفرمایل : په کار کې بوخت اوسئ تاسو یو نیك کار کوئ ، بیا یې وفرمایل : که زما سره دا بیره نه وای چې زما په لاس ور ورلو سره به خلك پر تاسو رامات سي (یعني بیا به خلك زما متابعت وکړي یعني هغوئ به هم دا کار وکړي ستاسو سره به په دغه کار کې شریك سي حال دا چې دا منصب یوازې د حضرت عباس وو ) نو زه به د اوبو څخه تا سوی وای او رسی به مې پر دې اینبې وای او د خپلې اوږې په لور یې اشاره وکړه (یعني د اوبو راکښلو لپاره به مې رسی پر اوږه تړلې وای ) بخاري.

## د رسول الله ﷺ طواف وداع

(۲۵۴۶): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ د ماپښین، مازدیگر، ماښام او ماخستن لمنځونه په محصب نامي ځای کې ادا کړل ، بیا لږ گړی بیده سو ، بیا سپور سو د بیت الله شریفي طواف ته ولاړئ او طواف یې وکړ . بخاري .

## رسول الله ﷺ د ترویه او قرباني په ورځ د ماپښین او مازدیگر لمونځ چیرې وکړی؟

(۲۵۴۷): وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قُلْتُ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ قَالَ بِمِنًى قال فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ قَالَ بِالْأَبْطَحِ ثُمَّ قَالَ افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ . متفق عليه

د حضرت عبد العزیز بن رفیع ﷺ څخه روایت دئ چې ما د انس بن مالك ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ما ته هغه خبره وښیه چې تا د رسول الله ﷺ څخه زده کړې ده یا درته څرگنده وي رسول الله ﷺ د یوم ترویه د ماپښین لمونځ په کوم ځای کې وکړ ؟ هغه وویل : په منا کې ، ما بیا پوښتنه وکړه د یوم نفر د ستنېدو په ورځ (یعني دیارلسمه نېټه) رسول الله ﷺ د مازدیگر لمونځ په کوم ځای کې وکړ ؟ هغه وویل : په ابطح نامي ځای کې ، بیا انس ﷺ وویل : ته هم داسې کوه څرنگه چې ستا امیران کوي. بخاري او مسلم .

**په ابطح کي تم کېدل سنت نه دي که يا؟**

(٢٥٤٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ نُزُولُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ إِنَّمَا نَزَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ إِذَا خَرَجَ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي په ابطح نامي ځاى کي کښته کېدل سنت نه دي دلته رسول الله ﷺ يوازي ددې لپاره کښته سوى وو چي په ستنېدو کي اساني وه. بخاري او مسلم.

**د طواف وداع وروسته د رسول الله ﷺ د مکې څخه روانېدل**

(٢٥٤٩): وَعَنْهَا قَالَتْ أَحْرَمْتُ مِنَ التَّنْعِيمِ بِعُمْرَةٍ فَدَخَلْتُ فَقَضَيْتُ عُمْرَتِي وَانْتَظَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَبْطَحِ حَتَّى فَرَغْتُ فَأَمَرَ النَّاسَ بِالرَّحِيلِ فَخَرَجَ فَمَرَّ بِالْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ قَبْلَ صَلٰوةِ الصُّبْحِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَدِينَةِ. هذا الحديث ما وجدته برواية الشيخين بل برواية ابي داؤد مع اختلاف يسير في آخره.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي ما د تنعيم نامي ځاى څخه خپل عمره پوره کړه او رسول الله ﷺ په ابطح کي زما انتظار کاوه، کله چي زه د عمرې څخه فارغه سوم نو رسول الله ﷺ خلکو ته د ستنېدو (کوچېدو) حکم ورکړ او بيت الله ته په رسيدو سره يې دسهار دلمانځه ړاندي طواف وکړ، بيا د مدينې په لور روان سو. (دا حديث ما د شيخينو په رواياتو کي تر لاسه نه کړ بلکه په ابوداؤد کي مي تر لاسه کړ سره د لږ اختلاف)

**طواف وداع واجب دی**

(٢٥٥٠): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي خلك (د حج د فارغه کېدو سره) هر لوري ته تلل (يعني خپلو کورو ته تلل او د طواف وداع چا پروا نه کول) رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي دي هيڅوك تر هغه وخته پوري نه ځي تر څو پوري چي د بيت الله شريفي سره خپل آخري عهد پوره نه کړي (يعني د بيت الله د رخصت طواف ونه کړي) مګر دا طواف د حائضې ښځي څخه موقف سوى دئ. بخاري او مسلم.

**د عذر په وجه طواف وداع واجب نه دی**

(٢٥٥١): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ فَقَالَتْ مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتَكُمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقْرَى حَلْقَى أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ قِيلَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي په ديارلسمه نېټه يعني د حج څخه د تلو په ورځ د بي بي صفيې وينه راغلل، هغې وويل زما خيال

نَعَمْ قَالَ فَانْفِرِي . متفق عليه

دئ چي زه به تاسو تم کړم ، (ځکه چي ما طواف وداع نه دئ کړئ) رسول الله ﷺ وفرمايل : الله دي هغه خوراه ميراثه کړي (دا الفاظ د ميني دي ښيرا نه ده ) ايا هغې د قرباني په ورځ طواف نه دئ کړئ ، وويل سول چي هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل نو ځئ . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

### د قرباني په ورځ د رسول الله ﷺ نصيحت

﴿٢٥٥٢﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْاَحْوَصِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ أَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قَالُوا يَوْمُ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ إِلَّا عَلٰى نَفْسِهِ أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ عَلٰى وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ عَلٰى وَالِدِهِ أَلَا إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يُعْبَدَ فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا أَبَدًا وَلٰكِنْ سَيَكُونُ لَهُ طَاعَةٌ فِيمَا تَحْتَقِرُونَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَسَيَرْضٰى بِهِ . رواه ابن ماجة والترمذي و صححه .

د حضرت عمرو بن الاحوص ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه په حجة الوداع کي دا واوريدل : دا کومه ورځ ده ؟ حاضرينو وويل دا د حج اکبر ورځ ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو وينه، ستاسو مال او ستاسو عزت ستاسو په منځ کي پر تاسو داسي حرام دئ لکه څرنګه چي په دې ورځ او ښار کي پر تاسو حرام دئ ، خبردار! کوم ظالم چي ظلم کوي هغه پر خپل ځان ظلم کوي ، خبردار! هيڅ پلار دي پر خپل اولاد او هيڅ زوی دي پر خپل پلار ظلم نه کوي ، خبردار! شيطان د هميشه لپاره نااميده سو ددې خبري څخه چي ستاسو په دې ښار کي به د هغه عبادت کيږي مګر تاسو به په هغه اعمالو کي د شيطان فرمانبردار ياست کوم چي تاسو حقير ګڼئ (يعني کوچني ګناهونه) هغه په هغه ګناهو خوشحاله کيږي کوم چي تاسو حقير ګڼئ . ابن ماجة ، ترمذي .

﴿٢٥٥٣﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْمُزَنِيِّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى حِينَ ارْتَفَعَ الضُّحٰى عَلٰى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ وَالنَّاسُ بَيْنَ قَائِمٍ وَّ قَاعِدٍ . رواه ابوداوٗد .

د حضرت رافع بن عمرو مزني ﷺ څخه روايت دئ چي ما په منا کي په څاښت وخت کي د رسول الله ﷺ څخه خطبه واوريدل : رسول الله ﷺ پر شهباء غاتري سپور وو او حضرت علي ﷺ به د رسول الله ﷺ بيان دويم وار وايه (چي ليري خلك يې واوري) او ځيني خلك ناست وه او ځيني ولاړ وه . ابوداوٗد .

## د طواف زيارت وخت

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٥٤﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ يَوْمَ النَّحْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رواه الترمذي و ابوداؤد وابن ماجة . | د حضرت عائشي او ابن عباس (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ په طواف زيارت کي تر درو شپو پوري زنډ وکړ. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه . |

## په طواف زيارت کي رمل نه سته

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٥٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ. رواه ابوداؤد وابن ماجة ، | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ په طواف زيارت کي رمل (په څغاسته اوږي ښورول) ونه کړ . ابوداؤد او ابن ماجه . |

## د محرم لپاره منع شيان کله جائز کيږي

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٥٦﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَمٰى أَحَدُكُمْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلاَّ النِّسَاءَ . رواه في شرح السنة وقال : إسناده ضعيف، وفي رواية احمد والنسائي عن ابن عباس قال اذا رمى الجمرة فقد حل له كل شئ الا النساء. | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوك د جمره عقبه رمي کوي نو د هغه لپاره هر شی حلال سي پرته د هغه د ښځي څخه . شرح السنة . |

## د رسول الله ﷺ رمي

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٥٧﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ أَفَاضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ حِينَ صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مِنًى فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ يَرْمِي الْجَمْرَةَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ كُلَّ جَمْرَةٍ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ وَيَقِفُ عِنْدَ الْأُولَى وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيلُ الْقِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ فَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا . رواه ابوداؤد | د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د قرباني په ورځ په آخري وخت کي د ماپښين د لمانځه وروسته طواف وکړ ، ددې وروسته منا ته راغلی او په منا کي يې د تشريق ورځي تيري کړې ، په دې ورځو کي به رسول الله ﷺ جمرې ويشتلې چي زوال به سو هره جمره به يې په اوو ډبرو ويشتل او په هر وار ويشتلو به يې الله اکبر وايه ، او په لومړنی او دويمي جمري باندي تر ډيره وخته پوري ودريدی، |

او په عجز سره يې دعاء غوښتل او د دريمي جمرې په ويشتلو سره به راتلی او د هغې سره به نه دريدی . ابوداؤد .

په جمرات کي د تقديم او تاخير مسئله

(۲۵۵۸): وَعَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ يَجْمَعُوا رَمْيَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ فَيَرْمُوهُ فِي أَحَدِهِمَا. رواه مالك والترمذي والنسائي وقال الترمذي هذا حديث صحيح.

حضرت ابو البداح بن عاصم بن عدي د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ د اوښانو څرونکو ته رخصت ورکړی وو چي هغوئ د شپې په منا کي تم نه سي چي د قرباني په ورځ جمره عقبه په ډبرو وولي، بيا د دوو ورځو رمي په يوه ورځ کي يو ځای کړي، وروسته تر ورځي د قرباني څخه نو ودولي په يوه ورځ کي مالك، ترمذي، نسائي. او ترمذي ويلي دي د احديث صحيح دئ.

# بَابُ مَا يَجْتَنِبُهُ الْمُحْرِمُ

## (هغه شيان چي د هغه څخه د محرم (احرام تړونکي) ځان ساتل پکار دي)

## لومړی فصل

هغه شيان چي محرم ته يې اغوستل منع دي

(۲۵۵۹): عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ فَقَالَ لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْبَرَانِسَ وَلَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلَاوَرْسٌ، متفق عليه وَزَادَ الْبُخَارِيُّ فِيْ رِوَايَةٍ وَلَا تَنْتَقِبُ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَاتَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ

د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي محرم (احرام ترونکی) کوم ډول جامې اغوستلای سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: محرم دي نه قميص اغوندي، نه دي لنګوټه تړي، نه دي پرتوګ اغوندي، نه دي خولی پر سر کوي، نه دي باراني کالي اغوندي او نه دي موزې په پښو کوي مګر د کوم چا سره چي څپلۍ نه وي هغه دي موزې په پښو کړي مګر تر بجلکو پوري دي يې پرېکړي او نه دي يو داسي جامه اغوندي چي په هغه کي زعفران او ورس (يو ډول خوشبودار واښه) لګېدلي وي. بخاري او مسلم. او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي محرمه ښځه دي نقاب نه اچوي او نه دي دست کلې په لاس کوي.

(۲۵۶۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي ما د

| | |
|---|---|
| صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ وَهُوَ يَقُوْلُ اذَا لَمْ يَجِدْ اَلْمُحْرِمُ نَعْلَيْنِ لَبِسَ خُفَّيْنِ وَ اِذَا لَمْ يَجِدْ إِزَارًا لَبِسَ سَرَاوِيلَ . متفق عليه . | رسول الله ﷺ څخه په خطبه کي دا اوريدلي دي که چيري محرم څپلۍ تر لاسه نه کړي نو موزې دې په پښو کړي او که لونګ تر لاسه نه کړي نو پرتوګ دې واغوندي . بخاري او مسلم . |
| ﴿۲۵۶۱﴾: وَعَنْ يَعْلَى ابْنِ اُمَيَّةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعِرَّانَةِ اذْ جَاءَ رَجُلٌ اَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي أَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ وَهٰذِهِ عَلَيَّ فَقَالَ اَمَا الطِّيْبُ الَّذِيْ بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَاَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِيْ عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِيْ حَجِّكَ . متفق عليه | د حضرت يعلي بن اميه ؓ څخه روايت دئ چي په جعرانه نامي ځای کي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، يو صحرايي سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو چي قميص يې اغوستی وو او په خلوق (يو ډول خوشبويي) يې لړلی وو، هغه وويل : اې د الله رسوله ! ما د عمرې احرام په داسي حال کي تړلی دئ چي دا قميص زما پر بدن وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ستا پر بدن |

چي کومه خوشبويي لګېدلې ده هغه دری واره پرېوله او قميص د بدن څخه وکاږه بيا د عمرې په احرام کي هم داسي وکړه لکه څرنګه چي د حج په احرام کي کوې . بخاري او مسلم .

**د احرام په حالت کي د نکاح کولو مسئله**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۶۲﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكَحُ وَلَا يَخْطُبُ . رواه مسلم . | د حضرت عثمان ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : محرم دي نه نکاح کوي او نه دي په نکاح ورکول کيږي او نه د نکاح پيغام ولېږل سي . مسلم . |
| ﴿۲۵۶۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ . متفق عليه | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي د بي بي ميمونې سره نکاح وکړل . بخاري او مسلم . |
| ﴿۲۵۶۴﴾: وَعَنْ يَزِيْدَ ابْنِ الْاَصَمِّ ابْنِ اُخْتِ مَيْمُوْنَةَ عَنْ مَيْمُوْنَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ . رواه مسلم ، قال الشيخ الامام محي السنة رحمه الله والاكثرون | حضرت يزيد بن اصم ؓ يعني د بي بي ميمونې خورېی د بي بي ميمونې څخه روايت کوي چي هغې وويل : رسول الله ﷺ د هغې سره په داسي حال کي نکاح وکړل چي رسول الله ﷺ خلال وو (يعني د احرام په حالت کي نه وو .) مسلم . امام محي السنة وايي |

| | |
|---|---|
| على انه تزوجها حلالا و ظهر امر تزويجها وهو محرم ثم بنى بها وهو حلال بسرف في طريق مكة . | رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې سره په داسي حال كي نكاح وكړه چي په احرام كي نه وو مگر د نكاح خبر |

هغه وخت څرګند سو چي رسول الله ﷺ په احرام كي وو، بيا رسول الله ﷺ د هغې سره په داسي حال كي صحبت وكړ چي محرم نه وو، د صحبت ځاى سرف دئ چي د مكې مكرمې په لاره كي واقع دئ.

**په احرام كي سر پريولل**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٦٥﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ . متفق عليه . | د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به په احرام كي خپل سر مبارك پريولئ . بخاري او مسلم . |

**په احرام كي وينه كښل**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٦٦﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ . متفق عليه | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د احرام په حالت كي ښكر وهئ (يعني وينه به يې كښل) . بخاري او مسلم . |

**په سترګو كي دوا اچول**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٦٧﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ حَدَّثَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ إِذَا اشْتَكَى عَيْنَيْهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهُمَا بِالصَّبِرِ. رواه مسلم | د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د يو سري په اره وفرمايل: كه د احرام په حالت كي د هغه سترګي خوږ سي نو مصبر دي په ووهي . مسلم . |

**د احرام په حالت كي پر سر د سايه كولو مسئله**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٦٨﴾:وَعَنْ اُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ رَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ يَسْتُرُهُ مِنَ الْحَرِّ حَتّٰى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ . رواه مسلم | د حضرت ام حصين (رض) څخه روايت دئ چي ما اسامه او بلال وليدل چي په هغوئ كي يوه د رسول الله ﷺ د اوښې مهار نيولى وو (يعني بلال) او دويم (اسامه) د رسول الله ﷺ پر سر مبارك په |

جامې سره سايه كړې وه كله چي رسول الله ﷺ جمره عقبه په ډبرو ويشتل . مسلم.

**د سر خريلو جزا**

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٦٩﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ اَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ وَالْقَمْلُ | د حضرت كعب بن عجرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د هغه سره تير سو كوم وخت چي هغه په حديبيه كي وو او مكې ته نه وو داخل |

يَتَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ فَقَالَ أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ وَالْفَرَقُ ثَلَاثَةُ آصُعٍ أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ انْسُكْ نَسِيكَةً . متفق عليه

سوی او کعب هغه وخت د احرام په حالت کي وو او د کتوي لاندي يې اور بلوئ او سپږي به يې پر مخ رالوېدلې ، نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه ايا سپږي تکليف درکوي ؟ هغه وويل :هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خپل سر وخريه او يو فرق خوراك په شپږو مسکينانو وخوره (فرق درې صاع وي) او يا درې ورځي روژه ونيسه يا يو حيوان د حلالولو وړ حلال کړه . بخاري او مسلم .

## دويم فصل

### په احرام کي د ښځو لپاره منع شيان

(۲۵۷۰): عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى النِّسَاءَ فِي إِحْرَامِهِنَّ عَنِ الْقُفَّازَيْنِ وَالنِّقَابِ وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا أَحَبَّتْ مِنْ أَلْوَانِ الثِّيَابِ مُعَصْفَرٍ أَوْ خَزٍّ أَوْ حُلِيٍّ أَوْ سَرَاوِيلَ أَوْ قَمِيصٍ أَوْ خُفٍّ . رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عمر رض څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي ښځي يې د احرام په حالت کي ددې څخه منع کولې چي هغوئ داسي دست کلې ، نقاب او جامې نه واغوندي چي ورس يا زعفران پر لگېدلې وي او د احرام څخه د حلالېدو وروسته چي هغوئ څه غواړي اغوستلای سي ، يعني رنگينه جامو کي که رنگ سوې وي يا ريښم وي ، زيور وي ، پرتوگ وي ، قميص وي يا موزه وي . ابوداؤد .

### په احرام کي د ښځو لپاره پرده

(۲۵۷۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ . رواه ابوداؤد و لابن ماجة معناه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي موږ د رسول الله ﷺ سره د احرام په حالت کي وو او زموږ په خوا کي قافلې تيرېدلې کله چي به يوه قافله تيرېدل نو په موږ کي به چا خپل څادر پر سر اچوئ او موږ تولو به مخونه پټ کړل بيا چي به قافله تيره سوه نو موږ به مخونه لوڅ کړل . ابوداؤد او ابن ماجه .

### په احرام کي د خوشبويي لرونکي تيلو استعمال منع دی

(۲۵۷۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدَّهِنُ بِالزَّيْتِ وَهُوَ مُحْرِمٌ غَيْرَ

د حضرت ابن عمر رض څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د احرام په حالت کي د زيتون هغه تيل

الْمُقَتَّتِ يَعْنِيْ غَيْرَ الْمُطَيَّبِ. رواه الترمذي .

استعمالول په کوم کي چي به خوشبويي نه وه . ترمذي.

# دريم فصل

## دگندل سوو جامو اغوستل

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٧٣﴾: عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ وَجَدَ الْقُرَّ فَقَالَ اَلْقِ عَلَيَّ ثَوْبًا يَا نَافِعُ فَاَلْقَيْتُ عَلَيْهِ بُرْنُسًا فَقَالَ تُلْقِي عَلَيَّ هٰذَا وَقَدْ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَلْبَسَهُ الْمُحْرِمُ . رواه ابوداؤد . | د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دئ چي د ابن عمر ﷺ يخ وسو نو ما ته يې وويل اې نافع پر ما جامه واچوه، ما باراني جامه پر واچول هغه وويل : ايا تا پر ما باندي باراني تلتك واچوئ حال دا چي |

رسول الله ﷺ ددې د استعمال څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد .

## د رسول الله ﷺ وينه کښل

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٧٤﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَالِك بْنِ بُحَيْنَةَ قَالَ احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ من طريق مكة فِي وَسَطِ رَأْسِهِ متفق عليه | د حضرت عبدالله بن مالك بن بحينه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي پر سر مبارك په لحي جمل نامي ځای کي چي د مکې په لاره کي واقع دئ ښکر ولگوئ . بخاري او مسلم . |

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٧٥﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ احْتَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهِ.رواه ابوداؤد والنسائي . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د احرام په حالت کي د پښو پر شا د درد له کبله پر هغو ښکر ووهئ . ابوداؤد او نسائي . |

## د حضرت ميمونه (رض) سره د رسول الله ﷺ نکاح

| | |
|---|---|
| ﴿٢٥٧٦﴾: وَعَنْ اَبِيْ رَافِعٍ قَالَ تَزَوَّجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ حَلَالٌ و بنى بها وهو حلال وَكُنْتُ اَنَا الرَّسُوْلُ بَيْنَهُمَا . رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن . | د حضرت ابو رافع ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د بي بي ميمونې سره په داسي حالت کي نکاح وکړه چي رسول الله ﷺ په احرام کي نه وو ، او په هغه حالت کي يې خلوت ورسره وکړه، او |

زه (ابورافع) د رسول الله ﷺ او بي بي ميمونې په منځ کي پيغام رسونکی وم . احمد ، او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دئ .

# بَابُ الْمُحْرِمِ يَجْتَنِبُ الصَّيْدَ

## (د احرام په حالت کي د ښکار کولو منعه)

## لومړی فصل

### د احرام په حالت کي د ښکار څخه پرهيز

﴿۲۵۷۷﴾: عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالْأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَأَى مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ. متفق عليه

د حضرت صعب بن جثامه ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي په ابواء يا ودان نامي ځای کي يو ښکار سوی ځنګلی خر د تحفې په توګه وړاندي کړ، رسول الله ﷺ هغه رد کړ او کله چي د تحفه ورکونکي په مخ کي د ناخوښي نښې څرګندي سوې نو رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ څکه رد کړ چي موږ احرام تړلی دئ. بخاري او مسلم.

### د حنفيه مستدل حديث

﴿۲۵۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَخَلَّفَ مَعَ بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ فَرَأَوْا حِمَارًا وَحْشِيًّا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ فَلَمَّا رَأَوْهُ تَرَكُوهُ حَتَّى رَآهُ أَبُو قَتَادَةَ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَسَأَلَهُمْ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا فَتَنَاوَلَهُ فَحَمَلَ فَعَقَرَهُ ثُمَّ أَكَلَ فَأَكَلُوا فَنَدِمُوا فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ قَالَ هَلْ مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ قَالَ مَعَنَا رِجْلُهُ فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَهَا. متفق عليه و في رواية لهما فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهِ قَالُوا لَا قَالَ فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا.

د حضرت ابو قتادة ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د حديبيه په کال د رسول الله ﷺ سره ولاړئ او د خپلو ملګرو څخه شاته پاته سو، د هغه ملګرو احرام تړلی وو او هغه په احرام کي نه وو، د هغه ملګرو يو ځنګلی خر وليدئ او ابو قتاده نه وليدئ هغوئ هغه پرېښودئ تر څو چي ابو قتادة وليدئ هغه پر خپل آس سپور سو او د خپلو ملګرو څخه يې دوره و غوښتل هغوئ انکار ورته وکړ، ابو قتادة د آس څخه راکښته سو خپله يې دوره پورته کړل او بيا يې پر ځنګلي خره حمله وکړه هغه يې ښکار کړ او د ښکار غوښه ابوقتاده او د هغه ملګرو وخوړل، بيا هغوئ ته دا حس سول چي د محرم لپاره خو د ښکار غوښه صحيح نه ده، پښيمانه سول، ددې وروسته چي تول خلك رسول الله ﷺ ته راورسيدل نو دا مسئله

يې و پوښتل ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ايا په هغه غوښه کي ستاسو سره څه پاته ده ؟ موږ عرض ورکړ زموږ سره د هغه پښه سته ، رسول الله ﷺ هغه پښه واخيستل او وه يې خوړل، بخاري او مسلم ، اود بخاري او مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي کله دا خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا په تاسو کي چا ابو قتاده ته ويلي وه يا اشاره يې ورته کړې وه چي هغه پر ښکلي خره حمله وکړل ، هغوئ وويل : يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه غوښه چي پاته ده هغه وخورئ .

**دکومو حيوانانو وژل جائز دي**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۷۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسٌ لاَ جُنَاحَ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحَرَمِ وَالْاِحْرَامِ اَلْفَارَةُ وَالْغُرَابَ وَالْحِدَاَةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ . متفق عليه . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پنځه حيوانان دي چي په حرم او احرام کي يې وژل گناه نه ده : مږه (موږك)، کارگه، تپوس، لړم، داړونکی سپی . بخاري او مسلم . |

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۸۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمْسٌ فَوَاسِقُ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ اَلْحَيَّةُ وَالْغُرَابُ الْاَبْقَعُ وَالْفَارَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ وَالْحُدَيَّا . متفق عليه . | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پنځه ضرورناك حيوانان داسي دي چي هغه دي حل او حرم کي هم ووژل سي : مار، برگ کارگه، مږه (موږك)، داړونکی سپی او تپوس ، بخاري او مسلم. |

## دويم فصل

**د امام مالک او امام شافعي مستدل حديث**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۸۱﴾: عَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَحْمُ الصَّيْدِ لَكُمْ فِي الْاِحْرَامِ حَلَالٌ مَّا لَمْ تَصِيْدُوْهُ اَوْ يُصَادَ لَكُمْ . رواه ابو داود والترمذي والنسائي. | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ښکار غوښه د احرام په حالت کي پر تاسو حلاله ده تر څو پوري چي تاسو خپله ښکار ونه کړي يا ستا لپاره ښکار ونه کړل سي . ابوداؤد، ترمذي او نسائي. |

**د ملخ د ښکار مسئله**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۵۸۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجَرَادُ مِنَ صَيْدِ الْبَحْرِ . رواه ابو داود والترمذي | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ملخ د درياب د ښکار په ډول دئ. ابوداؤد او ترمذي . |

**حمله کونکی حیوان وژل**

| | |
|---|---|
| (۲۵۸۳): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ السَّبُعَ الْعَادِيَ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه | د حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: محرم دي حمله کونکی حیوان وژني. ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجة. |

**د کوړ د ښکار مسئله**

| | |
|---|---|
| (۲۵۸۴): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عَمَّارٍ قَالَ سَاَلْتُ جَابِرَبن عبدالله عَنِ الضَّبُعِ أَصَيْدٌ هِيَ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ اَيُوكَلُ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ سَمِعْتَهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ . رواه الترمذي و النسائي والشافعي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح . | د حضرت عبدالرحمن بن ابو عمار ﷺ څخه روایت دئ چي ما د جابر بن عبدالله ﷺ څخه د کوړ په اړه پوښتنه وکړه چي ایا دا ښکار دئ ؟ هغه راته وویل: هو، ما بیا پوښتنه وکړه ایا دهغه غوښه خوړل کیږي که یا ؟ هغه وویل :هو، ما ورته ویل ایا تا د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي |

دي ؟ هغه وویل: هو. ترمذي، نسائي او شافعي، امام ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ.

| | |
|---|---|
| (۲۵۸۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الضَّبُعِ قَالَ هُوَ صَيْدٌ وَّيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشٌ إِذَا صَادَهُ الْمُحْرِمُ . رواه ابوداؤد وابن ماجة والدارمي . | د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د کوړ په اړه پوښتنه وکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا ښکار دئ که محرم ددې ښکار وکړي نو د هغه په بدله کي به پسه ورکوي. ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي. |

**د کوړ غوښه حلاله نه ده**

| | |
|---|---|
| (۲۵۸۶): وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ جَزِيٍّ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ الضَّبُعِ قَالَ اَوَ يَاْكُلُ الضَّبُعَ اَحَدٌ وَسَاَلْتُهُ عَنْ اَكْلِ الذِّئْبِ قَالَ اَوَيَاْكُلُ الذِّئْبَ اَحَدٌ فِيهِ خَيْرٌ . رواه الترمذي و قال ليس اسناده بالقوي . | د حضرت خزیمة بن جزي ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه د کوړ د غوښو په اړه پوښتنه وکړه چي دا خوړل پکار دي که یا ، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا څوك ددې غوښه خوري، بیا ما د شرمښ د غوښو خوړلو په اړه پوښتنه وکړه ، |

نو رسول الله ﷺ راته وفرمایل ایا یو سړی چي په هغه کي نیکي وي د شرمښ غوښه خوري ؟ ، ترمذي ویلي دي ددې حدیث اسناد قوي نه دي.

## دريم فصل

**محرم ته د ښکار غوښه خوړل جائز دي**

(۲۵۸۷): عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَنَحْنُ حُرُمٌ فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَفَّقَ مَنْ أَكَلَهُ وَقَالَ أَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالرحمن بن عثمان بن التيمي ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د طلحة بن عبيدالله سره وو او احرام مو تړلی وو هغه ته د مرغه غوښه د تحفې په توګه راوړل سول ، طلحه هغه وخت بيده وو په موږ کي ځينو وخوړل او ځينو نه وخوړل کله چي ابو طلحه راويښ سو نو هغه هغو خلکو سره موافقت وکړ چا چي غوښه خوړلې وه او وه يې ويل موږ هم د رسول الله ﷺ سره د احرام په حالت کي داسي غوښه خوړلې وه . مسلم .

# بَابُ الْاِحْصَارِ وَفَوْتِ الْحَجِّ (د حج د بنديدو او فوت کيدو بيان)

## لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ د احصار بيان**

(۲۵۸۸): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدْ أُحْصِرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَلَقَ رَأْسَهُ وَجَامَعَ نِسَاءَهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ حَتّٰى اعْتَمَرَ عَامًا قَابِلًا . رواه البخاري

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې څخه منع کړل سو (يعني مشرکانو مکې ته نه پرېښودئ) نو رسول الله ﷺ سر مبارك وخرايه او د خپلو بيبيانو سره يې خلوت وکړ د خپل قرباني حيوان يې حلال کړ او راتلونکی کال يې عمره وکړه . بخاري .

**د محصر لپاره د حلق يا تقصير مسئله**

(۲۵۸۹): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُونَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَايَاهُ فَحَلَقَ وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ . رواه البخاري .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي موږ د عمرې لپاره د رسول الله ﷺ سره ولاړو ، د قريشو کفارو کعبې ته د رسيدو څخه مخکي منع کړه نو رسول الله ﷺ د خپلي قرباني حيوان حلال کړ او سر مبارك يې وخرايه او صحابه کرامو هم وربښتان غچي کړل . بخاري .

(۲۵۹۰): وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَحْلِقَ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذٰلِكَ . رواه البخاري .

د حضرت مسور بن مخرمة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د سر خريلو څخه وړاندي قرباني وکړه او صحابه کرامو ته يې حکم ورکړ چي هغوئ هم د سر خريلو څخه وړاندي قرباني وکړي . بخاري .

**د احصار او حج فوت کېدو مسئله**

(۲۵۹۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى يَحُجَّ عَامًا قَابِلًا فَيُهْدِي أَوْ يَصُومُ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا . رواه البخاري .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي هغه وويل : ايا ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ وينا بس نه ده که په تاسو کي څوك د حج څخه منع کړل سي نو هغه دي د بيت الله طواف، د صفا او مروه سعي کولو سره د هر شي څخه حلال سي او راتلونکی کال دي حج وکړي او حيوان دي قرباني کړي او که د قربانی حيوان تر لاسه نه کړي نو روژه دي ونيسي . بخاري.

(۲۵۹۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ لَهَا لَعَلَّكِ أَرَدْتِ الْحَجَّ قَالَتْ وَاللّٰهِ مَا أَجِدُنِي إِلَّا وَجِعَةً فَقَالَ لَهَا حُجِّي وَاشْتَرِطِي وَقُولِي اللّٰهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د زبير لور بي بي ضباعه په لور تشريف يووړ او د هغې څخه يې پوښتنه وکړه کيدای سي ته د حج اراده لرې هغې وويل هو، مگر په الله مي دي قسم وي زه ځان ناروغ وينم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته د حج احرام وتړه او شرط وکړه او دا ووايه چي اې زما الله ! زما د احرام څخه د حلال کېدو ځای هغه دئ چي هلته زه د ناروغۍ له کبله منع کړل سوی يم . بخاري او مسلم

## دويم فصل

**د محصر د هدی حيوان په حرم کي حلالول پکار دي**

(۲۵۹۳): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُبَدِّلُوا الْهَدْيَ الَّذِي نَحَرُوا عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ. رواه ابوداؤد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ خپل اصحابو ته حکم ورکړ د هغه حيوانانو په اړه چي د حديبيه په کال (د منع کېدو له کبله) تاسو حلال کړي وه چي د قضاء په عمرې کي نور حيوانان حلال کړئ . ابوداؤد .

**د ناروغۍ څخه احصار واقع کیږي**

(۲۵۹۴): وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو الْاَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كُسِرَ اَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي و زاد ابوداؤد في رواية اخرى او مرض و قال الترمذي هذا حديث حسن و في المصابيح ضعيف .

د حضرت حجاج بن عمرو انصاري ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د کوم سړي چي پښه ماته سي یا ګوډ سي نو هغه د احرام څخه حلال سو او پر هغه راتلونکی کال حج واجب دئ. ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي او د ابوداؤد په یو بل روایت کي دا الفاظ دي که ناروغ سي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن دئ په مصابیح کي ضعیف دئ.

**د حج رکن عظیم**

(۲۵۹۵): وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ يَعْمُرَ الدِّيْلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْحَجُّ عَرَفَةُ مَنْ اَدْرَكَ عَرَفَةَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ فَقَدْ اَدْرَكَ الْحَجَّ اَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدرامي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت عبدالرحمن بن یعمر دیلي ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي حج عرفه ده یعني د حج تر ټولو لوی رکن په نهمه نېټه پر عرفات قیام کول دي چا چي عرفات تر لاسه کړ (یعني د عرفات میدان ته ورسیدئ) نو د مزدلفې په شپه د سهار ځلانده کېدو څخه وړاندي هغه حج تر لاسه کړ او په منا کي درې ورځې دي (یعني یوولسم، دوولسم، او دیارلسم) څوك چي تلوار وکړي او دوې ورځي وروسته ولاړ سي پر هغه څه ګناه نسته او څوك چي تر درو ورځو زیات قیام وکړي پر هغه هم څه ګناه نسته. ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ.

# بَابُ حَرَمِ مَكَّةَ حَرَّسَهَا اللّٰهُ تعالی (د مکې د حرم حرمت الله ﷻ دي یې وساتي)

## لومړی فصل

**د حرم مکه فضیلت**

(۲۵۹۶): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ لَا هِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَاِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوْا وَقَالَ يَوْمَ فَتْحِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ وفرمایل: اوس هجرت نسته مګر جهاد او نیت فرض دئ او هر

مَكَّةَ إِنَّ هَذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللّٰهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللّٰهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَمْ يَحِلَّ لِي إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللّٰهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ شَوْكُهُ وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهُ وَلَا يَلْتَقِطُ لُقَطَتَهُ إِلَّا مَنْ عَرَّفَهَا وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهُ فَقَالَ الْعَبَّاسُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَإِنَّهُ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوتِهِمْ فَقَالَ إِلَّا الْإِذْخِرَ . متفق عليه و في رواية ابي هريرة لا يعضد شجرها ولا يلتقط ساقطتها الا منشد .

كله چي تاسو د جهاد لپاره و بلل سئ نو د جهاد لپاره راووځئ ، د مكې د فتح په ورځ رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل : دا ښار (مكه) حرام كړې ده الله په هغه ورځ په كومه ورځ چي آسمانونه او مځكه پيدا كړل دا الله ﷻ د حرمت په سبب تر قيامته پوري حرامه گرځولې ده او زما څخه وړاندي قتال د هيچا لپاره حلال سوى نه دئ او نه زما لپاره حلال سوى دئ مگر د ورځي يوازي د يو ساعت لپاره اوس هغه د الله د حرمت په سبب تر قيامته پوري حرامه سوې ده ددې ازغني درختي دي نه وهل كيږي او په حرم كي دي ښكار نه كيږي او هيڅ يو لويدلى شى دي نه پورته كيږي مگر كه څوك چي يې پورته كړي د هغه خاوند ته دي يې د هغه حقيقت او شناخت بيان كړي او ددې (ښار) واښه دي نه ريبل كيږي ، حضرت ابن عباس ﷺ وويل اې دالله رسوله ! مگر اذخر (يو ډول واښه) خو يو داسي شى دئ چي د پښ د ويلي كولو په كار راځي او په كورو كي ددې ضرورت دئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل مگر اذخر دي و ريبل سي . بخاري او مسلم . او د ابوهريرة په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي ددې درختي دي نه وهل كيږي او نه دي يو پروت شى پورته كړل سي مگر لټونكى يې پورته كولاى سي .

**په مكه كي بېله ضرورت وسله پورته كول صحيح نه دي**

(۲۵۹۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي ما د نبي كريم ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي په تاسو كي هيچا ته په مكه كي (د جگړې لپاره) وسله پورته كول جائز نه دي . مسلم .

**په مكه كي د قصاص او حد جاري كېدو مسئله**

(۲۵۹۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ وَقَالَ إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلْهُ . متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د مكې د فتح په ورځ په داسي حال كي مكې ته داخل سو چي د رسول الله ﷺ پر سر مبارك خول (جنگي ټوپى) وه كله چي رسول الله ﷺ هغه د سر څخه كښته كړه نو يو سړى حاضر سو او

عرض يې وکړ ، ابن خطل د کعبې پرده نیولې ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه ووژنئ ، (ابن خطل مرتد سوی وو هغه يو مسلمان شهيد کړی وو ، ددې څخه څرګنديږي چې په حرم کې حد جاري کول جائز دي) . بخاري او مسلم .

**بېله احرامه مکې ته ننوتل!**

| | |
|---|---|
| (۲۵۹۹): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ . رواه مسلم . | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ په داسي حال کې مکې ته داخل سو چې د رسول الله ﷺ پر سر مبارك توره لنګوټه تړلې وه او احرام يې نه وو تړلی . مسلم . |

**د کعبې شريفې د تخريب پيشګويي**

| | |
|---|---|
| (۲۶۰۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو جَيْشٌ الْكَعْبَةَ فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ وَفِيهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ قَالَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ ثُمَّ يُبْعَثُونَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ . متفق عليه . | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (په آخره زمانه کې) به يو لښکر پر کعبې د حملې کولو او د هغې د خرابولو اراده وکړي هغه به يو ميداني ځمکې ته ورسيږي نو د اول څخه تر پايه پوري به په ځمکه کې ښخ کړل سي ، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! هغوئ به د اول څخه تر پايه پوري ولې په |

ځمکه کې ښخ کړل سي ؟ په هغوئ کې خو به بازاريان (يعني سودا خرڅونکي وغيره) هم وي ، او هغه خلك هم چې د هغوئ څخه نه دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو ، هغه ټول به په ځمکه کې ښخ کړل سي بيا به د خپلو نيتو سره سم راپورته کړل سي . بخاري او مسلم .

**د مخرب کعبه په باره کې يو پيشګوئي**

| | |
|---|---|
| (۲۶۰۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ . متفق عليه . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کعبه به په حبشيانو کې هغه سړی خرابه کړي چې د هغه پنډۍ به کوچنۍ او نرۍ نرۍ وي . بخاري او مسلم . ۱ |

| | |
|---|---|
| (۲۶۰۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا . رواه البخاري . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : لکه زه چې وينم چې کعبه خرابونکی به يو سړی وي چې رنګ به يې |

تور وي او پنجې به يې په خپلو كي جنګيدلي وي او پوندي او پندۍ به يې ليري ليري وي هغه به د كعبې يوه يوه ډېره د بيخه وكاږي . بخاري.

## دويم فصل

### په حرم كي غله ساتل

(۲۶۰۳): عَنْ يَعْلِيْ بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ احْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيهِ . رواه ابوداؤد .

د حضرت يعلي بن اميه ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په حرم كي غله (خوراكي توكي) بند ساتل الحاد (يعني حق پريښودل پر غلطه لاره تګ) دئ . ابوداؤد .

### د مكې مكرمې فضيلت

(۲۶۰۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ . رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب أسنادا .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مكې ته ، كوم وخت چي د مكې د فتح څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه ځاى څخه ستون سو نو وه يې فرمايل: څه ښه ښار دئ او څومره پر ما ګران دئ كه زما قوم زه دې ښار څخه نه واى ايستلى نو زه به د مكې څخه پرته بل يو ځاى نه اوسيدم . ترمذي، دا حديث حسن صحيح دئ د اسناد په اعتبار غريب دئ.

(۲۶۰۵): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَدِيٍّ بْنِ حَمْرَاءَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ فَقَالَ وَاللّٰهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللّٰهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ اللّٰهِ إِلَى اللّٰهِ وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ . رواه الترمذي و ابن ماجة .

د حضرت عبدالله بن عدي بن حمراء ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه چي په حروة نامي ځاى كي ولاړوو واوريدل: په الله دي مي قسم وي (اې د مكې مځكې) تـه د الله په مځكو كي غوره مځكه يې او د الله په مځكو كي تـه د الله په نزد تر ټولو زياته محبوبه يې كه زه ستا څخه نه واى ايستل سوى نو هيڅكله به نه واى وتلى . ترمذي او ابن ماجه.

## دريم فصل

(۲۶۰۶): عَنْ أَبِيْ شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو

د حضرت ابو شريح العدوي ﷺ څخه روايت دئ

بْنِ سَعِيدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ حَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللّٰهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ فَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا دَمًا وَلَا يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا فَقُولُوا إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَذِنَ لِرَسُولِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ ثُمَّ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَقِيلَ لِأَبِي شُرَيْحٍ مَا قَالَ لكَ عَمْرٌو قال قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بذالك مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ لَا يُعِيذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ .

متفق عليه ، و في البخاري الخربة الجناية .

چي کله عمروبن سعید ﷺ د مکې په لور لښکر ولیږئ نو ما هغه ته وویل : اي امیره ! ما ته اجازه راکړه چي زه ستا په وړاندي هغـه خبره بیان کړم کومـه چـي رسـول الله ﷺ د مکـې د فـتح څخـه وروسته په دویمه خطبه کي فرمایلې وه ، هغـه خبره زما غوږو واوریدل، او زما زړه یاد کړه او مـا رسـول الله ﷺ په خپلو سترګو سره لیدلی وو کلـه چـي هغـه دا خبـره فرمـایلې وه ، تـر تولـو وړاندي رسول الله ﷺ د الله حمد او ثناء بیان کړه بیا یې وفرمایل : مکې تـه الله تعالی عظمت بخښلی دئ او خلکو بزرګي نه ده ورکړې د هغه چا لپاره چي پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري جائز نـه ده چي پـه دې کي جګړه وکړي او نـه دا جائز ده چي ددې څخه درختي ووهي بیا که څوك دا ووايي چي رسول الله ﷺ په دې کي جګړه کړې ده نو ددې په جواب کي دي دا وویل سي چي الله تعالی خپل رسول ﷺ ته ددې اجازه ورکړې وه او تاسو ته یې اجازه نـه ده درکړې ، رسـول الله ﷺ فرمایلي دي ما ته په مکه کي د جګړې لپاره یوازي یو ساعت اجازه راکړل سوه او اوس د هغې عظمت او حرمت د معمول سره سم پر خپل ځای دئ یعني نن ددې هغـه عظمت او حرمت دئ کوم چي پرون وو او پکار دي چي کوم خلك دلته شتون لري هغه خلکو تـه (دا خبره) ورسوي کوم چي دلته شتون نه لري ؛ د ابو شریح څخه پوښتنه وسول چي ددې په جواب کي عمرو تا تـه څه وویـل ؟ ابو شریح بیان وکړ چي عمرو ﷺ ما ته وویل : اې ابو شریح دا حدیث ستا څخه زیات ما تـه څرګند دئ چي د حرم مځکه نافرمان ته پناه نه ورکوي او نه خوني تېښته کونکي ته پناه ورکوي او نه هغه چا ته د یو جرم له کبله تښتېدلی وي . بخاري او مسلم ، په بخاري کي د خرمه معنا د جنایت ده .

(۲۶۰۷): وَعَنْ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ الْمَخْزُومِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ هَذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوا هَذِهِ الْحُرْمَةَ حَقَّ تَعْظِيمِهَا فَإِذَا

د حضـرت عیاش بـن ابـي ربیعـة مخزومـي ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دا امت به همیشه په خیر کي وي تر څو پوري چي

ضَيَّعُوا ذٰلِكَ هَلَكُوا . رواه ابن ماجة .

د مکې عظمت کوي او ددې حرمت په پوره توګه سره کوي او هر کله چې ددې حرمت ضائع کوي نو هلاك به سي . ابن ماجه .

## بَابُ حَرَمِ الْمَدِيْنَةِ حَرَسَهَا الله تعالى (د مدینې حرم ، الله دې يې ساتونکی سي)

## لومړی فصل

### د مدينې منورې د حرم حدود

(٢٦٠٨): عَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كَتَبْنَا عَنْ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْقُرْآنَ وَمَا فِي هَذه الصَّحِيفَة قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰه وَالْمَلَائِكَة وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰه وَالْمَلَائِكَة وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيه فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰه وَالْمَلَائِكَة وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ . متفق عليه وَ فِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا مَنِ ادَّعٰى اِلي غَيْرِ اَبِيْه اَوْ تَوَلّٰى غَيْرَ مَوَالِيْه فَعَلَيْه لَعْنَةُ اللّٰه وَالْمَلَائِكَة وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ څخه هیڅ شی نه دئ لیکلی مګر قرآن او هغه شی چې په دې صحیفه کې دي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : مدینه حرم دئ د عیر څخه تر ثور پورې (دا دوو غرونو نومونه دي) څوك چې په مدینه کې یوه نوې خبره پیدا کړي یا نوې خبره پیداکونکي ته پناه ورکړي پر هغه دې د الله ، د الله د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي د هغه فرض او نفل نه قبلیږي، د ټولو مسلمانانو عهد یو دئ هغه ادنا سړی هم کولای سي نو د هغه پوره کول پر ټولو مسلمانانو فرض دي، نو څوك چې د یو مسلمان عهد مات کړي پر هغه د الله، د الله د ملائکو او د ټولو مسلمانانو لعنت دئ نه به څیني څه فرض قبول سي او نه یو بل بدل، او چا چې موالات (دوستي) وکړه له یو قوم سره بې له اجازې د بادارانو خپلو نو پر ده لعنت د خدای ﷻ دی او د ملائکو او د خلکو ټولو قبول به نسي له ده څخه فرض او نه نفل . بخاري او مسلم .د بخاري او مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ چې څوك خپل پلار څخه پرته د بل چا په لور ځان منسوب کړي یا د خپل مالك څخه پرته نورو مالکانو ته ځان منسوب کړي نو پر هغه دې د الله ، د الله د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت وي د هغه فرض او نفل نه قبلیږي .

### په مدينه كي اوسيدل د دنيا او اخرت نيكي ده

(۲۶۰۹): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْ الْمَدِينَةِ أَنْ يُقْطَعَ عِضَاهُهَا أَوْ يُقْتَلَ صَيْدُهَا وَقَالَ الْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ لَا يَدَعُهَا أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَبْدَلَ اللَّهُ فِيهَا مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ وَلَا يَثْبُتُ أَحَدٌ عَلَى لَأْوَائِهَا وَجَهْدِهَا إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْ شَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم .

د حضرت سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د مدينې د دوو غرونو منځ حرام گرځوم ددې ازغني درختي دي نه وهل كيږي يا چي قتلول سي ښكار ددې . بيا يې وفرمايل: مدينه د هغه خلكو لپاره غوره ده كوم چي په دې كي اوسيږي كه هغوئ په دې پوهيږي هيڅوك به دا په بې خوښي سره نه پريږدي كه څوك داسي وكړي نو الله ﷺ به د هغه څخه غوره سړی د لته راولي، او څوك چي په مدينه كي په سختئ او لوږه او ستونزو باندي ثابت قدم پاته سي نو زه به د قيامت په ورځ د هغه شفاعت كوم يا د هغه د اطاعت شاهدي به كوم . مسلم .

### په مدينه كي د تكليف او مصيبت پر وخت د صبر كولو اجر

(۲۶۱۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْ شَهِيدًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت كي چي څوك د مدينې پر سختئ او لوږه باندي صبر وكړي نو زه به د قيامت په ورځ د هغه شفاعت كوم . مسلم .

### د مدينې لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

(۲۶۱۱): وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ ثُمَّ قَالَ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ لَهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي د خلكو دا عادت وو چي هغوئ به نوې ميوه وليدل نو د رسول الله ﷺ په خدمت كي به يې وړاندي كول ، رسول الله ﷺ به هغه په خپل مبارك لاس كي واخيستل او فرمايل به يې اې الله! زموږ په ميوو كي زموږ لپاره بركت واچوې، زموږ په كورو كي زموږ، زموږ په پيمانه كي او زموږ په مد (پيمانه) كي ، اې الله! ابراهيم عليه السلام ستا بنده ، ستا خاص دوست او ستا نبي وو او زه هم دا ستا بنده او ستا نبي يم ، ابراهيم عليه السلام د مكې

لپاره دعاء کړې وه او زه ستا څخه هماغه دعاء لکه ابراهیم علیه السلام چي کړې وه د مدینې لپاره کوم ، او د هغه په ډول یو بله دعاء کوم ، ابوهریرة وایي ددې وروسته به نبي کریم ﷺ د خپل کورنۍ کوچنیان راوغوښتل او هغه میوه به یې هغوئ ته ورکړل. مسلم .

**د مدینې منورې د حرمت ذکر**

(۲۶۱۲): وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَمًا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا يُهْرَاقَ فِيهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلَ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطَ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلْفٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعید ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حضرت ابراهیم علیه السلام په عظمت ورکولو سره مکه حرم جوړ کړ او زه مدینې ته عظمت ورکوم او دا حرم جوړوم ددې دواړو خواوو تـه دي نه جګړه کیږي او نه دي د جګړې لپاره وسله پورته کیږي او نه دي ددې د درختو پاڼي څنډل کیږي مګر نه د حیوانانو د خوراك لپاره . مسلم .

**د سعد بن وقاص ؓ یو واقعه**

(۲۶۱۳): وَعَنْ عَامِرِبْنِ سَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ فَوَجَدَ عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ فَقَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ . رواه مسلم .

د حضرت عامر بن سعد ؓ څخه روایت دئ چي سعد ؓ د خپلي ماڼۍ عقیق په لور سپور سو (په لاره کي) یو غلام یې ولیدئ چي درخته یې وهل یا پاڼي یې څنډلې ، هغه جامې څیني واخیستې بیا چي کله راوګرځیدئ سعد نو د غلام مالك حاضر سو او وه یې ویل کوم شی چي د غلام څخه اخیستل سوی دئ هغه دي غلام ته بیرته ورکړل سي ، سعد وویل : پناه په الله ده چي زه به هغه شی بیرته ورکوم کوم چي رسول الله ﷺ راکړی دئ او د جامو بیرته ورکولو څخه یې انکار وکړ . مسلم

**د مدینې منورې د اوبو او هواء لپاره د رسول الله ﷺ دعاء**

(۲۶۱۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلَالٌ فَجِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ وَ صَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّهَا وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي کله رسول الله ﷺ مدینې منورې تـه تشریف راوړ نو ابوبکر او بلال (رض) تـه تبه راغلل ، زه د رسول الله ﷺ پـه خدمت کي حاضـره سوم او د هغوئ د ناروغۍ خبر مي ورکړ ، رسول الله ﷺ وفرمایل : اي الله ! ته مدینه زموږ دوسته جوړه کړې لکه

څرنګه چي مکه دي زموږ دوسته جوړه کړې وه، بلکه تر هغه يې زياته راخوښه کړې او ته د مدينې آب وهواء سمه کړې او زموږ لپاره د مدينې په صاع او مد (د پيمانو نومان دي) کي برکت واچوې او ددوئ تبه ليري کړې او دا ناروغي جحفې ته وليږې (په جحفه کي يهوديان اوسيدل). بخاري او مسلم.

### د رسول الله ﷺ يو خوب او د هغه تعبير

﴿۲۶۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَدِينَةِ رَأَيْتُ امْرَأَةً سَوْدَاءَ ثَائِرَةَ الرَّأْسِ خَرَجَتْ مِنَ الْمَدِينَةِ حَتَّى نَزَلَتْ بِمَهْيَعَةَ فَتَأَوَّلْتُهَا أَنَّ وَبَاءَ الْمَدِينَةِ نُقِلَ إِلَى مَهْيَعَةَ وَهِيَ الْجُحْفَةُ . رواه البخاري.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ د خوب ليدو روايت کوي چي رسول الله ﷺ د مدينې په اړه ليدلی وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ما يوه توره ښځه وليدل چي د هغې ورېښتان پريشانه (ببر) وه هغه د مدينې څخه ووتل او حجفې ته ولاړل بيا يې وفرمايل : ما ددې دا تعبير وکړ چي د مدينې و با به جحفې ته نقل سي . بخاري .

### د مدينې منورې د ځينو خلکو په اړه د رسول الله ﷺ يو پيشګويي

﴿۲۶۱۶﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ وَتُفْتَحُ الشَّامُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ وَتُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ . متفق عليه .

د حضرت سفيان بن ابي زهير ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي يمن به فتح سي او د مدينې څخه به يو ډله روانه سي چي د خپل کورنۍ او پيروانو سره به کوچ وکړي او که هغوئ پوهيدای نو مدينه ورته غوره وه او شام به فتح سي يوه ډله به د خپل کورنۍ او پيروانو سره روان سي او که هغوئ پوهيدای نو مدينه به ورته غوره وای او عراق به فتح سي نو يو ډله به د خپل کورنۍ او پيروانو سره کوچ وکړي حال دا چي مدينه به ورته غوره وي که هغوئ پوهيدای . بخاري او مسلم .

### مدينه منوره بد خلک باسي

﴿۲۶۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ الْقُرَى يَقُولُونَ يَثْرِبُ وَهِيَ الْمَدِينَةُ تَنْفِي النَّاسَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ . متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته د يو داسي آبادۍ په لور د هجرت حکم راکړل سوی دئ چي پر ټولو ښارو غالبه ده (يعني ددې ښار اوسيدونکي به پر ټولو ښارو غالب وي) خلك دي آبادۍ ته يثرب وايي او دا مدينه ده چي خراب خلك داسي ليري

کوي لکه څرنګه چي بټۍ د اوسپني څخه خیري لیري کوي . بخاري او مسلم .

**د الله ﷺ له طرفه د مدینې نوم**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۶۱۸﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى سَمَّى الْمَدِينَةَ طَابَةَ . رواه مسلم . | د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي الله تعالی د مدینې نوم طابه (پاکه) ایښی دئ . مسلم . |

**د مدینې منورې خصوصیت**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۶۱۹﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَصَابَ الْأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِينَةِ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طِيبُهَا . متفق علیه . | د حضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روایت دئ چي یو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت کي د اوسیدو له کبله د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړ هغه ته سخته تبه راغلل ، نو هغه نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ اي محمد ! ﷺ زما بیعت بیرته راکړئ ، رسول الله ﷺ انکار وکړ هغه بیا راغلئ او عرض یې وکړ زما بیعت بیرته راکړئ ، رسول الله ﷺ بیا هم انکار وکړ ، هغه بیا حاضر سو او وه یې ویل زما بیعت بیرته راکړئ ، رسول الله ﷺ |

انکار وکړ ، بیا هغه صحرائي پرته د اجازې د مدینې څخه ولاړئ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : مدینه د بټۍ په ډول ده خپل خیري لیري کوي او خپله خوشبویي ښه خالص کوي (یعني پاك خلك پریږدي) . بخاري او مسلم .

| | |
|---|---|
| ﴿۲۶۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَنْفِيَ الْمَدِينَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ . رواه مسلم | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قیامت به تر هغه وخته پوري نه قائمیږي تر څو پوري چي |

مدینه خپل شریر خلك داسي ونه کاږي لکه څرنګه چي بټۍ د اوسپني څخه خیري (او زنګ) لیري کوي . مسلم .

**په مدینه کي طاعون او دجال نه سي داخلیدای**

| | |
|---|---|
| ﴿۲۶۲۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د مدینې پر لارو یا دروازو ملائکي ټاکل سوي دي په دې کي نه طاعون |

الطَّاعُونُ وَلَا الدَّجَّالُ . متفق عليه .

داخليدلای سي نه دجال . بخاري او مسلم .

(٢٦٢٢): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا فَيَنْزِلُ بِالسَّبْخَةِ فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ . متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو ښار داسي نسته چي هغه به دجال برباد نه کړي مگر مدينه او مکه ، ددې په لارو يا دروازو به صف تړلي ملائکي وي چي د ساتونکو فرض به سرته رسوي ، د جال به د مديني پر يوه ښيرنه مځکه کښته سي او مدينه به سره د خپلو اوسيدونکو درې واره و ښوري او هر هغه څوك به د مديني څخه ووځي كوم چي كافر او منافق وي او د جال ته به ولاړ سي . بخاري او مسلم .

**د اهل مدينه سره د مکر او چم کونکو سزا**

(٢٦٢٣): وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَكِيدُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَحَدٌ إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ . متفق عليه .

د حضرت سعد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د مديني د اوسيدونكو سره چم او مكر كوي هغه به داسي ويلي سي لكه څرنگه چي مالگه په اوبو كي ويلي كيږي . بخاري او مسلم .

**د مديني سره د رسول الله ﷺ محبت**

(٢٦٢٤): وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَنَظَرَ إِلَى جُدُرَاتِ الْمَدِينَةِ أَوْضَعَ رَاحِلَتَهُ وَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ حَرَّكَهَا مِنْ حُبِّهَا . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كله به رسول الله ﷺ د سفر څخه ستون سو او د مديني پر ديوالو به يې نظر و لگېدئ نو خپل اوښ به يې څغلوئ او كه پر آس ،غاتره يا بل شي به سپور وو نو هغه ته به يې په تلوار سره حركت وركوي او دا له دې كبله چي د رسول الله ﷺ د مديني سره مينه وه . بخاري .

**د أحد د غره فضيلت**

(٢٦٢٥): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ فَقَالَ هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ اللّٰهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا. متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي كله د أحد غر د رسول الله ﷺ مخته راغلئ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا غر زموږ سره مينه لري او موږ هم دده سره مينه لرو ، اې الله ! ابراهيم عليه السلام مكه حرم جوړه كړه او زه د مديني دواړه طرفه حرم جوړوم . بخاري او مسلم .

(۲۶۲۶): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ . رواه البخاري.

د حضرت سهل بن سعد ﷜ څخه روایت دی چي رسـول الله ﷺ وفرمایـل: د أحـد غـر زمـوږ سره محبت لري او موږ دده سره محبت لرو. بخاري.

## دویم فصل

### د مدیني د حرم مسئله

(۲۶۲۷): عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ رَأَيْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ أَخَذَ رَجُلًا يَصِيدُ فِي حَرَمِ الْمَدِينَةِ الَّذِي حَرَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَبَهُ ثِيَابَهُ فَجَاءَ مَوَالِيهِ فَكَلَّمُوهُ فِيهِ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّمَ هٰذَا الْحَرَمَ وَقَالَ مَنْ أَخَذَ أَحَدًا يَصِيدُ فِيهِ فَلْيَسْلُبْهُ فَلَا أَرُدُّ عَلَيْكُمْ طُعْمَةً أَطْعَمَنِيهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهُ . رواه ابوداؤد

د حضرت سلیمان بن ابو عبد الله ﷜ څخه روایت دئ چي ما سعد بن ابي وقاص ﷜ ولیدئ چي هغه یو سړي په مدینه کي په ښکار کولو نیولی وو، او د هغه جامې یې راکښته کړي وې بیا د هغه سړي مالك سعد ﷜ ته راغلل او د هغه سړي یا د هغه د جامو په اړه یې د سعد سره خبري وکړې، سعد ورته وویل: رسول الله ﷺ دا ځای حرم گرځولی دئ او فرمایلي یې دي څوك چي په دي حرم کي په ښکار کولو ونیول سي هغه دي د هغه ښکاري څخه جامې واخلي نو کوم شی چي رسول الله ﷺ ما ته راکړی دئ زه یې هیڅکله بیرته نه ورکوم مگر که ته غواړې نو زه به ددې بیه درکړم. ابوداؤد.

(۲۶۲۸): وَعَنْ صَالِحٍ مَوْلًى لِسَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا وَجَدَ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الْمَدِينَةِ يَقْطَعُونَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ وَقَالَ يَعْنِي لِمَوَالِيهِمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى أَنْ يُقْطَعَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ شَيْءٌ وَقَالَ مَنْ قَطَعَ مِنْهُ شَيْئًا فَلِمَنْ أَخَذَهُ سَلَبُهُ . رواه ابوداؤد .

د حضرت صالح ﷜ چي د حضرت سعد ﷜ آزاد سوی غلام دئ څخه روایت دئ چي سعد د مدیني په غلامانو کي یو غلام د مدیني پر درخته پرې کولو باندي ولیدئ نو د هغه سامان یې واخیستئ او بیا د غلام مالکانو ته یې وویل: ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي د مدیني درختي دي نه پرې کیږي او بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د مدیني د درختو څخه یو شی پرې کړي نو د هغه سامان د هغه چا دئ څوك چي هغه ونیسي. ابوداؤد.

## په وج کي د ښکار ښخه منع

﴿٢٦٢٩﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ صَيْدَ وَجٍّ وَعِضَاهَهُ حِرْمٌ مُحَرَّمٌ لِلّٰهِ. رواه ابوداؤد و قال محي السنة وج ذكروا انها من ناحية الطائف و قال الخطابي انه بدل انها .

د حضرت زبير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د وج نامي ځاى ښکار او د هغه ازغني درختي په حرم کي د الله په حکم سره حرامي کړل سوي دي ، ابوداؤد ، د امام محي السنة بيان دئ چي وج د يو ځاى نوم دئ چي د طائف په لور واقع دئ ، خطابي د انها پر ځاى انه ويلي دي.

## په مدينه منوره کي د مړ کېدو سعادت

﴿٢٦٣٠﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اسْتَطَاعَ أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا فَإِنِّي أَشْفَعُ لِمَنْ يَمُوتُ بِهَا. رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي ددې توان لري چي په مدينه کي مړ سي نو هغه ته پکار دي چي همدلته مړ سي ځکه زه به د هغه چا شفاعت کوم چي په مدينه کي مړ سي . احمد او ترمذي، امام ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح غريب دئ .

## مدينه به تر ټولو ښارو وروسته خرابه سي

﴿٢٦٣١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْإِسْلَامِ خَرَابًا الْمَدِينَةُ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اسلام په کليو کي چي کوم کلي خرابيږي په هغو کي به تر ټولو آخر د مدينې ښار وي . ترمذي، دا حديث حسن غريب دئ .

## د رسول الله ﷺ د هجرت لپاره د مدينې تعين

﴿٢٦٣٢﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَيَّ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ نَزَلْتَ فَهِيَ دَارُ هِجْرَتِكَ الْمَدِينَةَ أَوْ الْبَحْرَيْنِ أَوْ قِنَّسْرِينَ . رواه الترمذي .

د حضرت جرير بن عبدالله ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى ما ته وحي راليږلې ده چي په دې درو ښارو کي چي ته کوم ښار ته هجرت کوې هغه به ستا د هجرت کور وي يعني مدينه، بحرين او قنسرين . ترمذي.

# دريم فصل

### د دجال څخه د مديني منورې حفاظت

(۲۶۳۳): عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْمَدِيْنَةَ رُعْبُ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د دجال بیره به مدینې ته نه ننوزي او په هغه ورځ (چي دجال راځي) د مدینې به اووه دروازې وي پر هره دروازه به دوې ملائکي د ساتني لپاره ټاکل سوي وي . بخاري .

### د مديني منورې د برکت لپاره د رسول الله ﷺ دعاء

(۲۶۳۴): وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِيْنَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ . متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د مدینې لپاره دا دعاء وفرمایل: اې الله ! مدینې ته د هغه برکت دوه برابر برکت ورکړې کوم چي تا مکې ته ورکړی دئ . بخاري او مسلم .

### په حرمینو کي د اوسیدو سعادت

(۲۶۳۵): وَعَنْ رَجُلٍ مِّنْ آلِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ زَارَنِيْ مُتَعَمِّدًا كَانَ فِيْ جِوَارِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَكَنَ الْمَدِيْنَةَ وَصَبَرَ عَلَى بَلَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيْدًا وَّشَفِيْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ مَاتَ فِيْ أَحَدِ الْحَرَمَيْنِ بَعَثَهُ اللّٰهُ مِنَ الْآمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .

د خطاب د کورنۍ څخه یو سړی روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي اراده وکړي چي زما زیارت وکړي نو د قیامت په ورځ به هغه زما همسایه وي او زما په پناه کي به وي او څوك چي په مدینه کي استوګن سو او د هغې پر ستونزو يې صبر وکړ نود قیامت په ورځ به زه د هغه شاهد او شفاعت کونکی یم ، او څوك چي د دواړو حرمو څخه (یعني مکه او مدینه) کي په یوه کي مړ سي الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د امن تر لاسه کونکو څخه را پورته کړي . بیهقي .

### د روضې اطهر د زیارت فضیلت

(۲۶۳۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ مَرْفُوْعًا مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِيْ بَعْدَ مَوْتِيْ كَانَ كَمَنْ زَارَنِيْ فِيْ حَيَاتِيْ . رواهما البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه مرفوعا روایت دئ چي (رسول الله ﷺ وفرمایل) چا چي حج وکړ او بیا زما د مرګ وروسته زما د قبر زیارت يې وکړ نو هغه به د هغه چا په ډول وي چي په ژوند کي يې زما زیارت وکړ . دواړه حدیثونه بیهقي په شعب

الایمان کي روایت کړي دي .

**د مدینې منورې سره د رسول الله ﷺ تعلق**

(۲۶۳۷): وَعَنْ يَحْيَ بْنِ سَعِيْدٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ جَالِسًا وَقَبْرٌ يُحْفَرُ بِالْمَدِينَةِ فَاطَّلَعَ رَجُلٌ فِي الْقَبْرِ فَقَالَ بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا قُلْتَ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي لَمْ أُرِدْ هَذَا إِنَّمَا أَرَدْتُ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا مِثْلَ الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ بُقْعَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَكُونَ قَبْرِي بِهَا مِنْهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه مالك مرسلا .

د حضرت یحیی بن سعید ﷜ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ تشریف فرما وو او په مدینه کي یو قبر کنبل کېدئ ، یو سړي په قبر کي وکتل او وه یې ویل : قبر د مؤمن ډیر خراب د خوب ځای دئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ډیره بده خبره دي وکړه ، هغه سړي وویل زما مطلب دا نه وه بلکه زما مطلب دا وو چي د الله په لار کي د شهید کېدو څخه غوره شی نسته (یعني په کور کي مرگ د مؤمن لپاره خراب دئ) رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په لار کي د شهید کېدو سره سم هیڅ شی نسته ، بیا یې وفرمایل : د مځکي هیڅ ټوټه ما ته دومره خوښه نه ده چي هلته زما قبر وي څومره چي مدینه ده ، رسول الله ﷺ درې واره دا الفاظ وفرمایل : . مالك مرسلا .

**په وادي عتیق کي د لمانځه فضیلت**

(۲۶۳۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُبْنُ الْخَطَّابِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِوَادِ الْعَقِيقِ يَقُولُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّي فَقَالَ صَلِّ فِي هَذَا الْوَادِ الْمُبَارَكِ وَقُلْ عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ وَّ قُلْ عُمْرَةٌ وَّحَجَّةٌ .رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت دئ چي ما د عمر بن خطاب ﷜ څخه په عتیق نامي شېله کي دا واوریدل چي نن شپه یو راتلونکي (ملائکه) زما د پروردگاره له لوري راغلل او ویل یې په دې مبارك شېله کي لمونځ وکړه او ووایه عمره په حج کي ده . او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي ووایه عمره او حج (یعني ددې ځای د لمانځه ثواب د هغه عمرې سره سم دئ چي د حج سره وکړل سي یا عمره او حج دواړه) برابر دي . بخاري .